

# د جنگي جنایتکارانو

## اتهام نامه

۱۳۹۵ / کابل

د جنگي جنایتکارانو
اتهام نامه





Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي:

افغانســــتان دې ازاد اوسي د افغــان دپاره

نه د کار غل او مير غضب او شاد روان دپاره

# د جنگي جنايتکارانو

## اتهام نامه

۱۳۹۵/ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جنگي جنايتکارانو محاکمه
# د جهاد د تداوم په معنی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# که افغان مجاهد نه وای
# نن به نړۍ بل ډول وای

## د اسلام توره کتاب د پتر شالاتور لیکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


**عنوانونه** **مخ**

**پیلامه** ........ ۱

**لومړی فصل**

**عمومیات** ........ ۳
**شمالي ستر گاونډی** ........ ۳
**د قانون نقض شوي مواد** ........ ٦
نړیوال جنایي دیوان (ICC): ........ ۹
د رژیم د جنایاتو یوه نمونه: ........ ۱۰
**د هدف ظروف** ........ ۱۱
۱- د افغانستان د خلق دموکراتیک گوند: ........ ۱۲
۲- جاسوسي: ........ ۱۵
ستون پنجم ........ ۲۱
**د انقلابیانو فحشا او بې ناموسي** ........ ۲٦
**د انقلابیانو ناوړه گټې** ........ ۳۲
**شکنجه** ........ ۳۷

**دوهم فصل**

**د چنگاښ ۲٦ مه** ........ ٤۱
**د سردار کاري ډله** ........ ٤۳
**کمیته مرکزي** ........ ٤٥
**پر میوندوال توطیه** ........ ٤٦
د تحقیق هیئات ........ ٤۸
قضایي هئیات ........ ٤۹
د متهمینو د جملې: ........ ٥۰
د خلق گوند وحدت ........ ٥۳
خلقي ډله: ........ ٥٤
د پرچمیانو ډله: ........ ٥٤
**د غوایي اووومه** ........ ٥٦

**دریيم فصل**

**د جنگي جنایتکارانو اتهام نامه** ........ ٥۹
د سردار داود او کورنۍ شهیدان ........ ٦٦
د سردار د کورنۍ نور غړي چې تېپیان وه، لکه: ........ ٦۷
**د کودتا عمال** ........ ۷۰

**څلورم فصل**

د لومړیو ورځو شهیدان ........ ۷٤
**د تره کي اداره** ........ ۷۷
**د اردو تصفیه** ........ ۸۰
**نامتو وژونکي** ........ ۸۳
**د تصفیې دوام** ........ ۸٥
**بې کفنان** ........ ۸۷
**د مجددیانو د کورنۍ ښځینه بندیانې** ........ ۹٥
**د رژیم ستر واکداران** ........ ۹۹
**پر پرچمیانو برید** ........ ۱۰۱
**بې گناه گناهکاران** ........ ۱۰٥
**بې گناه گناهگارانو بله ډله** ........ ۱۲٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم فصل

د تره کي انقلابي محاکمه ........ ۱۳۲
د وړي ۲۲ مه ........ ۱۳۲
**ملګري امين** ........ ۱۳۹
ملګری امين اداره او انقلابي اجراات ........ ۱٤۰

## شپږم فصل

**رفيق ببرک کارمل** ........ ۱٥٤
**پرچمي اداره** ........ ۱٥۷
**پرچمي شورا** ........ ۱٥۷
**د ببرک کابينه** ........ ۱٥۸
**د ملګري امين صاحب د پلويانو مجازات** ........ ۱٦۱
**د ببرک ګوندی تغيرات** ........ ۱٦۳
**د الله اکبر چيغه** ........ ۱٦٦
**بې جرمه مجرمان** ........ ۱٦۹
**پرچمي قضا** ........ ۱۷۹
**د يابو بدليدل** ........ ۱۸۸
**يابو بايد بدل شي** ........ ۱۸۹
د ببرک جنايات ........ ۱۹۱

## اوم فصل

داکټر نجيب: ........ ۱۹۲
**د نجيب اداره** ........ ۱۹۸
**د نجيب د بې ناموسۍ يو مثال** ........ ۲۰۲
**د کب ۱٦ مه ناکامه کودتا** ........ ۲۰٥
شهنواز تڼی ........ ۲۰٥
**د جنګي جناياتو دوام** ........ ۲۰۸

## اتم فصل

د جناياتو جاج ........ ۲۱۹

## نهم فصل

د ګورباچوف د تيښتې هلې ځلې ........ ۲۲۸
**دوه ننګين پروتوکولونه** ........ ۲۳۰
**د رژيم سقوط او نجيب تېښته** ........ ۲۳۲
**د نجيب جنايات** ........ ۲۳٥

## لسم فصل

د بري په درشل کې ........ ۲۳۹
د مجاهدينو واکمني ........ ۲۳۹
**امارت اسلامي** ........ ۲٤۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پيلامه

## گناه مقدس

در شبی از شبها قاصد اجل اسامی شاه محمود و صدیقی را با خود برد آنها هم مشتاقانه جام شهادت میخواستند و به راه روان راه حقیقت، سبقت می جست.

در مجموع همه به جرم یک گناه مقدس، گناه دفاع از عصمت مادر وطن، گناه دفاع از قدسیت دینی و گناه دفاع از نوامیس ملی، گوش به آواز مهیب مرگ و چشم در انتظار سرنوشت دوخته بودند.

تا از شر بی سُر سامان تاریخ از دامن مقدس وطن بیرون رفتن میخواستند.

خليل حيفي (فاجعه کابل) ٨٥ مخ

هو! بې کفنانو په پټه خوله او سرکښته د خدای او راستی میدان ته په مینه ور دانګل او د نوبت غوښتونکي وو، کوم کسانو چې به بېره کول.

ډاکتر صبور سیاسنگ وايي: (آنانی که زنده گی را می ارزیدند نیستند ما که نمی آرزیم هستیم.



**وايي:**

**که پر تېرو سترګې پټې کړې؛ راتلونکي ته به په ړندو سترګو ګورې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی فصل

## عمومیات

## شمالي ستر ګاونډی

"روسانو زموږ د هېواد په وروستيو پېښو کې يو شمير کسان جذب، حمايه کولو او روزلو کې بشپړ رول درلود، نو روسيې ته لنډ نظر وشي کله چې د تزارانو وروستی تزار نيکولا په مقابل کې بلشويکان په ۱۹۱۷ کې بريالي شول. ولاديمير لينن په المان کې اواره او پټ ګرځېده، المانيانو د قدرت پر سر له تزارانو سره رقابت او مخالفت درلود، چې لنين يې په پټ ډول روسيې ته ننه ايستي، د لنين اصلي نوم ولاديمير ايليچ ؤ د ده ورور چې د تزار لخوا وژل شوي ؤ، مخالفت درلود. تر دې چې ولاديمير د اکتوبر انقلاب پر خپل نامه تمام کړ او تر ۱۹۲۴ م کال پورې په واک پاتې شو د ده تر مرګ وروسته يوسف ستالين د هيګل او مارکس فلسفه د ديکتاتوري پورليتاري تر عنوان لاندې په وژنو عملاً لاس پورې کړ او لس ميليونه يوازې روسان او جمله سل ميلونه يې ووژل پراختيا ته يې زور ورکړ، منځني آسيا پورې را ورسيد تبعيد



او شاقه کارونه دود کړل، چې په لکونو انسانو پکې خپل ژوند د لاسه ورکړ. د روسيې نوم يې په اتحاد جماهير شوروي واړاوه."

ستالين هم په ۱۹۵۳ م کال ومړ.

د ده تر مرګ وروسته نيکيتا خروشچوف تر ۱۹٦۴ پورې په واک کې پاتې شو د ستالين جنايات يې وغندل، خو د ليونيد برژنيف لخوا د واک نه وغورځېد او د ستالين خط مش بيا رويکار شو، چې تر همدې فلسفې لاندې زموږ هېواد کې هم لاسوهنه کوله. د نړيوال کاريګري نظام فلسفه يې رامنځته کړه، د پراختيا دوکتورين مطرح شول، د ده تر مرګ وروسته په ۱۹۸۵ کې نور زاړه کهنه پيخ کمونستانو او پر واک مين، چرنينکو، بيا اندريوپوف ته نوبت ورسېد، بالاخره (ميخايل ګورباچف) په نوبت کې شو. نور نو دې فلسفې او دوکتورين کار نه ورکاوه، ډېر دلايل نور هم موجود و، خو په اصل کې د مجاهدينو پر وړاندې د دوی ماتې، د شورويانو پوځي حيثيت ور خراب کړ او د نظام پايې ورسستې کړې.

- ګورباچوف د پرستوريکا او ګلاسنوست طرحه جوړه کړه، د اګسټ په ۱۹مه کال ۱۹۹۱ باندې ناکامه کودتا وشوه. شوروی تجزيه او روسيه بيا د يو مستقل هېواد په توګه په نړۍ کې رامنځ ته شو، د اتحاد جماهير شوروي سور بيرغ له منځه لاړ. ګورباچوف د کمونيستي کودتا په ترڅ کې خلع قدرت شو او بوريس يلسين واك ته ورسېد.

- د شوروي له تجزيې سره ختيځه اروپا آزاده شوه. د ګورباچوف مېرمن په المان کې د سرطان د ناروغۍ له کبله ساه ورکړه؛ نو ده په امريکا کې د يوې شتمنې کونډې سره واده وکړ د نوبل د سولې جايزې مستحق وبلل شو.

- د يلسين لخوا د (کی جي بي) په ختيځ المان کې کارمند ولايمير پوتين رويکار شو، چې وروسته د ټاکنو د لارې ولسمشر شو. د کمونيزم څانګو نور له منځه لاړه، د کرملين له ماڼۍ د لينن جسد ليرې شو، لينن ګراد بېرته (پېترس بورګ) استالين ګراد پر (دوشنبه) بدل شو. لينن او شوروي نور هير شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو خبريال په دې وروستيو کلونو کې د يوه ښوونځي له شاګردانو نه د لينن په هکله پوښتنه وکړه، چا به ويل هنرمند دی، چا به ويل شاعر، مګر افغان ګونديان لا اوس هم د مارکس په (...) شخوند وهي، په ډېره بې شرمۍ يې د نجيب لور (مسکا) را مخکې کړې او غواړي چې د خلق ګوند د (وطن ګوند) په نوم بيا را ژوندی کړي. روسانو روزلې په اصل کې هغه دې يوازې پالانه به بدله شي.

خلق او پرچم يو ګوند و کله- کله يې زرګري شخړې درلودې، چې دا شخړې به کله د مرګ تر سرحده هم ورسېدې، اما په حقيقت کې منبع يوه وه لکه د رژيم د بهرنيو چارو وزير وکيل د خپل کتاب په (۹۱۱) مخ کې داسې وايي: "زندگی و سرنوشت طوری با هم گره خورده بودند که افتخارات شکست ها و ناکامی ها را با هم تقسیم میکردیم و در بدترین حالات پهلوی هم قرار داشتیم." دا مخالفتونه به تکتيکي غونډې وې.

د ۲۰۱۸د فبروري ۱۵ مه نېټه د روسانو د وتلو د ورځې په ياد او بود، د سياسيون او مطبوعاتو د تبصرو په ترځ کې، ګورباچوف هم اعتراف وکړ، د نورو عواملو په څنګ کې، مجاهدين هم د شوروي د تجزيې سبب او علت ؤ.



# د قانون نقض شوي مواد

## ګونديان د قانون دا مواد نقض کړيدي:

١- وژنه- د جزا قانون ۳۹۴ ماده

٢- تېټه انګيزه سره د جزا قانون ۳۹۵ ماده.

٣- وهل او شکنجه د ج، ق ۳۹۹ ماده حبس دوام.

٤- غير قانوني توقيف: ج، ق ۴۱۴ ماده حبس متوسط.

٥- جاسوسي: ۱۹۴ ج، ق حبس دوام.

٦- د رژيم رانسکورول: ج، ق ۲۰۵ ماده اعدام.

٧- وسله وال پاڅون: ج، ق ۱۷۵- ۲۱۱ ماده اعدام.

٨- د دښمن داخليدو ته زمينه برابرول ۱۷۴ ماده عدام.

٩- د ولسمشر وژل: ج، ق ۲۰٦ ماده اعدام.

١٠- د غير قانونی ګوند جوړول: ۲۲۱ ماده لس کاله حبس.

١١- د دولت پر ضد پروپاګند: ج، ق ۱۹۱ ماده لس کاله حبس.

١٢- د بېروني هېواد نه مالي منفعت تر لاسه کول: ج، ق ۲۲۵ ماده لس کاله حبس.

١٣- زنا او بې ناموسي: د ج، ق ۴۲۵ ماده حبس طويل:

١٤- لواطت او تجاوز: د ج، ق ۴۲۹ ماده اوه کاله حبس.

١٥- فسق او فجور: د ج، ق ۲۳۱ ماده درې کاله حبس.

١٦- تهديد: د ج، ق ۴۲۳ ماده اووه کاله حبس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷- قذف او ښکنځل: د ج، ق ۴۳۸- ۴۲ ماده ۲۰ زره افغانۍ جريمه.
۱۸- د جسد پټول: د ج، ق ۴۰۱ ماده درې زره افغانۍ جريمه.
۱۹- د دين پر ضد عمل کول: د ج، ق ۳۴۷ ماده ٦۰ زره افغانۍ جريمه.
۲۰- شراب نوشي: د ج، ق ۳۵۲ ماده ٦ مياشتې حبس.

د ارتکاب کوونکو ذاتي شخصيت: محرومه طبقه، ټيټ شخصيت، ناپوه، خرڅ شوی کسان.

زه مدعي العموم يوازې دلته وسله وال پاڅون، جنګی جنايات، د بشر حقونو نقض، جاسوسي او د ملی حاکميت او خپلواکۍ د ګواښ جنايات تر بحث لاندې نيسم.

د ګونديانو لخوا د جسد پټول يو عمومي جنايت و، چې د ولس په زرګونو او بلکې لکونو کسانو بې له شرعي او کلتوري مناسکو تر خاورو لاندې کېدل او خپلوانو ته يې جسدونه نه تسليمول.

دلته نړيوال قوانينو ته هم اشاره کوم، چې زموږ د هېواد په اساسي قانون، جزايي قانون او د جزايي اجرااتو قانون کې هم اقتباس شوي دي؛ لکه دا لاندې چې د خلقي حکومت لخوا په صراحت تر پښو لاندې شوي دي:

الف: د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه:
۵ ماده: د کړاو ممانعت قانون
۹ ماده: خپل سر توقيف
ب: د نړيوال سياسی حقوقو ميثاق:
٦ ماده: ډله ييزې وژنې او د ۱۸ کلنی کښته مجرمينو وژنې ممانعت.
۷ ماده: د شکنجې او تحقير ممانعت.
۱۱ ماده ۲ بند: د هېواد د پرېښودو حق.
۱۴ ماده: د محاکمې او د فيصلې علني اعلان او د وکيل دعوا حق.
ج: د شکنجې دفعه کېدلو کوانيسيون:
۱ ماده: د شکنجې ممانعت.



٦ ماده: د دولت د وحشيانه او غير انساني کړنو مخنيوی.
د: د ماشومانو د حقوقو نړيوال کنوانيسيون چې په جينوا کال ۱۹۲۴ کې ټاکل شوی:
۱ ماده: د ماشومانو د سن ټاکل.
۱۷ ماده: پر ماشومانو د جنسي تېري ممناعت.
۳۵ ماده: د شکنجې ممانعت.
۳۵ماده: جګړې ته د ماشومانو د استولو ممانعت.
ډاکتره خانم ژوليت فرونت: حقوق بشر: د کندز او چهار درې پر ښځو د شوروي سربازانو تېري وکړ.
هلسينکی حقوق بشر راپور کال ۱۹۸۵ د جون مياشت: پر ښځو و تېري ته اشاره شوې ده، راپور دا هم زياتوي افغانان د داسې واقعيت له بيانولو کرکه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نړيوال جنايي ديوان (ICC):

**ځو مثالونه: چې د هېواد د جنايتکارانو هم دا ډول مجرمين دي.**

۱- د المان د نازي رژيم جنګي جنايت کاران لا اوس هم تر عدليې تعقيب لاندې دي.

۲- امريکايي سرتېري "ويل بارد نور پر" يو کتاب (زنداني قصر خود) په نوم د عراقي ديکتاتور صدام حسين په هکله ليکلي دي، چې د ۱۴۸ تنو د وژنې په تور د ډسمبر پر ۳۰ کال ۲۰۰٦ اعدام شو. چې افغان وژنې ميلونو ته رسي.

۳- ذوالفقار على بوټو د پاکستان لومړي وزير د ټاکنيزو سياليو په وخت کې د يوه تن پر وژلو تورن شو، دی بيا د ولسمشر ضياء الحق د واکمنۍ پر مهال اعدام کړ.

٤- د يوګاندا، تانزانيا، لاوس، روندا جنګی جنايتکارانو په څېر افغاني جنايتکاران هم بايد محاکمه شي؛ خو افغان جنګی جنايتکاران لا تر اوسه د محاکمې نه لرې پاتې دي.

وايي: مجازات په حقيقت کې د ټولنې عکس العمل دي.



## د رژيم د جناياتو يوه نمونه:

د جنرال عمرزي په کتاب "د کابل شپې" په ۴۴ مخ کې د زندانيانو يو لېست د اګسا د۱۳۲۰ نمبر ليک او نېټه ۱۳-۱۲- ۱۳۵۷ ليک په واسطه د محمد عثمان د اګساد د تحقيق د مدير په لاس ليک محبس ته ليږدول شوی دی، ټيټ رتبه او غير مسلکي کسانو لخوا د يادو کسانو جرم ارزيابي شوی او نهايي شوی دی دا کسانو د څارنوال، د تحقيق هيئات قضا پر ځای اجراات کول. چې د دې پريکړې پر بنا ياد کسان سر په نيست شوي دي. دا يوه نمونه ده دا رويه په ټولو ولاياتو کې دود وه.

د کندهار د سيمې قضايي هئيات د نمونې په توګه وړاندې کوم: د دې هيئات فيصله نيهائي وه دا کسان:

۱- عبدالرحمن د کندهار ښاروال

۲- عبدالشکور روستائي د تعليم او تربيه مدير

۳- عبدالغفور اطرافي د ګمرک رييس

۴- غلام محي الدين د اوقافو مدير

۵- عبدالرحمن د ولايت اداري مدير

٦- محمد سرور د څارنوالي نماينده

۷- جان محمد لومړی بريدمن د قل اردو نماينده.

د پورتنې ليست نه پوهېدای شو چې د مرګ او ژوند واک د دغسې د ټيټو او بې تعليمو په لاس کې و. دې پورته کسانو امتياز دا ؤ، چې ګونديان ؤ.

د دې کسانو پرېکړه کې سند پکار نه و، تحقيق نه کېده، دا فيصلې به نيهائي وې، مرافعه او تميز يې نه درلودې.

په لېست کې له هر نامه سره يو غير مستند تور ليکل شوي و، چې البته يوه مانا ترې اخيستل کېدای شي؛ مسلماني په تور (اخوان) د زميندار تور (فيوډال) روشنفکر (غرب- زده) او داسې نور دا تور د اعدام لپاره بس و.

ملی ګرايانو ته په (تنګ نظره ناسيونالستان ويل، او شعله يانو ته چپ افراطي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هدف ظروف

د ګوند په نامه را ټوله شوي استخباراتي ډوله شبکه چې خپله اراده يې نه لرل او پروګرام د بل چا لخوا ورکول کېده. دا شبکه ګوندیان ؤ، چې کمونستان يې بلل، وروسته يې انقلابيان شول، ايدیالوژي يې لا هضم کړې نه وه، په حقيقت سوچه لوبغاړي وو؛ البته چې د روس د دې ستر هدف لپاره تشکيلات او ظروف پکار وو، د تزارانو ارمان و تودو اوبو ته رسېدل، د بريژنف دوکتورين، د پراختيا فلسفه، د سرې جګړې شدت او د ناټو او سينتو د پکتونو مخ ته دريدل؛ نو د دې اهدافو لپاره په کمزوري او غريبو هېوادونو کې د کمونيزم تخم و شيندي. البته د دې اهدافو لپاره ظروف په کار و، چې زموږ هېواد کې د خپل ناروا هدف لپاره لاس را اوږد او پر درو جبهو لکه ګوند، جاسوسی او پځم ستون کار وکړ، تشکيلات جوړ کړه، چې د درو سرو شبکو د (کي جي بي) تر هدايت لاندې کار کاوه.

اما د هېواد لوړ پوړو چارواکو سره، د همزيستي مسالمت اميز احترام متقابل، لا عوضه مرستې دا ټول نيرنګ او استعماري خدعې وې او د شا لخوا خنجر وهل و.

شوروي د خپل ستر هدف لپاره کاريګري نظام تر عنوان لاندې واړه، واړه قومونه د اتحاد جماهير شوروي په چوکاټ کې د ګوډاګيان د کمونست ګوند په نامه جذب کړل و يې روزل او دوی يې حمايه کول. د ګوند تر څنګ يې جاسوسان او ستون پنجم له لارې هم خپل استعماری اهدافو په لوري حرکت وکړ. لکه:



## ۱- د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند:

۱۳۴۳م د مرغومي پر ۱۱ مه د افغان ولس د بدبختۍ او ملی خيانت لومړۍ خښته د (افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند) د يو سياسي ګوند په نامه په حقيقت کې د کی جي بي يوه څانګه په افغانستان کې پخواني جذب او استخدام شوي جاسوسان د يوه ګونډ په ډول په شېرشاه مېنه کې د نور محمد تره کي په کور کې کېښوده، چې کمونستانو به دا لومړۍ کنګره بلله.

د دې کنګرې غړي ځينې پېژندل شوي او ځينې نور پټ کمونستان وو. په کنګره کې د ادم خان ځاځي تر مشرتابه لاندې دا کسان و: نور محمد تره کی، ببرک کارمل، دستګير پنجشيري، نظام الدين تهذيب، محمد اکرم کارګر، محمد ظاهر افق، عبدالهادي کريم، ملا عيسی، محمد حسن بارق شفيعي، نور احمد نور، محمد طاهر بدخشي، شهير الله شهير، عبدالوهاب صافي، انجنير خالقيار، سيد عبدالحيکم شرعي جوزجاني، عبدالله ځاځی، عبدالقيوم نورزی، عطا محمد شيرزی، سليمان لايق، غلام محی الدين زرملوال، مير اکبر خيبر، ډاکتردرمانګر، سلطان علی کشتمند، ډاکتر شاه ولي، عبدالکريم ميثاق، سيد نور الله کلالي، عبدالحيکم هلالي، محمد اسمعيل دانش، اناهيتا راتب زاده، صالح محمد زيری؛ که څه هم په لومړيو کې مير غلام محمد غبار او مير محمد صديق فرهنګ هم ور سره وو، چې د ببرک د بد خلقي له کبله، چې تل به يې ويل د دې دو ميرانو نه څه نه جوړېږي، وتلو ته اړل شول. طاهر بدخشي هم بله لار ونيول، ظاهر افق هم وايستل شو د ګوند تاسيس د (ج، ق) د ۲۲۱ مادې خلاف عمل و.

ګوند د تکتيکي دلايلو پر بنا ډېر ژر د (خلق او پرچم) پر ډلو وويشل شو. د دې ګوند مبارزه، د ملي او اسلامي ارزښتونو پر مخالفت او د شوروي په ثنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او صفت بنا وه، د ګوند تشکیلات په بشپړ ډول د یوه استخباراتی سازمان په ډول محرمیت هم یو لوی شرط و. د مبارزې په څنګ کې هدایت دا و چې دا لوړ پوړي او مهم سیاسي روحاني او اجتماعی کسان تر څار لاندې ولري او اطلاعات یې را ټول کړي. په پیل کې ټول جاسوسۍ ته وهڅول او تشویق شول، لکه لینن کبیر: (د خلقیانو په اصطلاح) ښه ګوندي، ښه چکیست دی (چکیست د چیکا د شوروي د هغه وخت د جاسوسي ادارې و) ګوند مارکسیزم او لنینزم پر اصولو پابند و، د خلق په نامه ورځپاڼه یې هم را وایستل.

د دې دواړو ډلو، اوامر، هدایات، پروګرام مالی حمایه او مصارفات د کی جي بي لخوا تادیه کیدل. دواړه ډلې یې د ضرورت او تکتیک پر بنا، کله جنګ، کله به پخلا، که څه هم ګوند پختګۍ ته لا رسیدلې نه و، کودتا ته وهڅول شول کودتا یو نظامي بغاوت و، چې د کی جي بي له خوا ځوان بې تجربه ځوانان جذب او استخدام شوي وو، البته د ګوند په څنګ کې پر پوځي برخه کې هم کار کېده. که څه هم په سیاست کې د اردو افسرانو مداخله، غیر قانوني عمل و؛ په مجموع کې پوځ د سیاست نه لرې ساتل کېده، کوم پوځي کسان چې د ګوند او سیاست په نامه فعالیت درلود د یو غیر قانوني عمل او د سزا وړ و.

تر دې وخت پورې د احزابو قانون نافذ نه و، خو بیا هم ګوند غیر قانوني فعالیت کاوه، چې دا په خپله جرمي عمل و؛ اما تر ډېره ځایه دا ضد ملي او ضد اسلامي فعالیتونه د ځینو ملاحظاتو په نظر کې نیولو سره تحمل کېده. څرګند شو، چې د ګوند ملکي بخش کې د ذهنیت سازي ایدیالوژي ارتقا لا پوره کار شوی نه و، ډېر پام پوځي برخې ته و، پوځیان چمتو شوي و، البته چې شوروي دوستان د (مشاورینو) په توګه څنګ کې ولاړ وو. د ثور د کودتا ته امادګي نیول کېده، چې دې عمل هم سیاسي انګېزه درلوده. کله چې سردار د روسانو نه مخ را وګرځاوه، د شوروي هم نور سردار پکار نه و.



کومو ځوانو پوځیان چې د سردار په کودتا (۲٦ چنګاښ) کې ګډون درلود پاڅون ته ولمسول بې تجربې او ناپوه او ماجرا جویه هلکان و. محمد ابراهیم عطایي په خپل کتاب (د افغانستان معاصر تاریخ ته لنډه کتنه) ۲۷٦ مخ کې ګوند هم د شوروي تر حمایې او هدایت لاندې بولي.

ګوندي فعالیت اود ګوند جوړول یو غیر قانونی عمل و او د اردو د افسرانو لپاره ګوندي فعالیت د (ج، ق) د ۱۷۵مې مادې او ۲۱۱مې هغې له مخې یو صریح جرمي عمل و.

جنرال قادر د خپل کتاب په ۳۵۸ مخ کې خپله پښېماني په ډاګه کړې ده، ببرک هم چې کله په حیرتان کې د ډاکتر نجیب لخوا په انزوا او مایوسې او یو محقر کور کې پروت و، یو پخوانی پرچمي ښاغلي مقتدر په نامه ته ویل چې روسانو ورسره خیانت کړی دی. نور افغاني کمونستان هم اعتراف کوي چې اشتباهات یې کړې دي. دوی خپل جنایات اوس اشتباه بولي؛ اما په هر صورت (جزا یې د عمل حق) ده.

د (هجوم) کتاب مولف په صراحت وایي چې د خلق ګوند تدوین، راهنمایي د کی جي بي لخوا کېده. د پرچم ډلې پوځي برخه کې د نور احمد نور او وکیل دنده وه، چې مخ کې دا دنده د میر اکبر خیبر وه او د خلق ډلې لخوا دا دنده حفیظ الله امین ته ورکړل شوې وه، د ګوند اجراات او تشکیلات د جاسوسۍ د یوې شبکې په ډول وو چې د پردو په خدمت کې یې قرار درلود.

## وايي: عدالت دی چې امنیت راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- جاسوسي:

د ګوند په څنګ کې د جاسوسي څانګه هم فعاله وه، چې د کي جي بي تر مستقيم نظارت لاندې يې فعاليت کاوه. که وکتل شي د خلق ګوند (خلق، پرچم) ټول تشکيلات د استخباراتي شبکې په ډول و؛ فعاليت محرم، استخدام محرم، تماسونه محرم، ګزارشونه او راپورونه محرم کوم مالی پانګه چې ګوند ته ورکول کيدل هم پټه، ډېرى وخت د ګوند غړوله يو بل نه سره پېژندل، غونډې پټې نيول کيدې، کوم هدايت او وظيفه چې به ورته ورکول کېده، هم محرم و، صفوف ټول پټ و، يوازې څو تنه مشران پېژندل شوي، چې هغو هم ځان کمونست نه باله او ځانونه په يې دموکراتيک او روشنفکر بلل. هر ګوندي د مارکسيز بر (پنج بنا) بايد ايمان راوړي واى، د الحاد پلوي (دين ستيزي)، د امپرياليزم (امريکا) ټکول، لينينزم (سوسياليزم) باندې په ټيو سترګو باور درلودل، د فيوډاليزم ضده مفکوره درلودل، دولتي اداري او پېژندل شوي، ديني، اجتماعي، سياسي، کسان تر سترګو لاندې نيول.

د کې جي بي در افغانستان کتاب ۲۵ مخ کې مستخدم شوي د (راز) ساتل او اطاعت باندې تاکيد و. کرار، کرار د (ازمايشې) دورې نه وروسته ځينې ضروري روزنې او ترينګونه لکه (شفر، عکاسي او داسې نور) هم ور زده کول، په جاسوسي کې جلب او جذب مهم او ستوزمن کار او بيا اړيکې نيول دي، چې د اړيکو د نيولو لپاره بايد يو پلمه پيدا شي او سترې اخفا هم ولري، د انجنير، ژورناليست او ډاکټر، تجار تر (پردې) لاندې خپل کار کوي.

تردې اندازې محرميت ساتل کېده چې آن ضروروت به نه و، نو د ګوند غړي هم يو بل سره نه معرفی کېدل، غونډې ټولې په پټه کيدې، کله يو ځاى،



کله په بل ځاى و، به ظاهره د فيوډاليزم او امپرياليزم ضد شعارونه ورکول او به اصل کې پر مارکسيزم او لينينزم ايمان راوړي و .

(کي جي بي در افغانستان) کتاب به ۴٦ مخ کې راغلی، چې تره کي ته له شوروي نه په منظم ډول پيسې راتللی، چې آن امين صاحب هم پرې خبر نه و. مياشتنی معاش يې ۱۸۰ روبل و، د ميتروخين کتاب کې دا هم راغلي، چې د ببرک د خپل ماما زوی عبدالوکيل هم په دې خاطر نفرت کاوه چې ده هم کی جي بي سره نيغ په نيغه اړيکې ساتلې.

د سيد حسن شاه سروري او د احمد شاه پويا د غلام حيدر زوی د کي جي بي سره اړيکو ته اشاره کړيده وکيل د خپل کتاب په ۲٦۱ مخ کې.

د (پشت پرده ها در افغانستان) د ميتروخين په قلم کتاب په حواله (جنرال قادر) ته د شوروي استخاراتو د نظامي پخش لخوا روزنې ته اشاره شويده.

د همدې کتاب ۴۷۷ مخ کې د کور د کرايې په پلمه د ډاکتر حسن شرق اړيکو ته د روسانو سره هم بيان راغلي دی، (کا جي بي در افغانستان) کتاب په ۷۰ مخ کې د ډاکتر حسن شرق، صمد ازهر، محمد رفيع او د تجارت وزارت معين عبدالسلام د کی جي بي اړيکو ته ګوته نيول شوې ده.

وکيل کتاب ۱۸۵ مخ، د کريم ميثاق د کميټې مرکزي او پولټ ببرو د غړيتوب نه ايستل هم د کې جي بي هدايت و، دا په دې مانا دي چې کي جي بي پر ټوله اداره مسلط وه.

کمونستانو د ګوند لپاره د کې جي بي د حمايې سره شمېر لږ ؤ، لکه چې الکساندر لياخفسکی د خپل کتاب (طوفان در افغانستان) په ۵۱ مخ کې د کودتا وخت د خلقيانو شمېر ۵ زره تنه بولي، که څه هم وکيل هغه ۹۰ زره تنه را وړي دي، البته وکيل به د خپل فعاليت په بيان کې لوړه مبالغه کوي.

جاسوسي ته معولاً ټيټ بې وجدان، د کمزور اخلاقو کسانو لخوا د پيسو او چوکۍ او واک وړي ژر استخدامېږي، البته څه نور عوامل هم شته، چې مهم يې دغه پورته عوامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم څوک چې پدې جال کې راشي، دا يو مافيايې سازمان غوندې بيا ځان نشي ترې ليرې کولای، د جاسوس نوم معاش او تقاعد د اسرارو جز وي. ترفيع او تقاعد يې د ده په فعاليت او مهم راپورونو او فعاليت پورې تړاو لري. جاسوس د خبريال په پرتله، کوم چې خبريال په خپلو اجراآتو وياړيږي، مګر جاسوس پرې شرميږي، ټولنه ترې نفرت لري، د جزا قانون ۱۹۴ مادې هم ورته سخت سزا پيشبيني کړې ده.

د شبکې اداره لوړ دولتي او لوړ سياسي کسان استخداموي او يا هڅه کوي چې خپل جاسوس لوړ موقف ته په ډول، ډول حمايه او لوړ موقف ته اوچت کړي. جاسوس لومړی اطلاعات جمع آوری، بيا تخريب لکه سبوتاژ، ترورو، آن د کودتا هدايت ورکوي، جاسوس په همدې ډول چې د ضرورت وخت کې خپلې جامې او خپل قوراه بدلوي، عقيده او ګفتار ته هم تغيير ورکولای شي، خبريال خپل هېواد او خپلو خلکو لپاره کار کوي، مګر جاسوس د پردو لپاره.

زه به کله د زندان د ليدو لپاره ورغلم، کله چې به مې د جرم تپوس وکړ، غل په غلا نه شرميده، قاتل به په قتل نه، مګر جاسوس او کتاليست په جواب نه وايه شرميده به، مګر د کوټې انډيوال به د هغه جرم سياسي جرم وباله، چې همدا جاسوسي وه. او د هغه بل جرم به يې کورنۍ او زنانه مشکلات وويل.

څرنګه چې د جاسوسۍ هر څه پټ وي، د مروبطه اداري لخوا يې نوم هم ور واړول شي، لکه د ګوند د رژيم دا کسان په کې جي بي کې په دې نامه ضبط شوي و، چې دې نوم ته يې شفرې نوم يا رمزي نوم وايي، لکه دا کسان:

۱- دستګير پنجشيري = (ريچارډ) د پوهنې وزير
۲- جنرال عبدالقادر= (عثمان) د دفاع وزير
۳- جنرال رفيع= (نيروز) دفاع وزير



م: ولادمير کودسکين د کي جي بي تښتيدلې مامور و لندن ته په يوه مطبوعاتي مرکه کې کارمل د کي جي بي د (٦٦) مديريت مامور بولي. کارمل ماريد نوميدې او وروسته (مالتوف) نوم ورکړای شو.

۴- سيد محمد ګلابزوي= (مامد) د کورنيو چارو وزير
۵- شاه محمد دوست= (پترسن) د بهرنيو چارو وزير
٦- محمود بريالی= (شير) د پوليت بيرو غړي
۷- صمد ازهر= (فتح) د څارندوي قوماندان
۸- حفيظ الله امين= (کاظم) لومړی وزير
۹- نور محمد تره کي= (نور) وروسته (ديدوف) عمومي منشي.

شورويانو به ډېر نور جاسوسان هم درلودل، خو افشا شوي کسان هم دغه دي، ممکن هم همدا اوس به يې هم لري، نور هېوادونه هم لکه ايران، هند، بريتانيا او امريکا هم دې شبکې ته اهميت ورکوي امريکا به هم بې برخې نه وه .

دا نومونه د (هجوم در افغانستان) او (کي جي بي در افغانستان) په کتابونو کې راغلي دي، يوازې د حفيظ الله امين نوم کاظم د بهرنيو چارو وزير عبدالوکيل خپل کتاب کې راوړي دي.

دا نومونه دومره سري و، چې د خپلې مربوطه اداري مامورينو نه په غير نور چا بايد نه وای پيژندلې، د (هجوم به افغانستان) کتاب په ۳۵۱ مخ کې راغلي دي.

کله په چې د کې جي بي د بهرنيو بخش رئيس کريوچکوف په کارمل د نورو ملګرو په مخ کې هم به هغه مستعمار نامه (مالتوف) ياداوه، په دې به (ببرک) شرميده او تر نورو پورې په کم شو.

شورويانو پخپله ټولو يادداښتونو کې د اسدالله سروري او ډاکټر نجيب د کي جي بي سره نږدې او محرم اړيکې تائيد کړې دي. (افغان- شوروي جګړه) کتاب په ۵۵ مخ کې نجيب او سروري د کې جي بي ايجنټان بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (جنگ اشباح په (۴٦) مخ کې هم راغلي دي چې امين او تره کي دواړه د کي جي بي لخوا استخدام شويدي، معمولاً به ليدنې او کتنې په پارکونو او يا موټر کې ور سره تر سره کيدل. تره کي د کتاب د جايزې په نامه شوروي ته دعوت شو.

چې وکيل هم د خپل کتاب ۵۴ مخ کې ليکلی، چې تره کي د خپلې ميرمن سره شوروي ته دعوت شو، دلته هم وکيل کلمه د (ظاهر امر) راوړې ده، داسې تماسونه يوه ستر اخفا په شان وي، په حقيقت کې او پردې تر شا نورې معاملې کېږي او (د ظاهر امر) کلمه هم د تامل وړ ده.

(هجوم به افغانستان) کتاب هم حفيظ الله امين او اسد الله سروري د کي جي بي فعال غړي بولي. (۳۸۸- ۹) مخ او د همدې کتاب په لسم مخ کې د محمد خان جلالر او عبدالحق صمدی جاسوسي ته هم اشاره شويده، همدا کتاب به ۳۱ مخ کې د نور محمد تره کي د خاص اړيکو په هکله يادداشت لري، چې ده به پر دې اړيکو وياړ کاوه، (داود خان د کې جي بي په لومو کې) کتاب په ۳ مخ کې راغلي دی، چې علي محمد خان پخواني د دربار وزير هم د سيف الرحمن د ښځې په نامه يوه روسی ښځه په کور کې ساتله، چې استخباراتي روابط اسانه کړي. (حقيقت تجاوز شوروي بر افغانستان) ٦۵ مخ کې د کی جي بي د ايجنټانو ليدنه او کتنه د حفيظ الله امين سره راوړې ده.

محمد سرور (د منی) د بهرنيو چارو پخواني مامور بيان کاوه، چې بيخبره، دفعتاً د جنرال محمد اصف د سيلو رئيس چې په اصف (تبله) باندې شهرت درلود، ليدو ته ورغلم، چې يو لوی شمېر عکسونه د شوروي د سفارت قونسل ته را اخيستی و .

ميتروخين دا هم ليکلی دی، د چنگاش د ٢٦ کودتا مخکنې راپور د صمد ازهر لخوا روسانو ته خبر ورکړل شوې و .



صمد ازهر په کال ۱۹۷۲ کې استخدام شوې و او د شعاع په نامه يوه شبکه يې اداره کول. (کې جي بي در افغانستان) ۲۷۰ مخ.

جنرال قادر هم خپل کتاب کې راوړي دي، چې د ۷ ثور يوه ورځ د مخه سروري او گلابزوي شوروي سفارت ته د کودتا د پيل خبر ورکړ. دا مانا لري چې دوی اعتماديان و او بايد مخکنې اړيکې هم موجود وي، دا څرگنديږي چې دا کودتا افغاني نه وه.

د پورتنيو اسناد پر بنا جاسوسي فعاليت د گوند او د گوند نامتو کسانو څرگنده ده، جاسوسي جرم دی د جاسوسي عاملان لپاره زه د جزا د قانون (۱۹۴) ماده سره سم طلب مجازات کوم.

د وکيل د کتاب په ۲۴۱ مخ کې د (در پشت پرده افغانستان) د کتاب ۱۹ مخ په حواله ليکي چې پرچم د کي جي بي او GRU (د شوروي نظامي استخبارات) سره او د خلق ډله د دې دواړو استخباراتو د شبکې سره اړيکې درلودې.

جنرال قادر د خپل کتاب خطرات سياسي (خاطرات جنايي) په ۱۴۵ مخ کې راوړيدي، چې د کودتا په لومړيو کې د انقلاب د بري په وياړ په کابل کې د شوروي سفارت يوه ميلمستيا ترتيب کړی وه، کله چې دې ميلمستياته ببرک را ننوت، تره کي ورتهوويل چې هغه ورځې تېرې شوې چې زه به راغلم ته به د هغې بلې دروازې نه ووتي او چې ته په راغلي، زه به د هغه بلې دروازې نه وتم، نن داسې ورځ راغلي چې دواړه يو ځای ځو او راځو دا پر جاسوسي په ډاگه اعتراف دي.

د (جنگ اشباح) کتاب مولف ستيوکول په ۴٦ کې که تره کی او امين دواړه د کی جي بي غړي او استخدام شوي بولي. وکيل د خپل کتاب په ٢٦١ مخ کې د هند د اتشه نظامي په حواله ليکي: (چې قادر د شوروي نظامي استخباراتو (GRU) ته جذب شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(کي جي بي در افغانستان) کتاب په ۲۳۲ مخ کې راغلي، چې ګلابزوی فداکاره او د شوروي دوستۍ ته وفاداره دی.

ډاکتر شېر شاه يوسفزی کتاب (تاريخ مسخ نمی شود) په ۲۷ مخ کې د جنرال مايروف د کتاب (در افغانستان چه ميګذشت) په حواله ليکي: (تره کی و ببرک دوی ايجنټان وو، چې په مختلفو چينلونو کې يې کار کاوه) هجوم په ۳۱ مخ کې بيا راغلي چې (دوی واړو به خپل پټو اړيکو وياړ کاوه).

حزب دموکراتيک افغانستان ليکوال محمد اکرام انديشمند کتاب په ۲۳ مخ کې، جنرال قادر د شورويانو لخوا يو ريښتني دوست بلل کيدو. او د همدې کتاب په ۳۳ مخ کې د جنرال اړيکې د G R U سره به کلکه تائيد شويدي.

او ملګري امين صاحب اړيکې د KGB سره په ۲۸ مخ په همدې کتاب کې راغلي دي.

او د (K G B په افغانستان کې) ليکوال وايسلي متروخين ګلابزوي او محمد رفيع دواړه د K G B جاسوسان بولي انديشمند د خپل کتاب په ۴۷ مخ کې د K G B لخوا د ۱۹۷۷ د مي په مياشت د تره کي د ۳۰۲۴۰ افغاني د ورکړې ګزارش راغلی دي د دې کتاب په ٦٨- ٦٩ مخ کې د تره کی او امين د K G B ايجنټ ولاديمير ارتباطي نژدې اړيکو ته اشاره شويده.

جاسوسي د (ج، ق) د ۱۹۴ ماده سره سم په حبس دوام محکوم دي.

عدالت حکم کوي هيڅ مجرم بې محاکمې پاتې نشي او هيڅ بېګناه مجازات نشي.

## ستون پنجم

دا کسان نه جاسوس وي او نه ګوندي، دا کسان روزل شوي او د مبادا لپاره په ډېر احتياط ساتل کېږي، يو خاص شخصيت لري او د ټولنې په



خاص قشر پورې تړلي پېژندل کېږي، دا کسان کمونستان نه دي مګر د کمونستانو د بقا او استخدام لپاره خدمت کوي، دوی د جبهې شاته قرار لري. اما په هر صورت د پردو په خدمت کې و.

له لومړۍ نړيوالې جګړې را پدېخوا، په سياست او جګړو کې د جاسوسي چې په جګړو کې د ستون فقرات نقش لري، ستون پنجم هم د جاسوسي غوندي ستر رول لري، ريزرف (احتياطي) قواووې هم ورته ويل کېږي. دا کسان په خپله ټولنه کې پېژندل شوي کسان وي، په يوه تعليم يافته او مکتبي قشر پورې تړلي وي، د کمونست يا جاسوس ګومان په هيڅ صورت وربانديې کېدای نه شي، دوه مخې رول په ډېر مهارت لوبوي، د دوی سره يو خاص احتياط او برخورد کېږي او تماسونه چې د مربوطه شبکې لخوا نيول کېږي، په پوره ديپلوماتيک ورسره په تماس کې وي. البته د هغه شبکې لخوا په ډېر مهارت حمايه کېږي، پام وربانديې کوي، چې دولتي لوړو مراجعو او د تصميم ګيري مقاماتو ته ورسيږي، دوی د مقدم جبهې د فعاليت نه ډډه کوي، د عقب جبهې په فعاليت کې رول لري. يا په اصطلاح خپل نظام يا دولت ته شا د خوا خنجر وهي: لکه:

ډاکتر نعمت الله پژواک د هېواد د مشهورې کورنۍ نه و، په شاهي نظام کې د کورنيو چارو وزير، د سردار داود خان په جمهوريت کې د پوهنې وزير، البته چې پدې رژيم کې هم د ويلو ډېر څه درلوده.

ده د تره کي، امين، ببرک او نجيب ټولو په واکمنۍ کې سالم او سلامت ژوند درلود، پژواک چې کله په مسکو کې افغاني کلتور رئيس و، ممکن په يوه ډول، جذب او استخدام شوی وي. د رژيم پلوی ؤ.

ډاکتر حسن شرق د پاچهۍ په وخت کې د صدارت قلم مخصوص مدير چې تر وزيرانو يې قدرت لوړ و، د سردار محمد داود خان په جمهوريت کې د لومړی وزير مرستيال او د ډاکتر نجيب په وخت کې لومړی وزير شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاډمن یې ژوند درلود، په داسې حال کې چې د نانواي شاګرد او د جماعت چړي ته وطن سور اور شوی و، خو دی له سترو پېښو نه روغ ووت.

جنرال محمد اسمعیل عرفان، د مصونیت ملي مشر، دی په دواړو کودتاګانو کې مصون پاتې شو. او دواړو کودتاګانو کې حساسه پوست کې کار کاوه.

دی د پاچهۍ پر ضد کودتا کې د امنیت او استخباراتو لومړی مسوول شخص و او د خلقي کودتا په وخت کې همدا ډول و. په دې پوهېږو چې د چنګاښ ۲٦ او هم د غوایي اوومې کودتاګانو کې رهبري د کې جي بي په لاس کې وه. د ده د اړیکو لپاره پوره دلایل موجود دي؛ د خلقیانو په وخت کې نور د ده دنده ختمه شوه، صحیح او سلامت لویدیځ ته ورسول شو.

همدا ډول چې ببرک په چکسلواکیا کې حمایه کېده، د پوځ د (خاد) مرستیال ډګرمن ګل عثمان څو ځایه ویلي دي، شورویانو (کی جي بي) سلاکارانو به تل ټینګار کاوه چې (عرفان) تلف نه شي. نور پېژندل شوي کسان لکه فضل الحق خالقیار، غلام سخي دانشجو، عبدالغفار فراهي، عبدالغفور روان فرهادی، حاجي محمد څمکنی، عبدالرحیم هاتف او میر امان الدین انصاری. د دوی اناتومي د کمونست سره په ظاهره جوړه نه وه . مګر د کمونست په خدمت کې وو، چې همدا کسانو د ستون پنجم دنده اجرا کوله.

د ستون پنجم کارمندان تر اصلي جاسوسانو خطرناک او جاسوسان د ګوندي کسانو او د صفوفو نه خطرناک دي.

کله چې شورویان نور د سردار محمد داود خان نه مایوسه شول، یو بدلون ته ضرورت لیدل کېده، ډاکتر حسن شرق په خپل کتاپ (کرباس پوشان برهنه پا) ۱۳۹ مخ کې داسې راوړي دي؛ د شوروي سفیر پوزانوف ورته مراجعه کوي او ورته وایي (یو شمېر د اردو صاحب منصبان چې د دواړو



هېوادو ترمنځ له ښو اړیکو سره علاقه لري، د شوروي سفارت چمتو دی چې تاسې ته یې در وپېژني، تر څو ستاسې په سلا مبارزه وکړي.)

د محاکمې لوړ مقام ته عرض کوم! چې و ګوري د څه دیپلوماتیک جملو کې نغښتی مطلب راوړی دی. دا اړیکې باید پخې او کلکې وې.

آیا دا وړاندیز طبعاً یو خاص باوری کس ته کېږي چې د باور له ازموینې راوتلی وي هغه و، چې دوهم انتخاب نور محمد تره کي یې د ده په ګټه د پوځ افسران چې د غوایي د ۷ په کودتا کې وځلیدل لکه سروري، قادر، وطنجار، ګلابزوي، مزدوریار، فتح او نور لا پخوا جذب او امر ته چمتو وو.

کله چې سردار د خپل نا خلف او روزل شوي همکار داکټر شرق په سوء نیت پوه شو، تر اقدام وړاندې د هېواد نه یې لرې جاپان کې سفیر کړ.

وکیل د خپل کتاب (از پادشاهي مطلقه تا سقوط جمهوریت دموکراتیک) کې راوړیدي، چې ډاکتر نجیب او ببرک دواړو د ډاکتر شرق نه نفرت درلود او دې به یې البته خپل حریف باله، مګر زور یې پرې نه رسېده، کله چې د لومړي وزارت نه لیرې شو، وکیل د خپل کتاب په ۴۸۱ مخ کې پدې هکله د ګورباچوف ازردګۍ راوړې ده.

داسې نه ده چې شرق د ګورپاچوف شخصي ملګری وي او یا شخصي شناخت ورسره لري، یوازې د ده استخباراتي دنده ده چې خپل رهبري ته دا کسان چې تر امتحان وتلي دي ور وپېژني.

دا کسان هم د جاسوسي په کټګوري کې راځي. د دې ملی خیانت له کبله په میلیونو انسانان شهیدان او مهاجر شول د دوی لپاره د (ق، ج) د ۱۹۴ مادې مطابق مجازات هیله کوم.

د استاد برهان الدین رباني د سولې شورا مشر ته د محمد معصوم ستانکزی لخوا د سولې د پیغام په نامه کوم ځانمرګي ور وستی، چې د استاد د شهادت سبب شو. جمعیت اسلامی پر ستانکزي د ستون پنجم ادعا لري، که دا کار غیر قصدي هم شوې وي، په هر صورت ستانکزی د سهوې قتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اتهام لاندې راځي، ځانمرګي باید د ستانکزی لخوا د موضوع د حساسات پر بنا باید جدي تالاشي شوی وای.

رنګین دادفر سپنتا په خپل کتاب (سیاست افغانستان؛ روایت از درون) په ۵۴۹ مخ کې هم همدا دلیل راوړل شوی دی چې د کابل نه همدې ځانمرګی ۴۸ واري بهر کې تیلفونونه کړي دي، که احیاناً د سهوې قتل هم و بیا هم ستانکزی د سزا وړ دی، د ده د سهوې پر بنا د سولې پروسه ناکامه شوه.



# د انقلابیانو فحشا او بې ناموسي

ګوندیانو چې ځان ته انقلابیان ویل د بې بندوباري لپاره چې فسق او فجور رواج کړي، نو د پلار سالاري او مېړه سالاري تر عنوان لاندې ضد مبارزه پیل کړه.

د اول نه تر اخیره د ګوندیانو لخوا اخلاقیاتو، ملي او اسلامي ارزښتونو پر ضد فعالیت او مبارزه پیل او دوام درلود. د یوې بې بندوباره ټولنې په لټه کې وو، د ببرک او ډاکتر اناهیتا د ناروا اړیکو په کور دننه او کور د باندې ټولو ته څرګند و، ان یوه ایراني لیکوال ډاکتر حسین پاپلی یزدي د اناهیتا و ګوند ورشاملېدل د دې (عشق آتشین) له کبله بولي. د (هجوم به افغانستان) کتاب مولف ولادیمیر سینګریوف او والیرې ساموونین هم د همدې کتاب په ۱۳۰۳\ ۳۳۸ مخ د اناهیتا د ببرک (رفیق سر سپرده) بللې ده.

جنرال نبي عظیمي چې د صحنې ناظر او شامل و، (اردو او سیاست) کتاب په ۱۷۴ مخ کې د بې بندو باري په هکله داسې لیکي: (رجال برجسته رژیم بر داشتن معشوقه ها و سترس های قشنګ... بدنامي را به نام رژیم خویش را کوبید و فارغبال و بدون اندیشه به عیاشی و فحاشی می پرداخت... با نغمه و اتن ملی با حرکات موزون دلپذیر دختران مکتب می رقصیدند شادی بخش محافل بزرګان آن عصر بوده اند. عظیمی دوام ورکوي: (خانم ها و دختران مکاتب با جنبیدن کاکل، ساق ها و سرین و دلپذیر بود).

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا و چې تره کی صاحب به من، من غوښته اخیسته د ده په قول تره کي صاحب اصلاً شنډ و، اولاد یې نه کیده، مګر نظري سیکس یې خوښ و . دا اعمال د جزا قانون په ۳۳۱ ماده کې فس او فجور تعریف شوي دي.د جزا وړ دي.

د رژیم مبارزه هر اړخیزه وه، د بې بندوباري دودول، د ملي او اسلامي ارزښتونو پر ضد مبارزه جدي وه. (زن، زر، زمین) اشتراکیت یې غوښتل او د انقلاب په چوکاټ کې راوړل. له ښځو نه تر ډېره د متاع په ډول کار اخیست. دلته بدې پېښې یې زما لاس ته راغلي، د نمونې په ډول د قضا لوړ مقام ته وړاندې کوم.

ممکن ډېرې د بې ناموسۍ پېښې راغلي وي، چې څوک پرې خبر نه دي او افغانان د حیا او شرم په خاطر د شکایت غږ پورته کړی نه دی. ګوندیان عرف او دود ته نه کتل، دوی مسخ شوي انسانان وو، شراب یې څښل، زنا، لواطت او جنسی تېریو دودول یې غوښتل. پرچمیان په دې برخه کې تر خلقیانو څه وړاندې وو.

فسق او فجور نور عیب نه و، آن د شوروي سلاکارانو هم بې برخې پاتې نه وو.

د انقلاب د کتاب لیکوال په (لیدلي حالت) تر عنوان لاندې ۴۸- ۵۱ مخونو کې راوړي دي، د ځوانانو سازمان لخوا یې مشرتوب کې د ملک طوطي زوی د ببرک شینواري په لاس و، نجونو شکایت کړی و، یو، دوو نجونو خودکشي هم وکړه. دې نجونو د سګریټو پر کاغذ لیکلی وو، چې موږ ټولې حامله شوي یوو.

جنرال عمرزي هم د (کابل شپې) په کتاب ۱۸۵مخ کې د پلچرخي د قوماندان سید عبدالله په هکله لیکي: (دی به چې کله په نشه شو، د زندان پر نجنیو او هلکانو به یې جنسی تېري کاوه.)



د هلیسنکی د حقوقو بشر د ۱۹۸۵ کال د جون د میاشتې ګزارش کې د شوروي د سپاهیانو او د ګوندیانو لخوا پر ښځو تېري راوړي دي، دا یې هم علاوه کړي دي چې د دې تریخ حقیقت قربانیانو د حقیقت له بیانولو څخه ډډه کوله او پټه خوله پاتې دي. افغانانو د دې حقیقت نه کرکه درلوده.

جنرال عمرزي د خپل کتاب (کابل شپې) په ۷۷ مخ کې د کابل د څارندوی د قوماندان خان محي الدین خلقي په قلعه فتح الله کې د (ماري) نومې فاحشې سره لوڅ نیول په صراحت راوړي دي.

ډاکتر پوهاند محمد عثمان روستا تره کی د خپل کتاب (زندان پلچرخي) په ۹۶ مخ کې راوړیدي: (کارمندان زندان، اطفال را به بهانه ای اعمال مجازات، در حالی که موردی برای آن وجود نداشت از داخل اطاق بیرون منتقل میکرد و مورد تعرض جنسی قرار میداد، اطفال بعضاً با تاثر و ګریه داخل اطاق میګردیدند. داستان را به دوستان خود بازګو میکردند.)

ستر لارښود نور محمد تره کی هم د انجونو له نڅا من، من غوښې اخیستې. (دو شبې پی در پی) ویډیو یې.

ډاکتر کبیر رنجبر د مشهوره (صمد ازهر) ورور، د پوهنتون پر خپلې شاګردې فخریه د (ازر) خیاط د میرمنې خور، چې بې پلاره او بې موره یوازې د خپل خور سره اوسېده، په شش درک کابل د کارخانګي په پلمه کورته غوښتې او جنسي تېری یې پرې کړی و او بې ناموسي یې ور اړولې وه، د ګوند د ښځو د کمیټه رئیسه ډاکتر اناهیتا به د شکایاتو کمیسیون میر اکبر خیبر ته راجع کړه، کبیر رنجبر د بورس په نامه شوروي ته و تښتېد. باز خواست و نه شو.

د سازمان ګوندي غونډو په پلمه ځوانان هلکان او ځوانان انجونو ور ټولولو لوړې اوازې را پورته کړې وې.

ډاکتر شیر شاه یوسفزی هم د خپل کتاب په ۴۵ مخ کې د ډاکتر شاه ولی لخواپر ښځو جنسي تېري چې درملنې لپاره به روغتون ته راتلې راوړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې بندوباري، فسق او فجور د کمونستانو د ټولو په واکمنۍ کې په شدت سره دوام درلود، د کورنيو د مشرانو صلاحيت نور ختم و.

د استاد برهان الدين رباني وخت کې هم د بې ناموسۍ له ډاره ځينو انجونو ځان د لوړو منزلونو نه را خطا کړ.

په ګونډيانو کې فسق او فجور عيب نه و، لکه کله چې لا افغانستان کې ښځو نهضيت او آزادي نه وه راغلې د کابل په نندارو کې په جشن کې به بارق شفيعي د ښځو رول ادا کاوه.

د هجوم کتاب په ۱۱۱ مخ کې د کې جي بي د راپور پر بنا چې ليکي: (امين وفاداری خاص در برابر همسر خود ندارد. البته در هم چو حلقات اينکار کدام خطای بزرګي نيست. خبر داريد که ببرک با اناهيتا راتب زاد يکجای زندګی ميکند آمين هم در عين حال اګر دستش برسد مخالف نيست با ديګری نيز تاری بدارند...).

د انقلابيانو جنسی تېريو ته جنرال قادر هم د خپل کتاب ۲۶۳ مخ کې اشاره کړې ده. پوهاند کاکړ هم په خپل کتاب کې راوړي دي چې د لغمان په قرغه يي کې، قواي دوست د ګل حيدر کور ته د تالاشي په پلمه ننوتل، دی يې غلبيل، غلبيل کړ، پر ښځه يې تيرې وکړ او وړوکي ماشوم يې خفک کړ.

شنکجه ګاه کابل کتاب په ۱۳۹ مخ کې په صراحت سره راغلي دي چې ګونډيانو به افغاني نجونې روسانو ته ور وستلې.

مشهوره سندر غاړې، بخت زرمينه هم، د ډېر استعمال له کبله وروسته بيا په مرموز ډول ووژل شوه.

قواي دوست چې کومې خپلې ښځې چې د انترناسيونالستي دندي، تر سره کولو لپاره افغانستان ته راغلي وې، (د دوی په اصطلاح) آن پر خپلو ښځو هم تيری کاوه، چې د (پټو ټوبو) کتاب کې څو ځايه دا مطلب راغلی دی. روسان په شهوت کې ډېر وحشت لری، ګليم جمو هم تر نورو څه کمی نه



درلود. يو معزز سپين ږيري کيسه کوله؛ چې د بس تم ځای مکرورويان کې ولاړ وم، يوه ميرمن د يوه واړه هلک سره هم هلته ولاړه وه، ګليم جم هغه ميرمن په زور خپلې پوستې ته پورته کړه، ماشوم چيغې کړې (خاله ام است) چا غوږ پرې و نه ګراوه، يو ساعت وروسته يې هغه ميرمن يې بېرته راوسته، هغه ماشوم ته يې وويل: (اينه چه شد، پس آوردمش.)

ډاکتر پوهاند محمد عثمان روستا د خپل کتاب (زندان پلچرخي) ۹۳ مخ کې د دويم بلاک باشي لخوا، چې د دولت د يو بانفوذه کس پر زوی چې کوچنی هلک ؤ د جنسي تېری کيسه راوړې ده؛

محمد عنبر د غلام علي زوی د بلاک ۲ د (۱۷۲) کوټې باشې د (خاد) د مامور بندی سره د لواطت بيان- د باشي سلام شمالي وال بد کاری د ذبيح الله پغماني په ۹۵ مخ. په همدې مخ کې د زمری شمالي وال د وحيد د شمالي اوسيدونکي سره، لواطت، ۹۵ مخ کې او د (خاد) مامور د سيد عالم سره لواطت، بيان د مثال په توګه راوړي دي، ۹۶ تر ټولو تراژيدی او د وير نه ډګه دا جنسی تېرې به د جبر او اکراه سره و.

د استاد روستار په همدې مخ کې د هغو هلکانو باندې چې بندي به شو، راوړي چې د هغو دا بيان ژړا او تاثر وړ دی مرتکبين د جزا د قانون د ۴۲۹ ماده سره د سخت سزا وړ دي. جنرال عمرزي د کابل شپې کتاب ۱۸۳ مخ کې قوماندان د اعتمادی ګل آغا دلګی مشر، د ساتنمنانو او ځوان پنديانو سره په زور او اکراه جنسي تري بيان راوړی دی.

استاد کاکړ هم زياتوي چې د لوګر د موسوي په کلي کې په عملياتو کې په کال ۱۹۸۵ قواي دوست د غوث الدين ګلکار کورته ورننوتل، د هغه پر ميرمن يې جنسي تير وکړ. ميرمن هڅه کول چې ځان ووژني.

په ډېرو هغو کتابونو کې چې د افغانستان پېښې پکې څېړل شوي د دا ډول بې ناموسۍ کېسې راوړل شوي چې د پېښې قربانيانو به د کورنۍ د حيا او ابرو په خاطر خوله پټه نيولې و (هجوم کتاب مخ ۱۸۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنرال قادر د سياسي خاطراتو د کتاب ۲۴۳ مخ کې د موظفينو لخوا پر ښځو د جنسي تيري بيان راغلی دی، چې د کشتمند خور او ډاکتر ګلالي چې د ولادی او نسايي د سرويس ډاکترانې وي، هم شکايت پورته شو او دا متجاوز نفر حسن نومېده.

انقلاب ليکونکي د خپل کتاب (په افغانستان کې ليدلي حالات) کې د پلچرخي زندان کې د زندان پر ښځو بانديې د تېري بيان په ۳۷ مخ کې په تفصيل راوړل شوی دی، د دې کتاب په ۴۸ مخ داسې هم راغلي چې انقلابيانو ښځې او نجونې هم روسانو ته ور وستې. دا لا هم زياتوي کوم نجونې چې به حاضر نه ؤ، هغه به په توپانچه وويشتل شوه. په دې ښځو او نجونو کې اکثر به حامله هم شوې و.

د همدې کتاب په ۵۰ مخ کې راغلی چې ګلابزوی او وطنجار په ګډه د يوې ښځې سره په محکمه کې د مرستې په وعده زنا کړی ؤ، همدې ښځې د قاضی مخ ته اعتراف وکړه، د دې جرم سزا رجم او سنګسار ده.

ذبيح الله امانيار (شکنجه ګاه کابل) مولف د خپل کتاب ۲۴ کې يوه تراژېدي او له ننګه ډک يو داستان ليکي چې زه يې لنډيز راوړم؛ ناوې "ساره"او "راشد" سړی دواړه دولتي مامورين وو، تر اقتصادي فشار لاندې يې بيا هم د خوښۍ او خوښ ژوند سبا کوي. کومه شپه د بنديز په وخت کې دروازه ور ټکېږي، بالاخره د تلاشۍ په پلمه په دېوال عسکر ور پورته کېږي، معلم راشد له ځان سره بيايي.

څه وخت وروسته څو کسان دوپايه ځناور بېرته را ګرځي، د راشد مور په بله خونه کې بندی کوي، د راشد پر ميرمن ساره تجاوز پيلوي، زارۍ او ژړا ګټه نه کوي، دوی ولاړل، سارا د کورنۍ دپاره دا بې ناموسي منلای نه شوه، خنجر په خپل زړه زړه کې وهي او خودکشي کوي. روح دې شاد وي



# د انقلابيانو ناوړه ګټې

تر يو وخت پورې دا کسان به ګونديان نومېدل، د ثور د کودتا نه وروسته دوی ځانونه انقلابيان بلل، که څه هم دوی له بلې خوا رهبري او اداره کېدل او دوی يوازې لوبغاړي ؤ.

همدا کمونستانو (باالخصوص پرچميانو) ډله د سردار په وخت کې هم رويکار وو، چې د محمد هاشم ميوندوال توطيه چې د حقيقت نه ليرې وه.د همدوی لخوا جوړه شوی وه. د دې قضيې نيم تورنان تجاران او شتمنان و دا څرګنده ده، چې زموږ هېواد کې شتمنان د سياست سره هيڅ علاقه نه لري، په دې تورنانو يې ملکيتونه خرڅ کړل، پيسې يې ترې بود کړې؛ اما ګټه يې ور ونه رسول.

تره کی صاحب د خپل ماموريت وخت کې چې انحصاراتو مامور و، د اختلاس تر تور لاندې و، د خپلې سيمې (شيرشاه مېنې) هم د يو بد پورې مشتري په نامه پېژندل کېده. (هجوم در افغانستان) مولف هم د خپل کتاب په ۳۸۸ \ ۳۲ مخونو کې د ببرک اعتراض پردې بانديې و، چې تره کي د شوروي هغه مصارفاتو څخه چې د ګوند د تقويې لپاره ورکول کېده، ده (تره کي) به ترې ناوړه ګټه پورته کوله.

د مير اکبر خيبر د جنازې په مراسمو کې، د خلق غړي بايد زنداني شي، حيفې د (فاجعه کابل) په ۱٦ مخ د اختر بلند څارنوال چې د تره کي کور تالاشي په ترڅ کې دوه لکه افغانی او ۳۰ زره روبل را پيدا شوي او د کودتا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقشه هم ور سره وه؛ دا ثابتوي چې تره کي د شورويانو لخوا مادي حمایه هم کېده. دا پیسې ممکن هغه د ګوند دپاره د شوروي مالي مرسته ؤ.
کوم نفر چې به انقلابیانو ته شتمن په نظر ورغي، په مصنوعي ډول به یې اطلاع ورکړه، چې تر تعقیب لاندې یې او دا اطلاع به یې د یو زړه سوي په خاطر ورته څرګنده کړه، هغه د ځان د ساتنې په خاطر تېښتې ته اړ شو، سبا به یې کور د انقلابیانو لخوا لوټ او ضبط شو.
جنرال قادر د خپل کتاب په ۳۰ مخ کې خپله لیکي چې د حربي ښوونځي په رخصتیو کې به یې ایران ته شخصاً پخپله د تریاکو قاچاق کاوه، د غوایي د کودتا نه وروسته جنرال قادر د یو هیيات په مشري د پاچا او د کورني د نورو غړو لکه سردار داود خان او سردار محمد نعیم خان نور کورونه تالاشي و ضبط کړل، چې د دې کورنیو نه ډېر مالونه غلا کړل، آن د شاهي کورنۍ قالینې یې اروپا ته خرڅلاو لپاره ولېږلې.
کله چې حفیظ الله امین شپږ تنه پرچمیان سفیران د کار نه بر طرف او مرکز ته راغوښتل، دوی ټولو د سفارت شتمني چور او و تښتیدیل، تر ټولو د ایران سفیر ډاکتر نجیب او نور احمد نور ته چې په واشنګټن کې د غنمو د رانیولو لپاره دوه لکه ډالر لېږل شوي وو، په لاس ورغلل.
جنرال قادر هم د خپل کتاب ۴۱۳ مخ د سفارت د پیسو غلا ته اشاره کړې ده. جنرال لا دا هم زیاتوي، کله چې به نور احمد نور د ببرک مخ ته ودرېده، نو ببرک به د دې پیسو د غلا موضوع د یوه فشار په توګه را پورته کوله. ان یو ځلې یې تفتیش هم وګوماره.
وکیل هم د خپل کتاب په ۸۷۲ مخ کې د هند د سفارت نه (۳۵۰۰۰) درې لکه او پنځوس زرو کلدارو وړل د سفیر احمد سرور لخوا چې د ډاکتر نجیب باجه کیدو په تفصیلي بیان راوړي دي. د همدې کتاب ۸۷۱ مخ ۳۲ داسې معلومیږي چې نجیب د پخوا نه داسې ورځ پیش بیني کولای شوای، او خپل کورنۍ یې لا د مخه په هند کې ځای پر ځای کړی ؤ، او د تیښتې



پلان ور سره ؤ، د صندوقونه چې ټول قیمتي شیان ډک ؤ د نعمت الله لخوا د ډاکتر نجیب لپاره هم یو نا معلوم ځای ته انتقال کړل.
دا څرګند اختلاس دی چې د (ج، ق) د ۲۲۳ مادې سره سم طلب مجازات ورته غواړم، د دې ګوند ډېر کسان کومو ته چې زمینه برابره و، دریغ نه کاوه. دا صندوقونه باید بېرته را وغوښتل شي.
نیول، تالاشی ټول به دفعتاً د بې خبري په ډول اجرا کېدې، ټول هغه کسان چې به وژل کېدل، هر څه چې به یې درلوده، ساعتونه او نقدې پیسې یې د لوبغاړو مال و. بازخواست چا نه کاوه، دلته د انقلابیانو د ناوړو ګټو په هکله قیاس کېدای شي، چې پولیګون او نورو کشتارګاه کې په لکونو انسانان په شهادت رسېدلي، مګر وکیل د خپل مالیې وزارت په وخت کې د خپل کتاب ۳۶۳ مخ کې یوازې د ۳۰۰- ۴۰۰ قاب ساعتونو او یو څه مبلغ نقدو تصدیق کوي. د سروري د ورور محمد انور سروری لخوا ورته تسلیم شول، په داسې حال کې نوموړي د اګسا جنسی تحویلدار نه ؤ. څرګنده ده چې د شهیدانو مالونه به همدې انقلابیانو وړي و.
ډاکتر محمد ظاهر صدیق د (تاراج) په نامه خپل کتاب د خپل سر او بې سته مېلمنو په اړه ډېر اسناد او مواد را ټول کړي په ۳۳- ۳۶ مخ کې تفصیل راوړیدي، چې د کور او د لویو لارو غلا، د دوکانونه، به زور سګرټ اخیستل، د تالاشي په پلمه، د جمهوریت سوپر مارکیټ، د هلمند، کندهار او کیله ګی یورانیوم، مالتې، انار او ګاز غلاوې په پټه یا نیمه پټې ته ګوته نیولې او د انقلابیانو بې غیریتي او وطن فروشي پوره څرګنده وه، چې د خپل ولس بازخواست یې نه کاوه. یا یې نه شوای کولی، مېلمنو خپل مالونه هم غلا کول او پر افغانانو یې مرمۍ او وسلې هم خرڅولې. پسونه او چرګان به یې هم غلا کول، چې ګونډیان ور سره شریک ؤ، نورې ډېر د ویر نه ډکې کیسې ډاکتر صاحب را ټولې کړي دي، په دښتو کې به موټر یا الوتکه و درول، شپون به یې مړ او پسونه به یې پورته کړل. د همدې کتاب (۴۲ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال قادر د خپل کتاب په ۱۲۹ مخ کې د سردار نعیم خان له کوره په لاس راغلي ۳۵ خشت طلا ٦۰ دانې د طلا پوندونه، عبدالکریم میثاق ته تسلیم کړي. بیا یې حساب او کتاب معلوم نه شو.

د (زندان پلچرخي) په ١٦ مخ د پروان ولایت او کاپیسا ۲۵۰۰ تنه ځوانانو چې د پوځ نه د تښتې په تور ونیول شول، چا چې مالي توان درلود بډې یې ورکړې، خوشې او دا نور د (۲ کالو بند نه تر اعدام) پورې ورسېدل.

میتروخین د خپل کتاب ۱۳۴ مخ کې د سروري له خولې لیکي: (دا مې د تالاشي په لاس راغلي هغه ۳۰۰ لکه افغاني د سروري لخوا و ملګري امین ته تسلیم شوي، او د پاچاهي کورنۍ او د مجددیانو د کورنۍ نه د ۲۸ کیلو سره زر په لاس راغلي وو چې امین صاحب د ځان سره واخیستل. په دې کتاب کې دا هم زیاتوي چې امین د خپل زوی په واسطه جاپان ته یوړل. د هغو پیسو نه ۴ لکه جنرال نظر محمد او ۲۵ زره جنرال حمزه ته ورکړې.

کله چې سروري د امین له ډاره، خپل موټر د شوروي په سفارت کې پرېښود، د هغه موټر نه هم ۵۳ زره ډالره، ۴ میلونه دوه لکه او شل زره افغانۍ په لاس راغلې.

ډاکتر حسن شرق هم د خپل کتاب په ١٦٥ مخ کې په برلین کې د افغاني سفارت خرڅلاو ته اشاره کړې، چې د سفارت کارمند زلمي شهباز لخوا په ٦ میلونه ډالر خرڅ او پیسې یې تر اوسه ورکې دي.

ډاکتر پوهاند محمد عثمان روستار د خپل کتاب (زندان پلچرخي) ۱۳۸ مخ، د انقلابیانو د رشوت او ناوړو ګټو ته اشاره کړې ده چې د دې لپاره د محبوسینو باالخصوص (حبس های طویل المدت) ضمانت را وایست، چې پدې مقابل کې ډېر زندانیانو چې پولي توان درلود، بې له دې چې حبس معیاد پوره کړي، د بند نه خوشې شول؛ لکه حاجي ګلالی د کندهار- فدا محمد د حاجي حسن زوی، اسد الله د صلاح الدین زوی، محمود د عبدالقارد زوي د کندهار اوسیدونکي، عبدالهادی د حاجي محمد زوی،



حاجی اسد الله د ترافیکو مامور، فضل احمد، نور احمد او عبدالرزاق د کندهار اوسیدونکي. د پیسو په مقابل کې له بنده خوشې شول، پوهاند په اخیر کې دا هم زیاتوي: ((عواید ناشي از رشوه علي السویه بین لاشخوران داخلي و خارجي تقسیم میشد.))

کورني او بهرني مارکسیستانو تر اخیرې کچې پورې هر ډول ناوړو ګټو ته پام وو، مثلاً استاد پوهاند روستار د خپل کتاب ۱۳۸ مخ راوړي دي، چې د په اعدام محکوم شوي زندانیانو نه، تر اعدام او کشتارګاه وړاندې، د دوي وینه چوش کړه او د وینې بانک کې ذخیره کړه.

ډاکتر روستار اسناد راوړیدي چې د انقلابیانو لخوا، د دوي دښمنان د پیسو په مقابل هم خوشي کول اسد مقصود، د بشر داود زوی د شکر درې اوسیدونکي د ۳ لکو افغانیو په بدل کې او د بغلان د قوماندان پنځه تنه مجاهدین انجنیر هارون، ګلاجان، مولانا فضل حق، عبدالفتاح او محمد عزت د دوه میلونو او پنځوس زرو افغانیو په مقال د بند نه خوشي شول.

د رژیم د ډاره او فشارونه په میلونو کورني قرار او مهاجرت ته په تش لاس اړ شول، کور به یې د انقلابیانو لخوا چور او ملکیت ضبط شول.

دا تصمیم غیر قانوني او ډېر ظالمانه ؤ، اما مهاجران پدې خوشحاله ؤ، چې اقلاً ژوندي خپل سر را بچ کړ.

او همدا ډول کله چې امین د تاج بیګ په ماڼۍ کې د مرغومي په شپږمه د شوروي یرغلو لخوا څخه په قتل ورسیدې د امین ټوپک د جزیې په ډول اندروپوف ته ور ورسیده. (د تاند ویبپاڼه امین څنګه ووژل شول د مصطفی عمرزي لیکنه د جون ٦ کال ۲۰۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شکنجه

شکنجه د بشر د حقوقو نه صریح نقض دي او یو غیر قانوني غیر بشري او وحشي عمل دی. د اساسي قانون (۲۸) مادې شکنجه او تعذیب په صراحت سره منع کړي دي. همدا ډول د همدې قانون ۲۹ او ۳۰ مادو د اکراه په واسطه شهادت اقرار ممانعت کړی دي. همدا ډول د ټول بین المللي کنوانسیونو او مقرراتو کې همدې مطلب ته خاصې پام شویدي.

د دې بشریت دښمنانو د دیکتاور پولتیاریا مفهوم په شکنجه او وژلو کې را لنډ کړ. د سردار په واکمنۍ کې چې هم همدا د هېواد دښمنانو لاس بری و، لومړی شکنجه د محمد هاشم خان میوندوال د قضیې تورنان او د عزت خاوندان شکنجه او بې عزته کړل څرګند شوه، چې د صمد از تر لغتو مرحوم میوندوال ساه ورکړه او په ډېر کړاو او عذاب شهادت لوړ مقام ته ورسید.

د دین دښمنانو پر خپلو همسنګره ملګرو هم زړه سوې و نه کړ، دلته د سلطان علی کشمند هغه تلویزیوني مرګې ته اشاره کوم چې د اسد الله سروري نه د شکایت په ډول وویل: چې غیر اخلاقي شکنجه شوم، ممکن هغه یې داسې شکنجه شوی وي. کومه ډول چې حاجي احمد ایشچید جنسی تیري پر حاجي جنرال عبدالرشید دوستم ادعا لری. ګوندیان پیژندل شوي د ټیټې کورنیو نه وو، په دې پوه وو چې دوی ته به څوک سر ټیټ نه کړي، نو د تصفیې تر برنامې لاندې یې مخ کې تر مخ په وژنو لاس پورې کړي، تر څو میدان ورته خالي پاتې شي.



ډاکتر پوهاند روستار د شرعیاتو محصل د لوګر اوسیدونکي عبدالوکیل شکنجه په ۱۳ مخ کې، په همدې مخ کې پوهاند خپل د تحقیق کارمندان اسد الله رحماني او حبیب مومند یاد کړي، د ګوندیان د تحقیق په جریان کې د هر ډول فشار تطبیقولو اجازه وه؛ مثلاً پوهاند روستار د کتاب په ۲۲ مخ کې راغلي، چې د مستنطق لخوا د پولی تخنیک پر اختر محمد نومې محصل جنسي تېري وکړ. د اساسی قانون ۲۴ ماده کې صراحت لری، چې کرامت انساني د تعرض نه مصون دی.

کله چې قضیه رسوا شوه، مستنطق وویل؛ د اقرار ترلاسه کولو لپاره مور ته د هرې وسیله په کارولو اجازه ده، پر خپل جنایت صریح اقرار دی آن په ځینو مواردو کې په یې د کورنۍ غړي د جنسي تېري د تهدید لاندې راوستې استاد روستار د خپل کتاب ۲۸ مخ د میر داد پنجشیري د کورنۍ مثال راوړی دی. یا همدا ډول حبیب الرحمن هاله د عبدالاحد زوی د پوهنتون استاد هېواد نه وتلو په ګناه ۸ کاله حبس او مېرمن، دوه ځوانې لوڼې او یو وړوکی زوی هم بندي شول. په داسې حال کې چې دې د وطن دښمنانو، پخپله وطن پرېښود، پر کومو هېوادو به یې چې د مرګ چیغې به وهلې اوس هلته پنډ دي. په داسې حال کې چې اساسی قانون ۳۹ ماده اجازه ورکوي، چې یو افغان خارج ته لاړ او بېرته راشي. استاد روستار دا لا هم زیاتوي چې د فشارو له کوم به ډېریو ته رواني تکلیف پیدا شو، نومړی زیاتوي شکنجې ډول، ډول، برقي شوکونه، نوکانو ایستل، ویښتانو ایستل، تناسلې او خصیه به یې د دو تخته په منځ کې نیول، ادرارو د لار بندول په زنجیر وهل، په یخو اوبو کې درول، د مالګې اوبه د نوکانو لاندې، تیزاب ور ننه ایستل، توده او داغ میله یا بوتل په مقعد ور ننه ایستل. ۳۰ مخ.

ډاکتر روستار دا پورتنې مطلب د (نشریه افغانستان): شکنجه زندانیان سیاسي، منتشره سازمان عفو بین المللی (ص، ۱۹- ۳۰ سال ۱۹۸۰ پاریس) په حواله د کتاب په ۳۴ مخ کې راوړي دي، کوم چې د شکنجې له امله ناروغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ټپونه واخیستل هڅه به وشول چې هغه مدوا او روغ کړي بیا به یې اعدام کړ.

خدای دې استاد پوهاند ډاکتر محمد عثمان روستار او نورو وطنوالو ته اجر ورکړي. استاد ډېر مهم اسناد د ده علمیت پر بنا او مستند او قانوني اسناد را ټول کړي دي البته محکمې ته اوس سم په درد خوري دی په ۳۹ مخ کې لیکي: چې فدا محمد د حزب اسلامي غړي په ۱۷ کلني کې د اعدام حکم را ووت، درې کاله وساتل شو، کله چې ۲۰ کلن شو نو د محکمې د اعدام فیصله پرې تنفیذ شوه.

د ګوند عمومي پالیسي په وحشت، وژلو او شکنجه باندې ولاړ و. د ګوند غړو د ټولو دا رویه وه، مګر کوم کسان د ګوند غړي پخپله د همدا وحشت او غیر انساني کړنو سره مخ شول، بیا شکایت پورته او د حقوق بشر په فکر کې شول؛ دا شکایت صالح زیري، کشتمند او جنرال قادر په خپلو لیکنو او کتابونو کې راوړي دي.

محمد اکبرم اندیشمند په خپل ۱۶۳ مخ کې راوړیدي، چې د زندانیانو به حساس ځایونو لکه د پوزې، د غوږ نرمي، اله تناسلې سره به یې برق وصل کړ. هر زندانی به په مرګ راضي ؤ، او د نا حقه اقرار به یې وکړ. دانشمند دا هم زیاتوی چې پر زندانیانو بزکشی کیدل او پر نشان تمرین کیدو ۱۵۴ مخ.

البته دا د رژیم د جنایاتو او د بشري حقوقو د نقض د ادعا لپاره یو پوره سند کېدای شي، قادر د خپل کتاب ۲۸۳ مخ کې د کندهار نه راوستلي کسان د ده د کودتا په تور څرنګه چې دی وایی، چې هېڅ پېژندګلو او ارتباط ورسره نه درلود، بیا هم اعدام شول.

دی په ۲۳۹ مخ کې د اسد الله امین، اسد الله سروري، اسد الله پیام، ترون او جیلانی د وزارت د مرستیال له خوا شکنجه به تفصیل راوړې ده او تر ټولو د هغه برقي الې شوک چې دوی (ولادیمیر) باله، ډېر شکایت لری او د



همدې کتاب په ۲۹۳ مخ د روجایې په واسطه خپه کول هم بیان لري او د خپلې قبرغې د ماتېدو بیان هم راوړي دي او په همدې د سلطان علی کشتمند د شکنجې له کبله د چیغو اورېدو بیان هم کوي.

کله چې به زندانیان شکنجه کیدل، نو ګوندیانو به په تهدید ورته ویل، چې ستا خدای او رسول دې اوس تا وساتي.

ذبیح الله امانیار د خپل کتاب (شکنجه ګاه کابل) په ۹۳ مخ کې د امان الله د حزب اسلامی غړي، چې د ده هم اطاقه ؤ، بیان داسې راوړیدي، چې د اقرار اخیستلو دپاره یې د ده مور هم راوړي او شکنجه کوله، اخر یې دی د ده پر مور د جنسي تجاوز باندې تهدید کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم فصل

## د چنګاښ ۲٦ مه

پدې ورځ کودتا په لار شوه، چې دا کودتا د غوایي د کودتا مقدمه بلل کېږي، چې ډېر لوبغاړي یې شریکان دي. د چنګاښ پر ۲٦ کال ۱۳۵۲ څو تنه د اردو افسران د سردار محمد داود په مشرۍ یو وسله وال پاڅون وکړ د کابل د قطعاتو قومندانان موسی شفیق لومړي وزیر، د دفاع وزیر جنرال خان محمد خان په ګډون د کوره را وایستل شول او بندیان شول چا هیڅ حرکت ونکړ، قومندانان تسلیم شول. دا یو بدلون ؤ، د کلو، کلو پاچهۍ نظام په جمهوري بدل شو، چې نورو کودتاګانو لپاره یوه بنسټ شوه. د دې کودتا ملګري هم هغه کسان و چې په وروستیو بدلونونو کې یې هم څرګند رول درلود. د دې بدلون داخلي بعد د دو سردارانو (سردار محمد داود خان او سردار عبدالولی خان) ترمنځ مخالفت او ځان غوښتنه او بهرني رول شورویانو، چې زموږ په هېواد کې یې یو بدلون غوښت چې جمهوریت نظام وروسته په بشپړ کمونستي رژیم بدل شي.

کله چې سردار نیت د یوه بدلون لپاره درک شو او یا به شورویانو تحریک کړی و . محدود څو تنو لکه ډاکتر حسن شرق، غلام حیدر رسولي، عبدالاله او قدیر نورستاني جذب شوي وي، نور ګډون کونکی د کي جي



بي لخوا روزل شوي ور ولېږل شول چې د سردار هم پکار وو، بې له دې چې سردار یې و پیژني، په کودتا کې شریک کړل، البته چې سردار هم په هغه وخت کې د اشخاصو په ماهیت او کرکتر پسې نه ګرځېده، چې یوازې داسې کسان پیدا شي، چې کودتا ور سره عملي کړي. کودتا بریالۍ شوه، دا هم یو ګام د بدلون په لوري.

کودتاچیانو دا کودتا انقلاب باله او کله به وروسته سپینه کودتا هم ویل کیده، نوي اصطلاحات منځ ته راغلل، لکه کمیته مرکزي، رهبر، انقلاب، د انقلاب ملګري او نور...

دا عمل پخپله د (ج، ق) ۱۷۴ خلاف عمل و، کودتا بریالي شوه، ملي شورا منحل شوه، د قضا خپلواکي له منځه لاړه، د دولت کارونه ټول په یو لاس کې شول، تفکیک قوا له منځه لاړه، د مطبوعاتو آزادي محدوده شوه. په نوی رژیم هم تر اندازې پر دروغو او توطیو او ظلم او استبداد ولاړ ؤ، چې وروسته کې به هم تفصیل راشي

حدس وهیل کیدی، چې په کودتا کې د (خلق دموکراتیک ګوند) د پرچم د ډلې تفاهم ورسره ؤ، عبدالوکیل د خپل کتاب په ۱۴۱ مخ کې د سردار هغه نامتو بیانیه (خطاب به مردم) د کشتمند او سلیمان لایق لخوا په ډېر احتیاط ترتیب شوې بولي. ډېر احتیاط پکار و، چې حساسیت پیدا نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سردار کاري ډله

۱- سردار محمد داود خان د دولت مشر لومړی وزير، بهرنيو چارو وزير، د دفاع وزير.
۲- ډاکتر حسن شرق د لومړي وزير مرستيال.
۳- عبدل اللـه د ماليې وزير، (د ماليې وزارت عادي مامور).
۴- فيض محمد د کورنيو چارو وزير، (تورن) پرچمي.
۵- ډاکتر نظر محمد سکندر (مارکسيست) د روغتيا وزير.
٦- جګتورن غوث الدين فايق، د فوايد عامې وزير.
۷- غلام جيلانی باختري د کرنې وزير، پرچمي د ببرک د ترور زوی.
۸- هوايي تورن پاچا ګل وفادار، د سرحداتو وزير، پرچمي.
۹- ډاکتر عبد المجيد د عدليې وزير، لوی څارنوال او د قضايې قوې مشر، پخوانی ډيپلوماټ.
۱۰- ډاکتر نعمت الله پژواک د پوهنې وزير. د بيولوژي ډاکټر
۱۱- ډاکتر عبدالقيوم د معدن وزير.
۱۲- عبدالحميد محتاط د مخابراتو وزير. کمونست، شعله اي.
۱۳- ډاکتر عبدالرحيم نوين د اطلاعات او کلتور وزير. د نسايي او ولادي متخصص
۱۴- محمد خان جلالهد تجارت وزير.



سردار ممکن د کي جي بي سره د جلالر په اړيکو سم پوه ؤ، اما تحمل يې کاوه، يا پدې مانا چې د شورويانو په هکله سردار کوم نا سم نيست نلري او موږ داسې څه نه درلوده، چې د شورويانو نه پټ وي.
پدې انقلاب (کودتا) کې هم د هغو کسانو لخوا ترتيب او پکار واچول شول، چې د غوايي کودتا او د مرغومي شپږم کې بشپړ نقش درلود.
صاحب جان جګړن د ګارد قومندان مرستيال
د کودتا نورو ګډون کوونکو هم لوړي څوکۍ ونيولې؛ لکه:
غلام حيدر رسولي د قواي مرکز قوماندان د دوو رتبو سره
محمد سرور نوريستانی د ۴ زرهدارو قوا قوماندان
مجيد ضيا د ګارد قوماندان
مولا داد فراهي د دفاع وزارت اداري رئيس
محمد يوسف د ۱۵ زرهدار قوا قوماندان
خليل الله د مهتاب قلعه د توپچي قوماندان
عبدالقدير ترافيکو د مديريت د واقعاتو د بررسي آمر، د پوليسو عمومی قوماندان په توګه.
عبدالکريم مستغني لوی درستيز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کميته مرکزي

کميټه مرکزي، دغه اداره چې هېواد کې تر اوسه سابقه نلرله، مګر هر څه يې په واک کې ؤ.

د دې ډلې نه، پاچا ګل، محمد يوسف، ضياء مجيد، ډاکتر شرق، فيض محمد، محتاط، فايق، رسولي، سرور نورستاني، قدير نورستاني، خليل الله، يوسف فراهي، مولا داد، د مرکزي کميټې غړي، چې په سر کې يې خپله سردار قرار درلود.

په مجموع کې د پرچميانو نقش ډېر و چې وروسته سردار داود پوه شو، چې په اسارت کې قرار لري. همدا ډول چې د سردار په اداره کې د پرچميانو نفوذ ډېر و، توطيې يو د بل پسې راغلې؛ د ميوندوال توطيه يې يوه نمونه ده.



# پر ميوندوال توطيه

ګرچه توطيه کې محمد هاشم ميوندوال د کودتا په تور و

ګرچه دا قضيه د غوايي تر کودتا وړاندې ده، مګر د غوايي د کودتا سره ربط لري او نسخه هغه نسخه ده، د غوايي انقلاب کې دا ډول توطيې يو معمولي ورځنې کار وبلل شو. د سردار محمد داود د کودتا او (چنګاښ، د ٢٦) نه فقط څو مياشتې تيرې وې، د سردار له رهبري سره، چې يو پېژندل شوې څيره و، چا مخالف و نه کړ او د سردار په ملي احساس او وطن دوستي کې شک نه و.

د ١٣٥٢ کال د وږمي په ٢٨ د شپې د راډيو لخوا د لومړي ځل لپاره پخواني لومړي وزير محمد هاشم ميوندوال په مشرۍ او د څو کسانو جنرالانو په ګډون د دولت په ضد د کوتا خبر خپور شو. چې چا ته د منلو وړ نه برېښنده خو د سردار د قهر او غضب نه ټولو نګراني درلوده. نيول، نيول پيل شو، تالاشۍ په شدت عملي شوې، بې ګناه کسان ونيول شول، نور هر څوک پر ځان ډارېده، بازخواست نه ليدل کېده.

آوازو، کوڅو او بازار ته هم درز وکړ، په پوره مهارت طرحه او پلان شوي وه، ظاهري بڼه يې سمه وه. د کودتا په سر کې يوه مشهوره او پېژندل شوې څېره، د هېواد خدمتګار او پخوانی لومړی وزير او په عين زمان کې د سردار پخواني دوست او نژدې همکار قرار ورکړل شو او يو شمېر د سردار پخواني اردو همکاران او يو بل شمېر تاجران هم پکې نيول شوي وو، تاجران او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمايه داران زموږ په هېواد کې سياسي فعاليت هيڅ سابقه نه درلوده، د کودتا تورنان دا کسان و.

١. تورن جنرال خان محمد خان د لوی درستيز پخواني مرستيال ارکان حرب.
٢. ډګر جنرال عبدالرزاق خان هوايي لوی قوماندان.
٣. تورن جنرال عبدالرحيم ناصري د پوليسو او ژاندارم لوی قوماندان.
٤. جنرال نيک محمد سهاک. د حربي پوهنتون قومندان
٥. ګل بهار خان هوايي ډګر جنرال.
٦. جنرال عبدالسلام ملکيار.
٧. ډګروال قوات خان.
٨. ډګروال امين الله.
٩. ډګروال ماما زرغون شاه شينواری.
١٠. ډګروال سيد امير. هوايي
١١. ډګرمن نقيب الله.
١٢. ډګرمن نور احمد
١٣. ډګرمن محمد هاشم کامه وال
١٤. د عبدالحکيم کټوازی دوه ورونه
١٥. ډګرمن محمد اکرم. هوايي
١٦. ډګرمن ممتاز.
١٧. مولوی سيف الرحمن وکيل.
١٨. محمد عاريف شينواري چې په عارف ريکشا مشهور و . (د پېښور اوسيدونکی)
١٩. جنت خان غروال د پښتنې بانک رئيس.
٢٠. حاجی الله ګل، تجار
٢١. حاجی مولا ګل، تجار



٢٢. حاجی الله نظر، تجار
٢٣. سعد الله کمالي وکيل.
٢٤. ډګروال شير افضل افريدی.
٢٥. باز محمد زرمتی وکيل.
٢٦. ډګروال مير علي.
٢٧. ډګروال شاه علي مومند.
٢٨. حاجي فقير محمد، سناتور.
٢٩. حنان ځائی، تاجر.
٣٠. ډګروال سردار ځائی.
٣١. مولوي غلام حيدر د مولوي سيف الرحمن پلار
٣٢. جګړن اکبر.

تحقيق د کورنيو چارو وزير او د پوليسو لوی قومندان لخوا دا کسان شعوری او دستوري وټاکل دواړه د قدرت په نشه مست وو، تحقيق پيل شو.

## د تحقيق هيئات

١- صمد ازهر.
٢- فاروق يعقوبي.
٣- نصر الله عمر خيل.
۴- عبدالله همکار.
۵- غلام رسول اتمر.
٦- باقي (بينی پوچوک)
٧- قطره.
٨- سيد کاظم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ټول پرچمیان او په توطیه کې شریکان وو؛ ازهر، اتمر، عمرخیل او همکار د یوې کورني نه او لغمانیان و. په څرګند ډول نقض حقوق بشر ولیدل شو. هیئات په شکنجو او بې عزتي شروع وکړه، چې دا شکنجې او بې عزتي به د ټوکو او خندا سره مل وې؛ دا عملیات به اکثراً د نشو په وخت کې اجرا کېدل. باز محمد زرمتی په خپل کتاب "زندان پلچرخي" کې خپل د سترګو لیدلی حال داسې بیانوي: "جنرال ملکیار یې تر لغتو لاندې اچولې و او شیر افضل ډګروال یې لوڅ څوړند کړی و" پخپل خپور شوي کتاب کې ښاغلي باز محمد زرمتی زیاتوي: "تقریباً ټولو اقرار وکړ. میوندوال په لومړی ورځو کې د صمد ازهر تر لغتو لاندې ساه ورکړه، دې شهادت ته یې د انتحار (ځان وژنې) رنګ ورکړ. اندیشمند هم د خپل کتاب ٦٦ مخ کې د صمد غوث د معلومات له مخې د میوندوال وژنه د صمد ازهر تر لغتو او شکنجې لاندې د نورو په شان تائید کړي او نقل قول کړیدي. " تحقیق د هیئات دا خاینانه او ظالمانه کړنې د اساسي قانون د ٢٢ مادې مخالفت سره بشپړ شوه.

## قضایي هیئات

دوسیه او قضیه نظامي خاصې محکمې ته وسپارل شوه، قضایی هیئات تر تحقیق هیئات لا هم بې وجدان او غیر مسلکي کسان ټاکل شوي وو، چې یو یې په حقوقي مسایلو نه پوهیدل. چې اکثر د پرچم د ګوند رفیقان ؤ.

نمونه یې دا دي:

١- ډګرجنرال غلام فاروق پخواني لوی درستیز.

٢- جنرال غلام نبی.

٣- جنرال عبدالرحیم.

٤- ډګروال محمد سرور نورستاني د قواي ۴ قوماندان.



٥- ډګروال نبي عظیمي.

٦- جګړن ستار.

خاصې محکمه د عدالت او انسانیت نه لیرې خپله فیصله صادره کړه چې نه د خدایه (ج) بیره او نه د ولس نه حیا.

## د متهمینو د جملې:

١. تورنجنرال خان محمد خان مرستیال
٢. ماما زرغون شاه
٣. عارف شینواری
٤. مولوی سیف الرحمن
٥. سید امیر پیلوټ په اعدام محکوم او حکم تنفیذ شو.

توطیه د عقل او منطق نه لیرې طرحه شوي چې د اول نه تر اخیره د کمونستانو په لاس کې و، د قضیې د ثبوت لپاره یوازې خپل ترتیب شوي اطلاع باندې اتکا او تر شکنجې او بې عزتي لاندې ځینو اقرار سند وبلل شو ترتیب شوي اطلاع د شینوارو د ملک طوطی زوی، ببرک شینواري دنده واخیسته. نیک محمد د قرباغ وکیل د ډاکتر نجیب اخښی، چې پرچمیانو ته سم نژدې کس و، د خپلو معلوماتو له مخې ما ته دا بیان وکړ، چې د میوندوال د توطیې لومړی اساس د ملک طوطي د زوی لخوا کېښودل شو او زرمتي هم دا واقعیت په خپل کتاب کې راوړی دی، ببرک شینواري اوس مړ دی، مګر د قبر پر شنخته یې باید ولیکل شي چې (وژونکی) چې د قومي او وطنداری په اعتماد د مولوي سیف الرحمن وکیل کورته ورځي، د کور د دېوال په یوه سوړه کې یو لېست ایږدي، چې دا د کودتا په معنی ده، (آیا کوم منطق او کوم عقل) دا مني، بیا پولیس اطلاع اخلي چې دلته د دوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور کې لېست دي (عجيه بې ربطه اطلاع) په لومړي سر کې پوليس لېست نه شي پيدا کولای، تر څو بيرته د ببرک سره تماس نيسي.

مولوي سيف الرحمن د ولسي جرګې په وخت کې په ملي او اسلامي استدلال د ملحدينو او کمونستانو مخ ته ولاړ و، د اسلام په ګناه او شخصي عقدو پر بنا توطيه منځته راغله.

د کمونستانو طرحه شوي اطلاعيه مستند وبلل شو او تر شکنجې لاندې ځينو اعترافات هم وکړه، چې حقيقت يې نه درلود.

د ملک طوطي زوی پېژندل شوي کمونست او د ګوند اعتمادي دنده تر سره کړ.

نور محکوم کسان دا دي.

۱- ډګروال جنرال عبدالرزاق خان، ۲۰ کاله بند.

۲- ډګروال امين الله خوګياني، ۲۰ کاله بند.

۳- ډګروال کوهات، ۲۰ کاله بند.

۴- ډګروال ممتاز پيلوټ، ۲۰ کاله بند.

۵- محمد هاشم پيلوټ، ۲۰ کاله بند.

٦- سناتور فقير محمد، ۲۰ کاله بند.

۷- جنت خان غروال، ۲۰ کاله بند.

او نور متهمين په مختلفو کالو حبس محکوم شول. د شتمنو محکومينو د سلب آزادۍ سره شتمني هم ضبط شول چې داسې فيصله زموږ هېواد کې سابقه نه درلودل.

دې وحشت او دهشت دوام ومونډ، ملا فيضاني، جګړن حاجی محمد او څو تنه ملګري او مريدان يې هم ونيول.

جنرال احمد شاه ګرديزي هم د کودتا په تور ونيول شو دا يو دولتي تروريستي او مافيايي سازمان ؤ، چې د غوايي په کودتا کې ولس دا ترخې ډېر وليدې، دا کسان د سوچه کمونستي نظام په وخت کې ګرچه پخوا لا



په زندان کې و، مګر طرحه او پاليسي يوه و، بيا هم و وژل شول او ټولو شهيدانو نه قبرو او نه کفن ومونډ ۲۰۰۹ کې د شهيد محمد هاشم ميوندوال د کورنۍ په عرض او داد سره، د کابل د پخواني قوماندان باچا سرباز په رهنمايي د ميوندوال قبر او مړي ور وپېژندل شو، چې د هغه وخت هغه سور جاکټ يې لا په ځان کې و.

يوازې عارف ريکشا چې د (ډيورنډ) د کرښې هغه خوا د شينوارو د مشرانو په تقاضا يې مړی کورنۍ ته وسپاري او جنرال محمد رحيم ناصري په زندان کې مړ شو.

دا د انسانيت او بشريت نه لرې فيصله د سردار لخوا تاييد او يوه مرحلې يي محکمې فيصله تنفيذ شوه، په دې ګير او دار کې د تاجرانو لخوا ډېرې پيسې پورته او کښته شوې. د اعدام د حکم تنفيذ د نبي عظيمي په قومنده تنفيذ شو، چې (تاريخ مسخ نمی شود) کتاب کې يې تفصيل راغي دي. د ميوندوال د قضيې (توطيې) ډېر کسان لاهم ژوندي دي، د دې جملې نه هيڅ يوه ان د خپل وياړ په خطر دا کودتا کې ګډون تاييد نکړ. څرګنده ده، يو جوړه شوي توطيه ؤ چې تنفيذ شو.

کمونستانو لکه د صالح زيري، ډاکتر حسن شرق، عبدالوکيل، دستګير پنجشېري، سلطان علی کشتمند، فقير محمد ودان، قدوس غوربندي، نبی عظيمي د دې توطيه په هکله هيڅ نه دي ليکلي؛ځکه دا توطيه د دوی د ګوند لخوا جوړه شوې وه.

بيا هم په دې وروستيو کې د حامد کرزي ولسمشر لخوا د دې محکومينو ضبط شوي دارايي د يو فرمان په ترڅ کې مسترد شوې.

که څه هم ډېر وخت تېر دی، بيا هم د (جزا د اجرااتو د قانون) د ۲۸۲ مادې سره لازم دي چې تجديد نظر وشي او د هغه وخت د دې پيښې کارکوونکي جنايت را پورته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار کرار، کرار پوهېده چې په اسارت کې قرار لري، عبدالحمید محتاط يې لرې کړ، فیض محمد د کورنیو چاور وزیر، جیلان باختري، ډګروال قادر د کابل قوماندان ډګرمن پاچا ګل سرباز، پاچا ګل وفادار، حسن شرق، او نور سوکه، سوکه لیرې کول؛ اما اصلي دښمن په کمین کې و.

دښمن هم هره ورځ سرخوړی راوړل او د شوروي لخوا فشار هم را ډېریده. سردار د شوروي فشار ته تسلیم نه شو، روسانو هم نور بدلون ته ضرورت لیده سردار په وروستی سفر کې د شوروی او برژنیف نه خپه را و ګرځید نو اسلامي نړۍ ته يې مخ کړ، د (هجوم کتاب) په ۹ مخ کې راغلی چې هوا! روسانو هم بدلون غوښت مګر پدې تلوار نه د سردار ټول وروستی او پخوانی سیاست او کړنې روزمره د ده د کابینې غړي محمد خان جلالر لخوا شورویانو ته راپور ورکول کېده. د جلالر جاسوسي څه کوم پټه خبر نه وه. قطبي يږ (خرس) په کمین کې و، پر سردار نور دا هر څه ناوخته و، چې د غوايي اومه پر را ورسېده؛ د افغان د غمیزې پیل او د ولس کړاو چې تر دا اوسه دوام لري. چې آغاز يې وو، او انجام يې نه.

## د خلق ګوند وحدت

بدلونونه په سرعت یو په بل پسې راځي. د خلق دموکراتیک ګوند دواړې ډلې لا یو کال پخوا سره یو شوې وې. وکیل د خپل کتاب په ۲۱۴ مخ کې لیکي، کله چې وحدت تصویب شو، دا کسان د خلقیانو لخوا مرکزي کمېټې ته ور وپېژندل شول:



### خلقي ډله:

١. نور محمد تره کی
٢. صالح زیری
٣. غلام دستګیر پنجشېری
٤. ډاکتر شاولي
٥. عبدالکریم میثاق
٦. حفیظ الله امین
٧. عبدالرشید ارین
٨. محمود سوما
٩. عبدالقیدم نورزی
١٠. عبدالحکیم شرعي
١١. عبدالاحد ولسی
١٢. محمد یاسین بنیادي
١٣. محمد حسن پیمان
١٤. محمد اسماعیل دانش
١٥. منصور قاسمی

### د پرچمیانو ډله:

١. ببرک کارمل
٢. میر اکبر خیبر
٣. عبدالوکیل
٤. سلطان علی کشتمند

(c) ketabton.com: The Digital Library



٥. نور احمد نور
٦. ډاکتر نجیب
٧. محمود بريالی
٨. نظام الدين تهذيب
٩. عبدالمجيد سربلند
١٠. محمد سرور يورش
١١. عبدالقدوس غوربندي
١٢. سليمان لايق
١٣. محمد حسن بارق شفيعي
١٤. فدا محمد ده نشين
١٥. ډاکتر اناهيتا راتب زاد



## د غوايي اوومه

د همدې کال ۱۳۵۷ د وري د مياشتې پر (۲۸) د پرچم ډلې نامتو او پياوړی غړی مير اکبر خيبر چې د ببرک لخوا، انزوا ته ټيله شوې و او کومه ګوندي دنده چې خيبر په پوځي برخه کې درلوده ترې اخيستل شوي وه. د خلقيانو ډله د ميرر اکبر خيبر وژنه د پرچميانو او په تيره د ببرک نه بولي او پرچميان دا وژنه د خلقيانو به تيره د حفيظ الله امين نه بولي، ځينې لا پدې کې د شوروي سفارت لاس بولي په هر صورت يو پروسه ؤ، محمد اکرام انديشمند د خپل کتاب په ۸ مخ کې د خيبر کورنې او تره کي لخوا دا قتل د ببرک نه بولی. د ببرک په هدايت د ده دنده و، نور احمد نور ته وسپارل شول . کله چې د مکرورويان په سيمه کې د خيبر مړ وموندل شو. د ده جنازه په يوه مظاهره بدرګه شوه او د خيبر پر ترور يې سردار تورن کړ او ډېر بې شميره تهديدونه يې ولګول. سردار نور اړ شو چې کمونستي مشران بنديان او د تحقيق هيئات وټاکي. که محاکمه شوي هم واي، ممکن مجازات به جزوي واي؛ ځکه چې عمل کې لا تر هغه وخت څه نه و، يوازې خبرې وې. کمونستانو پلمه غوښته، د غوايي اوم وه، کابينې غونډه درلوده، د پلچرخي د څلورمې زرهدار قوا، د جګړن محمد اسلم وطنجار تر مشرتابه لاندې حرکت وکړ، چې جګړن شير جان مزدوريار او جګړن رفيع يې د دې قوا رئيس ارکان يې ملګري و . وطنجار د ملی دفاع ماڼۍ جګړن رفيع ارګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مزدوریار د سردار کور تر اور لاندې کړ. د (اردو او سیاست) کتاب د نبي عظیمي لیکنه.

اسد الله سروري، ډګروال عبدالقادر د هوايي قوا رئیس ارکان او سید محمد ګلابزوی د کابل هوايي میدان کې، ډګر جنرال محمد موسی او د هغه یاور عنایت الله ووژل. عبدالقادر د سروري د هیلکوپټر په واسطه بګرام هوايي میدان ته ځان ورساوه.

جنرال قادر خپل کتاب کې د لعل محمد کندهاري د مرستې بیان راوړیدي چې نوموړی د سلاح کوټ ور ورته خلاص کړ او دا هم زیاتوي چې جګړن ګل آغا او عبدالحق علومي د کودتاچیانو ته د ارګ دروازه پرانیستل.

د سردار د وخت د معدن او صنایعو وزیر تواب آصفي بیان کاوه، د ثور په اومه د کابینې غونډې نه سګرټو د څکلو دباره را ووتم، چې عبدالحق علومي مخابره په لاس کې د بمباردمان الوتکو ته پر ارګ باندې د برید کوردينات ورکوي د هوايي ډګر جنرال او د ده یاور جګړن عنایت وژنه د ګلابزوي، سروري او په (حقیقت التواریخ) کتاب ۵۹۲ مخ کې هم راغلی ده.

د همدې ورځې د شپې لخوا ارګ تر هوايي بمبارۍ لاندې ونیول شول. قدیر نورستانی د کورنیو چارو وزیر او غلام حیدر رسولي د ملی دفاع وزیر د خپل لوی درستیز عبدالعزیز سره یو ځای، تورن جنرال عبدالعلي وردګ د قوای مرکزي قوماندان ته ځان ورساوه، رسولي د انضباطانو جګړن محمد خان د وطنجار ته د ستنېدو په خاطر ولېږه چې وطنجار دی خپل ټانک ته پورته کړ. بیا یې مړی او ژوندی معلوم نه شو. (د جنرال قادر کتاب ۱۴۲ مخ او ډګر جنرال نذیر سراج کتاب ۱۴۵ مخ)

ګوندي مشران لکه چې نور محمد تره کي، ببرک کارمل، حفیظ الله امین، داکتر شاه ولي، دستګیر پنجشیري، عبدالحکیم جوزجاني داکتر ضمیر ساپي لا پخوا نیول شوې و، مګر حفیظ الله امین نه و نیول شوې. ده په پولیسو کې ملګري درلودل، د فقیر محمد فقیر او انجنیر ظریف په واسطه



تر خپل توقیف وړاندې قادر او ګلاب زوی ته د کودتا قومانده ورکړه، چې په همدې ورځ د دې تکل د ګلاب زوی او اسد الله سروري شوروي سفارته خبر ورکړ د جنرال قادر سیاسي خاطرات کتاب) پر همدې ورځ د وزیرانو غونډې هم دوام درلود، کودتا پیل او د ځمکې او آسمان لخوا پر حکومت، پخپله پر ارګ، د ملی دفاع وزارت او د سردار پر کور بې امانه بمبارۍ پیل شوې. کودتا کامیابه شوه، ډېرې وژنې او ډېرې خرابۍ وشوې.

کومه هنګامه چې د خیبر په مرګ جوړه شوې وه، د خلق او پرچم په حکومتدارۍ کې نور بیا چا د دې وژنې تپوس و نه کړ. قدوس غوربندي د خپل کتاب (نګاهي به تاریخ حزب دموکراتیک خلق افغانستان) په ۵۱ مخ کې د میر اکبر خیبر د وژلو په هکله وژنه تلویحاً د کارمل خواته اشاره لري، وایي چې دی (غورندی) د ببرک په ټوله دوره کې په بند کې و او د نجیب په وخت کې له بنده خوشې شو.

د وکیل کتاب هم په ۲۴۴ مخ کې اشاره کړې ده. څرګنده ده چې وژنه د رژیم پر ضد یوه پخه توطیه وه، چې ممکن دوی پخپله خیبر وژلې وي. د کودتا عاملان څرګند دي. عاملان یې د (ج، ق) ۱۷۴ مادې سره د تعقیب عدلیې وړ دي.

تور، سور او شین بیرغ په سره بیرغ بدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دريیم فصل

# د جنګي جنايتکارانو اتهام نامه

## د لوی څښتن تعالی په نامه

### د قضا لوړ مقام ته

پدې اتهام نامه کې دوه عمده جرمونه بحث او پر عاملانو يې دعوا شويده.

**۱- ملي خايت:** ملي خيانت هغه جرم دی چې خساره يې و ټول ولس ته رسيږي، لکه ملي حاکميت، خپلواکۍ او د ځمکنې بشپړتيا تر سوال لاندې راولي او يا د اساسی قانون رکنونه له منځ وړل او وسله وال پاڅون او جاسوسي، دا جرمونه قانونګذار د جزا په قانون کې ماده وار سزا ټاکلی ده، مګر د ملی خاين او يا ملی خيانت نوم ندې ذکر کړي. ګرچه عام ولس دې جرم ته ملی خيانت او عامل ته يې ملی خاين وايي.

**۲- جنګي جنايت او جنګي جنايتکاران:** د ICC په قانون کې ډله ايزه وژنې او نقض حقوق بشر جنګي جنايت وايي: مجرمين يې جنګي جنايت کاران



بولي او مجازات ورته ټاکل شويده، او دا محکمه د هالند په هاګ کې مقر لري د جګړې په وخت کې وژنې هم جنګي جنايت دی.

د هغو نوم ورکو شهيدانو نه بخشش غواړم، چې نه يم توانېدلی پدې دعوا کې د هغوی نومونه راوړم. ولې چې د شهيدانو شمير زخښت ډېر او د حساب نه وتلي دي.

وايي: هيڅ مجرم بې محاکمې بايد پاتې نشي او هيڅ بې ګناه مجازت نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحم

د عدالت په هيله!

د قضا لوړ مقام ته عرض او فضيلتمآب د محکمې مشر:

مدعی العموم زه موظف څارنوال: مجاهد د افغان زوی د ټولو، شرعي، حقوقي او قانوني اهليت سره د شواهدو او اسنادو او قراينو پر بناء په لاندې ډول دعوا او د مجرمينو لپاره طلب مجازات غواړم.

کابل (افغانستان)

جرم: عمده جرايم:

١- جاسوسي

٢- جنگی جنايات ډلييزې وژنې.

٣- د بشر حقوق نقض: شکنجه، غير قانون توقيف او جنسی تجاوز.

۴- ملی خيانت: خپلواکي او ملی حاکميت تر پښو لاندې کول او د يرغل ملگري او يا د يرغل زغم.

تورنان: د افغانستان خلق ديموکراتيک گوند، چې وروسته په عين ماهيت نوم په (حزب وطن) واړاوه.

مرکزي کمېټه: پوليت بيرو، کابينه، واليان، قوماندانان، د ولايتی شورا غړي.

د واقعې ځای: د افغانستان جغرافيې په محدوده کې.

د پېښې نېټه: ١٧\ ١٢\ ١٣۵٧- ٨\ ١٢\ ١٣٧١

مدعی حق العبد او مجني عليه: ميليونونه شهيدان او کړېدلي افغانان او افغان عام ولس.

شهود او اسناد: پلچرخي پوليگون، چمتلې دښته ډلييز قبرونه، د فيض آباد ډله ييز قبرونه او يو شمېر زندانيان چې لا تر اوسه ورک دي.



**شاهدان:**

١- کوم کسان چې د زندانونه له مرگ نه بچ را وتلي، د سترگو ليدلې حال

٢- نړيوال معلومات او خپرونې، کورني نشرات د خلق او پرچم غړو ليکنې د مهاجرينو نشرات او بهرنۍ نشرات، روسي ليکوالان او نور بهرني ليکوالانو ليکنې د وخت صوتي او تصويري نشرات.

مشدده حالت: انگېزه دني، متعدد او متکرر مجرمين دي او د وطن فروشي او د پردو د گټو په چوپړ کې.

کوم تورنان چې غايب دي، لومړی د انټرپول له لارې را جلب او بغير د هغه غيابې فيصله د جزايي اجراتو د قانون د (٢٧١) مادې سره سم غيابي قضايي قرار صادر شي او څارنوالي هر تورن ته بايد مسخر وکيل و دروي.

نړيوال جنايي ديوان لخوا البته يوازې په سلب آزادي اکتفا شي، دا ديوان د اعدام حکم نه صادروي. اما افغاني د جزا کود کې د اعدام جزا تصويب شويده.

مجازات اعدام د ج، ق په ٩٨ مادې تنفيذ: د محکوم عليه ځړندول تر مرگ پورې.

د مجرمينو ټولو ارتکاب شوي جرمونه لپاره د ج، ق ١۵۵ ماده د شديد مجازات طلب کوم، چې محکمه يې په نظر کې ونيسي او جنگي جناياتو او نقض حقوق بشر ډله ييزو وژنو کې د اعدام مجازات دي، خپل حکم صادر کړي.

انگېزه: د پردو لمسون او د قدرت وږي او دني انگېزه.

مجرمين، مستقيم او غير مستقيم مجرمينو ترمنځ (اتفاق جرم) موجود و .

د (ج، ق) ۴٩ مادې سره د گوند ټول غړي د سزا وړ دي او يا د جرم شريکان ؤ.

تورن کسانو ته د اساسي قانون ٣١ مادې سره سم د دفاع وکيل حق محفوظ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نړيوال جزايي ديوان (ICC) ته په كتو جنګي جناياتكاران او نقض حقوق بشر تر مرور زمان لاندې نه راځي او هر هېواد د تعقيب حق او صلاحيت لري، ګټه پورته شي.

كوم مجرم چې مړ او يا وژل شوي دي، د هغوی په هكله مجني عليه حق العبدي حق محفوظ دی، د هغه چې شتمنې جبران خساره و تاوان واخيستل شي.

د حكم تنفيذ: د جزايي اجرااتو د قانون (۳۰۱) مادې سره سم د محكمې حكم واجب التنفيذ دی، مګر د اعدام حكم د اساسي قاون د ٦٢ مادې سره سم به ولسمشر تاييد ضرور دي.

بل جرم د بيرغ بدلول، د جنګی جناياتو چې د بشري حقوقو ناقضان او ملی خيانت د پردو د ګټو په خاطر متهم دي.

د ۱۹۴۹كال د كنوانسيون د ۸۸ مادې پر بنا لكه د (روندا- او- تانزانيا) جګې جنايت كاران په تور يې محاكمه شول د دوی لپاره هم همدا ډول عدلي تعقيب هيله لرم او يا لكه د ۱۹۹۳ كال د پخوانۍ يوګسلاويا غونډې محاكمه شي، همدا ډول د دوهمې نړيوالې جګړې مجرمين چې اوس لا هم د نازي المان جنايت كاران د (نورنبرګ) د نړيوالې محاكمې لاندې نيول او محاكمه كېږي، عدالت غواړم.

**د قضاء لوړ مقام رئيس صاحب !**

د غوايي كودتا لنډ جريان: د پېښو جريان او تشريح: ((دلته په دعوا كې)) له هر ډول تحليل او سياسي تبصرې نه ډډه شوې ده، يوازې جنايي اړخ او د پېښې تشريح او مجنی عليه او جانيان د اسنادو او شواهدو له مخې عرض شوي دي.

د پنجشنې ورځ د غوايي د مياشتې اوومه كال ۱۳۵۷ چې په ارګ كې د سردار محمد داوخان تر مشرۍ لاندې د كابينې غونډې دوام درلود، د



څلورمې زرهدار قوا ټانكونه د جګړن محمد اسلم وطنجار په قومنده او مشرۍ مخ په كابل را وخوځېدل.

غلام حيدر رسولي د دفاع وزير او د كورنيو چارو وزير قدير نورستانی، دې غونډې نه د ټانكونو د مخنوي په خاطر ووتل.

د پنځلس زرهدار قوا جګړن غلام حضرت غوښتل چې د قوا ۴ زرهدار د ټانكونو مخه ونيسي په قتل ورسېد، كودتاچيان د كابل ښار ته را ورسېدل، وطنجار د دفاع وزارت، جګړن شېرجان مزدوريار د سردار كور او جګړن رفيع ارګ، تر اور لاندې ونيول (اردو او سياست) ۱۳۲ مخ، رسولي د لوی درستيز ډګرجنرال عبدالعزيز د مركزي قوا قوماندان عدالعلي سره بې نتيجې څه هلې او ځلې وكړې؛ تر څو ونيول شول كه څه هم دوی درې واړه د مقاومت نه لاس واخيست او د محاربې صف نه وتلي وو، نور جنګي اسيران بلل كېږي، د (ج، ق) ۳۹۴ مادې سره سم وژنه ده بې له محاكمې ووژل شول. طالبان چې د دوستم په لاس كې جنګي اسيران وو، هم بېله محاكمې غير عادلانه د ليلې په دښته كې تر ۳ زرو نه زيات په بېرحمانه ډول ووژل شول د ګارد قوماندان جګړن صاحب جان مقاومت وكړ، د عمر شريف تورن ټانك يې ضربه كړ، ونيول شو او بيا اعدام، خو په ډېره مېړانه وجنګېده. جګړن شهزاده د باباجان لوی درستيز زوم، علاو الدين او اغا محمد ارګ مخابره چې هم لكه مصطفی تورن د كودتا چيانو سره لاس پټ ؤ.

بابا خان لوی درستيز كوم وخت چې د خپل روسي مشاور هدايت و نه مانه ځای پر ځای د مشاور لخوا وويشتل شو، چې د خودكشي خبر يې تيره شو.

د اوومې فرقې قوماندان نظيم خان هم ووژل شو، ډګروال محمد هاشم نورزي د ارګ په مرسته د اوومې فرقې نه خپله لوا ته سوق وركړ، بريكوټ ته نارسيده له شا پر فير وشو، قطعه شا ته ولاړه، د فرقې رئيس اركان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالعلي افسر لخوا وويشتل شو، خپله عبدالعلي هم ووژل شو (اردو او سياست) ۱۴۳ مخ.

د رژيم په حمايه، کوم مقاومت چې يوولسمې فرقې قوماندان تورن جنرال محمد يونس د ننګرهار دوالي عبدالخالق رفيقي په سلا مشوره، مخ پر کابل قوا ته حرکت وکړ، مګر د تورن اورنګ لخوا دواړه وويشتل شول.

قادر د اسد الله سروري په مرسته د هيلکوپټر په واسطه بګرام ته ځان ورساوه، هوايي ځواک يې په لاس کې ونيوه.

سيد محمد ګلاب زوی او جګړن نظر محمد لخوا ډګرمن خانجان (مقبل) هم ووژل شو (اردو او سياست) ۱۴۱ مخ.

د کندهار د قل اردو قوماندان ډګر جنرال محمد عظيم لغماني او د پکتيا د قل اردو قوماندان ډګر جنرال سراج الدين هيڅ عکس العمل ښکاره نه کړ. د بې همتۍ او بې کفايتۍ په جرم بايد محاکمه شي، چې دواړه د سردار اعتمادي کسان وو .

په همدې ورځ جنرال عبدالمنان شينواري د دافع هوا قومدان د سروبي خپلې قطعې د ليد لپاره په لارې کې د زرهدارو ۴ قوا د انضباطانو لخوا پلچرخي په سيمه کې د موټر نه کوز شو، مرۍ او ژوندي يې تر اوسه څرګند نه شو، يوه مياشت وروسته يې پوځي کلا کورته ور ولېږل شوه.

جګړن سيد داود ترون د بګرام د هوايي ميدان ۳۰ تنه افسران کتار پر خط ودرول، ټول يې تيرباران کړل، (اردو او سياست) ۱۳۰ مخ.

کله چې قادر هوايي قوا په لاس کې ونيوه، پر ارګ يې بمبارۍ پيل کړې، جګړن خليل په (سګ بازمشهور)، د مهتاب کلا د توپچي افسر د احتمالي مقاومت د مخنيوي په خاطر قوای مرکز (د دارالامان ماڼۍ) تر اور لاندې کړ.

د دولت مقاومت نور مات او قطعات بې تفاوته پاتې شول، د ارګ دروازه خلاصه شوه، د کوماندو لومړی بريدمن امام الدين د جمعه دين زوي ته خپل



قوماندان شهنواز تنی لخوا هدايت شو، سردار محمد داود خان تسليمۍ ته دعوت کړي. (هجوم در افغانستان) ۱۷٦ مخ، تڼی هغه څوک دی چې هرات پاځون د سرکوبي دنده هم اخيستي وه.

کمونستي رهبران چې د کابل له نظارت خانې را ايستل شوي وو او کابل راډيو کې سره را ټول وو، د سردار محمد داود خان پر سرنوشت يې بحث درلود. دستګير پنجشېري، صالح زيری (چې د خواري په زوی مشهور و ) کريم ميثاق او امين، د داود خان د وژلو پلوي کوله، ببرك مخالف او تره کي بيطرفه و. د قادر کتاب ۱۹۵مخ.

امام الدين د ګلخانې ماڼۍ ته ورننوت، د شورای نظامي پيغام يې ورساوه، چې سردار بايد تسليم شي، سردار سربېره پر دې چې تسلم نه شو، د خپلې-تفنګچې په واسطه فير او امام الدين ټپي شو، د جنرال نبي عظيمي په اصطلاح امام الدين د يو جانبي حرکت په اجرا، د ګلخانې په ماڼۍ کې د سردار او د کورنۍ غړي چې هلته را ټول شويو ټوله ضربه کړل، هغه دا کسان وو:

## د سردار داود او کورنۍ شهيدان

۱. سردار محمد داود ولسمشر
۲. سردار محمد نعيم پخوانی د بهرنيو چارو وزير او د داود خان ورور سپين ږيری، شيخ فاني.
۳. مېرمن زينب، د سردار مېرمن او د باباي ملت خور. سپين سرى
٤. بلقيس، د تيمور شاه مېرمن
٥. محمد عمر، د سردار زوي
٦. ويس د سردار زوی او سيما د ده مېرمن او وايګل زوي يې، وايګل ۳ کلن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٧. خالد، د سردار زوی
٨. شینکۍ، د سردار لور
٩. زرلښت، د سردار لور
١٠. هیله، د عمر لور
١١. غزاله، د عمر لور، ٨ کلن
١٢. حارث، د عمر زوي، ٥ کلن
١٣. زرمینه، د سردار نعیم لمسۍ
١٤. نظام الدین، د سردار زوم
١٥. عایشه، د سردار معیوبه خور

## د سردار د کورنۍ نور غړي چې ټپیان وه، لکه:

١- خورشید د سردار محمد نعیم لمسۍ
٢- زهرا د سردار داود لمسۍ
٣- داود د سردار لمسۍ
۴- زهرا صفی د بابای ملت خورزه
۵- توران د اصفي زوی
٦- شیرین ګل د عایشې پرستاره
٧- تیمور شاه اصفي ټپیان شول

صلاح الدین په پلچرخي کې اعدام او احمد علي سلیمان په پلچرخي کې په خپل مرګ مړ شو. د ولسمشر مرستیال عبدالـله هم د سردار سر یو ځاي شهید شو. (اردو او سیاست) ١۴٢ مخ. اکرام اندیشمند د خپل کتاب په ١۵-١٦ مخ کې د امام الدین په اقرار د سردار او د کورنۍ قتل د ده نه بولي.

پدې جنایت او ډلیزه وژنې کې نر او ښځې زاړه او واړه بې تفاوته بې ګناه او بې محاکمې ووژل شول، دا جنګي جنایت دي. د نورو وژنو په هکله زاهد خلیلی د تاند ویبپاڼه د جنوري پر ١٠ کال ٢٠١٨ داسې لیکلي: چې د محمد



موسی شفیق لومړی وزیر لوی څارنوال وفی الله سمیعی، سید وحید عبدالله د بهرنیو چارو مرستیال، جنرال عبدالله روکی، جنرال عبدالقدیر خلیق، محمد رحیم د بابای ملت پیشخدمت نجیب الله امین، د اریانا هوایی شرکت رئیس، د رسولي زوم لاس ولچک شوي د نور احمد نور او وطن جار لخوا، صحرایی محاکمه و هم هلته په پلچرخي کې ضربه شول. او بې کفنه د تراکتور په واسطه خاورې پر واړول شوې.

وروسته کې د سردار ناظر باز محمد منګل د ٣ زامنو سره یو ځای شهیدان شول، (د تاند ویبپاڼه، د استاد شهسوار سنګروال لیکنه نیټه ٢٠١٨. ۴. ٢٦).

د غوایي د اوومې دا شیهدان بې کفنه او د اسلامي او افغاني دودونو خلاف تر خاورو لاندې شول، د حامد کرزي د واکمنۍ په وخت کې جنرال پاچامیر د هغه وخت د پلچرخي په پلیګون کې موظف بیان کاوه: "په لارۍ کې بار جسدونه د نور احمد نور او وطنجار لخوا راوړل شول او د تراکتور په واسطه خاورې پرې واړول شوې" د مړو جسدونه د یو هئیات لخوا تثبیت او په ارګ کې د ولسمشر لخوا د دولتي، اسلامي او افغاني دود سره د استاد سیاف په امامت د جنازې لمونځ ادا شو او د سردارانو جسدونه د دارالامان په غونډې کې په درنښت خاورو ته وسپارل شول. په دې مراسمو کې د شورا د وکیلانو په څنګ کې کبیر رنجبر، ګلابزوي، نور الحق علومي، ببرک شینواری او نورو کمونستانو هم ګډون درلود.

حامد کرزي د چار صد بستر روغتون د سردار محمدداود خان د روغتون په نامه مسمی کړ، د امام الدین او یا د ګوندیانو دې غیر انساني حرکت ته پام را ګرځوم او پرتله کوم.

د ٢٠١١م د مې پر (٢یمه) د پاکستان په ایبټ آباد کې پر اسامه بن لادن د امریکایي کوماندېو لخوا په شپه کې برید وشو رابرټ اونیل هغه کس چې اسامه یې وژلي دی، د خولې بیان او د اسامه مېرمن (امل) بیان د اصلاحاتو ورځپاڼې د ١٣٩٦ د غبرګولي پر لسمه داسې راوړی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



" امریکایي کوماندویانو په هغه کور کې چې د اسامه شپږ زامن او درې نورې مېرمنې هم وې، په نورو یې غرض و نه کړ، یوازې اسامه یې وواژه او مړی یې د ځان سره یووړ. مګر امام الدین نر، ښځې، واړه او زاړه تر تېغ تېر کړل.

د هجوم کتاب په ۲۳ مخ کې د شوروي له خوا د غوایي پر اوومه د هلیکوپټر یو جګړن وژنه هم راوړې ده.

د امام الدین دا جنایت، چې د ګوند نورو غړو ور سره اتفاق و، یو جنګي جنایت او د محاکمې وړ دی.

د خپلواکۍ ورځ د زمري ۲۸ مه ځای د اکتوبر ۱۷ مې ونیوې.



# د کودتا عمال

عظیمي د خپل کتاب په ۱۴۲ مخ کې د دې ورځې د شهیدانو شمېر چې مقاومت یې کړی و سل تنه یاد کړي دي او د همدې کتاب په ۱۳۰ مخ کې یې د کودتا عاملان دا کسان راوړي دي:

۱. ډګروال قادر
۲. جګړن محمد اسلم وطنجار
۳. جګړن رفیع
٤. جګړن شیر جان مزدوریار
۵. جګتورن فتح محمد
٦. تورن محمد داود عزیزي
۷. جګړن خلیل توپچي
۸. اسد الله سروري
۹. سید محمد ګلابزوی خورد ضابط
۱۰. جګړن نظر محمد پیلوټ
۱۱. جګړن عزت الدین پیلوټ
۱۲. تورن وهاب
۱۳. تورن اسد الله پیام
۱٤. جګړن ګل اقا
۱۵. جګړن عبدالحق علومي ګارد
۱٦. تورن مهمند

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷. تورن عمر شریف د محمد شریف خان زوی، د عارف خان د شاهی د وخت د دفاع وزیر.

۱۸. جګتورن محمد یعقوب

۱۹. لومړي بریدمن امام الدین

۲۰. جګړن عبدالحق صمدي

ډګر جنرال محمد نذیر سراج د خپل کتاب په ۱۵۴ مخ کې، شیر محمد، ګلبار، رحیم، غوث الدین، سنت الله، عبدالروف، اشراف الدین رسول، کافي خان، مختار ګل، دوران خان، تیمور او وهاب هوایي افسران د کودتا ګډون کوونکي بولي.

د (ج، ق) د ۱۷۵ او ۳۹۴ سره سم د قصاص وړ دي.

د سردار له شهادت سره، د ده رژیم رانسکور شو، کودتا کامیابه شوه او نوی رژیم د کاریګري نظام (تش په نامه) او د دیکتاوري پولیتاریا په چوکاټ کې رامنځ ته شو. وژل، شکنجه، تالاشي دود شول؛ ټول مروجه قوانین، ملي او اسلامي ارزښتونه، عدالت او انسانیت تر پښو لاندې شو، جنایات عمومي شول. دلته عظیمي د خپل کتاب ۱٦٦ مخ کې کبیر کارواني په هرات او کندهار کې په ډېر ه بې رحمۍ او قساوت سره یاد کړي دي او په همدې مخ کې د روسي تش په نامه مشاور (کتا چوف) مظالمو ته چې د ښار مدیر محمد هاشم سر په ګډه به یې پر انسانانو نشان زني زده کوله او مشاور یې عیاش او رشوت خوره او نشه یي معرفي کړی دی. داسې سلاکاران ممکن په اردو کې ډېر وو.

غنی زنبور د خپل کتاب ۵۹ مخ کې راوړیدي، چې په همدې ورځ د ثور اومه د احمد توفیق کودتاچي لخوا د کورنیو چارو معین دشتی او د هغه د دفتر رییس او جنرال محمد طاهر (کور) د پولیسو عمومي قومندان د وزارت په انګړ کې ووژل شول.



پوځي پاڅون جرم دی او وژنې جنګي جنایت او شکنجې د حقوق بشر د مقرراتو نه په ډاګه سرغړونه ده. د (ج، ق) د ۱۷۴ مادې پر بنا دا پورته کسانو ته د اشد مجازات هیله کوم.

وایي: عدالت دی چې امنیت راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځلورم فصل

## ستر لاروښود تره کي: ملګري امين تره کي ښه بې عقل، نشه ای او بوډا باله

چا مقاومت و نکړ پاڅون پریالی شو، نظامي شورا تشکيل شوه، چې ډېر ژر دا شورای نظامي په شورای انقلابي ونومول شو، چې په سر کې د نظر محمد زوی، نور محمد تره کي د (نجيب بچي) په نامه چې بل صفت نه درلود نصب شو، وکيل په خپل کتاب کې هم را وړي دي چې د نامه او شورا په هکله هم د شوروي سفارت نه هدايت و غوښتل شو.

د (هجوم کتاب) مولف په ٦۹مخ کې راوړې ده چې کودتا د يو کال نه لا پخوا پلان شوي وه، چې د وطنجار، قادر (اکا) او سروري جوړ شوي پلان و، چې امين هم تائيد کړي و.

د کال په تيريدو سره تره کي ځان د امين لخوا په اسارت کې باله، د سروري، وطنجار او ګلابزوي د امين په هکله د شکايت په مقابل توصيه وکړه، چې د (امپراطور سره ځان مه مخامخ کوي) او کله چې مناسبات سم خراب شول، ملګري امين صاحب به دی (بې عقل، نشه ای او بوډا باله. (هجوم کتاب ۲۳۳ مخ.) يونس د هرات والی چې ځان ته فکور وايي د ملګري امين د پلويانو دی او ورور يې پرچمي د زابل والی، د شاګرد او استاد د مناسباتو خرابۍ د دې پورتنې درېيو تنو د شيطانت نه بولي او امين ته لا اوس هم وفادار دی.

تره کي صاحب: ما لاره درته جوړه کړه. اوس هر څومره چې کولای شي پر وځغلي.



## د لومړيو ورځو شهيدان

څلور تنه وطن دوست او خدمتګار لومړي وزيران:

۱- محمد هاشم ميوندوال البته د سردار په وخت کې؛ اما د همدي کمونستانو په توطيه ووژل شو.

۲- سردار محمد داود خان

۳- محمد موسی شفيق

۴- نور احمد اعتمادي

شهيد وزيران:

۱. عبدل اله، د مالي وزير او د جمهور رئيس مرستيال
۲. غلام حيدر رسولي، د دفاع وزير
۳. عبدالقدير نورستانی، د کورنيو چارو وزير
٤. وقي الله سميعي، لوی څارنوال او د عدليې وزير
۵. عدالخالق رفيعي، د ننګرهار والي
٦. وحيد عبدالله، د بهرنيو چارو مرستيال
۷. عبدالهادي هدايت، د لوي څارنوالي مرستيال
۸. يار محمد دليلي د لوی څارنوال دوهم مرستيال
۹. دشتي، د کورنيو چارو مرستيال
۱۰. اسمعيل خان نورستانی، د کابل ښاروال
۱۱. مولوي عبيد الله، د سترې محکمې غړی

شهيد جنرالان:

۱. ډګر جنرال محمد موسی، د هوايي او دافع هوايي قوماندان
۲. تورن جنرال نظيم خان، د اوومې فرقې قوماندان
۳. تورن جنرال محمد يونس، د يوولسمې فرقې قوماندان

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤. تورن جنرال عبدالمنان شينواری، د دافع هوايي قوماندان
٥. تور جنرال عبدالقير خليق
٦. تورن جنرال عبد الله روکی
٧. تورن جنرال عبدالعلي وردګ، قوای مرکز
٨. ډګر جنرال عبدالعزيز لوی درستيز
٩. تورن جنرال محمد طاهر (کور)، د پوليسو قوماندان
١٠. تور جنرال عبدالستار خان، هواي
١١. جنرال عبدالعزيز، قوماندان رادار
١٢. جنرال سيد عبدالغني
١٣. جنرال احمد شاه ګرديزي
١٤. ډګر جنرال عيسی خان نورستانی
١٥. تور جنرال صفر خان نورستانی

ليکوالان: ولاديمير سينګريوف او واليري شاموونين د غوث جانباز ژباړه:
د هجوم کتاب په ۴۲ مخ کې راغلي دي چې د عبدالله روکي زوي په لينن ګراد کې د طب محصل و چې هيڅ جرم نه درلوده، ممکن د خپل پلار په ګناه هم په همدې ورځ ووژل شو.
د اکرام انديشمند کتاب ١٦٧ مخ: د تره کي او ببرک د مخالفت سره ملګري امين صاحب جګړن هاشم خوستي، جګړن هاشم کندهاري او ډګرمن سردار د ترانسپورت د کندک قومندان، ووژل.
د همدې کتاب په ١٦٥ مخ کې د محمود قاريوف له خولې راغلي، چې ګوند ماجراجويه او سرکوبګر ؤ، د امين او تره کي په دستور د مخالفينو وژل سم عدالت بولي (دانشمند کتاب ١٦٩ مخ)
دا ټوله مړي يا شهيدان بېله کفنه او بېله اسلامی مناسکو په ډير بې تفاوتي سره د تراکتور په واسطه خاورې پرې واړول شوې، ان کورنۍ ته يې هم د مرګ او ژوند خبر نه ورکاوه.



د همدې ورځې نه د وينو بهيدل پيل شوه، ټول انساني ارزښتونه له منځه ولاړل، د ديکتاوري پوليتاري په چارچوب کې د تصفيې تر عنوان لاندې، وژنې پيل شوې. انقلابيان پوه وو چې دوی پېژندل شوو ټېټو کورنيو پورې تړلي دي، څوك به دوی و نه مني. د مقاومت اوازې هم کرار، کرار د اطرافو لخوا مرکز ته را ورسېدې، چې د ميليونو کډوالو او د لکو شهيدانو سبب شو.
انقلاب د بريا په خاطر اسد الله سروري هم پخپل لاس وژنې او شکنجې نه ردوي، او دا د امين هدايت بولي (د هجوم کتاب ۸۳ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تره کي اداره

د تره کي تر مشرۍ لاندې په مساوي ډول کابينه منځ ته راغله البته په نوي اداره کې د پخوا نه پېژندل شوي کمونستان په کابينه کې لومړی حق درلود. (۱۵۰ مخې د نبي عظيمي کتاب د اردو او سياست) په نامه:

۱. نور محمد تره کي د انقلابي شورا مشر، جمهور رئيس او لومړی وزير
۲. ببرك کارمل په ټولو پوستونو کې د نور محمد تره کي مرستيال
۳. حفيظ الله امين د لومړی وزير مرستيال او د بهرنيو چارو وزير
٤. محمد اسلم وطنجار د مخابراتو وزير او دلومړی وزير مرستيال
٥. عبدالقادر د دفاع وزير چې په (قادر سګ) مشهوره ؤ.
٦. نور احمد نور د کونيو چارو وزير
۷. دکتور شا ولي د روغتيا وزير
۸. صالح محمد زيری د کرهنې او د ځمکو د اصلاحاتو وزير
۹. غلام دستګير پنجشېری د پوهنې وزير
۱۰. سلطان علي کشتمند د پلان وزير
۱۱. عبدالکريم ميثاق د مالي وزير
۱۲. محمد حسن بارق شفيقي د اطلاعاتو او کلتور وزير
۱۳. سليمان لايق د راډيو او ټلويزيون وزير
۱٤. اناهيتا راتب زاد د اجتماعي چارو او ګرځندوي وزير
۱۵. عبدالحيکم شرعي جوزجاني د عدليې وزير او لوی څارنوال
۱٦. محمد اسمعيل دانش د معدن وزير



۱۷. نظام الدين تهذيب د سرحداتو وزير
۱۸. محمد منصور هاشمي د اوبو او برېښنا وزير
۱۹. عبدالقدوس غوربندي د تجارت وزير
۲۰. جنرال رفيع د فوايد عامې وزير
۲۱. علم ګل سوما د لووړو زده کړو وزير

د غوايي تر کودتا نه درې ورځې وروسته د نظر محمد زوي نور محمد تره کي د غزني د ناوې اوسيدونکي په اصل کې د (کی جي بي) جاسوس او په بيرون کې د کمونست په نوم مشهور او بې دين و، د دولت پر سرکې نصب شو، تش په نامه انقلاب، چې دی ترې هيڅ خبر نه و، او په حقيقت کې د پردو په لمسول يو وسله وال پاڅون و، د دوي په اصطلاح دا انقلاب په سرو وينو راغلي، او هر څه سور رنګ وموند، د هېواد ملي بيرغ هم سور شو.

۱- اسد الله سروري د استخباراتو رئيس چې په (اګسا) ونومول شو
۲- سردار محمد (ولی) د نظامي خاد مشر
۳- سيد داود ترون د پوليسو لوی قومدان شو
۴- پاچا ګل په ډهلي کې سفير
۵- فيض محمد په بغداد کې سفير
٦- انجنير نظر محمد په المان کې سفير
۷- راز محمد پکتين په مسکو کې سفير وټاکل شول.

قادر د بغلان، انجنير ظريف د کندهار، عبدالاحد ولسي د غزني، نظيف الله د هرات واليان وټاکل شول د ملي او اسلامي ارزښتونو په ضد مبارزې شدت وموند. تره کي پورې ډېر لقبونه او صفتونه وتپل شول، لکه (آموزګار توانا، رهبر محبوب، د انقلاب رهبر، د شرق ستوري او داسې نور...) که څه هم ده يوازې تر دوهم ټولګې پورې ښوونځی لوستی و. د حيرانتيا ځای دا ؤ، کوم توصيفونه او لقبونه چې به آموزګار توانا پورې چسپول کيده. د ده به هم پرې پاور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (جنګ در افغانستان) په ۲۲۵ مخ کې راغلي چې وطنجار، ګلابزوی، او سروري غوښتل چې د تره کي مجسمه جوړه کړي مګر اصل کې يو (بوده) و. مګر امين صاحب به هم و ده ته بې عقل، نشه يي او بوډا وايه (هجوم) ۲۳۳ مخ.

د شپږ بجو وروسته به بنديز ولګيد، تالاشي او نيول به پيل شول حق او باطل معلوم نه ؤ، شخصي عقدو ځای ونيوه، د ناموس د دفاع په ګناه وژنې، شکنجې په شدت دود شوې. د مقدسې ګناه په جرم نيول پيل شول، قانون، ملي شورا، د قضا آزادی له منځه لاړه، نور د د قواوو تفکيك موجود نه و، هر څه په يو لاس کې و بيرغ هم سور شو.

ملګري کرار- کرار پر چرچو واوښتل کور کلي، کالي ترې هېر شول په تصفيه لاس يې پورې کړ. پر هر مخالف د انقلاب ضد ټاپه ولګېده، ځينې کسان د اخوان په نامه، ځينې د فيوډال په نامه وټکول. دهقان، روحانيون، قومي مشران، روشنفکران، ملت پالان، محصلين، شاګردان او کاريګران غرب زده، ځينې چپ افراطي او نور تنګ نظره ناسيونالست او داسې نور و بلل شول.

د هر چا لپاره يو غرض الوده اطلاع بس و، تالاشي، نيول، شکنجه، وژل، ژوندي تر خاورې لاندې کول، جسدونه او مړي يې بې کفنه ښخول او خپلوانو ته نه سپارل ورځنۍ چارې وې. بازخواست او عدالت نه و، جنسي تېري، فشحا، بې ديني، بې بندوبارې، ناوړې ګټې په عام ډول دود شوې. د سازمان ځوانانو په سر کې ببرك شينواري موظف شوی و، پېغلو نجونو ځوانو هلکانو به د غونډو په نامه د شپې لخوا په سازمان کې پاتې کېدل، د پلار سالاري او شوهر سالاري په نامه په ضد مبارزه پيل او بې بندو بارې په شدت دود شول.

هر ملګري د مرګ او ژوند د تصميم واک درلود.



# د اردو تصفيه

عظيمي د خپل کتاب ۲۴۷ مخ کې د هوايي افسرانو د شهيدانو لېست دا ډول خپور کړی دی.

۱. تورن جنرال عبدالستار خان
۲. ډګروال محمد احسان، مدير پيژند
۳. ډګروال تيمور شاه
٤. ډګروال سيد محمد
٥. ډګروال شير محمد پيلوټ
٦. ډګر من حبيب الرحمن مدير
۷. جګړن معروف پيلوټ
۸. ډګرمن محمد وزير غنډ تعليمي
۹. ډګرمن محمد اکبر پيلوټ
۱۰. جګړن ضياء الدين پيلوټ
۱۱. ډګرمن محمد وکيل پيلوټ
۱۲. جګړن سلطان محمد پيلوټ
۱۳. جګړن محمد اشرف محل چنار
۱٤. جګتورن محمد انور محل چنار
۱٥. جګړن محمد کريم راکټ
۱٦. ډګرمن محمد هاشم پيلوټ
۱۷. ډګروال عبدالرزاق هوايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸. اکبر مقصودي رئیس ارکان شعله ای
۱۹. محمد اکرم رنجبر شعله ای
۲۰. ډګروال نجیب الله امین
۲۱. ډګرمن محمد قاسم مدیر
۲۲. جګړن تاج محمد بګرام
۲۳. جګړن محمد هاشم میدان
۲٤. جګړن سلطان محمد پیلوټ
۲۵. جګړن محمد وکیل پیلوټ
۲٦. جګتورن عبدالله پیلوټ
۲۷. جګړن عبدالکافي پیلوټ
۲۸. ډګرمن محمد اکبر پیلوټ
۲۹. ډګرمن غلام محمد پیلوټ
۳۰. ډګرمن فدا پیلوټ
۳۱. ډګر من هدایت الله
۳۲. جګړن عارف
۳۳. جګړن خلیل
۳٤. جګړن سید
۳۵. جګړن شیر جان
۳٦. جګړن شیر زمان الدین
۳۷. جګړن باقي
۳۸. تورن محمد کریم

نبي عظیمي د کتاب په ۱٤۲ مخ کې د غوایي د اوومې ورځې یا څو ورځې تر هغې وروسته د شهیدانو شمېر ۱۵۰ تنه راوړی دی.

په لومړیو ورځو کې دا لاندې کسان هم شهیدان شول، چې نبي عظیمي کتاب (اردو او سیاست) ۱٦٦ مخ کې داسې لیکي:



۱. جګړن محمد انور
۲. جګړن سید
۳. جګړن شیر جان
٤. سید زمان الدین
۵. تورن محمد کریم
٦. جګړن عنایت الله یاور

د دې ټولو شهیدانو مړي او کفن چا و نه لید. او دا ټوله بېله تحقیق بېله محاکمې ؤ.

یوه غرض الوده اطلاع د مرګ د سر نوشت دپاره بسنده وه.

اولیانوفسکی: شوروي د خلق د ګوند کورني او بهرني سیاست تدوین او استقامت ورکاوه: (هجوم کتاب ۷۱ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نامتو وژونکي

عظیمي د خپل کتاب ۱٦٦ مخ کې نامتو وژونکي دا کسان راوړي دي چې ولس هم پيژندل

۱. عبدالله امين
۲. اسدالله امين
۳. اسدالله سروري
٤. اسد الله پيام
۵. عزيز اکبري
٦. منصور هاشمي
۷. سيد عبدالله پلچرخي
۸. غلام جيلان مرستيال وزارت دفاع
۹. کبير کارواني
۱۰. تورن اورنګ
۱۱. سيد داود تړون
۱۲. روزي خان
۱۳. اقبال
۱٤. جانداد
۱۵. شايسته خان
۱٦. جګړن يعقوب
۱۷. انجنير ظريف



۱۸. جګړن يعقوب
۱۹. عبدالاحد ولسي

جنرال عظيمي په ۱۸٦ مخ کې ليکي چې ډګروال ميراجان او فضل قادر د لوجستيك رئيس جيلاني سره په ټولو وژنو کې ګډون درلود. عظيمي په ٦۹ مخ کې راوړي دي چې صاحب جان صحرايي او انجنير ظريف ۳٦٦ هوايي غونډ قومدان ته هدايت کړی و چې ارغنداب، پنجوايي او شاه وليکوټ کې هر ژوندی حرکت بايد له منځه يوسي.

هر ډول ظلم او ناروا عملي شو، چې په څرکند او آزاد ډول ديکتاتور پوليتاريا په عمل کې پياده کړ او دا پروسه يې په لاس کې ونيوله او په ډېر وياړ يې د لينن او استالين لار تعقيب او د هغوی پيروي يې کوله، د الله اکبر ځای "هورا" ونيوه. د روسيې بسمچې تجربه دلته عملي شول.

تره کي صاحب د ولس په مقابل کې د جګړې اعلان وکړ، ده خپل مخالفين له يوه سره (مباح الدمه او واجب القتل) وبلل.

د ملګرو ملتونو کميساري کوم ګزارش چې د وخت ولسمشر حامد کرزي ته وړاندې شو او کاپي يې بشر حقوق د خپلواك کميسيون د ۸٤/ ۰۵/ ۱۷ کې ترتيب شوی دی تر اوسه لا اجرا پروت دی. چې په دې کې د اسد الله سروري، تره کي او امين جناياتونه تر اندازې ذکر شوي. د ټولو جناياتو او کړنو راپور به اسد الله سروري تره کي ته ورکاوه.

وکيل هم د لومړيو ورځو نه پرچميانو باندې د فشار حکايت لري. د دغه کتاب ۲۸٦ مخ کې د محمد هاشم د ۴۴۴ کوماندو د قطعې د قوماندان د وژلو شکايت کوي. همدا ډول، د کتاب ۳۱۰ مخ کې د ۱۲ زرو کسانو د وژلو او ۲۰ زرو زندانيانو د کمونستي رژيم لخوا بيان راغلي دي. او هرو مرو تر دې شمېر نه نور هم ډېر دي. ډېر ګمنامه شهيدان په شهادت رسيدلي دي. جنرال محمد نبي عظيمي د (اردو او سياست) کتاب ۲۴۸ مخ کې د دافع هوايي د افسرانو د وژلو څو ليستونه داسې تثبيت کړي او راوړيدي، چې د رژيم په وخت کې په يو او بل نامه وژل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تصفيې دوام

۱. ډګرمن محمد نادر ايوبي، د هوايي توپچي قوماندان
۲. ډګروال شاه ولي پيلوټ او قوماندان سابقه بګرام
۳. ډګروال سيد محمد پيلوټ
٤. ډګروال شير محمد پيلوټ
٥. ډګرمن حبيب الرحمان پيلوټ
٦. جګړن محمد معروف پيلوټ
۷. ډګر من محمد وزير پيلوټ
۸. جګړن ضياء الرحمن پيلوټ
۹. جګړن مرتضي قل انجنير
۱۰. جګړن احمد شاه
۱۱. ډګروال عبدالروف د لوجستيك كارمند
۱۲. انجنير محمد اكرم د ګارنيزيون جګړن شعله جاويد
۱۳. ډګرمن محمد يعقوب د هوايي پوهنتون استاد شعله يي
۱٤. ډګرمن محمد هاشم پيلوټ شعله يي
۱٥. جګړن محمد الحق (درهي) مدير مجله
۱٦. جګړن محمد كريم اګنټ بګرام
۱۷. جګتورن محمد راشد محلي چنار
۱۸. جګتورن محمد اشرف مخابره
۱۹. جتګورن حميد الله خليق محل چنار مخابره



پاسنيو كسانو ټولو لوړې زده كړې درلودې او د ملت سرمايه ؤ. ملګري په هغه وخت كې د بشر د حقوقو د ماتولو او ان انساني كړنو نه پرده پورته كړې، چې په خپله د ملګرو په شكنجه كې راغلي دي. د كشتمند، صالح زيري او جنرال قادر كتابونه دې ولوستل شي. د عدالت او حقوق بشر ته مراجعه وكړئ چې پر دوی راغلل. تره كي هم د عدالت په هيله و، دوی ټولو د عدالت په هيله او له محاكمې او مدافع وكيل پرته ووژل شول.

مجيد كلكاني د ۱۹۸۰ كال په جولای په مياشت كې كې پانسي شو.

پر مجيد كلكاني د پخواني رژيم هم تور و، دی مائوست و، د نيك محمد د كوهدامن وكيل (د نجيب اخښی) كور كې چې د فاتحې لپاره راغلی و، ونيو، چا نه پېژند، تر څو نور احمد نور يې د پيژندګلوۍ تصديق وكړ او بې له محاكمې ووژل شو كفن او جنازه يې چا و نه ليدل.

كلكاني د وكيل نيك محمد د زوی فاتحې ته ورغلی و او ويل كېږي چې اطلاع پخپله نيك محمد وركړې ده د نيک محمد زوی د تره كي په واكمنۍ كې دا چې د نجيب خوريې ؤ ووژل شو. حقيقت دا ؤ، چې حفيظ الله امين د كودتا قومانده صادره كړه، ولې چې د خلق ګوند نظآمي برخه پر ده پورې تړاو درلود. نور احمد نور او وكيل چې د پرچم د ډلې نظامي برخې مسوول و، د كودتا جرأت و نه كړ.

نيول او وژل هم هغسې دوام درلود دلته د جنرال عمرزي د خپل كتاب (د كابل شپې) په ۱٦٥م مخ كې د كندز د شهيدانو لېست را وړی دی؛ البته د هېواد په هر ګوټ او هره سيمه كې شهيدان وركړل شوي دي د مثال په توګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بې کفنان

د اسدلله پيلوټ په لاس ليکل شوي ليك ۱۶۶۳/ ۲۸/ ۹/ ۱۳۵۷ لمبر ليك په دې ډول وړاندې کوم دا ليست ۳۲ تنه د کندز د ولايت شهيدان دي يوه نمونه ده:

۱. ارباب شيرين د طوره قل زوی، امام صاحب
۲. حاجي عبدالحکيم د حضرت قل زوی، امام صاحب
۳. عبدالکريم د محمد نق زوی، امام صاحب
٤. قاري نظر الدين د قرچي زوی، امام صاحب
۵. حاجي جمعه د حاجي بيك محمد زوی، امام صاحب
٦. حاجي غلام محمد د حاجي بيك زوی، امام صاحب
۷. حاجي ګل محمد د جهانګير زوی، امام صاحب
۸. حاجي عبدالحکيم د ... تاش زوی، امام صاحب
۹. حقداد د حاجي سجا قل زوی، تخار
۱۰. عبدالواحد د حاجي امام قل زوی، کندز
۱۱. عبدالرحمن د خير الله زوی، کندز
۱۲. محمد نذيرد ممتاز علي زوی، کندز
۱۳. ايشان رحمت د ايشان عصمت زوی، کندز
١٤. حاجي بهسود د رحمت الله زوی، کندز
۱۵. قاري پنجي د خالي افغان زوی، کندز
١٦. حاجي ګلاب د عبدالسلام زوی، کندز



۱۷. ملا طوره د سيرت زوی، کندز
۱۸. حاجي عبدالله د محمد جمعه زوی، کندز
۱۹. نور محمد د حاجي صالح محمد زوی، کندز
۲۰. وکيل اختر د حاجي صالح محمد زوی، کندز
۲۱. مفتي محمد هاشم د فيض الله زوی، کندز
۲۲. مجيد د احمد خان زوی، کندز
۲۳. حاجي محمد د حاجي خان محمد زوی، کندز
۲٤. عبدالحکيم د حاجي ګنجينه زوی، کندز
۲۵. لالا نظر قد د حاجي صالح محمد زوی، کندز
۲٦. سيد حبيب الرحمن د سيد عبدالرحيم زوی، کندز
۲۷. حاجي عبدالغفور د حاجي عبدالستار زوی، کندز
۲۸. محمد د حاجي محمد عمر زوی، کندز
۲۹. خانزاده ګل د حاجي حسين ګل زوی، کندز

د بلې نمونې په توګه به د هلمند د ۴۵ زندانيانو يو لېست چې د جګړن حسام الدين پيلوټ، د څارندوی قوماندان، په لاس ليك چې د کندهار د ۱۰۸۲ نيټه ۰۱/ ۸/ ۱۳۵۷ ليك په واسطه عزيز احمد اکبري، د اګسا مرستيال دهمزنګ ته ليږل شويدي. د خلق او پرچم د جنايتو کتاب ۲٦ مخ.

دا کسان هم لکه د نورو په زرګونو او بلکې لکونو کسانو چې لومړی بندي او بيا وژل شوي دي، د مکتوبونو او سوال او ځواب د دې کسانو د وژنو لپاره بشپړ ثبوت دی. دوی ټول د هلمند اوسېدونکي وو، د خلق او پرچم جنايات ۲٦ مخ. دا کتاب انجنير ميرويس وردګ چاپ کړېدی.

۱. محمد ولي د عبدالستار زوی
۲. در محمد د ماجي زوی
۳. لالی د جلاد خان زوی
٤. امير جان د نيك محمد زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. محمد د ملا الله داد زوی
٦. شهاب الدين د نياز محمد زوی
۷. فيض محمد د داد ګل زوی
۸. دوست محمد د بشر محمد زوی
۹. خوشدل د اقا محمد زوی
۱۰. ملنګ د قلندر زوی
۱۱. عبيدالرحمن د کريم زوی
۱۲. پير محمد د خوشدل زوی
۱۳. فيض الله د اختر محمد زوی
۱٤. شمس الدين د محي الدين زوی
۱۵. جمعه الدين د غلام محمد زوی
۱٦. عبدالکريم د کمال زوی
۱۷. نصرالله د محمد عظيم زوی
۱۸. عبد الله د عبيد الله زوی
۱۹. عبدالرزاق د عبد الله زوی
۲۰. احمد د عبدالکريم زوی
۲۱. ولي محمد د يار محمد زوی
۲۲. محمد د انور زوی
۲۳. شهاب الدين د ظريف زوی
۲٤. فضل احمد د حاجي احمد شاه زوی
۲۵. ساعت ملوك د ذکي بيګ زوی
۲٦. عبدالنبي د نظر محمد زوی
۲۷. مشك د جمعه خان زوی
۲۸. لعل محمد د حاجي صدو خان زوی
۲۹. عبدالسلام د عبدالله زوی



۳۰. جمعه ګل د امير زوی
۳۱. دل محمد د محمد حکيم زوی
۳۲. رحمت الله د محمد اخلاص زوی
۳۳. عبدالباري د عبدالرحمن زوی
۳٤. باز محمد د حاجي حليم زوی
۳۵. عبدالقيوم د لعل محمد زوی
۳٦. عبدالحسن د نظام زوی
۳۷. محمد زمان د الله داد زوی
۳۸. عبدالستار د بنو فير زوی
۳۹. عبدالباري د عبد الله جان زوی
٤۰. عزيز الله د اعظم خان زوی
٤۱. محمد دين د عبدالغياث زوی
٤۲. حاجي احمد شاه د محمد علم زوی
٤۳. عبدالله د عبدالحکيم زوی
٤٤. عبدالغني د عبدالعزيز زوی

دا يوازې يوه نمونه ده چې د دې کسانو په څېر په لکونو نورو انسانان بې کفنه تر خاورو لاندې شول. د دوی ټولو د يو نفر جسد يې کورنۍ ته نه دی تسليم شوی. دا وژنې د ټيټې انګېزې پر بنا عملي شوي دي. مرتکبين او جرمي شريکان يې د (ق، ج) د ۳۹۵ ماده سره سم بايد مجازات شي.

په ليستونو کې پر کس باندې يوه ټاپه لکه اخواني، فيوډال، مستبد لګول شوې ده، يو لوی شمېر شاګردان، محصلين، کارګران او دهقانان هم د انقلاب ضد په اتهام وژل شوي، چې جنرال عمرزي او انجنير ميرويس وردګ يو اندازه اسناد را ټول او خپاره کړي دي.

د حضراتو شهيدان دا کسان په ۹۲ مخ او ۱۹۰٦ ۳/ ۱۱/ ۱۳۵۷ ليك په واسطه د سروري په امضا وژل شوي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. جان اقا مجددي د عبدالحميد زوی، پروان
۲. عطام محمد مجددي د غلام معصوم زوی، لوګر
۳. عصمت الله، پروان
٤. عبدالستار د غلام خان زوی، پروان
۵. ميان جان د سراج احمد زوی، پروان

په ۹٦ مخ کې (د پرچم او خلق ژوندي جناياتو کتاب کې) د سروري په لاس ليك 3912 ۱۴/ ۱۱/ ۱۳۵۷ لمبر ليك.

۱. عبدالباقي مجددي د عبدالکريم زوی، هرات
۲. عبدالصمد مجددي د عبدالکريم زوی، هرات
۳. محمد انور مجددي د عبدالله زوی، هرات
٤. علي احمد مجددي د بهاوالدين زوی هرات
۵. فضل الحق مجددي د عبدالوهاب زوی، هرات

د هر ځای مجدديان وو، هر هغه يې را ټول کړل د ۱۹۳۲ ليك نېټه ۸/ ۱۱/ ۱۳۵۷ په واسطه غلام داود مجددي د بابا جان مجددي زوی، ضياءالله او رفيع د غلام داود مجددي زامن، عطا محمد مجددي، هارون مجددي، د خان زاد او عبدالرزاق د ښوونځي شاګردان يو ځاي ونيول شول چې تر اوسه يې د مړي او ژوندي پته نشته.

511 ۱۳/ ۲/ ۱۳۵۸ لمبر د اګساد ليك د سروري په لاس ليك د څارندوی لوی قوماندان په عنوان ۷ تنه شاګردان: (عبدالرحيم د عبدالواحد زوی، محمد اسحق د محمد ابراهيم زوی، آقا پادشاه د محمد علم زوی، عبدالحارث د غلام ايشان زوی، محمد عالم د صالح محمد زوی، عنايت الله د عبدالله زوی، محمد امين د محمد علي زوی زندان ته ولېږل شول. (ظاهر طنين په خپل کتاب افغانستان در قرن ۲۰ د حضراتو شهيدان سل تنه بولي. په کال ۱۳۸٦ خوشحال نومې د لغمان اوسېدونکي د خپل پلار عين الدين او تره نصرالدين د نيولو او تر اوسه يې د مرګ او ژوند د نه معلومېدو په خاطر د



رياست جمهوري مقام ته د اسد الله سروري پر ضد د دادرسي عريضه وړاندې کړې وه.

انجنير احمد شاه احمدزي د جهاد يو مشهور څېره هم د خپلو، خپلوانو د نيولو لکه: ادم خان د خان آقا زوی د خاك جبار اوسېدونکی چې د ببرك شينواري لخوا نيول او توقيف شوی، مګر چا يې باز خواست و نه کړ.

احمد شاه احمدزی په خپله عريضه کې

۱- حاجي سعدالله د حاجي خيالي خان زوی
۲- حاجي محمد صديق
۳- حبيب الله د محمد صديق زوی
۴- جلندر د محمد صديق زوی، ملك عبدالخاق
۵- مير آقا او ورور يې سميزاده مير
٦- محمد صديق تورن
۷- محمد عمر د جمعه ګل زوی
۸- جليل د ضياءالدين زوی
۹- داود د نادر زوی
۱۰- محمد رحيم د ضعيف ګل زوی؛ حقوق بشر کمېسيون ته شکايت وړاندې کړ، هغو سر پسې و نه ګرځاوه.

حيات الله تورن او عبدالمجيد ښوونکي او د غزني اوسېدونکي سيد بشير د نور احمد زوی، د کابل د باراني اوسېدونکي له حقوقو پوهنځي فارغ او ورور يې قاضي ضياء احمد فدايي شکايت وکړ، چې ورور يې هېڅ ګناه نه درلود، چې په دار يې ځوړند کړ او اته تنه نور هم ور سره وو. د لوګر د برکي برك او برکي راجان پاڅون انقلابي ملګرو داود منګل او لعل محمد کندهاري د کابل قوماندان لخوا وځپل شو، ۱۲۰ تنه په شهادت ورسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال نبي عظيمي هم پخپل كتاب (اردو او سياست)كې څو ځايه د خلقيانو نه د شكايت په توګه د بې رحمۍ او قساوت اسناد راوړي دي لكه دا وژنې:

سيد رونق، سيد انور او سيد حسين د كيان د كورنۍ غړي هم ووژل شول.

(توفان در افغانستان) كتاب كې الكساندر لياخفسكي په ۷۹ مخ كې د ملګري امين صاحب جناياتو ته ګوته نيولې ده.

همدې كتاب په ۱۲۷ مخ كې د كندهار ۳۳ تنو وژنه د سر شماري د مخالفت په پلمه، باميان كې تاراج او كشتار او اروزګان كې ۳۰ تنو وژنې ته اشاره كړې ده.

شوروي دوستانو (د پرچميانو له قوله) د امين صاحب لخوا د وژلو شمېر تر ۵۰ زرو ډېر بولي.

۲/ ۴/ ۱۳۵۸ په نيټه د چنداول د پاڅون په اړه جنرال عظيمي په ۱۹۲م مخ كې تر دوو زرو زيات كسان نيول شوي او سر په نيست او طبق معمول بې له كفنه او بې له محاكمې په ډله ييزو قبرونو كې تر خاورو لاندې شول. چنداول تر بې رحمانه بمبارۍ لاندې راغی، په دې ارتباط دا كسان ونيول شول چې تر اوسه ورك دي. لكه:

سيد سرور واعظ

شيخ محمد امين افشار

شيخ محمد علي

محمد اسماعيل مبلغ

سيد ابراهيم عالمشاهي

محمد يوسف بينش د ولسي جرګې غړی

نادر علي جاغوري د ولسي جرګې غړی

سيد عبدالحميد ناصر

اقاي عالم او علي احمد شامل و.



د قضا مقام ته بايد رېښتيا عرض وشي، كله چې مجاهدينو او د رژيم مخالف كسان هم لاس په كار شول، کوم کسان چې د انقلابي ملګرو يا قواى دوست ته په لاس ورغلل دوی د وجدان په حكم دا دفاع مشروع وه او د هېواد د ناموس په دفاع كې و.

كودتا چې ګونديان يې انقلاب بولي، دا يو بغاوت او مسلحانه پاڅون و د (ج، ق) د ۱۷۵ او ۲۱۱ مادې قابل مجازات دي.

پدې كې ډېر هغه كسان شته چې د داود خان په كودتا كې يې هم ګډون درلود، اصلي رتبه يې تورن يا بريدمن و، چې سردار د تقدير او تشويق په خاطر دوه- دوه رتبې ترفيع وركړه.

د بريدمن به څه تجربه وي، طبعاً استخدام شوي او يو ابر ځواك يې شاته ولاړ و.

د سردار د رژيم په پلوۍ چا مقاومت ونه كړ، کوم كسان چې په كودتا كې يې ګډون نه درلود، كه مخالف و او كه موافق سخت سركوب شول. د سردار د رژيم، ختم اعلان شو.

د رژيم فلسفه يوازې د تصفيه په نوم د ديكتاتوري پوليتاريا په چوكاټ كې انسان وژنه وه، دا دنده د هرګوندي دنده او واك و.

د هر ګوندي چوغولي او راپور د انقلاب نه د دفاع په مانا دنده وه.

مګر د اګساد كاركونكي او څارندوي لومړي درجه د وژلو دنده پر غاړه وه او په وژونو كې د ګوند ټولو غړو، موافقت، تحريك، تسهيلات، كمك، هدايت او مشوره كې پوره اتفاق او برخه درلوده، چې د (ج، ق) د ۲۲۵ مادې په اساس د ټولو جناياتو د جرم شريكان دي. يوازې هغه كسان لكه جنرال قادر، كشتمند، صالح زيرى چې پر دوی خپله راغله، د بې عدالتۍ او غير انساني چلند په تړاو يې په خپلو كتابونو كې راوړي دي او د حقوق بشر يادونه كوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مجدديانو د كورنۍ ښځينه بنديانې

دا ټوله ميرمنې يا په اصطلاح سياسرې وې او ماشومان، مګر لوبغاړو ترحم پر ونكړ ولې ټوله بې ګناه وې.

د حضرت صاحب مجددي د كورني نمبر ليك ۱۸۷۷ نېټه ۲۹/ ۱۰/ ۱۳۵۷ ليك په واسطه ۲۵ تنه ماشومان او ښځې هم پلچرخي كې اچول شوي، انقلابيان په لېست د (بنت) پر ځاى ولد ليكلى دى. د خلق او پرچم جنايات كتاب ۷۵ مخ.

۱. حبيبه مجددي د نور المشايخ، لور
۲. حميرا د محمد امين مجددي، لور
۳. هاديه د فضل احمد مجددي، لور
٤. قدسيه د فضل احمد مجددي، لور
۵. راشده د فضل احمد مجددي، لور
٦. كوكبه د فضل احمد مجددي، لور
۷. شاكره د فضل احمد مجددي، لور
۸. فوزيه د محمد ابراهيم مجددي، لور
۹. ګل مكى د فضل عثمان مجددي، لور
۱۰. سيما د نعمت الله مجددي، لور
۱۱. هديه د محمد اسمعيل مجددي، لور
۱۲. زهره د محمد يعقوب مجددي، لور
۱۳. بلقيس د هدايت الله مجددي، لور



۱٤. سمين ګل د محمد مجددي، لور
۱۵. فاطمه د حاجي سيف الله مجددي، لور
۱٦. ګل د احمدزي مجددي، زوى
۱۷. وزير د كبير احمد مجددي، زوى
۱۸. سيمع الله د ضياء احمد مجددي، زوى
۱۹. جميل د محمد يعقوب مجددي، زوى
۲۰. شكيلا د كريم مجددي، لور
۲۱. شاه بيګم د خواجه مجددي، لور
۲۲. محمود د محمد اسمعيل مجددي، زوى
۲۳. امين د محمد اسمعيل مجددي، زوى
۲٤. محموده د حضرت غلام مجددي، لور

مېرمنې او ماشومان هم زندان ته ولېږل شول.

اساسي قانون ۲٦ ماده صراحت لري، چې جرم يو شخصي عمل دى او بل ته سرايت نه كوي؛ د دې ښځو او ماشومانو ګناه څه وه؟ په داسې حال كې چې نارينه يې هم بې ګناه وو. محمد ګل وطنپال دياني هم د خپل كتاب (افغانستان د ساړه جنګ په لومو كې) ۲۲۱ مخ كې ليكي چې ګونديانو د مجددي د كورنۍ ټول غړي لكه د سلطنتي كورنۍ تباه كړل.

د انقلاب د مخالفينو په نامه زندانونه نور دومره ډېر شول چې نور د (بريكوټ او پلچرخي) زندانونو كې ځاى نه و، له نورو ځايونو د قانون خلاف د زندان كار اخيستل كېده؛ لكه د سردار داود خان روغتون زيرخانې، د كابل بالاحصار، د مهتاب قلعه د مخابرې قطعې، د مركزي قوا پخوانۍ ودانۍ، د دفاع وزارت پخوانۍ ودانۍ، په نوي ښكار كې په صدارت كې كوټې، دربېمه كارته، وزير اكبر خان ځينې كوټې، شش درك او نور د جنرال عمرزي كتاب ۱۲۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلب آزادی د قانون پر بنا یوازې په رسمي زندانونو کې اجازه ده د جزایي اجرااتو د قانون ۴۱۴ ماده.

زندانیان دومره ډېر شول چې نه یې مسوول مامورینو ځای، تحقیق او محاکمې ته رسېده ګي کولای شوه او نه یې د ښځېدو فرصت درلود. له ولایتونو نه ټرانسپورټ هم یوه لویه ستونزه وه. د رژیم لوبغاړو د ملي او علمي کسانو یکطرفه کول او له مخې لیرې کولو دنده درلوده ملګري ستر لارښود که څه هم خپله بوډا او شنډ و، زړه سوی نه درلود. دلته د قضاء لوړ مقام ته د څو نامورو کسانو او پېژندل شوو نخبه ګانو د شهادت نمونه وړاندې کوم، چې استاد حبیب الله رفیع د هغه کتاب چې (د زندان خوړلي ادیبانو) کتاب کې چې ټول یې ما هم پېژندل او دا کسان د اسدالله سروري تر تېغ تېر شوي دي:

۱. مولانا ارشاد د عبدالخالق زوی د بګرام اوسېدونکی؛ دانشمند، وکیل
۲. جګړن محمد جان (فنا ساپي) د کاپیسا اوسیدونکي؛ ارکان حرب، شاعر او لیکوال
۳. امان الله سیلاب ساپی د نصر الله زوی، ننګرهار شاعر د سیلاب شعر لا تر اوسه د همایون انګار په کمپوز کې ډېر اوریدونکي لري چې وایي ببر سر ځیرې ګریوان کړم اشنا د بیابانو سره.
٤. محمد عارف تسل د ملك نعیم زوی؛ شاعر او لیکوال
٥. مولوي برکت الله د ملا رحیم زوی؛ خوست، لیکوال
٦. غلام مصطفی حقیق، شینواري
٧. مولانا شیرین سنګري؛ خوګیاڼي، ننګرهار
٨. محمد اسمعیل، بلخي
٩. پایز حنیفي

په ولایاتو کې چې به هر چا هر څه کول د ګوندیانو لخوا صلاحیت و.



(د افغانستان لیدلي حالت) کتاب په ۳۷ مخ کې په یوه شپه د ۲۵۰ تنو شهادت راوړي دي، د ګوندیانو ذات البیني مخالفتونو په واسطه څه اسرار او پټې رسوا شوي؛ لکه د (افغانستان پس از بازګشت سپاهیان شوروي) په ۸۱ مخ کې د ډاکر نجیب له خولې لیکي: "د سروري لاسونه د انسانانو په وینو لړلي دي، ډېر انسان ده پخپله تیر باران کړي."

د ۳۰ زرو تنو اعدام: پوهاند دوکتور محمد عثمان روستار، زندان پلچرخي کتاب ۱۲۳ مخ راوړي دي او پوهاند دا هم زیاتوي چې د اعدام د تنفیذ په وخت کې به یرغلګرو قوا مشاورینو هم حضور درلود. دا وژنې به د شوروي د سلاکارانو په حضور کې عملي کېدې پوهاند لا دا هم د همدې کتاب په ۱۹ مخ کې د عبدالحکیم د عبدالحفیظ زوی د انجنیرۍ محصل وژنه چې هېڅ مسولیت یې نه درلود، د اګسا، د تحقیق د آمر عبدالغني لخوا مسوول و بلل شو، عدالت او قانونیت وجود نه درلود.

د پوهاند همدې کتاب ۳۹ مخې کې راغلي، چې د حزب اسلامي غړی فدا محمد چې ۱۷ کلن و، و ساتل شو، چې ۲۰ کلن شو اعدام پرې تطبیق شو. دې کسانو به دوې سزا ولیدل؛ لومړی بند او بیا اعدام.

د خپل ناقصو اجراآتو لپاره به یې په درغلۍ او جعل هم لاس پورې کاوه. کله چې ډاکتر حسن شرق د ډاکټر نجیب لومړي وزیر د (کرباس پوشان برهنه پا) کتاب کې راوړي دي: " کله چې د اردو لپاره جلب او جذب د سن په لحاظ کمښت سره مخامخ شو، ډاکتر نجیب به د اصلاح سن په نامه د کوچنیو هلکانو سن لوړ کړ، تر څو عسکرۍ ته برابر شي که څه هم دوی به واړه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رژیم ستر واکداران

د ۴۰۰ تنو پرچمیانو توقیف او بیا له هغه جملې نه ۲۵۰ تنه وژنه: عظیمي کتاب ۱۵٦ مخ کې په همدې کتاب کې ستر خلقیانو کوم ډېر واک درلود ګرچه په خلقیانو کې غریب څوك نه و، دا ملګری مقتدر او ستر واکداران دا کسان بولي: لکه:

وطنجار، مزدوریار، ګلابزوی، سروري، داود ترون، یعقوب، اقبال وزیري، غلام جیلاني لوجستیك، غوث الدین ګاګارین، جنرال قادر، اسد الله پیام، کبیر کارواني، جغفر سرتېر، نور محمد سرحوزه وال، نادر دهقان، نظام الدین اداري رئیس، محمد هاشم څارنوال، فتح محمد، فقیر محمد، سردار محمد (ولي)، ګلرنګ، اصف شور، احمد علي، بهرام الدین، نظر محمد پیلوټ، شهنواز تڼی، فتح محمد پېژندوال، امین بروت، جمعه، فاروق هراتي، غلام سعید، فضل قادر، عتیق الله پېژندوال، توفیق احمد، لعل محمد، محمدزی نېکمل، محمد هاشم مهمند، عبدالودود، جانداد، روزي، اقبال، قاسم، غلام نبي، اسد الله، امام الدین، تواب، خان بانديچي، سید مکرم،

چې د کسانو د انسانانو پر ژوند تصمیم نیوي او هر څه یې په واک کې وو. عظیمي لا دا هم زیاتوي چې هر شپه به له ۵۰ – ۱۰۰ تنه اعدامېدل. نور محمد سرحوزه وال کله چې په دوهم قول اردو کې قومندان ؤ، د زرهدار تورن شیر محمد او بریدمل امان الله پدې تور چې روسی سلاکار یې تهدید کړي ؤ، ونیول او شهید کړ.



پوهاند روستار د کتاب ۱۴۲ مخ کې هم راوړي دي؛ کله کله به د تالاشي په وخت او محل واقعه کې هم صحرایي محاکمه هملته عملي کېده.

وژنې او اعدامونه په شفاهي هدایاتو اجرا کېدې، د دوسیو او نورو قانوني اجراآتو ته رسیدګي نه کېده، سروري په ارتباط کوم چې د انجنیر میرویس وردګ کتاب (جنایات خلق و پرچم) کې اسناد را ټول شوي دي، د سروري د امر چې (به دوزخ روان کنید، یا به پاکستان روان کنید) مانا درلوده. لېږل او لیږدولو ته ضرورت نه لیدل کیدو.

سرورويي هم څارنوال و او هم قاضي القضات دا مطلب د ویډیويي کیسته (د وروز پی در پی) کې هم په تفصیل راغلی ده. انقلابیان د (مبادا) ورځې د تحقیق او پرس و پال فکر نه درلود، دوی ویل چې انقلاب (برګشت ناپذیره) دی، یا کوم کسان چې به زندان ته په رسمي ډول لېږل شوي وو او هغه به اعدام شوي او یا به اعدام کېدل، وراندې دا مسولیت (اګسا) په خپله غاړه اخیست دا به یې ولیکل چې (جهت اجراات به ما اعزام دارید) دا یوه مانا و چې مطلوب کس به لا پخوا وژل شوی و یا به اوس اعدامیږي، اعدامونه په مرمۍ او فیر و او یا به ژوندي تر خاورې لاندې کېدل. الوتکو نه هم را غورځول کېدل او په اوبو کې به هم اچول کېدل.

دا باید ومنو چې دی (تره کي) تر څټ (دي) و، په اصطلاح څرګند شوه، چې (دی) (دی) دي.

کوم پایوازې چې به وتوانید تر مسوولو کسانو پورې په یو ډول ځان ورسوي او د خپل بندي په هکله تپوس وکړي، د وژلو یا اعدام معلومات به یې نه ورکاوه، دا به یې ورته ویل چې هغه پاکستان ته تېښتېدلی دی. دا بې شرمانه ځواب د ملګري امین و، کومې مېرمن چې به د خپل سړي تپوس وکړ، د امین ځواب به دا و چې لاړه شه بل مېړه وکړه. د ګوندیان په هکله دا ذهنیت ؤ، (ګفتار زشت، کردار زشت، پندار زشت ؤ سر تا پا زشت).

شعار: انقلاب برګشت ناپذیره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر پرچمیانو برید

ګوند کې سپك او ټیټ کسان را ټول شوي وو؛ شهوت، وحشت او شخصي انګېزې پکې څرګندې وې، هر یوه د ځان لپاره کار کاوه او کوم کسان چې به یې پر ځان را ټول کړي وو، په هغو کې به هم شخصي ګټې مطرح وې. زیار ایستونکو نور د چا په یاد نه وو، کور، کلی، کالی، نور هېر شول. ګوندیان لکه لیوان، مخ په مخ سره ویده کېدل، مثلاً ګوندیانو په خپلو د سنګر ملګرو (پرچمیانو) برید وکړ، د سنګر ملګري ته توطیه جوړول نیول، شکنجه کول، محاکمه کول او وژل هم څه عیب نه و، دا د دې کاري ګوند خاصیت ؤ. چې البته په دې کې د ملګري امین نقش پوخ و لکه: ببرك، نور احمد نور، محمود بریالي، وکیل، ډاکتر نجیب او اناهیتا راتب زاد د سفیرانو په نامه تبعید کړل. ورپسې یې قادر د دفاع وزیر، کشتمند د پلان وزیر، شاهپور احمدزي لوی درستیز او ډاکتر علي اکبر د جمهوریت روغتون ډاکتر د کودتا په تور ونیول، محاکمه شول او په اعدام یې محکوم کړل، وزیران له دې کبله چې پخته کمونستان و، د اعدام نه بچ او پر نورو حکم تنفیذ شو، ټولو پوره شکنجه ولیده چې قادر یې جریان په خپل کتاب کې په تفصیل سره راوړی دی. د کودتا په تور پرچمي سفیران برطرف او راجلب شول، هغو د سفارت شتمني غارت کړه، او وتښتېدل. امین دوی ټوله سلب تابعیت کړل، که څه هم د هېواد (اساسي قانون) ۲۸مې مادې سلب تابعیت منع کړی دی.



د ګوندیانو منځ کې هم عدالت نه و، نه قانون و او نه انصاف. نور پرچمیان هم پوره وټکېدل، د ۱۵ زرهدار قوا قوماندان یوسف او مولاداد د وزارت دفاع اداري رئیس چې دواړه داود خان کودتا او غوایي کودتا کې هم نقش درلود،له دې کبله چې غلطه ډله (پرچم) یې ټاکلې وه، د نورو پرچمیانو سره امین صاحب ځان ترې خلاص کړ.

د استخباراتو ځانګه چې په قصاب خانې شهرت درلود، مهمې دندې یې تالاشي، نیول، تحقیق، شکنجه او وژل و. د اګسا د کارکونکي په روسیه کې د شکنجو او وژلو دپاره روزل شوي او ترینګ شوي ؤ. یادو شویو کارونو په شدت دوام درلود. که به کوم وخت نوې څېره راغله، څرنګه چې منبع او هدایت او اصول یو وو، یوازې د اداره نمونو به تغیر وکړ، نور نو کړنې او جنایات یو ډول وو. اګسا وه، په کام بدله شوه، کام په خاد بدله شوه. او خاد په (واد) په ټول کمونستي رژیم هر ډلو ناروا، ظلم، قانون شکنی، د بشریت لیرې اعمال د دیکتاوري پولیتاریا فلسفه کې خلاصه شوې وه.

د سروري ځاي اکبري د اکبري ځای اسدالله امین، د اسد الله امین ځای، ډاکټر نجیب او د ډاکتر نجیب ځای غلام فاروق یعقوبي اشغال کړ. درې تنه رئیسان لکه، اسد الله امین، ډاکتر نجیب او یعقوبي د خپلو جنایي اعمالو په سزا ورسېدل؛ مګر سروري د ابتدائیه محکمې لخوا په اعدام محکوم شو، د تمیز د قاضي خلقي عبدالخالق فراهي په کمك د عبدالسلام عظیمي قاضي القضات (ګرګ در پوست ګوسفند) په حمایه اعدام په حبس تخفیف شو او په دې ډول د شهیدانو له وینو سره جفا وشوه، چې د غني په واکمنې کې د بند نه ژوندي راووت.

خلیل زمر د پرچم د مرکزي کمیټې غړي، د اشرف غني لخوا مشاور وټاکل شو. د غني په واکمنۍ کې کمونستانو په عوض د دې چې محاکمه شي د فعالیت زمنیه مساعد او برابره وه، چې د سره رویکار شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خليل زمر د مرکزي کميټې غړي چې د تره کي د واکمني د پيل نه د کي جي بي په هدايت د بيګانو سره د اړيکو په تور، لس کاله بېله محاکمې په زندان کې پاتې شو، د وکيل کتاب ۱۸۵ مخ. نوموړی هم د ولسمشر سلاکار وټاکل شول. په عمومي ډول اشرف غني، کمونستان ځان ته را نژدې کړل لکه:

د ملی امنيت رئيس معصوم ستانکزی، د ملي امنيت شورا سلاکار محمد حنيف اتمر، سر مشاور جنرال افضل لودين د اشرف غني احمدزي په واکمني نور پېژندل شوي کمونستان؛ لکه ګلاب منګل د سرحداتو وزير، جنرال مراد علی مراد، نورالحق علومي د کورنيو چارو وزير، اصف دلاور، جنرال بابه جان، جبار قهرمان، جنرال زلمي ويسا، جنرال خديداد هزاره، د دفاع وزير مرستيال جنرال عبدالخالق سروري (مشهور په بې خدا) بيا هم رويکار دي.

په داسې حال کې چې د پالپوت د رژيم او نازي المان لا اوس هم تر عدليې تعقيب لاندې دي، زلمی خليلزاد په خپل کتاب کې د ډاکتر اشرف غني احمدزی چپي تمايلاتو ته اشاره کړې ده.

البته حق العبدي، ديت د ټولو مجني عليه ګانو به قانوناً محفوظ وي.

ناظف شهراني خپل (انقلاب و شوروی در افغانستان) کتاب کې چې په کال ۱۹۸۴ چاپ شوی دی راوړيدي چې د اګسا د خفيفه پوليسو لخوا په زرو کسان نيول شوي او وژل شوي دي. ښاغلي ماردوس په نيويارك ټايمز ورځپاڼه کې د اسد الله سروري چې پخواني (اسد الله پيلوټ) تخلص کاوه، د ده اداره قصاب خانه او شکنجه خانه بللي ده، بې خوابي، د نوکانو ايستل، برقي شوکونه، لوږې او يخ ته درول د اګسا لخوا يو معمول کار بللی دی، ښاغلي پترېك کاشمني د دې جنايت کارانو محاکمه غواړي. او داسې يې ليکلي دي.

د ۱۳٦۱ کال د وږي لومړۍ نېټه ډله ييزې وژنې.



د ۱۳٦۱ د زمري په دوهمه نېټه ډله ييزې وژنې.

د ۱۳٦۱ د غوايي په دوهمه نېټه ډله ييزې وژنې.

ان شورويانو دا انقلاب غندلی دی، تره کي او امين ته يې د مدارا توصيه کړې ده، (جنګ در افغانستان) ۲۸۵ مخ کې چې په ۹ کالو اشغال کې شورويانو هم د هر جنايت مرتکب شويدي، د بې ګناه کسانو وژل، غلا، قاچاق او احتکار ته ګوته نيولې ده.

آن په همدې کتاب کې راغلي، کله چې دوو تنکي هلکانو د قواي دوست غلاوې وليدې، د قوای دوست سربازانو هغه واړه هلکان (قالب ګل (۱۴ کلن) او اقا شيرين (۱۳ کلن) ځای پر ځای ضربه کړل، چې غله افشا نه شي.

تره کي نور پوهېده چې وضعه د ده په لاس کې نه ده، او دی د خپل وفادار شاګرد په چنګال کې دی. قادر د خپل کتاب په (۲۷۷) مخ کې ليکي چې د ګلابزوي د شکايت په ځواب کې وايي چې د (امپراطور سره ځان مه مخامخ کوه).

د هرات د کب ۲۴ مه پاڅون ۵۰ زرو شهيدانو او قربانيو سره وځپل شو، ملګري امين صاحب چې هغه وخت کې د بهرنيو چارو وزير او د لومړي وزير مرستيال و د دې پاڅون نه شوك وليد. د کب د مياشتې پر ۲۴ کال ۱۳۵۷ د هرات د فرقې وطن پاله او مومن افسرانو و درېدل، د فرقې قوماندان سيد مکرم او والي نظيف الله او روسی مشاور هوايی ميدان ته و تښتېدل. جنرال نبي عظيمي سيد مکرم بې کفايت او والي عياش او بې ناموسه بللي دي. د کتاب ۱۸۱ مخ (رهبر توانا تره کي) کاسګين ته په ټيليفون کې د لښکر د رالېږلو هيله وکړه، ان تر څو په تلوار مسکو ته لاړ او خپله او د ګوند ناتواني يې په عرض ورسوله. (هجوم بر افغانستان) کتاب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې ګناه ګناهکاران

ملګرى تره کي: موږ تر سوسياليزم کې ګام واړاوه، راساً کمونيزم ته ورسېدو. (هجوم ۵۹ مخ)
د مقدسې ګناه په تور کله چې بنديز ولګېد، انقلابيان لکه وحشي ليوان سړکونو او کوڅو ته راووتل په دوبي اوژمي د کمونستي رژيم په ټولو دورو کې د شپږ بجو نه وروسته به بنديز ولګاوه، د شپې به نارامه، ارامي کې به ليوانو په شان و تشو سړکونو او کوڅو ته د تالاشي په پلمه راووتل د اسلاميت، عدالت، قانونيت او انسانيت ټغر يې نور ټول ؤ. تالاشي، نيول، شکنجه، جنسي تيرى او بالاخره وژنې وې چې ټوله به بې کفنه تر خاورې لاندې کېدل ؤ، که څه هم د هيچا جرم ثابت نه ؤ. اصلاً به هيڅ جرم نه درلود.
چې زه دلته د ځينو شهيدانو اسناد محکمې درانه مخ ته وړاندې کوم؛ دې کسانو اصلاً يوازې بې ګناهي ګناه وه.
محمد قاسم د مخابراتو کاتب د پيغمبر (ص) د خوب د ليدو په ګناه، د اګسا د مدير محمد هاشم اميري په لاس ليك د ۲۱٦۷ نېټه ۲۱/ ۱/ ۵۸ ليک پواسطه.
محمد اسمعيل د محمد يعقوب زوى د کرهنې محصل
فيروز د غلام جان زوى د طب محصل
عبدالباري د عبدالجليل زوى د حقوقو پوهنځي محصل
شکر الله د الف محمد زوى د حقوقو محصل



نور الله د سيد حبيب الله زوى د ساينس محصل
د اګساد مرستيال نواب په لاس ليك د پوليسو قوماندانۍ ته معرفي شول.
ډګرمن مير عبدالرشيد عسکر زاده د کندز قوماندان پلچرخي ته تسليم شو، لکه د نورو غونډې يې د مړي او ژوندي پته نشته، حدس دى چې لکه د نورو په شان کفن به يې هم نه وي ورکړې.
کله چې دا بې کفنه زندانيان به ووژل شول، نو د زندان ته سند په توګه همدا ډول په متحدالمال ډول، محبس ته سند (ليك) تر دې جملې لاندې مثلاً (احمد د محمود زوى) جهت اجراات که مدنظر است اعزام داريد) جهتي اجراآت هغه اجراآت و، چې سر په نيست به شو او يا لا پخوا شهيد شوي او يا وروسته شهيد شو. (جهت اجراآت) هم هغه اجراآت و (چې سر په نيست) به شي. دا سند په دې خاطر محبس ته ورکول کېدو چې مطلوب يا تورن کس به مخ کې د يو رسمي مکتوب په واسطه محبس ته ورکول کېده، دا اسناد د انجنير ميرويس وردګ د خلق او پرچم د جناياتو په کتاب کې په تفصيل سره راغلي دي.
ګونديان په دې داد ؤ، چې پوښتنه نشته، عمومي ګوندى پاليسي هم همدا ده او (انقلاب برګشت ناپذيره) دي. دو روز پى در پى ويډيويي کسټه کې هم ثبت شويده.
چې تر صحرايي محاکمې لاندې، ټولې ژونې او اجراات شفاهي امر کېدل، ولې چې بايد اسناد پاتې نه شي او يا يې د ليکونو فرصت نه درلود، وژنې صحرايي محاکمې تر عنوان لاندې وې.
چې د هر ډول تشريفاتو نه خالي، (نه تحقيق، نه وکيل دعوا، نه څارنوال، نه قاضي، نه کفن او نه قبر) اما د کارمل د وخت (خاد) يو ظاهري تشکيلات درلوده چې د ټولو نړيوالو نورمونو خلاف يوازې يوه مرحله يي محکمه مدنظر نيول کېده، هغه کې هم نه وکيل و، نه دفاع و، اکثراً غيابي فيصلې وې، نه قبر و او نه کفن. د (ج، ق) د ۳۹۴ او ۴۰۱ مادو خلاف عمل ؤ چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سزا وړ دي. د انجنير ميرويس وردگ د كتاب ۷۲ مخ پاڼه ۳۲ تنو لېست د جنرال عمرزي هم د خپل كتاب د (كابل شپې) نومې كتاب كې يو ليست خپور كړی د انجنير ميرويس وردگ (د خلق او پرچم ژوندي جناياتونه) نومې كتاب كې هم نشر شوي دي دا يوه هم بله بېلگه د جناياتو د ثبوت دپاره د كندهار د زندانيانو نويو لست.

د كابل شپې په ۱۵۳ مخ چې ۴۴ تنه شهيدان دي. دا كسان د اگسا ۱۳۲۰ /۱۳ /۱۲ /۱۳۵۷ نمبر ليك د محمد عثمان مدير په لاس ليك زندان ته لېږل شوی دی، چې نور چا و نه ليدل.

۱. عالي ياور د اختر زوی، شعلي يي سازمان درجه يك
۲. آغا محمد ولد يار محمد، اخواني سازمان درجه يك
۳. حاجي گل ولد د سلطان محمد زوی، اخواني سازمان درجه يك
٤. حاجي فضل محمد د حاجي نيك محمد زوی، فيوډال مستبد، اخوان درجه يك
٥. سيد محمد يوسف د سيد محمد آغاې زوی، مخرب
٦. وكيل عطا محمد د حاجي نيك محمد زوی، ضد انقلاب
۷. حاجي عطا محمد ولد حاجي سلطان محمد، مخرب
۸. حاجي يار ولد حاجي محمد دين، اخواني
۹. حاجي فيض محمد ولد حاجي سلطان محمد، متنفذ
۱۰. حاجي محمد شاه ولد ازاد خان، سازمان يافته
۱۱. حاجي خير محمد د حاجي ملك زوی، فيوډال مستبد
۱۲. حاجي عبدالكريم ولد نيك محمد، فيوډال مستبد
۱۳. حبيب الله ولد حاجي جان محمد، مخرب اخوان
١٤. حاجي غلام رسول ولد محمد افضل، مخرب اخوان
۱۵. ملا آغا ولد تاج محمد، مولوي اخواني و دو برادرانش به پاكستان فرار كرده، درجه اول



۱٦. حاجي محمد وزير ولد امان الله، فيوډال د حيات الله زيارمل پرچمي والي اروزگان ورور، درجه اول
۱۷. حاجي عبدالوهاب ولد ملا محمد حسن، فيوډال مستبد اخوان
۱۸. داد گل ولد محمد اعظم، اخوان
۱۹. حميد الله د حاجي نور محمد زوی، فيوډال مستبد
۲۰. شمس الحق د عبدالرحمن زوی، فيوډال مخرب
۲۱. حاجي عبدالنبي د خدايداد زوی، اخوان مخرب
۲۲. سيد عبدالرحيم شاه د محمد ابراهيم شاه زوی، ملاك
۲۳. حاجي آغا گل د محمد نبي زوی، مستبد
۲٤. حاجي خان د حاجي ظريف زوی، اخوان
۲٥. حاجي محمد عمر د حاجي نور علي زوی، اخوان
۲٦. حاجي انبيا د حاجي محمد ابراهيم زوی، سرمايه دار قاچاقبر
۲۷. محمد حنيف د محمد حسن زوی، سرمايه دار قاچاقبر
۲۸. عبدالباقي د روزي محمد زوی، سرمايه دار قاچاقبر
۲۹. اسد الله د حاجي داوود خان زوی، برادر اش به پاكستان فرار كرده است.
۳۰. عبدالغفور دملا جمعه زوی؛ قاچاقبر، جاسوس پاكستان درجه اول
۳۱. حاجي عبدالله د حاجي كريم زوی قاچاقبر، جاسوس پاكستان درجه اول
۳۲. حاجي اكبر د ملا گزر زوی؛ قاچاقبر، جاسوس پاكستان درجه اول
۳۳. حاجي وزير د پاينده زوی؛ قاچاقبر، غدار انقلاب درجه اول
۳٤. حاجي مولا داد د مير اسلم زوی؛ قاچاقبر، غدار انقلاب درجه اول
۳٥. محمد صديق د حاجي عبدالرحمن زوی؛ فيوډال، پرچمي
۳٦. غلام رسول د غلام دستگير زوی؛ فيوډال، پرچمي درجه اول
۳۷. سلطان محمد د عبدالروف زوی، مخرب درجه اول

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۸. عبدالواحد د اختر محمد زوی، مخرب درجه اول
۳۹. ملا سيف الدين د قمر الدين زوی، مخرب درجه اول
۴۰. عبدالباري د عبدالسخي زوی؛ فيوډال، مستبد درجه اول
۴۱. جان محمد د شيرزاده زوی؛ فيوډال، مستبد درجه اول
۴۲. عبدالوهاب د عبدالغياث زوی، اخواني درجه اول
۴۳. حاجي محمد امين د حاجي نياز محمد زوی، اخواني درجه اول
۴۴. ملا پاینده محمد د عبدالواحد وی، اخواني درجه اول.

له پورتنۍ لېست سره ۴۴ نفر د ۱۱۰۷ /۱۶ /۸ /۱۳۵۷ ليك په مل د كندهار د څارندوی د قوماندان جګړن حسام الدين په لاس ليك د څارندوی عمومي قوماندان په عنوان بل را ليږلی شوی ليست.

دا كسان د رژيم په بند كې وو، بيا چا و نه ليدل، د بې كفنان په كتار كې وشميرل شول. مړی يې هم وارثانو ته نه دی وركړل شوی.

عمرزي د خپل كتاب په ۱۸۹ مخ كې د كندهار بل ليست خپور كړی دی.

۱. حاجي قطب الدين د حاجي محمد خان زوی؛ زارع، فيوډال مستبد درجه يك
۲. ملك نور محمد د دين محمد زوی؛ زارع، فيوډال متسبد درجه يك
۳. حاجي امام الله د حاجي جمعه خان زوی؛ قاچاقبر، فيوډال مستبد درجه يك
٤. حاجي اختر محمد د حاجي احمد زوی؛ قاچاقبر، فيوډال مستبد درجه يك
٥. زمان د حاجي الله داد زوی؛ قاچاقبر، فيوډال مستبد درجه يك
٦. حاجي سلطان محمد د الله داد زوی؛ قاچاقبر، فيوډال مستبد درجه يك
٧. حاجي عبدالمنان د الله داد زوی؛ قاچابر، فيوډال مستبد درجه يك
٨. ملك بلند د نيك محمد زوی؛ زارع، فيوډال مستبد



۹. عبدالحق د عبدالامين زوی؛ زارع، فيوډال مستبد
۱۰. عبدالحكيم د حاجي محمد نعيم زوی، اخواني
۱۱. حيات محمد د فخير الدين زوی، زارع
۱۲. حاجي دوست محمد د عبدالقادر زوی، زارع ضد انقلاب درجه یک
۱۳. جلاد خان د جمعه خان زوی، زارع
١٤. عبدالروف د علي محمد زوی، اخواني
۱۵. دلبر د عبدالستار زوی، زارع
١٦. ملك محمد افضل د راز محمد زوی؛ زارع، فيوډال درجه يك
۱۷. محمد شفيع د ملا حاجي محمد مومن زوی؛ فيوډال و ضد انقلاب
۱۸. ملك وليخان د ادم خان زوی، فيوډال و ضد انقلاب
۱۹. محمد شفيع د عبدالباقي زوی، ملا امام
۲۰. نور الناس د محمد اخلاص زوی، زارع مستبد
۲۱. حاجي عبدالغفور د حاجي آغا محمد زوی، زارع مستبد
۲۲. حاجي محمد عمر د اختر محمد زوی، زارع مستبد
۲۳. حاجي ګل محمد د حاجي عاشق زوی، زارع مستبد
٢٤. عبدالكريم د حاجي سليمان زوی؛ زارع، ضد انقلاب
۲۵. حاجي فيض الله د حاجي فيض محمد زوی، زارع خاين
٢٦. نصر الله د شاولي زوی، زارع خاين
۲۷. عبيد الله د ملا عبدالله زوی، زارع خاين
۲۸. محمد ناصر د دين محمد زوی؛ باغبان باشي، مخرب
۲۹. شير محمد د حاجي محمد اقبال زوی؛ معلم، اخواني شامل جنګ
۳۰. سيد علي محمد شاه د سيد نور محمد شاه زوی؛ زارع، فيوډال ضد انقلاب
۳۱. حاجي ولي محمد د غلام فاروق زوی، فيوډال ضد انقلاب
۳۲. عبدالظاهر د حاجي عبدالرحمن زوی، فيوډال ضد انقلاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۳. سيد مير احمد د سيد شاه زوی، فيوډال شامل جنګ
۳۴. حاجي محمد حسن د حاجي محمد وزير زوی، ضد انقلاب
۳۵. اختر محمد د شير خان زوی، معلم اخواني تخريب كننده درجه يك
۳۶. حاجي نصرت الله د حاجي محمد وزير زوی، زارع فيوډال مستبد
۳۷. عبدالمالك د عبدالاسحاق زوی، زارع اخواني
۳۸. عتيق الله د حاجي عبدالجبار زوی، زارع فيوډال مستبد
۳۹. حاجي محمد رحيم د محمد اسماعيل زوی، معلم اخواني
۴۰. ملا عبدالرب د محمد حسن زوی، مولوي ضد انقلاب
۴۱. محمد افضل لودين د حاجي جان محمد زوی، اخواني
۴۲. ملا امير محمد د ملا نور محمد زوی ملا فيوډال اخواني
۴۳. غلام دستګير د حاجي عيسی زوی، معاون معارف اخواني
۴۴. حاجي رحمت الله د حاجي جمعه خان زوی، قاچاقبر
۴۵. حاجي حسين د حاجي محمد عظيم زوی، تجار
۴۶. حاجي ملا د محمد شاه زوی، مخرب د دې كسانو د اتهام دپاره هيڅ ثبوت نه يوازې ټاپه وه.

عجب اداره وه، نه يې شاه پرېښود او نه يې ګدا، د خلق او پرچم جناياتو د كتاب په ۱۴۶ مخ كې په يوه ليك د كابل د ۲۵ تنو نيول.د هيڅ چا دپاره به ثبوت او اسناد نه ؤ. ګونديانو نه حرفوي وژونكي جوړ شوي ؤ.

مثلاً سروري د اګسا د عمومي رئيس په لاس ليك باندې د ۱۹۲۳ ۴/ ۱۱/ ۱۳۵۷ لمبر ليك په واسطه ۸ تنه چې يو يې خليفه ؤ، چې عام خلك ورته (ډم) وايي هم د زندانيانو په لست كې ؤ، دا د كاريګري حكومت د اجراتو يوه نمونه ؤ.

د دې كتاب په ۹۷ او ۹۸، ۴۲۴ د ۱۵ تنو، ۱۳۱ مخ د ۲۴ تنو، ۱۳۵ مخ د ۳ تنو د افسرانو د توقيفې په هكله د اسد الله پيلوت په لاس ليک.

۱۰۴ مخ د ۲۰ تنو دهقانانو په هكله.



۱۵۸ او ۱۵۰ مخ د ۷ تنو د ښوڅۍ د شاګردانو په هكله چې آن د ۹ ټولګي شاګرد هم په كې ؤ ؛د خلق او پرچم جناياتو كتاب كې داسې څرګندونې ډيرې راغلي دي.

۲۳۴ مخ ۱۰ تنه محصلين د امان الله عثمان په لاس ليك د اګسا مدير.

۲۴۴ مخ ۲ تنه افسران د نواب د اګسا مرستيال.

۲۶۵ مخ ۲۷ تنه شاګردان او محصلين دي، د اګسا رئيس پيلوټ په لاس ليک.

۲۷۳ مخ ۲۵ تنه افسران د سمونيار عبدالغني په لاس ليك.

۲۷۷ مخ ٦ تنه افسران د پيلوټ په لاس ليك.

۲۷۸ مخ ۲ تنه افسران د محمد اسحق حميدي مدير عمومي تحقيق په امضاء.

۲٦۵ مخ د ۲۷ تنه د محصلينو او شاګردانو لست.

كوم كسان چې زندان ته ولېږل شول، دا دې كسانو د مرګ په معنا و، د ولاياتو نه انتقال هم يوه ستونزه وه، د ولاياتو استهدا په مقابل كې د سروري هدايت او ځواب دا و چې: (به دوزخ روان كنيد) (به پاكستان روان كنيد).

د (خلق- پرچم جناياتو كتاب) د اطلاع وركونې اطلاع د محكمې د فيصلې په شان ارزښت درلود، تحقيق او محاكمې ته اړ نه وو. دا مطلب (دو روز پی در پی ويډيويي كسټه كې هم صراحت لري.

ولس پوه شو چې پاڅون ته اړ شو، په مقاومت او دفاع ته و دريدل او مهاجرت او شهادت لار غوره شو د كومو اسناد چې زما لاس ته راغلي د محكمې لوړ مقام ته وړاندې كړم.

د هجوم كتاب په ۱۱۲ مخ كې راغلي دي چې شورويانو هم زغم كاوه او دا به يې ويل چې انقلابيان په پټه خوله خپلو شخصي مخالفانو سره د حساب تصفيه وكړه، د وينو بوي دوی مست كړي او د سبا له مسووليته ډار نه لري، يعنې دلته د رژيم جنايات پوره څرګند دی، كله چې به د مشاورينو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې بې بندوبارۍ نه سر وټکاوه د انقلابیانو ځواب دا ؤ، «چې موږ هر څه ستاسې نه زده کړي دي».

افغاني انقلابیانو داسې کارونه کول چې شورویان ورته حیران وو، لکه د هجوم په ۱۱۸ مخ د پکتیا سل تنه ځوانان بې له جرم، بې له محاکمې د څارندوي د قوماندان سید داود تړون و مخ ته د ده مرستیال په هغه شپه تیر باران کړل. پر دې ټولو اعمالو ټولو ګوندیانو اطلاع درلوده چې نن ورته دوی اشتباه وایي. دا اوس هم دا خلقي ځناوران هغه وژنې د وخت دولتي پالیسي بولي پیښیمانۍ نه کوي.

انقلابیانو دا هم زده کړي وو چې انقلاب قرباني غواړي او بې رحمانه کړنې باید ولري چې په همدې ډول یې په لکونو کسان ووژل.

د اګسا د تحقیق د آمر امان الله عثمان په لاسلیك د ١٣٥٦ ١٦/ ٨/ ١٣٥٧ لمبر لیك په واسطه ۱۷ تنه افسرانو دهمزنګ ته ولېږل.

انجنیر میرویس وردګ په کتاب کې (د خلق او پرچم د جنایاتو ژوندي اسناد) کې راغلي دي:

١. امان الله عثمان د تحقیق آمر: د اګسا د ۱۴٦۸ لیك نېټه ۱/ ۸/ ۵۷ د دهمزنګ د محبس په عنوان سید غایب الدین د عبدالرحیم زوی د وروستي اجراآتو لپاره راغوښتل د توقیف دوام او یا خوشې کېده یې څرګند نه دي، باید وژل شوي وي. دا مکتوب د زندان لپاره د بندي تسلیمېدو سند دی چې دا مسوولیت اګسا پر خپله غاړه اخلي.

٢. د تخار قوماندان سید کاظم په لاس لیك د طب څلورم ټولګي محصل سید حسین د ایشان زوی د اخوان په تور د ۱۱۴۴ لیك نېټه ۴/ ۸/ ۵۸ لیك په واسطه، د کورنیو چارو وزارت د استخباراتو په عنوان ولېږي چې نور ژوند او مرګ معلومات نشته.

٣. جګړن حسان الدین پیلوټ د کندهار د محبس عنوان: د ۴۵ تنو د کندهار او هلمند محبوسین د ۱۰۸۲ لیك نېټه ۱۰/ ۸/ ۵۷ لیك په واسطه د



پولیسو د عمومي قوماندانۍ پر عنوان. دا هغه کسان دي نومونه یې مخ کې تیر شول.

٤. دا کسان انجنیر سید داود تړون د پولیسو عمومي قوماندان د ۹۹۱ ۲/ ۷/ ۵۷ لیك په واسطه لېږل شوی دی، نو یې د مرګ او ژوند معلومات تر اوسه نشته، تر څو کلو په غلط امید چې روسي ته لېږل شوي دي رابه شي د زندان نه محمد طاهر بدخشي غوښتنه. مرحوم بدخشي څه شو، ټول په دې پوه دي چې وژل شوي دي. بدخشي په یوه شپه د قاضي عبدالهادي هدایت سره د کوټې نه یوړل شول.

د شهید عبدالهادي هدایت زوی خالد نومی چې د خپل پلار هدایت او طاهر بدخشي سره د پلچرخي په زندان کې یوه کوټه کې ؤ. داسې بیان کاوه چې د شپې ناوخته وو، سپاهي راغي هدایت او بدخشی یې و غوښت چې د تلې ۲۵ کال ۱۳۵۸ ؤ. هدایت دو رکعته نفل ادا کړ د خدای او راستی میدان ته په شجاعت ودرید، مګر بدخشي پیچاره تګ ته حاضر نه ؤ، مرګ یې نه غوښت تر څو سربازانو په زور کش کړ. بدخشي د هغه ګوند او رژیم د خوا ووژل شو، کوم چې په تاسیس کې ده رول درلود.

د بخشي وژنه چې جنرال قادر هم ګوندي ملګري ؤ، هم د خپل کتاب په ۳۲۰ مخ کې بیان راوړیدی. طاهر بدخشی د جمیلې نومې د کشتمند خور سړی ؤ، بدخشي لومړی خلقي ؤ، چې وروسته ستمي شو.

د جنرال قادر د کتاب په حواله پدخشی ډیر لږ په زندان کې باتې شو، چې په وژنه یې اقدام وشو.

بدخشي د تړون په لاس لیک د ۸۰٦ ۱/ ۱۰/ ۵۷ توقیف شو، جنرال قادر بدخشي وژل د تلې په ۲۵ مه کال ۱۳۵۸ راوړیده (همدا کتاب ۳۲۰ مخ)

٥. محمد نواب د اګسا مرستیال! د ۱۷۹۰ ۱۴/ ۱۰/ ۵۷ لیك د دربېو میاشتو حبس دپاره حاجي بازي د کوچي زوی د بدخشان اوسېدونکي د دربېو میاشتو د حبس لپاره کابل ته راغوښتلو کې د پوښتنې خبره دا ده چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبس په بدخشان کې هم د درېيو مياشتو لپاره تېرېداى شي، خو خبره بله ده.

٦. محمد نواب د اګسا مرستيال! د ۱۸۴۲ ۲۴/ ۱۰/ ۵۷ ليك په واسطه منګل د محمد حسين زوى د لغمان متعلم د خلق د څارندوى د عمومي قوماندان په عنوان د دوو مياشتو لپاره کابل ته را وغوښت دلته به هم هدف بل څه وي.

او ۱۳٦۷ ۱۷/ ۸/ ۵۷ لمبر ليك د امان الله عثمان لاسليك په واسطه د ۷ تنو محصلينو د زنداني کولو د دهمزنګ زندان په عنوان.

همدا ډول د توقيف په خاطر د اګسا ۱۵۷۰ ۷/ ۹/ ۱۳۵۷ ليك د ۹ تنو محصلينو توقيف د امان الله عثمان د اګسا د تحقيق آمر. ۵۷ مخ.

د ۷ تنو محصلينو ليست اعزامي محبس د ۱۷۷۸ ۱۲/ ۱۰/ ۵۷ د څارندوي د قوماندان په عنوان د اګسا د مرستيال نواب په لاسليك. خلق او پرچم کتاب ۸۱ مخ.

د عزيز اکبري د اګسا د مرستيال په لاسليك ۱۲۹۸ ۱۱/۱۰/ ۵۷ لمبر ليك.

د هلمند ولايت نه موږ ته څو ليست راليږل شوى، چې د بل يو راليږل شوى ليست کسان داده: چې دا کسان هم د بې کفنانو په کتار کې ور زيات شول.

١. نياز محمد د غلام محمد زوى
٢. خانزاده د پير محمد زوى
٣. روح الله د محمد ايوب زوى
٤. حاجي جمال د سيد محمد زوى
٥. عبدالرشيد د عبدالقدوس زوى
٦. عبدالمالك د عبدالرشيد زوى
٧. محمد صادق د عبدالصمد زوى دموسى قلعه اوسېدونکى
٨. محمد د خواجه نوروز زوى د موسى قلعه



٩. بشير د محمد جان زوى
١٠. بلوڅ خان د حاجي مير زوى
١١. عبدالقدوس د لعل محمد زوى
١٢. عبدالاحد د محمد رحيم زوى
١٣. عطاء الله د حبيب الله زوى
١٤. عبدالقادر د ملا خشکيار زوى
١٥. محمد جمعه د عبدالمجيد زوى
١٦. محمد لعل د محمد امين زوى
١٧. سيد لعل دمحمد نسيم زوى
١٨. احمد خان د عبدالله زوى
١٩. امان الله د حبيب الله زوى
٢٠. محمد رسورل خان د محمد امين زوى
٢١. حاجي بشير د دوست محمد خان زوى
٢٢. محمد ظاهر خان د محمد سيد زوى
٢٣. محمد اسحق د محمد هاشم زوى
٢٤. جان محمد د محمد جان زوى
٢٥. عطاء الله د دين محمد زوى
٢٦. داد الله د امير جان زوى
٢٧. سيد محمد د نور محمد زوى
٢٨. محمد لعل د محمد امين زوى
٢٩. ميراجان د محمد عالم زوى
٣٠. لعل محمد د اختر محمد زوى
٣١. عبدالواسع د عبدالقيوم زوى
٣٢. خوش ملنګ د فاضل زوى
٣٣. لعل جان د سلطان محمد زوى

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳٤. امیرخان د محمد شاه زوی
۳٥. عبدالقیوم د محمد هاشم زوی
۳٦. خدالرحیم د فخر الدین زوی
۳۷. عبدالجبار د عبدالقدوس زوی
۳۸. عبدالحسیب د خشکیار زوی
۳۹. عبدالاحد د عبدالقادر زوی
٤۰. غلام سرور د عبدالوهاب زوی
٤۱. عبدالجبار د محمد شاه زوی
٤۲. عبدالباقي د آغا نور زوی
٤۳. محمد جمعه د صاحب خان زوی
٤٤. عبدالرزاق د عبدالعزیز زوی
٤٥. عبدالواحد د عبدالعزیز زوی د موسي قلعه اوسېدونکی .

په دې ټول جدول کې یوازینې نمبره (لوړه نمبره) اول درجه ورکړل شوې ده چې د انقلابیانو په نزد دا یوه خاصه مانا لري او دا ټول ۴۵ کسه د یوې ولسوالۍ اوسېدونکي دي. چې مړ او ژوندی یې نو چا و نه لید.

د کندهار، هلمند او کندز ولایتونو شهیدانو لېسټ چې د نمونې په ډول د میرویس وردګ له کتابه (د خلق او پرچم د جنایتونو ژوندۍ اسناد) څخه اخیستل شوی او اوس له همدې کتاب څخه ۲۷۴/ ۲۲۳ مخونو څخه د عسکري او اردو مظلومو بې ګناه کسانو لېست هم د محکمې لوی حضور ته وړاندې کومه. چې د عمومي قوماندان لخوا دا کسان عمومي ریاست ته لېږل شوي دي چې ټولو وژنو کې شخصي عقدې رول درلود.

۱. غلام دستګیر د امیر محمد زوی خورد ضابط
۲. محمد آصف د محمد عمر زوی تورن
۳. امیر جان د سید احمد زوی درېیم بریدمن
٤. محمد برات د محمد رستم زوی خورد ضابط



٥. غلام فاروق د سیداجان زوی درېیم بریدمن
٦. عبدالله د نصر الله زوی جګتورن
۷. علی محمد د مجید خان زوی جګتورن
۸. غلام جیلاني د محمد الله زوی دویم بریدمن
۹. ګل محمد د محمد امین زوی جګتورن
۱۰. بهرام خان د غلام جان زوی دویم بریدمن
۱۱. عبدالبصیر د عبدالقدیر زوی دویم بریدمن
۱۲. رحیم الدین د نجم الدین زوی خورد ضابط
۱۳. امیر محمد د شیرین محمد زوی خورد ضابط
۱٤. عبدالسلام د شهباز زوی ډګرمن
۱٥. محمد ظاهر د محمد ګل زوی دویم بریدمن
۱٦. خیال الدین د یاور الدین زوی دویم بریدمن
۱۷. محمد ظاهر د محمد نادر زوی درېیم بریدمن
۱۸. عبدالواسع د عبدالله زوی جګتورن کندك ګاز او کیمیا
۱۹. عبدالوکیل د عبدالرزاق زوی ډګرمن تفتیش عملیات
۲۰. محمد ظهر د خانجان زوی دویم بریدمن نقلیه قوای مسلح
۲۱. عطاء محمد د صالح محمد زوی
۲۲. نعمت الله د خیر الله زوی ډګرمن قطعه فرقه ۲۳۷ خوشکیار د انځرګل زوی درېیم بریدمن
۲۳. محمد رحیم د عرب الدین زوی جګتورن قطعه ۱۱۱
۲٤. خیال محمد د جمعه جان زوی درېیم بریدمن، دا کسان د بریکوټ محبس ته سپارل شویدي.

د کابل د څارندوي ٦۱۳۴ مو رخ ۵۲/ ۱۱/ ۲۴ لیك... په عنوان لیکلي چې د اردو افسران تسلیم شوی دي. بیا یې مرګ او ژوند ندی معلوم، په همدې لیك کې څو نفره لا ورك دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې کتاب په ۱۹۱ او ۱۸۲ مخ د څارندوی د استعلام پر بنياد چې د لوی څارنوال مرستيال عبدالرحمن يعقوبي په لاس لاسليك شوی، ښيې چې د کلکان اوسېدونکی عبدالوحيد د عبدالنبي زوی دويم بريدمن هم مړ او ژوندی ورك دی.

د دې ليکونو نه څرګنديږي، چې هېواد ډېر شهيدان په دې دو، لومړيو کلونو (۵۷- ۵۸) کلونو کې و .د هالیند څارنوالی کې د شهيدانو دوه لست، چې هر يو يې د (۵۰ زرو) تنو نمونه پکې درج دی ترتيب کړيدي.

زه به دلته د هغو شهيدانو نمونه تقديم کړم چې اسناد يې را پيدا شوي دي.

د انجنير ميرويس وردګ هغه کتاب چې په اګسا کې د شهيدانو نومونه مستند د رسمي ليکونو، د سروري په لاسليك او يادو ولاياتو ته د رالېږل شويو کسانو په هکله دي او د لوی کتاب په توګه چاپ شوي دي، د جناياتو د اثبات دپاره نه منکر کېدونکي اسناد دي.

نور د دې راليږل شويو کسانو مکتوب او تسليمي شته، نور يې تر اوسه مړي او ژوندي په لاس کې نشته، سروري يو شفر درلود چې د اعدام او وژنې په معنا و لکه، (پاکستان ته يې ولېږئ، يا دوزخ ته يې وليږئ.)

د زرو کسانو د مرګ او ژوند معلومات به نه ؤ، تر ډېر ه وخته پورې به کورنۍ د پلچرخي په دروازه کې په انتظار ولاړ و او خپلو عزيزانو ته به يې جامې هم ور وړلې، جنازه او کفن د هيچا ونشو.

زه د خپلې دعوا او اتهامنامې سره د نورو اسنادو او شواهدو ترڅنګ، د انجنير ميرويس کتاب (د خلق او پرچم ژوندي جنايات) وړاندې کوم.

نظام الحادي و، اسلامي او افغاني ارزښتونه سپکېدل، لکه چې وکيل، د صالح زيري له خولې په خپل کتاب په ۳۸۵ مخ کې د زيري د شراب څښلو بيان او شهادت ورکوي: چې بايد (ق، ج) د ۳۵۲ مادې سره سم ٦ مياشتې سزا و ګوري. رژيم سراسر يو جنايي داستان و، مثلاً وکيل د همدې کتاب د



۳٦۲ مخ د لوی درستيز محمد يعقوب د جلال آباد د عملياتو په هکله داسې وايي: "اسيران جنگي موجود بود، شخصاً به قتل آنها پرداخت، ياوران يعقوب جاغورهاي ماشيندارها را که از فرط فير کردن های بلاوقفه گرم می آمدند، تبديل ميکردند، يعقوب لوی درستيز يك بار دو صد تن و به آن دنيا فرستاد. و ازين عمل خود تقدير خاص امين را دريافت کرد." قادر کتاب ۳۲۹ مخ. د کريم يورش وژل يې هم راوړي دي.

د انقلابي ملګرو ته خرابي او وژل يو وياړ و، لکه چې قادر خپل کتاب ۴۰٦ مخ کې د (جنرال بيګي) په هکله هم داسې ليکي چې د هرات په جنګ کې يې ويل چې (زنده جان) به (مرده جان) کړم. په دې شك نشته چې څومره خرابي او تلفات پکې اړولي وي، بيا هم د تورن اسماعيل خان مقابل کې مقاومت ونشو کولای او شاته ولاړ دا خبره چې زنده جان به مرده جان کړ عظيمي کله چې د هرات قومندان ؤ هم کړي ؤ، تاريخ مسخ نمی شود هم راوړيده.

جنرال قادر د کتاب په ۴۱۳ مخ کې د سفارتونو د هغه پرچمي سفيرانو کړو ته ګوته نيسي چې د تيښتې په وخت کې يې د سفارت شتمنۍ غلام کړې وې، لکه چې د نور احمد نور د واشنګټن سفارت غلا د ده په مقابل کې د ببرک لخوا د يو فشار په ډول کارول کېده.

يو ځلې تفتيش هم وګمارل شو، اوس هم (قضا بايد په دې برخه کې قضايي قرار صادر کړي.)

جنرال غوث الدين په ګاګارين مشهور و، يو لايق پيلوټ، چې د غوايي په کودتا کې نقش درلود، بيا هم د ډاکټر نجيب د مخالفت پر بنا ووژل شو.

جنرال قادر په خپل کتاب ۳۰۹ مخ کې د احمد ظاهر قتل هم راوړی دی.

تبصره داسې ده چې ويل کېږي چې د جنرال تړون لخوا د شخصي اړيکو پر بنا چې د ده دخښينې سره درلودې ووژل شو او د ترافيکي پېښې رنګ يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړ. د ده کمپوزګر، ملګري، فضل احمد نی نواز د بهرنیو چارو وزارت مامور هم وواژه.

۳۱۹ مخ کې جنرال قادر لیکي چې ملا نیاز محمد د الوتکي د کشاف وروسته د روغتون سرطبیب او د وطنجار اخښی د امین او وطنجار د پلویانو ترمنځ جګړه کې ووژل شول.

عمرزی د خپل کتاب ۸۵۷ مخ کې د امریکا د سفیر (ډبز) وژنه داود تړون لخوا چې د امین نږدې معتمد و، په عمدي ډول د ګروګانانو سره چې د کابل په هوټل کې د تروریستانو سره یو ځای تر اور لاندې ونیوی.

عمرزی د کتاب ۱۴۷ پنځه تنه محصلان د امان الله عثمان مدیر تحقیق اګسا په لاس لیک او په ۱۵۰ مخ کې تفتیش مدیر یوازې د اخوان په جرم د سروري په لاسلیك محبس عمومي ته معرفي شوي دي.

(کورنولوژي حوادث افغانستان) د داکتر جمیل الرحمن کامګار جمع آوري ۲۷ مخ کې راوړي دي: د هرات د سلیمي کلی ۳۳ تنه کلیوال د سواد آموزۍ کورس ته د خپلو ښځو د لیږلو د مخالفت په اثر د ۵۷ کال د حوت پر نهمه شهیدان شول د همدې کتاب ۲۸ مخ د هرات د ملي پاڅون او ۲۴ زره شهیدانو په هکله لیکلي، چې د کوماندو قطعات د شهنواز تڼي په قیادت ډیر تلفات راوړیدي په ۳۱ مخ کې د چنداول د ۱۰۰۰ تنو شهیدانو تفصیل.

ډاکتر کامګار په مستند ډول د شهیدانو، د پېښې ځای، د پېښې نیټه او د قاتلانو شهرت را ټول کړی دی.

د سلو تنو زندانیانو په پلچرخي کې اعدام کول، ۵۶ مخ.

په هرات کې د بمباردمان په واسطه ۴۰ تنو وژنه، ۵۹ مخ.

د لغمان ولایت څلور کلی د بمبارۍ په واسطه خرابه او یو شمېر شهیدان، ۶۱ مخ.

پر هرات د هوایي برید پر واسطه ۳۰۰۰ تنو وژنه، ۶۱ مخ.



یو شمېر د پلچرخي د زندانیانو اعدام، ۶۱ مخ.

په غزني کې په تصفیوي عملیاتو کې ۲۵۰ تنه وژنه، ۶۲ مخ.

په ننګرهار کې ۷۵ تنه د عسکري نه د فرار په تور وژنه، ۶۴ مخ.

د مجاهدینو د میدان قوماندان رسول خان له پنځو یارانو سره په شهادت رسول، ۶۵ مخ.

قوماندان صمد په سالنګ کې په شهادت رسول، ۶۵ مخ.

د تخار قوماندان انجنیر حامد الله، ۶۵ مخ.

د پروان قوماندان عبدالله نیازی، ۶۵ مخ.

قوماندان عبدالمطلب په پغمان کې، ٦٦ مخ.

تصفیوي عملاتو کې په کندز کې د ۵۴۲ تنو وژنه، ٦۷ مخ.

په ننګرهار کې ۸۰ تنه وژنه، ٦۷ مخ.

د قرغیې ولسوالۍ د ۳۰۰۰ تنو وژنه، ٦۸ مخ.

مولوي شفیع الله په کوه صافی کې شهادت، ٦۸ مخ.

د استاد فیض الرحمن فایض شهادت، ٦۸ مخ.

په هلمند کې دوې ورځې جنګ د ډېر و کسانو وژنه، ٦۹ مخ.

د پوهاند محمد عثمان روستار د کتاب د ۱۳۲ مخ کې د ۴۰۰ بندیانو شهادت چې د ۱۸- ۵۰ کلونو منځ کې عمرونه یې درلودل. د کندهار د ارغنداب د ولسوالۍ د ۱۰۰ تنو وژنه، ۸۱ مخ کرونولوژي، کامګار کې داسې تفصیل راغلي دي. د کندهار د (دنډ) د ولسوالۍ د کرز د کلي ۴۹ تنه د سر شمیرنې په مخالفت د انجنیر ظریف لخوا د ده په دفتر کې په خپل لاس د ساطور پواسطه په شهادت ورسیده.

د کرونولوژي دوام:

د کندهار د لالا ملنګ شهادت، ۸۲ مخ.

د نورستان د ۲۰۰ تنو د شورویانو په بمبارۍ کې شهادت، ۸۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روداتو په ولسوالۍ کې د زاهيد ابراهيمي د شپږو تنو قوماندانانو د راکټ په واسطه وژنه ۱۳٦ مخ.

د تخار ولايت د راکټ په واسطه ۱۰ تنو وژل، ۱۵۰ مخ.

يو بل زجر کشيده د خليل حيفي په نامه خپل د زندان پر راغلي حالت د يو کتاب په ترڅ کې د (د تيره ګي زنداني هاي خلق و پرچم کابل) ترڅ کې ليکلي دي او ډېرو وژنو ته اشاره لري.

قضا د ثبوت لپاره کولی شي چې بايد دا دومره کسان را وغواړي. دا د زندانيانو د ډول ډول شکنجو بيانونه کوي، ځينې د عمر تر اخيره معيوب شوي، ځينو تر شکنجې لاندې ساه ورکړې. په زندان کې کافي ځای نه و، يوه کوټه چې د ۲۰ تنو لپاره وه، دوی به ۲۲۰ تنه پکې اچولی وو او دې زندانيانو هر ډول روحي فشارونه او کړازونه ليدلي، تر ټولو لويه او شديده سزا د دور فيل سزا وه، چې انسانانو به يې سره څرخاوه. چا چې به ړيره درلودله ړيره به يې ترې شکوله.

د شکنجه ګاه کابل کتاب په ۹۸ مخ کې يې د مدير خير الله د شهادت بيان راوړی دی چې مدير صاحب د ډېرو شکنجو وروسته به پر خپلو زخمونو ملهم ايښوده.

عبدالصبور سياسنګ د ديوان جزا د قاضي چې غلام محمد نومېده او څارنوال فريد له غير انساني سلوك څخه شاکی دی. د فهيم تايب او انځرګل د اعدام بيان يې خپل کتاب کې راوړيدي.

مولوي قسيم د تيل داغي څخه شکايت درلود، مولوي عبدالنافع هم د خاد رئيس مقيم پيکار لخوا شکنجه شوی. واقعاً د څو تنو ارذالو او ماشومانو حکومت و چې اصلاً اداره د روسانو لاس کې وه.

آن شورويانو د انقلابيانو دې وحشت او دشمنانه کړنو ته پام وه او پايله يې خطرناکه بلله، مګر د ستر لاربښود بيا شعار دا و چې: "چې لاره مې هواره کړه، خپله نيلۍ څرنګه چې غواړئ وځغلوئ" مثلاً ايوان برشوف د کي جي



بي آمر په کابل کې وايي اسد الله سروري ته د ليدنې او مرستو د وعدو په خاطر ورغلی وم چې سروري په همدې ورځ د انقلاب څو تنه مخالفين په همدې کوټه کې ووژل. (هجوم ۵۹/ ۳۳۸ مخ)

د دولتي مطبعې د وخت مرستيال په وياړ ويل، چې د غزني ولايت د انقلاب ضد عناصر په خپل لاس ۱۲۰ تنه وژلي دي. (رويداد پنج ده اخير افغانستان) ۲۲۷ مخ.

همدې کتاب کې راوړي دي چې د پلچرخي په پاڅون کې ۴۰ تنه زندانيان شهيدان شول.

د غزني والي عبدالاحد ولسي به زندانيان هغو کسانو ته د وژلو لپاره تسليمول چې اطلاع او راپور به يې راوړي وو او بريدمن صالح محمد د سلطان محمد زوی هم والی ولسي ژوندي ورک کړ چې د مړی او ژوندی پته نشته.

محمد ګل وطنپال دياني د خپل کتاب (افغانستان د ساړه جګړې په لمبو کې) ۱۵۱ مخ کې د چنداول په پاڅون کې د ۳۰۰ تنو هلکانو او انجونو نيول او وژل راوړي دي. د همدې کتاب په ۲۲۲ مخ کې د کونړ د کراله د ۱۲۰۰ تنه ولسي کسان وژنه راوړيده دی دا هم زياتوي، چې د کابل پوهنتون ۲۰ زرو تنو محصلانو يوازې ۴ زره تنه پاتې شول، نور يا بنديان، يا شهيدان او يا مهاجر شول.

تره کي به د لينن دا خبره تکرارول: چې د انقلاب پر دښمنانو بايد رحم ونه شي (هجوم کتاب ۹۷مخ.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې گناه گناهگارانو بله ډله

وكيل د خپل كتاب (از پادشاهی مطلقه الی سقوط جمهوری دموكراتيک افغانستان) په ۲۸٦ مخ كې د پرچميانو د وژلو په ترڅ كې د ۴۴۴ كوماندو قطعې قوماندان محمد هاشم وژل هم راوړيدي.

باز محمد زرمتی د (پلچرخي زندان) كتاب ۱۰۲ مخ د غبرگولي په ۱۵ مه نېټه كال ۱۹۷۹ د پلچرخي په زندان كې د ۱۲۰ تنو زندانيانو وژل راوړي دي.

د گلاب بشر توقيفې د نواب په لاس ليك د (كابل شپې) ۱۴۴ مخ او ۱۴٦ مخ د همدې كتاب د مولوي گل محمد توقيفي د سروري په لاس ليك او ۱۴۷ مخ د همدې كتاب د ۵ تنو محصلانو د مدير امان الله عثمان او ۱۵۰ مخ كې د ۱۵ تنو محصلانو توقيفې د سروروي په لاس ليك، د ۱۸۰ تنو وژنه د مرغومي ۸ كال ۱۳۵۸ (فاجعه ثور) كتاب ۱۵ مخ.

د مجدديانو ۳۴ تنه د شيخ محمد ابراهيم مجددي په گډون ښاغلي انقلاب هم د خپل كتاب ۴۳ مخ كې هم د كلا جواد پر مجدديانو ظلم په تفصيل سره راوړي دي.

داكتر كامگار دوام وركوي.

په ۲۹ مخ كې د همدې كتاب د وري د يوويشتمې نېټې كال ۱۳۵۸ هم د كونړ (كرهاله) د ۱۲۰۰ تنو قتل عام خبر راوړی دی.

د باميانو د ولايت د ۷٦۰ تنو وژنه، ۳۰ مخ.

استاد غلام محمد نيازی او انجنير نصرتيار د ۱۳۴ تنو وژنه ۳۱ مخ.

د ۴۰ تنو او سيد اكبر وژنه په پلچرخي زندان كې همدا مخ.



د عليشنگ د ولسوالۍ د ۲٦۰ تنو وژننه، ۳۳ مخ.

د چار درې د ولسوالۍ د ۷۵۰ تنو وژنه، ۳۹ مخ.

د شتې ارچي د ولسوالۍ ۲۵۰ تنوو وژنه، ۴۰ مخ.

مجاهد قوماندان آدم خان د ۱۳ تنو ملگرو سره په ننگرهار كې په شهادت، ۴۲ مخ.

د كابل د ولايت شمالي برخې بمباردمان د خلكو وژنه، ۴۳مخ.

د وردگ ولايت د اختر د لمانځه پر جومات بمبارۍ كې ۱۲۰۰ تنو شهادت، ۴۴ مخ.

د خان آباد په ولسوالۍ كې د ۲۰۰ تنو نر او ښځو وژنه، ۴٦ مخ.

كندهار كې په سلگونو تنه د بمباردمان له عمله وژنه، ۴۸ مخ.

د كيمياوي وسلې په واسطه ۳۰۰ تنه وژنه ۵۳ مخ.

د سلو تنو زندانيانو په پلچرخي كې اعدامول، ۵٦ مخ.

په لوگر كې ٦۰ تنه ځوانان او ۱۳ تنه ماشومان چې په كاريز كې يې پناه وړې ده د شورويانو له خوا د گاز د استعمال په واسطه وژنه، ۵۷ مخ.

په هرات كې د بمباردمان په واسطه ۴۰ تنو وژنه، ۵۹ مخ.

د لغمان ولايت څلور كلی د بمبارۍ په واسطه خرابه او يو شمېر شهيدان، ٦۱ مخ.

پر هرات د هوايي بريد پر واسطه ۳۰۰۰ تنو وژنه، ٦۱ مخ.

يو شمېر د پلچرخي د زندانيانو اعدام، ٦۱ مخ.

په غزني كې د تصفوي عملياتو كې ۲۵۰ تنه وژنه، ٦۲ مخ.

په ننگرهار كې ۷۵ تنه د عسكري نه د فرار په تور وژنه، ٦۴ مخ.

د ميدان قوماندان رسول خان له پنځو يارانو سره په شهادت رسول، ٦۵ مخ.

قوماندان صمد په سالنگ كې په شهادت رسول، ٦۵ مخ.

په هلمند كې دوې ورځې جنگ د ډېر و كسانو وژنه، ٦۹ مخ.

دا كړنې ټولې د روسي مشاورانو تر نظر لاندې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو روسي عسکر بیان چې د شوروي عسکر په افغانستان کې عمداً بې ګناه کسان وژنې د (مسکو په کنفرانس کې) وویل: هر څه د شورویانو په لاس کې ؤ، افغاني ګوندیان یوازې د لوبغاړو رول درلود. کله کله به روسانو تر افغاني لوبغاړو زړه سوی درلود، مګر افغاني کمونستانو زړه سوی نه کاوه، لکه: سید نجیب د سید عماد الدین زوی د شینوارو اوسېدونکی، چې د انستیتوت صنعت په اداره کې د مدیر اداري په توګه مامور و، یو مجاهد ته د دې لپاره چې ښار کې آزادانه ګشت و ګزار وکړي، د هویت کارت ورته ترتیب کړ، کوم وخت د همدې مجاهد موټر تالاشي شو، چې د موټر بانټ نه یو خلقي ملګري وژل شوي پروت دی، مجاهد تر شکنجې لاندې شهید شو. د کارت په خاطر سید نجیب الله په اعدام محکوم شو، مګر د شوروي مشاور د تجدید نظر په واسطه ۸ کاله بند ته تخفیف وموند.

د تخار ولایت د راکټ په واسطه ۱۰ تنو وژل، ۱۵۰ مخ.

د محمد اسماعیل ارغندیوال ولسوال په حواله د همدې کرونولوژي کتاب په ۱۵۳ مخ کې د ۱۲۸ تنو افغاني مهاجرو یې د ایران اسلامي حکومت (رد مرز) کړي او کمونستي رژیم ته تسلیم کړیده چې رژیم لخوا په اعدام محکوم شویدي.

دا یو بل زجر کشیده د خلیل حیفي په نامه خپل د زندان پر راغلي حالت د یو کتاب په ترڅ کې د (در تیره ګي زنداني هاي خلق و پرچم کابل) لیکلي دي چې په ډېر سوزناکه تراژېدي مستند او ادبي جملو لیکلي. او په ٥٦ مخ کې د کابل د ځارنوال روح الامین د ظلم او شکنجې بیان راوړی دی په ویلو ارزي.

د کتاب په ۱٦۷ مخ کې نبي عظیمي د اسد الله سروري قساوت د پرچمیانو په هکله لیکلي دي، چې سروري د ټولو، هغو انسانو سره چې د ده لاس ته ورغلي و، همدا غیر انساني برخورد کاوه او تر شکنجې لاندې وژل، د سروروي انسان وژنه یوازې د پرچمیانو سره نه، بلکه د ټولو انسانانو سره وه.



کبیر کارواني په کندهار کې هغه جنایت تر سره کړل، تاریخ یې مثال نه لري عظیمي د (اردو او سیاست) په ۱۹۰ مخ د کب د ۲۴ مې نېټې پاڅون د سید مکرم ۱۷ مې فرقې قومدان او والي نظیف الله نهضت په امر او د نور محمد تره کي د کاسګین نه د هیلو او زاریو په خاطر د تاشکند نه الوتکو د بمبارۍ په واسطه پاڅون مات او تر ٥۰ زره نه زیات کسان شهیدان ګزارش راوړی دی.

د پوهاند ډاکتر محمد عثمان روستار د کتاب په ۱۲ مخ کې راغلي، د روسانو لخوا دوه تنه تورنان تر شکنجې لاندې هلاك شول د شهیدانو کورنۍ د ډار په خاطر د روسانو د وژنې د پټولو لپاره د مستنطقانو سره د روسي د بورس وعده ورکړه چې خودکشي تصدیق جوړ کړي، مګر ډاکتر فهیم نزیهي داکار و نکړ، مګر بیا هم دکتور فهیم نزیهي تهدید شو، بالاخره د خپلې مېرمنې لخوا چې روسي و، ترور او ښځه روسي ته وتښتیدل.

د همدې کتاب په ۱۳ مخ کې د عبدالوکیل د لوګر اوسیدونکي د کرهنې محصل شهادت راوړل شویدي، د ده تحقیق، هئیات کارمند اسد الله رحماني او حسیب مومند نومیدې.

د ښوونځي هلکانو چې د میرویس وردګ په کتاب کې د دوی توقیفې ته اشاره شودي.

۱. عبدالرحیم د عبدالواحد زوی
۲. اقا پاد شاه ولد محمد علم زوی
۳. عبدالحارث د غلام ایشان زوی
٤. محمد سالم د صالح محمد زوی
٥. محمد امین د محمد علي زوی
٦. عنایت الله د عبدالله زوی
۷. محمد اسحق د محمد ابراهیم زوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اګسا کارکونکی کوم چې د مکتوبونو لاندې امضا نه څرګندېږي خپله عمومي رئیس سروري، محمد نواب د رياست مرستيال، عيزيز احمد اکبري مرستيال، محمد عثمان د تحقيق رئيس او عبدالرحيم دي.

د سپټمبر په ۱۳ مه کال ۱۹۸۲ سرو لښکرو د لوګر د حملې په وخت کې يو شمير د کلي خلکو کاريز ته پناه واخيستل. چې سرو لښکر په اخير کې کاريز ته زهرجن کيمياوي مواد ور واچول، چې وروسته د ولس ٦۰ تنه ځوانان او ۱۳ تنه وړکي هلکان د مړو جسدونه را وکښل. (روز شماري وقايع افغانستان) حامد علمي کتاب.

د انجنير ميرويس وردګ د راټول شوي اسنادو (د خلق او پرچم د جناياتو ژوندي اسناد) کتاب په مکتوبونو کې، د تخار د امنيه قوماندان سمونيار سيد کاظم، د کندهار د امنيې قوماندان حسام الدين جګړن هغه کسان دي، چې د انقلاب ضد په پلمه، بې ګناه کسان زنداني کړي او کابل ته راليږلي دي. دکندهار د قول اردو بريدمن امان الله د محمد سعيد زوی او تورن شير محمد د شادي خان زوی، د محمد انور سر حوزه وال د قول اردو قوماندان لخوا شهيدان شول.

پدې اسنادو کې عادي کاريګر او متعلم او د زيار استونکو هر طبقه ليدل کېږي.

د بې جرم مجرمانو وژنو نتيجه ورنکړه، مقاومتنور هم ورځ په ورځ پياوړي کېږي.

شوريان ته د نور قتل و قتال، جنايات بې کفايتی نا اهلتوب، ظلم او استبداد تر زغم ووت، وژنو، زندانونو، شکنجو، هم ګټه و نه کړه، ولس تابع نه شو، مهاجرتونونه مخ پر ډېرېدو شول، کلي او کورنه تش شول، تر څو شوروي د چارې په لټه کې شول، چې بايد په ادارو کې بدلون راشي، تر څو انقلاب ته نجات ورکړي. د بلې خوا (هفته فهم) ستر لارښود پام وکړ چې، په اسارت کې قرار لري، هر څه د وفادار شاګرد په لاس کې دي، د نژدې



ملګرو، تره کي پام هم چارو ته را ګرځاوه، لکه قادر په خپل کتاب په ۷۷ مخ کې ليکي، چې ګلابزوي د امين نه تره کي ته شکايت وکړ، د هغه ځواب دا و، چې د (امپراطور سره ځان مه مخامخ کوه) يعني تره کي هم څه سر خلاص شو و، شورويانو هم د پرچميانو په برخه کې ډېر مسووليت احساس کاوه، پرچميان د شورويانو لخوا روزل شوي او پرې مصرف شوي و، اوس په ډاګه بغل ته شول او د ملګري امين د فشار لاندې هم وو. مګر بيا هم قتل عام دوام درلود په ګناهګار او بې ګناه پسې نه ګرځېدل انقلابيانو د ديکتاتور پوليتاريا تر نامه لاندې تصفيه دوام درلود.

بنديز دوام درلود. څوك چې مخالف و، هغه مجرم او ګناهګاره و او ګناهګار طبعاً محکوم په مرګ و، احتمالي مخالفينو هم د ژوند چانس نه درلود. آن د دې جنګي جناياتو او د بشريت په ضد جنايات، د ملګرو ملتونو د حقوق بشر کميساري د امين او تره کي صاحب د ۲۰ مياشتو د واکمنۍ د وخت جنايات د حقوق بشر په واسطه ولسمشر حامد کرزي ته ګزارش وړاندې کړی. ګزارش کې داسې هم راغلي دي، چې ګوندي مشران بې رحمه او بې کفايته وو.

چې دا جنايات د اسد الله سروري د اګسا د رئيس چې مستقيم تره کي صاحب سره په تماس کې و، عملي کېدل، په (رويدادهاي پنج ده اخير) ۲۲۰ مخ کې راغلي چې (( سروري په دستګيري، دسيسه سازيو کې دوامداره فعاليت درلود.)) او د همدې کتاب په ۲۲۲ مخ کې د کونړ کراله قتل عام ته او په ۲۲۳ مخ کې د کندز چادرې د شورويانو لخوا ترسره شوي جنايت د ۲۵۰ تنو وژلو بيان لري چې په څو نورو کتابونو کې همدا قتل عام راغلي دي.

دياني په خپل کتاب ۲۲٦ مخ هم د انقلابيانو لخوا د بريتو د خرولو هم يو نابخشيدونکي جرم و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوکه، سوکه په دې شپو او ورځو کې د ارگ او گوند نه د باندې هم اوازې درځ وکړ، چې په گوند کې اختلاف ډېر شويدي، په گوند کې له دې کبله اخلاق او انسانيت نه و، هر څه په جنسي غرايزو او شهوت او خود خواهۍ بنا و، په ظاهره امين صاحب تل د وفادري او اطاعت ادعا کوله مگر بيا هم تره کي صاحب هم ځان په اسارت کې باله، ملگري امين د تره کي د بې عقلۍ نه نور پوزې ته راغلي و، شورويانو دوستان پوهيدل چې جنايات نور د رسوايي پړاو ته راغلي و او بدلون ته اړه ليدل کيدل کېږي چې دا پيښ شوي جنايات بايد پر يو چا وتپل شي، تر ځو انقلاب وساتل شي، د دې طرح لپاره امين صاحب يو مناسب کس ليدل کېدي، چې په قربانۍ کې ونيول شي، د پرچميانو به هم عقده ووزي او برچميان بيرته صحنې ته راولي.

حبيب رهياب کال ۱۳۹۵:

اصلي ملي وحدت د پلچرخي په پوليگون کې دي. پښتون د هزاره، هزاره د تاجک، تاجک د ازبک په څنگ کې ښخ دي.



# پنځم فصل

## د تره کي انقلابي محاکمه

### د وږي ۲۲ مه

تره کي د ضد انقلاب په تور ووژل، چې ده خپله پدې تور ډېرې ووژل.
(هجوم کتاب ۲۵۵ مخ.)

تره کي صحرايي محاکمه دا هم يو کودتا او يو پاځون ؤ، کله چې نور محمد تره کي د هوانا (کيوبا) د غير منسلك هېوادونو د کنفرانس نه د کابل خواته د راستنيدو په لارې کې څه وخت په مسکو کې لنډ تم او د ملگري پرژنيف او د نورو شوروي د مشرانو سره ليدنه او کتنه وکړه، مشوره دا شوه، چې امين د مخه بايد ليرې کړي او د جناياتو پيټي پر امين صاحب ور واړوي، مگر بر عکس د دې جناياتو پيټې پر خپل استاد (تره کي) ور بار کړه. ممکن ولس به څه ارام شي او د ببرك ډله (پرچم) هم ځان سره و نيسي، رهبر توانا د خپل اصلي خبرې پر بنا د پخوا په شان چې په ټولو تصميمونو کې (آغا بلی) و، ور سره ومنل امين صاحب چې د غوايي د انقلاب اصلي هيرو و، د منځه وباسي امين د احتياط په خاطر دې سفر کې خپل نژدې کسان لکه د تره کي صاحب ياور سيد داود ترون او داکتر شاه ولي د بهرنيو چارو وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګري د مراقبت لپاره ور سره مل کړي و، د استاد پټ تماسونه او ناوړه نيت به وفادار شاګرد ته په وخت او زمان سره استول او ستراتيژي دا و، چې وفادار شاګرد امين صاحب نه په ژوندي ځان نشي خلاصولاي په غير د مرګ نه.

کال ۱۳۵۸ د وږي مياشت ۲۲ باندې کله چې تره کي صاحب تازه د هوانا د سفر نه را وګرځيد امين يې خپل حضور ته ورغوښت، چې په ترځ کې د امين د مرګ او ترور بندوبست عملي او د قتل په اقدام لاس پورې کړي.

تره کي چې د شوروي سفير پوزانوف هم ور سره و، امين خپل حضور ته وغوښت پلان دا و، چې امين په ارګ کې ضربه کړي.

شاګرد وفادار ملګري امين تر ده ځيرك و، ځان د مرګ نه بچ کړ، تړون ولګيد، د امين ساتونکي ځيرك وزيری تپي شو، امين په منډه، منډه ځان لوی درستيز ته ورساوه، تره کي صاحب وويل ((چې اوس نو د هر څه پای شو))، پوزانوف هم د امين منډه تر کړکۍ پخپله وليدل.

لوی درستيز يعقوب او د ګارد قوماندان جانداد ته هدايت شو چې تره کي نور نو محاصره او د ګل خانې ماڼۍ نه، د ارګ کوټې باغچه ته د ده د مېرمنې (نور بي بي) سره انتقال او تر شديد نظارت لاندې کړي د ارګ کوټې باغچه کې يو وخت سردار عبدالولي او بيا د امين په امر جنرال قادر چې د کودتا په تور، تورن و، هم هلته بنديان و، وايي کوم وخت عليحضرت امان الله خان خپل تره سردار نصر الله خان هم دلته زنداني کړی و، وايي چې په لغړه کوټه کې واچول شول، چې نور بي بي شکايت په ډول وويل: (چې موږ څه ګناه کړيده چې دلته واچول شول) (هجوم) کتاب ۲٦۷ مخ.

شاګرد وفادار امين صاحب د وږي پر ۲۵ د پولينوم لخوا په غوڅ اکثريت و ټول مقاماتو ته وټاکل شو، او ټاکنې يې په چکچکو او هورا بدرګه شو، صالح محمد زيری (د خواري زوي) د خبل کتاب د (نيمې پيړۍ خاطرې) په ۴۲۱ مخ کې راوړيدي، چې موږ ټولو بې له اعتراضه د تره کي شفاهي او بېله



ليکلي شوي استعفا په غياب کې ومنل، د تپوس مجال نه و، همدا ډول د تره کي په وفات (وژنه) کې هم چا اوشکې توېې نکړې د ارګ د مډالونو رئيس رحمت الله منګل راته کيسه کول، "چې بې خبره کوټې باغچې ته ورغلم، تره کي صاحب د سيخ ګول قفس کې پر يوه کلکه چوکۍ ناست دي. دی وايي چې د خدمت عرض مې وکړ، ده د چپس هيله وکړ، کله چې مې اشپز ته د دې هيله وسيله شوم، هغه راته وويل (اجل دي راغلي دي) منډه کړه".

تره کي تر يو وخت پورې اميد درلود، چې شورويان به يې په داد ورسيږي، چې و نه شو، تره کي په نيټه ۱۹۷۹- ۹- ۱۴ ووژل شو.

عبدالوکيل په خپل کتاب ۳۱۵ مخ ليکلي دي چې:

۱- محمد يعقوب لوي درستيز

۲- جانداد د ګارد قوماندان

۳- عبدالودود د ارګ د مخابرې آمر

۴- اقبال د ګارد د امنيت آمر

۵- شايسته خان

٦- روزي خان د پلچرخي قوماندان نه هدايت واخيست چې تره کي د بالښت په واسطه د تړون د ترور او د انقلاب ضد اعمالو په تور مړ او ختم کړي چې دا د اکتوبر ۸ مه کال ۱۹۷۹ د فوتي اعلان تير شو. تره کي صاحب شکنجه شوي ندي. ملګري تره کي د پخواني وخت سره د مقايسې وتلي ښه په غوښه پټ شوي ؤ.

د روزي خان د ټلويزوني مرکې پر بنا، تر وژنې يوه ورځ د مخه کفن چاره هم شوي و، لومړی روزی خان پر خوله لاس ور ټينګ کړ بيا بالښت د احتياط په خاطر په خوله ور ټينګ کړ، چندان يې دوام و نکړ، (اميد اخګ) ليکنه تانند ويبپاڼه جون ۲۰ مه کال ۲۰۱۸. چې طب عدلي د وژنې اثار پيدا نکړې، روزي خان دا هم زياتوي، د دې لپاره چې عذاب و نګالي، لاسونه مو ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وترل، تره کي قضا ته تسليم او ښپې بې له مقاومت نه وغځولې ژر يې په اصطلاح (جان، به جان آفرين تسليم کړه) کله چې يې يو ګيلاس اوبه وغوښتې، هغه هم چا ورنکړي. تره کی کفن وموند، نور وطنوال نه کفن پيدا کړ و نه قبر. تره کي قسمت ته تسليم ؤ، مګر سردار محمد داود تسليم نه شو، تر اخير مقاومت وکړ، چې بالاخره د افغان ملي بيرغ لاندې، خپله وينه توپې کړه.

د تره کي د دفتر ساتونکي ببرك او قاسم هم ونيول شول.

د دې عملياتو تلفات:

۱. نور محمد تره کي، رئيس دولت
۲. سيد داود ترون د رئيس جمهور ياور
۳. نواب د اکسا مرستيال
٤. د تره کي اعدام د انقلاب لپاره لويه قرباني و، تره کي ولاړ، امين راغلي، مګر د ولس په ژوند کې بدلون را نه غي. د تره کي صاحب وژنه د ګوند د فيصلې په ډول اخبار شوه که څه هم دا يوازې د وفادار شاګرد تصميم ؤ، تره کي صاحب هم د خپل وفدار شاګرد د قتل اقدام نيت درلود، چې د قانون پر بنا (اقدام په قتل) هم د سزا وړ دي.

د ولس ژونې او کړاو د پخوا په شان دوام درلود.

د ۱٦ زره شهيدانو لست چې امين پخپله پوره برخه پکې درلوده د کورنيو چارو د وزارت پر ديوالونو وځړول شول دا وژنې يې په خپل رهبر تاوان کړ، البته وژنې د تصفيې تر عنوان لاندې د ټول ګوند پالسي و . بيا هم د ګوند جناياتو يو بل ثبوت دي.

څرګنده ده، چې ګونديانو پدې جنګي جناياتو کې ټول شريك دي، دا جنايات يوازې د تره کي او امين وخت کې نه بلکه د ببرك او نجيب په وخت کې هم دوام درلود، د (ج، ق) د ۲۳۴ ماده سره د ټولو لپاره مجازات غواړم. ملګری امين د ترون په وژنه او پرده باندې فير په تور د تره کي دوه



ساتونکی ببرک او قاسم دا چې د تره کي صاحب امر يې اجرا کړ ونيول او بيا هم ووژل. دې دواړو يوازې امر ته اطاعت وکړ، تصميم نيونکي بل څوک ؤ.

امين نور يکه تازه و، نه پرچم و، نه تره کي.

امين د دې واك په نشه مست و، د خپل ولي النعمت (شوروي) توطيې يې ته پام نه و، او ځان يې بيغمه باله، امين د ستالين اکټ کاوه، او د هغه عکس به يې د خپل کار پرميز اينښې و، امين به ويل، يوازې لس زره تنه فيوډالان سته که دا نابود شي مساله نوره حل ده. (توفان در افغانستان) ۱۲۷ مخ.

شعار دا و، کوم څوك چې زموږ سره ندي، زموږ دښمن دي. ډېر کسان وژل شويدي، چې کتابونو او مډيا کې يې نومونه ندي راغلي نوم ورکي شهيدان ډېر لرو.

د تره کي لخوا د امين صاحب د منځه وړلو هم اقدام په قتل دي او بيا د امين لخوا د رهبر توانا تره کي خلع او وژل، د حقوقي له لحاظ نا حق د ناحق په مقابل کې يو غير انساني، غير قانوني او غير اخلاقي کړنه ده، دواړه د مجازات وړ دي، د تره کي د اقدام په عملياتو کې ترون ولګيد او مړ شو.

په دې اعدام يا وژنه کې د قانون ډېر مواد تر پښو لاندې شويدي تره کي وصيت ونکړ، ان روزي خان يو ګيلاس اوبه هم ور نه کړ، چې دې وخت کې د ده حلق ډېر وچ و.

۱. که د تره کي وژنه د ده د جرايمو په مقابل کې اعدام و بولو نو د جزا د قانون ۹۸ ماده اعدام ځړول راوړيدي نه د بالښت په واسطه.
۲. ۹۹ ماده د جزا قانون صراحت لري چې اعدام بايد محبس کې وي، نه په ارګ او کوټې باغچه کې. به کوټې باغچې کې توقيفې هم غير قانوني عمل دي، بند بايد په دولتي زندان کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. ۳۱۷ ماده قانون اجراات جزایي اعدام د جمعې په ورځ باید نه وي، محاسبه ځرګندوي چې رهبر توانا د جمعې په ورځ اعدام شو. رهبر توانا داسې حال کې مجاږات شو، چې ناتوان شوي ؤ.

٤. ۳۱٦ ماده قانون اجراات جزایي صراحت چې د جزا تطبیق په وخت کې څارنوال او وکیل مدافع باید حضور ولري، چې حضور نه درلود.

٥. ۳۲۰ قانون جراات جزایي صراحت لري چې جسد یې اقاربو ته تسلم شي. چې دا کار ندي شوي

٦. ۳۱۳ قانون اجراات جزایي وایي چې دیني مراسم تر سره شي چې دا هم اجرا شوي ندي، فکر نه کوم چې لمونځ به یې شوي وي.

۷. محاکمه یې و نشول، تحقیق هم ترې ندی شوی البته جرم یې مشهود ؤ.

بالاخره امین صاحب باختر آژانس ته خبر ورکوي، چې د تره کي د مرګ خبر د اکتوبر د میاشتې تر ۹ مې وړاندې تیر نشي، د میتروخین کتاب ۱۲۱ مخ.

ګرچه امین په وروسته کې د ستر لاړښود مرګ، د ور په برخه شوي ناروغي وبلل، مګر مستند اسناد ښيې، چې اعدام شویدي یا وژل شویدي که ملګري تره کي بریالي شوې واي، البته ده به هم پر خپل وفادار شاګرد زړه سوي نه واي کړي. دا هم د انقلاب یوه قرباني ؤ، اما لویه قرباني د تره کي برید پر امین او د تړون وژنه، څیرک وزیری یې ټپي کېدل، ثابت او د شك وتلی کار دي. نو په دې اساس امین اقدام د تره کي په هکله، چې تره کي یې د ترور او ضد انقلاب په تور وواژه، یو ډول دفاع مشروع او عکس العمل دي.

قانوني غلطي دا ده چې تره کی باید علني محاکمه او د ټولو قانوني مقرراتو په نظر کې نیولو سره محاکمه شوي وای نه په پټه د بالښت په واسطه.

تره کي صاحب یو څه بې پاسه هم و، همدا وفادار شاګرد و، چې دی یې د سردار د زندانه او محاکمې نه بچ کړ، په دې ګیرو دار کې نواب د اګسا



مرستیال دنده واخیسته چې د اګسا مشر سروري ووژنې او یا یې ونیسي، چې دی پخپله د سروري د دفتر ساتونکي لخوا ضربه شو.

تره کي په وینو راغی او په وینو کې لاړ، د ده یو نیم کال واکمنۍ یوه توره او د ظلمت دوره وه، ملګري تره کي د دې جرمونو مرتکب شوی دی. د پردو د ګټو دپاره پوځي پاڅون پلوی وکړه، او د دې پاڅون د دولت مشري ومنل البته د ده ور سره انقلابي ملګري یې هم د جرم شریکان بلل کېږي: چې د (ق، ج) د ۳۹۰ مادې سره د مجازات وړ دي.

١. جاسوسي د (ج، ق) ۱۹۴ ماده. جاسوسي یې ثابته او مستنده ده.
٢. ډلیزه وژنې تحریك او تشویق (ج، ق) ۳۹۴ ماده.
٣. د سید داود تړون قتل، د څیرك وزیر ټپي کېدل د ده په هدایت.
٤. د امین د قتل اقدام مسؤل دي
٥. نقض صریح حقوق بشر او شکنجې منجر به قتل
٦. غیر قانوني ګوند جوړول ۲۲۱ د (ج، ق) سره.
٧. د دین ستیزي (ق، ج) ۳۷۴ ماده.
٨. فسق او فجور او بې ناموسي ترویج، (ق، ج) ۳۳۱، ۴۲٦ او ۴۲۹ ماده.
٩. د ګوند د مصارفاتو نه ناوړه ګټه پورته کول.

امین: تره کي نشه یي، بې عقل او بوډا خطاب وکړ (هجوم کتاب ۲۳۳ مخ.)

نور بي بي تره کي: کله چې تره کي او دده میرمن د حرامسراي نه د (کوټې باغچه) لوڅې کوټې ته ولیږدول شول، دې وویل: چې مونږ څه ګناه کړېده. (هجوم کتاب ۲٦۷ مخ.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تره کی: د انقلاب ډول به ډزيږي، موږ به نه يوو.**

# ملګری امين

## ببرک: امين مير غضب- سفاک او د C I A جاسوس وباله

د ووږي ۲۲ مه کال ۱۳۵۸ هغه ورځ ده کوم چې د تره کي لخوا امين تر يو ناکامه بريد لاندې شو، چې د تره کي په توقيفې، برطرفي او بيا وژلو منجر شوه- امين واک په لاس کې واخيست.

حفيظ الله امين د حبيب الله زوی د پغمان اوسېدونکی په قام خروټی د امريکا نه فارغ التحصيل، يوه دوره د ولسي جرګې غړيتوب هم درلود د خپل استاد سره د تصفيه حساب نه وروسته خپل اصلي هدف ته ورسېد. پرچميانو دی د CIA جاسوس باله که څه هم په دې برخه کې اسناد او ثبوت و نه موندل شو، د واك وړی، بې زړه شوی، زړه ور او ليوه مزاجه و.

د غوايي کودتا د ده په قومانده په حرکت پيل وکړ، د تره کي د وژنې سره نو اوس هر څه د ده لاس ته ولويده، امين د (عدالت، قانونيت، مصونيت) اعلان وکړ. چې عملي نه شو او د ولس په ژوند کې کوم بدلون و نه ليدل شو، کور، کالي او ډوډۍ هم هېر شول.

د پخوا په شان بنديز، تالاشي، نيول، شکنجه او وژل دوام درلود، په زرو او لکونو وطنوال د ګاونډيانو دښتو کې پناهنده شول، د تشريفاتو او لوکس او مجلل ژوند پلوي ؤ، له دې کبله چې د غوايي د کودتا قومنده ده ورکړی و،



نو ځان يې د (سپيده دم قوماندان) باله او ځان ته د ډېر واك حق غوښتونکي و.

د اساسي قانون په ۲٦ ماده کې راغلي چې جرم يو شخصي عمل دي. بل ته سرايت نه کوي، مګر امين د تره کي کورنۍ يې د سردار د کورنۍ سر په زندان کې يو ځای واچول. جنرال قادر د خپل کتاب ۳۱٦ مخ کې د وطنجار، ګلابزوی، سروري د تيښتې په ترڅ کې بيان راوړی دی، چې امين صاحب د وطنجار، مزدوريار او سروري ښځې او د ګلابزوي مور زندان ته وليږل، سروري، ګلابزوی او وطنجار د شوروي سفارت پناهنده ګي ورکړه او وروسته د امين له ډاره شوروي ته په تابونو کې وليږل.

د مجاهدينو او ولس- دښمني په څنګ کې چې پخوا به پرچميانو هم مخالفت ور سره کاو، دا ځلي د تره کي پلويان او روسان هم ورته په مخالفت کې شول.

امين صاحب خپل ورور چې ګونډي هم نه و، د شمال خوا د څو ولاياتو د زون تنظيمه مشر کړ.

## ملګری امين اداره او انقلابي اجراات

سوما نومې چې د نامتو سندرغاړي او مهريار مېرمن نوم و، اړ ايستل چې نور د دې نامه نه لاس واخلي. چې وروسته سندرغاړي خپل نوم په (پرستو) بدل کړ، دا نوم ده واخيست محمود سوما ته د پوهنتون يو استاد خپل د علمي کدر کوم تيزس چې ليکلي و، او ده ته د ډېر ې خوشبيني پر بنا د کنټرول دباره او کتنې لپاره ورسپارلي و، محمود سوما هغه استاد شهيد او د هغه پر تيزس يې ځان لپاره علمي کدر واخيست.

عبدالحکيم شرعي جوزجاني پوليت بيرو مقام ته را پورته کړل او انجنير ظريف د مخابراتو وزير، صاحب جان صحرايي د سرحداتو وزير، فقير

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد فقير د کورنيو چارو وزير، خيال محمد کټوازی د اطلاعاتو او کلتور وزير، خير محمد ترانسپورت وزيران عبدالرشيد جليلی د پوهنې وزير وټاکل شول. تصفيه يې د پخوا غوندې دوام وموند.

آقا گل باعث، عزيز بسام، لعل پادشا، دوکتور عوض، استاد ذکريا، استاد حبيب الله، پوهنيار عبدالسلام، غلام رسول، ډاکتر محمد صديق د کندهار ښاروال د پرچم د غړيتوب په جرم بې له محاکمې ووژل او د اگسا نوم په کام بدل شو. (د وکيل کتاب مخ ۳۱٦)

د اسد الله سروري په عوض عزيز اکبري دې ادارې ته چې وروسته کې د ده زوم او وراره اسد الله امين وټاکل شول.

اسد الله پيام د پوليسو عمومي قوماندان شو، د شوروي سفير پوزانوف يې د کابل نه وشاړه لويندبرژنيف د تره کي وژنه ځانته توهين باله، ولي د ده تره کی او د امين مقابل کې ولمساوه، شوروي په ډېر احتياط او خون سردی د انتقام په لټه کې شول او په همدې پلمه (اوبه خړې او ماهيان) ونيسي او خپل استعماري هدف ته هم ورسېږي او افغان هېواد لاندې کړي.

د امين سترې کړونو ته لنډه اشاره:

۱. پرچمي مشران د سفارتو په پلمه د هېواد نه ليرې کړل وروسته يې د کودتا په تور، تورن کړه، د سفارتونو نه برطرف، بيا را جلب کړل، هغه پوهيدل چې جلب په څه مانا دي، دوی د سفارتونو نه پټ شول، امين صاحب سلب تابعيت کړل پدې ډول د پرچم او خلق ترمنځ هغه پخواني تفاهم له منځه لاړ.

۲. جنرال قادر، کشتمند، شاهپور احمدزی، رفيع او داکتر علي اکبر يې د کودتا په تور ونيول، د اعدام سرحد ته ورسول.

۳. درې کليدي وزير او د کودتا قهرمانان سروري، گلابزوي او وطنجار په تابوتونو کې د روسانو په مرسته لومړی تاشکند ته بيا بلغاريا ته د امين له ډاره ولېږدول شول او مزدوريار يې په پغمان کې ونيوه.



۴. د شوروي سفير پوزانوف چې په ټولو جريانونو کې دخيل او توطيه گر و، د کابل نه وايست، ځينې لا هم وايي، چې په ځېږه يې وهلی و.

۵. ستر خدمت يې، چې تره کي د انقلاب په ضد او د ترور په تور مجازات کړ، هېواد يې د هغه د شر نه پاك کړ.

د گوند په جناياتو کې که څه هم ده پوره برخه درلوده، افشا او د ۱٦ زرو بنديانو د وژلو لېست راويست او د گوند جنايات رسوا کړل ده هم (کور، کالي او ډوډۍ) شعار هېر کړل او د ده د (عدالت او مصونيت) شعار هم گټه و نه کړه، ده د هېڅ ډول قانونيت اسلاميت او انسانيت پروا نه کول.

د هجوم (۱۰۸) مخ کې راغلي چې تره کي او نورو خلقيانو د پرچميانو سره د امين د چلند پلوي کول.

د خلق گوند، بې اتفاقي او بې کفايتۍ ولس او نړۍ ته پوره څرگنده شوه، د گوندیانو خپل منځي مخالفتونه د ولس په گټه وو.

د دې کتاب په ۱۰ مخ کې د ترون په لاس ليك د مکتوب نمبر ۹۴۹ تاريخ ۱۲۷\ ۱۴\ ۵۷ د دهمزنگ محبس ته د ۲٦ تنو لېږل چې دلته د انقلاب به يوازې څلور مياشتې تېرې شوي دي. داسې څرگنديږي وژونکو ډېر زر په وژلو پيل وکړ.

د دهمزنگ د ۷۲۷۴ نېټه ۲۷/ ٦/ ۵۷ ليك په جواب کې د سيد داود ترون په لاسليك هدايت ورکول کېږي. که څه هم د مکتوب د کسانو حبس پوره دی، بيا هم بايد له بنده خوشي نه شي، د وردگ کتاب ۱۰ مخ.

همدارنگه امانيار د (شکنجه گاه کابل) په کتاب کې ليکلي يې دي، چې د تحقيق مستنطق بېسواده کس و، چې تل به يې ښکنځل کول او زموږ د کورنۍ دوست چې شمس نومېده هغه يې اعدام کړ او د يو بل زنداني کيسه يې هم ذکر کړې

په همدې کتاب کې دمحمد امين معلم له ويره ډك سرگذشت چې د تره زامن يې (قهار او اشرف) پکې شهيدان شوی راغلي ده، چې له انسانيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليرې د شكنجې عجيب داستان لري او د قاضي او څارنوال بد سلوك ښكاره كوي.

حيات الله كارگر چې خليق تخلص يې كاوه له زوی سره يو ځای د عبدالرزاق د يو ستمي قوماندان او ملك آصف د غند قوماندان په واسطه ونيول شو. او دواړه مستنطق ته وسپارل شول. د تحقيق څانگې مسؤلان اكثريت د رياست شش او يا رياست هفت وو. خليق د همدې كتاب په ۲۱۲ مخ كې بيانوي چې سميع الحق له شكنجې وروسته گنگی شو.

قاضي گل رحيم احمدزی: د خپل همصنفي بسم الله مقايسه د غير حق نيول كېدو او شكنجې بيان په ۲۲۰ مخ كې كړی دی.

غلام فاروق زرشوی د همدې كتاب په ۲۴۲ مخ كې د خپلو هم اطاقيانو ډگروال شاه محمد، عبدالحی او سيد نقيب الله د بند، د عبدالله د وهل او ټكولو او د احمد شاه د اعدام بيان كړی.

زرشوی ليكي چې وطني كمونستانو يې د وژلو قصد درلود خو روسانو يې مخالفت وكړ او ده نجات پيدا كړ، همدارنگه دی ليكي (په وروستيو كې كوم كسان چې په اعدام محكوم شوی وو، ورسانو به وينه ترې په بوتل كې ويستله هغه به بې هوښه شو او بيا به يې فير پرې وكړ او مړ به يې كړ.

پوهاند ډاكتر روستار تره كي هم په خپل كتاب كې دې موضوع ته اشاره كړې ده. دلته زرشوی د عبدالله له خولې د لوی څارنوال حشمت الله كياني او غني كلوله له جناياتو، خيانتونو او قاچاق څخه هم پرده پورته كړې او وايي: (عبدالله ۲۰ سال زندانی شد.)

د ۱۳۵۸ د وری مياشتې په ۲۷ د كونړ ولايت په كرهاله كې د رژيم د مخالفت په تور ۱۳۶۲ تنه قتل عام شول. (كورنولوژي حوادث افغانستان) ۲۹ مخ.

انجنير سيف الرحمن نصرتيار په شمول ۱۳۵ تنه د تحريك اسلامي برجسته غړی د پلچرخي په زندان كې په شهادت ورسيدل.



د كابل ښې ليكوال جنرال عمرزی د اگسا شكنجې او ستم په سمه توگه بيان كړی دی:

د دې كتاب په ۱۸۳ مخ كې راغلی چې سيد عبدالله د مدير زندان لخوا، يو زنداني چې پنډ بريتونه يې درلودل ووژل شو. د رژيم لخوا د زندانيانو هيڅ پوښتنه نه كيده او سيد عبدالله ډلگۍ مشر به پر زندانيانو جنسي تېری كاوه.

د قضا لوړ مقام پام دې ته را گرځو، چې ډېر او عمده وژنې، د كودتا په لومړيو كلونو كې چې تره كي صاحب او ملگری امين په واك كې و، ان د يوې ولسوالۍ نه وكتل شي يا د يوه كلي او يو ولايت ته پام وشي په لسگونو نفر را ټول شوي او نيول شوي دي. د ببرک او نجيب څوک چې پاتې ؤ، هغه دوی پسې را ټول كړل.

نور د انقلاب په نامه، جنايات شورويانو ته هم د منلو وړ نه وو، (طوفان در افغانستان) كتاب په ۱۰ مخ كې جنرال الكساندر لياخفسكي ليكي چې امين او تره كي بشري قوانين نقض كړي دي، او د همدې كتاب په ۹۳ مخ كې يې راوړي دي، چې د ملي او مذهبي ارزښتونو سپكاوی يې كړی دی.

عظيمي د كتاب ٦۷ مخ كې راغلي دي، چې صاحب جان صحرايي او انجنير ظريف ۳٦٦ د هوايي غوند قوماندان تورخان ته هدايت و، چې شاولي كوټ، ارغنداب او پنجوايي كې ژوند محرك پرېنږدي.

كله چې د مخالفينو شمېر ډېر شو، هر والي پخپل ولايت كې تر اعدام پورې واك درلود، سيد منصور هاشمي په بدخشان كې، عبد الله امين په كندز او شمال خوا، عبدالاحد ولسي په غزني كې، انجنير ظريف كندهار كې، قادر په بغلان كې، سيد مكرم او نظيف الله په هرات كې.

الكساندر لياخفسكي د خپل كتاب (طوفان در افغانستان) په ۱۲۷ مخ راوړي دي، چې امين به ويل كه ((موږ سل زره فيوډالان له منځه يوسو نور مسله

(c) ketabton.com: The Digital Library



حل ده)) امين صاحب به دا هم ويل چې افغانان يوازې زور پېژني، چې دا نظر به امين صاحب د شورويانو د اعتراض په مقابل کې وايه.

همدا کتاب دا هم زياتوي، چې په لومړيو ۱۸ مياشتو کې تر ۵۰ زرو زيات کسان ووژل شول د همدې کتاب په ۱۵۹ مخ يوازې د ۶۰۰ تنو د ګونديانو وژل راوړي دي.

ګونديان پدې ډاډه وو، چې تاريخ شاته نه ځي، دوی به د تل لپاره په واك کې وي او د بلې خوا يې زړونه پوره و، چې شورويان د دوی لپاره جنګېږي.

ظاهر طنين د خپل کتاب په ۲۵۰ مخ کې ليکلي دي، چې ګلابزوی د محمد موسی شفيق په هکله د تاريخ قضاوت د ملګري امين نه تپوس وکړ، د ملګري امين ځواب دا و، چې تاريخ زورمندان او هغه کوم څوك چې په واك کې وي پخپله ګټه ليکي.

د همدې کتاب په ۳۴ مخ کې د کال ۱۹۸۷جون د مياشتې د غزني د اندړو ولسوالۍ بمبارۍ او د زرو کسانو وژل راغلي دي. د همدې کتاب ۳۵ مخ کې په استاليف ولسوالۍ کې د روسانو لخوا د ۴۰ تنو وژلو ذکر هم شوی دی.

(کا جي بي در افغانستان) کتاب ۱۵۹ کې د پرچميانو لخوا د امين پلويان له دې د اګسا مامور سلطان ګل او د روغتيا مامور سورګل وژل هم راوړي دي.

د امين صاحب مخالفين ورځ تر بلې ډېرېدل، مخکې يوازې مجاهدينو له ده نفرت درلود، وروسته پرچميان هم ترې ناراضه شول. په وروستيو کې د تره کي ډلې، چې د تره کيانو په نامه يادېدل، هم ترې مخ واړوه. په اخير کې روسانو هم ورته په زړه کې شول، تر څو د مرغومي شپږمه را ورسېده او د وفادار شاګرد په لنډمهاله واکمنۍ کې وژنې وشوې، اما ډېرې نه؛ ځکه هغه څوك چې سر يې په تن ارزېده، نور پاتې نه و يا شهيدان شوي ول يا زندان کې پراته وو او يا مهاجر شوي ول.



(توفان در افغانستان) په ۱۵۲ مخ کې راغلي چې د امين په درېيو مياشتو واکمنې کې ۶۰۰ تنه يوازې ګونديان وژل شوي دي.

ذهني او عيني شرايط برابر وو، اوبه سمې خړې شوې وي او ډېر دلايل موجود وو چې شمالي ستر ګاونډي (د ببرك خبره) پر يو کوچنی، سوله دوست هېواد يرغل وکړي، او د ليوېند برژنيف د پراختيا دوکتورين عملي کړي او د تزار او ليننې تودو اوبو ته د رسېدو ارمان ته ورسېږي.

د انقلابيانو دا تر دې اوس جنايات يوازې د امين صاحب په غاړه واچوي او که و کولای شي ولس څه ارامه کړي او نوې څېره رامخته کړي. کی جي بي د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو ته دنده واخيسته چې د انقلاب د نجات په خاطر ملګری امين ګوشمالي کړي او په تېره برژنيف د تره کي وژنه پر خپل مخ څپېړه بلله.

امين بايد حذف شي، البته د امين حذف هم اسانه نه برېښيده. شوروي پوليت بېرو تصميم ونيوه چې تښتېدلي خلقيان او پرچميان ټول را ټول کړي او سرو لښکرو هم دنده واخيسته،د کی جي بي قطعات په کابل کې په سفارت کې ځای پر ځای شول د الفا او زينت قطعات هم کابل کې ځای ونيوه، شوروي سلاکارانو امين وهڅاوه چې د (تاج بيګ) غونډې ماڼۍ ته وکوچېږي. هرې ادارې، کورنيو چارو وزارت (کی جي بي) او د دفاع وزارت او ګرميکو بهرني سياست کې خپله کار خانګي واخيسته.

د کی جي بي بهرنۍ برخې په افغانستان کې ډګروال بوګرانوف په تصادفي ډول بريدمن ميخايل طاليوف چې د ازربايجان اوسيدونکي ومونډ، چې په ښه آشپزي هم بلد و، دنده ورکړه.

امين صاحب پوهيده چې شورويان به دې و نه بخښي او بريژنيف امين (مرتد، ظالم او پدرکش) باله، هجوم ۲۷۲ مخ ملګري ليويند بريژنيف د تره کي وژل ځان ته سپکاوی باله او امين غوڅ دريځ يې درك کړی و، چې کېدای شي لکه د مصر انوارالسادات مخ بل پلو واړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د مرغومي شپږم

په ډېر ارامۍ او خون سردی، کی جي بي او د دفاع وزارت او د بهرنيو چارو وزارت دنده واخيسته چې د يوه پوځي اقدام په واسطه امين صاحب له منځه يوسي. دا تصميم شفاهي و ليكل شوی كاغذ يې نشته ببرک ته بيا ضرورت شو چې په چکسلواکيا کې ومونده، چې د امين پر ځای نصب کړي. ګلابزوي، سروري، وطنجار، ډاکتر اناهيتا راتب زاد، وکيل، ډاکتر نجيب، نور احمد نور او محمد بريالي را غونډ يې کړل چې تګ ته چمتو شي. دوی به خپل منځ کې شيرين بحث کاوه او پلان جوړاوه چې څوك اعدام، څوك زنداني او څوك حذف کړي. هجوم ۱۷۹ مخ.

د کوماندو خاص کنډك د الفا او زينت قطعات کابل ته رسيدلی ؤ، د هېواد شمالي سرحداتو ته ۴۰ قل اردو ور نژدې شوه. ببرك ته چې هيله پيدا شوه، نو يې وويل: (من هميشه باور داشتم كه عدالت در دنيا وجود دارد) هجوم كتاب ۳۰۱ مخ.

امين صاحب ته د شوروي دوستانو لخوا مشوره ورکړه شوه، چې د امنيت په خاطر د ښار نه و وزي او د تاج بيګ ماڼۍ کې ځای پر ځای شي.

ملګري برژنيف: امين مرتد او پدرکش دی.



# شپږم فصل

## فريد مزدک: (افغانانو ته شوروي داسې اهميت لري لکه لمر چې ځمکې ته رڼا ورکوي) (د افغان- شوروي جګړه) ۴۲۸ مخ.

### د مرغومي شپږمه

کال ۱۳۵۸ د مرغومي پر شپږمه ملګري امين د خپل نوې ماڼۍ په وياړ او غرور د کابينې د غړو لپاره له مېرمنو سره مېلمستيا ترتيب کړه، تر غذا وړاندې خوندوره سوپ (شوروا) هم سرويس شو کوم چې د ميخائيل ازربايجاني لخوا پخه شوی و . سوپ خوندور و، ملګري امين يې هم ډېر توصيف وکړ، اما دستګير پنجشيری، چې تازه له مسکو نه را ګرځيدلي و، د شوروي مشرانو لخوا يې د امين لپاره توصيفونه او رضايتونه راوړي وو، سوپ و نه خوړه، ممکن اشاره به ورته شوي وه. د صالح محمد زيری په بيان، دوا (الکول) هم وخوړل شول د پوهاند کاکړ د (افغان- شوروي جګړه) کتاب.

د عمليات مشر د کي جي بي ډګروال ګريوچکوف ته هدايت و، چې امين مو ژوندي پکار نه دی. هجوم ۳۲۳ مخ.

څه وخت وروسته شکايت پورته شو، سوپې تاثير وکړ، ټول ګنګس شول، د امين لپاره د سردار داود خان روغتون مشر ولايت خان د روغتون نه يو روسي ډاکټر سره و را ورسيدل چې دې وخت عمليات پيل شو، چې ګلابزوی، سروري او وکيل هم ورسره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې اووه نیمې بجې د دارالامان ماڼۍ تر اور لاندې ونیول شوه، ملګری امین او د ده دوه زامن عبدالرحمن، جنګیاني او د ډاکتر شا ولي مېرمن ډېر سربازانو چې شمېر یې ۱۵۰ تنو ته رسید ووژل شول طوفان در افغانستان ۱۹۱ مخ.

د عبدالرحمن امین ماشوم زوی، خوازك هم ټپي و، چې ګلابزوی مور نه واخیست اافغان شوروي جګړه د کاکړ کتاب ۵۹ مخ چې دهلك نور د مرګ او ژوند پته یې نشته ملالۍ او ګلالۍ د امین لوڼې هم ټپي شوې.

سروري د امین مېرمن پتمنۍ ته وویل چې (میره دې مې در مړ کړ.) د (افغان- شوروي جګړه) کتاب ۵۹ مخ.

د امین او دوو زامنو او ډاکتر شاولي د مېرمن جسدونه په کمپل کې و پیچول شول د شوروي، د مسلمانانو کنډك سره د دارالامان غونډېي ته نږدې بې له کفنه او بې له جنازې تر خاورو لاندې شول. (هجوم کتاب (۳۲۳) مخ.

شورویانو هم تلفات درلودل، البته شمېر یې کم و. (جنګ در افغانستان) کتاب ۳۴۰ مخ کې د یو شوروي کوماندو له خولې لیکي: ((از پاسبانان از پا در آمده پریدم و به درون کاخ در آمدم.))

نبي عظیمي هم د خپل کتاب ۲۲۲ مخ کې لیکي: (تعداد زیادي اې افسران و سربازان درین شب با ګناه، بې ګناه به قتل رسیدند.) دا هم د غوایي اوومې نه د وژنو دوام دي لکه: د چمتلې د دښت شهیدان د پرچمیانو په ادعا ۱۷ زره تنو بې کفنه شهیدان بولي د (افغان- شوروي جګړه) ۱۶۲ مخ، البته د ۵۷ او ۵۸ کلونو وژنې دا ټول د تره کي او امین هدایت و.

امین لګېدلي او مړ و، چې سروري او ګلاب زوی چې روسي یونیفورم په ځان ۇ خپله د ملا وسلې را وایستلې د امین پر مړی یې خپلې تفنګچې تشې کړې.



ملګري امین په داسې حالت کې وویشتل شو، چې بې دفاع او نا توانه ناروغه او ګنګس و، یوې خوا او بلې خوا یوازې په زیر پیراهنې او نیکر کې منډې وهلې. د ناروغ او ناتوانه وژنه نه اخلاق دي، نه مېړانه

یعقوب لوی درستیز پخپل دفتر کې د خپل شوروي سلاکار لخوا ځای پر ځای ضربه شو. یعقوب په ځنکندن و، چې د بهرنیو چار وزیر عبدالوکیل، خپل شاژور پرې تش کړ (افغان- شوروي جګړه) ٦٢ مخ. جنرال سیخافسکی هم تقریباً همدا ډول مطلب راوړیدی، چې د پرچم یو لوړ پوړی غړی یعقوب وویشت دده کتاب ۲۹۹ مخ.

د کورنیو چارو وزیر فقیر محمد فقیر او د پولیسو قوماندان اسد الله پیام هم د شورویانو لخوا ولچك او په ډېره بې عزتۍ پر ځمکه اچول شوی و، عملیات ختم شول.

۹ بجو په شاو خوا کې د پېژندل شوي حنجرې (ببرك) نه د امین وژل او د کمونستي (تکاملي دورې) په نامه د کابل راډیو نه په تکراري ډول اعلانونه تېرېدل، امین میر غضب سفاك او نور محمد تره کي شادروان وبلل شول. په دې ډول د تاریخ یو بله صفحه واوښتل.

پوځ په عموم ډول کوم عکس العمل ښکار نکړ، پر امین هم څوک خپه نشول، د غوایي د اوومې په عملیات کې د خلیل (...) توپچی د مهتاب کلا قومدان په ډزو او د مرغومي په شپږمه د شوروي د یرغل په ترڅ کې د ملی قهرمان اعلیحضرت شاه امان الله خان یادګار ویران، ویران شو.

میتروخین د خپل کتاب په ۱۷۳ مخ کې راوړي دي، چې د سرحداتو وزیر د قوماندان کبیر او جنرال دوست نه هیله وکړه چې د شورویانو په مقابل کې مقاومت وکړي د سرحداتو وزیر په هغه وخت کې صاحب جان صحرایي و.

ګهیځ د کابل ښار مهمې چهار راهي او مهمې دولتي اداري د یرغلیانو اشغال کړې وې.

دا د ویر ورځ وه او افغاني غرور د یو څو ناولو لخوا تر پښو لاندې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حفيظ الله امين د سلو ورځو واکداري پای ته ورسېده، رژيم نوی واکمن وموند.

د روسانو پر يوه بېطرفه او سوله دوست هېواد يرغل وکړ، د ځمکې او هوا نه پر يو غريب او ګاونډي هېواد را توپې شول او ټول ملي او بين المللي مقررات او قوانين يې تر پښو لاندې کړل، د هېواد خپلواکي او ملي حاکميت باندې لوبې وشوې. ملګرو ملتونو او نورو نړيوالو سازمانونو دغه عمل په کلکه وغانده.

د امين کورنۍ او ښځې او د صالح محمد زيري مېرمن د سلطنتي کورنۍ او د تره کي د کورنۍ د ښځو سره يو ځای پلچرخي زندان کې واچولې، د امين د کورنۍ موظف لمارف هادی يف د امنی په لور زږه بايلله ؤ، او د واده غوښتنه يې وکړه، چې د قومندان لخوا روسيې ته وليږل شو، (تانند ويبپاڼه) د مصطفی عمرزي ليکنه (امين څنګه ووژل شو) د جون ۲۰مه کال ۲۰۱۸.
ګرچه جرم يو شخصي عمل دی او د سروري، وطنجار او د ګلابزوی مور او مزدوريار مېرمن يې له بنده را وايستل شوې.
د امين په وژلو کې هم تلوار وشو، دی بايد علني محاکمه او قانوني چلند ورسره شوی وای، د ده سره هم هغه معامله وشه لکه چې د سردار او تره کي سره چې وشوه، نه يې مړی چا وليد او نه يې جنازه او کفن. په دې عملياتو کې شوروي دولت ګټونکی شو، پخواني ارمان (تودو اوبو) ته يو ګام ور نږدې شول.

په کال ۱۹۸۳ د مسکو دربېم ټلويزيوني چينل کې اندريوپوف چې لا په کی جي بي کې و، د مرغومي د شپږمې، يرغل په باب چې د همدې شپې له پېښو يې ګزارش ورکاوه په ډېر کبر او غرور وويل چې ((شوروي په دې حالت کې واك درلود، چې رژيمونه نسکور او نوی دولتونه رامنځ ته کړي)).
د افغان هېواد سره يې همدا وکړه، امين د نورو ګونډي ملګرو سره يو ځای د لاندې جنايتونو مرتکب شوی دی.



۱. ډله ييزې وژنې (جنګي جنايات) د ICC د قانون پر بنا.
۲. حقوق بشر نقض (ICC) د قانون او شکنجې.
۳. وسله وال پاڅون تحريك (ج، ق) ۱۷۵ ماده.
٤. جاسوسي (ق، ج) ۱۹۴.
٥. د تره کي قتل (ق، ج) ۳۹۴ ماده.
٦. د سردار د وژني تحريك، (ق، ج) ۲۰٦.
۷. د يو غير قانوني ګوند شموليت.

البته چې تره کي د امين د وژلو په اقدام جزايي مسوليت لري مګر د امين برېد پر تره کي هم جرم و، دفاع مشروع نه ده، بلکه د يوه غچ اقدام دی چې غچ او اقدام په جرم د قانون له مخې مجرم دی. امين سره هم قانوني چلند و نه شو، هغه مريض او ناتوانه و، مقاومت يې نه شوای کولی، بايد نه وای وژل شوی، بايد محاکمه شوی وای.
د دې شپې تلفات:

۱. حفيظ الله امين، رئيس جمهور
۲. عبدالرحمن، د امين زوی
۳. جنګياني، د امين زوی
٤. خوازك ماشوم، چې ګلابزوي له ځان سره واخيست.
٥. د ډاکتر، شاولي مېرمن
٦. يعقوب، لوی درستيز
۷. يو لوی شمېر کورني او بهرني سربازان چې د دواړو خواو سربازان نا خود آګاه په قتل ګاه ور مارش شول. عظيمي کتاب ۲۲۲ مخ.

البته د ډاکتر شا ولي د مېرمني په ګډون هيڅ چا نه کفن ومومند او نه يې جنازه وشوه، د امين صاحب په وژلو ډېر خوشحاله او ممکن څه انقلابيان به خپه وي د کمونستانو د واکمنۍ د وخت څوك چې په واك کې وو، دا جنايات، اشتباهات بولي په دې ټولو جناياتو کې د ګوند غړي د جرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شريکان يا په جرم کې اتفاق درلود، چې د (ج، ق) د ۳۹ مادې سره سم د سزا وړ دي د (ج، ق) ۵۰ ماده. که خلق و او که پرچم، تر اخره د نظام د استحکام لپاره ور سره ملاتړلي و، يو هم پيدا نه شو، چې استعفا وکړي يا د ۷- ۸ ميليونو وطنوالو اقلاً د مهاجرت لار ونيسي، يا د باطل پر وړاندې ودريږي. آن روسي يرغل ملګرتيا يې هم وکړل او د ملي خائنانو کتار کې دريدل. د ملګری امين صاحب سل ورځنی واکمنۍ پای ته ورسيدل. رفيق ببرک کارمل د روس په ټانګ سپور عمومي منشي او د دولت په سر کې چې د کلونو را پدې خوا پدې ارمان کې ؤ، نصب شو.

ملګرو ملتونو د لړم په ۲۹ مه کال ۱۳۵۹ شوروي يرغل په قاطع اکثريت و غندي، مګر شاه محمد دوست د بهرنيو چارو وزير دا فيصله غير قانوني وبلل.



# رفيق ببرک کارمل

## ملګري امين، رفيق ببرک سياسي مداري باله

د ببرک د نامه سره د مرغومي شپږم تداعي کېږي او برعکس هم همدا ډول د مرغومي د شپږمې يرغل د امين او نورو کورنيو او بهرنيو انسانانو د وژلو تر څنګ چې افغان ولس ته درنه تمام شوه، د خپلواکۍ او ملي حاکميت تر سوال لاندې راغی. لومړيو کې د زندان دروازې خلاصې شوې د امين د وژلو سره هم کوم بدلون را نه غی؛ وژنو او زنداني کول د پخوا په شان شدت وموند، کورونه او کلي د مهاجرت په قصد تش پاتې شول، مجاهدين تر پخوا هم جدي شول.

کله چې د مرغومي شپږمه يادېږي، فوراً د سړی په پام کې ببرك را ګرځي د يرغل په سر کې ببرك کارمل نصب شوی، کابل ته را واستول شو. دی د جنرال محمد حسين خان زوی د کابل د کمريو اوسېدونکی، د حقوقو پوهنځي نه فارغ او دوې دورې په ولسي جرګه کې د کابل استازي و، په کمزوري اخلاق، کمونست او جاسوسۍ پېژندل شوی و. د خلق دموکراتيك ګوند لومړۍ کنګرې غړو، ملګري امين ده ته (سياسي مداري) لقب ورکړي و، به تيری شو پاڼو کې د ده د اخلاقو او جاسوسي فعاليت مستند ليکنې راغلی دي. لفاظ او تيټ انسان ؤ، د واک دپاره هر څه ته حاضر ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی پوره یوه پېژندل شوې څېره و، چې پلار هم عاق کړېو او چتاق یې باله.
د تره کی ورسره درې خلقي ملگري او پنځه پرچمي رفيقان چې د تښتيتي په حال کې و، پخپله کابينه کې د ځان سره ونيول.

جنرال مايروف: ببرک تنبل، الکوليست او بې حيا دی (پشت پرده های جنگ افغانستان ۴۶ مخ)

په رهبري کې بدلون راغي، مگر کړاو نور هم ډېر شو بنديز؛ تالاشي، نيول، شکنجو او وژل د پخوا په شان دوام وموند، کور، کالي، ډوډۍ دا بيان هم پسې هېره شول. مهاجرتونو نور هم زور واخيست، پخوا د مجاهدينو مخ ته يوازې کورنۍ شورويان ولاړ و، اوس د نړۍ ابر ځواك سره لاس او گرېوان شول. مجاهدين په خپل هوډ ودرېدل، جهاد نور هم تاو واخيست. رژيم د خپل مافيايي کرکتر پر بنا او ساديست خوی د اقناع لپاره وژنې ډېر ې کړې او د دوهمې نړېوالې جگړې جنرالان او مارشالانو د افغان ولس ټکولو ته ملا وتړله، د ولس ځپل شدد وموند، کله چې محمود بريالي پولياکوف ته په ژړا ووېل، چې تاسې موږ ته را زده کړي چې کوچنی ورور څنگه د لوی ورور بشپړ اطاعت وکړي. (هجوم کتاب ۱۱۵ مخ).

پرچميان اوس عملاً ډگر ته را ووتل، چې په سر کې يې ببرك قرار درلود، ده خراب ورکيتوب تېر کړی. د شهيدای صالحين کوځو کې را لوی شوی، ډاکتر شېر شاه يوسفزی د خپل کتاب (تاريخ مسخ نمی شود) په ۴۵ مخ کې ليکي: (( ببرك که هنوز (کارمل) نشده بود. از دوران طفوليت و نوجوانی در بغل ملك نور قلعه چه يی، و سرکاتب طاهر بگرامي سپري نموده، آن سرکاتب در زمان حکومتش او را هنوز هم ببرك جان ميگفت...))
همدا وجهه و، چې د ببرك تن فروشي په وطن فروشي بدله شوه.

(داود خان د کی جي بي په لمو کې) کتاب په ۱۸۵ مخ کې، کله چې د ده پلار کندهار کې دنده درلوده، د پوځ انضباطان به د ده په پيدا کېدو سترې ول، ده به د ليني ډرېورانو سره په چمن کې شپې تيرولې.



مشاور غلام دستگير خان د ډاکتر طبيبي مشاور هم د ده، جنسي اړيکو داستانونو لري، دی چې په تن فروشي اموخته و، وطن فروشي ورته گران کار نه و، د (زندان پلچرخي) د کی جي بي فراري افسر له خولې ليکي، چې د کي جي بي په ٦٦ مديريت کې ده، يو سابقداره ماموريت درلود، لومړی اقدام کې نوی اداره جوړه شوه، چې په سر کې يې ببرك کارمل نصب و .

د K G B کوزيکچين د ببرک اړيکې د K G B سره راوړېدي، دا مطلب شهسوار سنگروال د اپريل ۱۵ مه کال ۲۰۱۸د تاند ويبپاڼه کې رانقل کړيده.

کله چې فراري خلقيان د مرغومي ٦ دپاره سره را ټول کړل شول، ببرک و اناهيتا ته ووېل، ما به ويل چې په نړۍ کې عدالت شته، هجوم کتاب ۷۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرچمي اداره

ببرک د واکمنی د اشغال نه وروسته شپږم پلينوم په ۲۱/ ۳/ ۱۳٦۰ داير کړ، چې هغه معلوم الحال کسان يې ځای پر ځای کړه.

ببرک که څه هم دی په شوروي کې ټاکل شوی ؤ، پيا هم د راغوښتي پولينوم لخوا د ګوند سرمنشی، لومړی وزير د رئيسه هئيات په صدر کې وټاکل شو، چې نجيب دا بيت ورته زمزمه کړ:

**مـــوی سفيد را فلکش رايگان نـــداد**
**اين رشته را به نقد جوانی خريده است**

بيا چکچکي او د هورا رمباړي.

## پرچمي شورا

د شورای انقلابي مشر او لومړی وزير ببرک
اسد الله سروري
نور احمد نور
جنرال عبدالقادر
سلطان علي کشتمند
جنرال ګل آغا او اسلم وطنجار د شورای انقلابي غړي وټاکل شول.



دا شورا د ټولو سياسی، امنيتی، قضايي او قانونګذاري تصميمونو ظاهراً واک درلود. په حقيقت کې هر څه د (قوای دوست) په لاس کې و.
شعار: سر ورکو، سنګر نه.

## د ببرک کابينه

۱. ببرك، لمړی وزير
۲. سروري، د لومړی وزير مرستيال
۳. سلطان علي کشتمند د لومړي وزير مرستيال، (دا دی ګرګ او مېږه سره په يوه ګودر اوبه څښي) د سروري غير اخلاقي شکنجې له ياده وويستل.
٤. جنرال محمد رفيع، د ملي دفاع وزير
۵. خورد ضابط سيد محمد ګلابزوی، د کورنيو چارو وزير
٦. وطنجار، د مخابراتو وزير
۷. شاه محمد دوست، د بهرنيو چارو وزير
۸. دکتور اناهيتا، د معارف وزيره
۹. شير جان مزدوريار، د ترانسپورټ وزير
۱۰. محمد خان جلالر (چې هر رژيم کې ځای يې و)، د تجارت وزير، (کی. جي. بي) غړی.
۱۱. فيض محمد، د سرحداتو وزير
۱۲. عبدالوکيل، د ماليې وزير
۱۳. عبدالمجيد سربلند، د اطلاعاتو او کلتور وزير
۱٤. عبدالرشيد ارين، د عدليې وزير
۱۵. محمد اسمعيل دانش، د معدن وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶. راز محمد پکتين، د اوبو او برېښنا وزير
۱۷. ګل داد، د لوړو زده کړو وزير
۱۸. نظر محمد، د ټولګټو چارو وزير
۱۹. محمد ابراهيم عظيم، د روغتيا وزير
۲۰. فضل الرحيم، د کرهنې وزير
۲۱. د اسد الله سروري پخوانۍ دنده(اګسا) ډاکتر نجيب ته وسپارل شوه او د (اګسا) نوم پر (خاد) بدل شو. چې شاوخوا ٦۰۰ تنو شورويان د سلاکارانو په توګه اګسا کې کارته موظف شوی ؤ.

د حزب ديموکراتيک افغانستان کتاب په ۳٦۴ مخ کې راغلی چې نجيب به پخپله په تحقيق او شکنجه کې ګډون کاوه، چې دا کار اسد الله سروري هم کاوه، د خاد مامور جنرال فاروق مياخيل چې اوس المان کې دی زندانيانو ته روحي شکنجه هم ورکول په همدا کتاب کې د هرات پاڅو ته او د نجيب کشت و کشتار ته اشاره شويده.

د اکرام دانشمند کتاب يوازې د خاد اعداميان ۵۰ زره تنه بولی. ۳٦۷ مخ.

نجيب د خاد تشکيلات ډير پراخه کړه، د وکيل کتاب په ۱٦۷ مخ کې راغلي، چې ببرک په ډير وياړ سر ويل چې خاد، د مخالفينو په ضد يو طاقت دی چې ٦٦۵۰ تنه پرسونل لرل په حقيقت خاد د کې جي بي يو څانګه ؤ.

په نوی اداره کې چې سروري، ګلابزوي او وطنجار مهم رول ورکړل شوی ؤ، وکيل د خپل کتاب ۴۷۹ مخ د دې درو تنو لاسونه په وينو لړلی بولي. د (افغان- شوروی جګړې) ۱٦۲ مخ کې د پرچمي له خولي راوړيدي چې سروری يوازې څلور زره پرچميان وژلي او ۱٦ زره تنه د اګساد او خاد لخوا وژل شويدي، چې د چمتلې دښته کې ډير د سر کوپړی را ووتلی.

ببرك په لومړيو ورځو کې دا کسان په پوځي برخه کې نصب کړل:

۱. تورن جنرال بابه جان، لوی درستيز
۲. ډګرمن خليل، د قوای مرکز قوماندان



۳. ډګرمن، نور الحق علومي د قوای مرکز رئيس ارکان
۴. ډګر من محمد نبي عظيمي، د اوومې فرقې قوماندان
۵. جګړن شهنواز تڼی، د اتمې فرقې قوماندان
٦. ډګرمن عبدالقادر مياخيل، د يوولسمې فرقې قوماندان
۷. جنرال مير طهماس، د کندهار قول اردو قوماندان
۸. غلام نبي يوسفي، د پکتيا قول اردو قوماندان

اما قتل و قتال او ترورر او وژنې د يرغلګرو ځواکونو په پشتوانه تر پخوا لا نور ډېر شديد او زلند او سراسري شول.

نوی حکومت لومړی کار ۲۰ زره زندانيان کوم چې ژوندي پاتې و، عفوه يې کړه د وکيل کتاب ۳٦۸ مخ. پداسې حال کې چې دا ټول بې ګناه وو، عفو د جرم په مقابل کې راځي يعنې په دې معانا د زندانه خوشي کړل، که څه هم زندانونه بېرته ژر ډك شول.

عبدالکريم ميثاق په کابينه کې و نه نيول شو، ځکه چې شوروي استازو ورسره مخالفت کاوه، (از سلطنت مطلقه...) ۳۹۹ مخ.

دا ثابته ده، چې روسانو څومره نفوذ کړ و او ډېر مزدوران يې روزلي وو، ډېر تحليلګران پدې عقيده دي چې شورويان پر اسد الله سروري او بيا پر نجيب دومره ډاډه او باوري وو چې دوی به هم هرو مرو د کې جي بي غړيتوب ولري.

دستګير پنجشېری: با اين مناسبات نوين (مطلب از يرغل نه دی) افغان و شوروی زندګی نو، فرهنګ نو و انسان های اګاه سر بلند خواهد کرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملګري امین صاحب د پلویانو مجازات

د امین نژدې پلویان د امین سره د همکاریو په جرم ونیول شول بې له محاکمې که څه هم د دوی جنایات څه پټه خبره نه ؤ، دا کسان اعدام شول:

۱. عبدالله امین، د حفیظ الله امین ورور د شمال زون تنظیمه رئیس
۲. اسد الله امین، د حفیظ الله امین وراره او زوم، د اګسا مشر
۳. سید عبد الله، د پلچرخي قوماندان
۴. صاحب جان، صحرایي د کندهار والي
۵. انجنیر ظریف، د مخابراتو وزیر
۶. عارف عالمیار، د ترانسپورټ رئیس
۷. صدیق عالمیار، د عارف ورور وزیر پلان
۸. روزي خان
۹. عبدالودود، ګارد مخابره
۱۰. اقبال، امر امنیت ګارد
۱۱. جانداد، د ارګ قوماندان
۱۲. ښایسته خان، د پلچرخي قومندان
۱۳. علي شاه پیمان، قوماندان ژاندارم و پولیس
۱۴. وزیر محمد زیرك، د امین یاور
۱۵. محمد وردګ، د کام د تحقیق رئیس



د روزي، اقبال، جانداد، اقبال او شایسته خان پنځو تنو د مجازات او جرم د تامل وړ دي چې په جرم کې یې انګېزه او مقصد مهم دي. دوی وسیله وه، دې پنځو تنو مادونان د امر د اجرا یوازې وسیله ګرځېدلي، اصلي وژونکي هغه څوك دي چې امر یې ورته کړی دی، البته دوی هم د یوه ظالمانه او غیر قانوني کړنې په مقابل کې مجرمان دي د روزي خان جرم تر نورو پدې ډېر دی چې تره کی یې په وچه حلق مړ کړ.

داسې نه چې یوازې دا ۱۵ تنه مجرمین نه دي، بلکه نور همه شته دي؛ دلته قانوني محاکمه او طی مراحل باید شوي وای. د اساسي قانون ۲۵ ماده په صراحت نقض شوې ده، د دې کسانو جرمونه نه دي تشخیص شوي، قاضي او څارنوال یې هم څرګند نه دی، دا هم بې کفنه ووژل شول صحرایي محاکمه وه، مړي او قبرونه یې هم معلوم نه دي او محاکمه یې هم باید علني واي.

ببرك د دې ۱۵ تنو په ډله کې تر ټولو مهم سفاك وژونکی، اسد الله سروري د ببرک مرستیال چې د دې جنایت اسناد د میرویس وردګ (خلق و پرچم ژوندي جنایات) او نورو کتابونو کې راغلي دي. لویه برخه کومه چې د ولایاتو لخوا اګسا ته رالیږل، چې سروري لخوا بې له محاکمې وژل کېدل خپل مرستیال کړ.

د ډاکتر شاه ولي او ترون د راپورونو په خاطر ملګري امین پر ملګري تره کي صاحب د مرګ برید وکړ، د دوی دوو راپور د تره کي د مرګ سبب شو، د سزا وړ دي. ولې چې د تره کي د مرګ مسببین دي.

داکټر ظاهر طنین کتاب (افغانستان در قرن ۲۰) د خلقي رهبرانو افغاني خاصیت لږ ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ببرک ګوندی تغیرات

عبدالوکیل په خپل کتاب په ۴۳۳ مخ د ببرك د رژیم د نورو اجراآتو پیل داسې راوړی دی.

۱۲ پولینوم کې د ببرك د خوا دا کسان مرکزي کمېټې ته وټاکل شول:

اصلي غړي:

۱. سید اکرام پیگر
۲. عبدالستار پردلي
۳. عبدالغفار لکنوال
٤. محمد انور فرزان
٥. نور الحق علومي
٦. احمد شاه سرخابي
۷. سرور منگل
۸. شهنواز تنی
۹. عبدالغفار داود
۱۰. عبدالواسع کارگر
۱۱. جمیله پلوشه کمېټه مرکزي غړې

علي البدل غړي دا دي:

۱. ادینه سنگین
۲. خدایداد بشرمل
۳. سید نسیم میهن پرست



٤. عبدالقادر اشنا
٥. عبدالعزیز مجید زاده
٦. عبدالفتاح
۷. غلام فاروق یعقوبي
۸. فضل احمد طغیان
۹. فرید احمد مزدك
۱۰. محمد اسرائیل
۱۱. جنرال محمد افضل لودین
۱۲. محمد عوض نبي زاده
۱۳. محمد فاروق
١٤. محمد کبیر کارگر
۱٥. نعمت الله
١٦. قیچ دهقان

ډېر قراین شته چې سرورو‌ي او نجیب دواړه د (کي جي بي) روزل شوي کسان وو، همدا ډول چې سروري به اندرپوف اکتوونه کول، نجیب د (بریا) پر پله قدم ږدي، د خاد تشکیلات پراخه شول د خپلو وطنوالو د ځپلو اړتیا لیدل کېده، د (ثور انقلاب) ورځېانه په (حقیقت انقلاب) بدله شوه. دا ټولې کړنې د روسانو په حضور کې کیدې.

وژنې د پخوا غوندې ډله ییزې وې، د دې لپاره چې زندانیان مقاومت ونه کړي او یا چیغې جوړې نکړي، په لاسو کې ولچك او په خوله کې به یې یو ډول وسپنه ور اېښوده چې اواز یې پورته نه شي. (زندان پلچرخي) کتاب ۱۲۷ مخ.

همدا خبره پوهاند ډاکتر محمد عثمان روستار د خپل کتاب په ۱۳۸ مخ کې راوړې ده: بر علاوه، چې د وژل شویو (شهیدانو) مالونه لکه، پیسې، څپلۍ، ساعت ان ظرفونه او کالي د سربازانو لپاره غنیمت و او دا یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړي دي. چې دا وژنې بې ګټې پاتې نه شي، د محکوم په مرګ وینه به یې ترې ايستله، تر هغه اندازې، چې وکولای شي تر کشتارګاه پورې لاړ شي، او د دې وینو لپاره د (وینو بانك) جوړ شوی و، د بښنې نړیوال سازمان هم د اعدام د محکومینو د وینو را ایستل هم تایید کړیده.

د رومانیه کمونستی جمهور رئیس چاسیسکو هم د دې دپاره چې ژوندې پاتې شي. د ځوان هلکانو وینه به ایستل او خپله ځان ته به تزریق کړل.

د ختیځ المان جمهور رئیس د کمونستي رژیم د نسکوریدو سره ډیرې متبذل کسیتې راووتی. افغان توانا رهبر به (زنده ناچ) خوښ ؤ، د انجونو د رقص نه به یې (من، من غوښه اخیستل)، ویډیو (دو روز پی در پی)

وکیل د خپل کتاب په ۴۶۳ مخ کې د سروري د ورور، محمد انور سروري لخوا دې ته د شهیدانو څو سوه ساعتونو او نغدو پیسو د تسلیمۍ بیان راوړی دی چې دولت ته تحویل شول.

دا به هم خدای ته معلومه وي، چې جنرال محمد انور او سروری به ځان ته څومره پیسې او ساعتونه ګرځولي وي، ولې چې شهیدان په زرو و، نه پدې اندازه چې جنرال محمد انور دا غنیمت وکیل ته تسلیم کړه. زندانیان مالونه لکه غنیمت به پاتې شول داکتر پوهاند روستار هم د خپل کتاب ۱۳۸ مخ کې راوړیدي.

د انقلاب (کودتا) ماهیت هغه وخت څرګنده شو، چې څیرې، څرګنده او ډګر ته راووتلې دا کسان چې ځانته انقلابیان وایي، په حقیقت یوازې ساده لوبغاړي دي، دوی د ټولنې رټل شوي، محرومه، عقده مند، کمزورو اخلاقو خاوندانو، مزدور طبیعته، ناپوه، جاهل، غله، د ټیټې کورنۍ د ګوند په نامه (کی جي بي) لخوا جذب شوي، روزل شوي او تنظیم شوي وو، لکه:ولس نشواي کولای چې ډلې ته سر ټیټ او د دوی حکمراني یې ومني، ولسي پاڅون ته چمتو شول چې خپل ملي او اسلامي ارزښتونه وساتي، لوبغاړي د تصفیې په نوم وژنې او قتل عام پیل کړې.



# د الله اکبر چیغه

ولس اصلي دښمن ته پام و، چې ببرك یوازې د لوبغاړی په توګه دی. د دې دپاره چې د شپې لخوا بندیز و، له بامونو د (الله اکبر) چیغه پورته او په مرکز او ولایاتو کې یې پر دښمن شپه نا ارامه کړه. دې ملکوتي چیغو پر دښمن هم یو خاص اثر درلود، د الله اکبر د چیغو په جرم هم ډیر کسان زندانونو ته ولیږل شول.

په هر اندازه چې د هېواد دښمنانو ظلم او تېري شدت مونده په هغه اندازه مقاومت لوړې کچې ته رسېده، د ولس عکس العمل جدي و، تر څو کوڅو او سړکانو ته راووتل، رژیم د یرغلګرانو په هدایت د مقاومت د ځپلو لپاره کمېټه جوړه کړه چې په سر کې یې اسد الله سروري یو مشاور او جنرال قادر قرار درلود. په لومړۍ ورځ ۹۰۰ تنه مظاهره چیان ونیول شول، ۵۰ تنه ځای پر ځای ووژل شول. (افغان- شوروي جګړه) کتاب ۱۳۷ مخ.

هندوانو آواز پورته کړي د الله کبر چیغې به یې وهلې او دا به یې چې اسلام په خطر کې دي واقعاً هندوان د اسلام تر چتر لاندې بشپړ د سر، ناموس او مال مصونیت درلود.

د ښونځیو پر انجونو هم صرفه و نشول، پر هغوی هم د ټوپک شپیلۍ را واړول شول. د ناهید او جمیل په ګډون څو تنې نورې هم په همدې ورځ په شهادت ورسیدې. د (افغان- شوروي جګړې) ۱۳۹ مخ.

او دا لا هم په همدې مخ کې رغلی، چې د ښونځي د انجونو په مقابل د دې جنایتکارانو د جملې کمونست نجم الدین د پغمان اوسیدونکي او مدیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظاهر د ميدان ولايت اوسيدونکی پيژندل شويدي او د همدې کتاب ۱۶۰ مخ کې د زرو شهيدانو شمېر راوړيدي. دا پيښې د کب د مياشتې دربيمه ۀ. د انجونو شهادت د حقيقت التواريخ ۶۰۶ هم تاييد کړيدی. او په ۱۳۵ مخ کې د ناهيد شهادت راوړيدي.

آن هندو افغانانو د خپلو وطنوال سره په ګډه د الله اکبر چيغې وهلې، پورتنې کتاب ۱۴۸ مخ د مثال په توګه د اشوکمار محصل د کندهار اوسېدونکی، د الله اکبر چيغو ته په تور ونيوه او ۸ کاله حبس پرې راووت او د ده ملګری عبدالودود محصل هم اته کاله د حبس فيصله پر راووته. ولس ابر قدرت ته پنجه وکړه او ټېر يې سپر کړ.

د ولس کړاو کم نه شو، هغه پېژندل شوې څېرې بېرته رويکار شوې لکه، وکيل، بريالی، راتب زاد، سروري، ګلابزوی، نجيب، ببرک، وطنجار، کشتمند، قادر، نور احمد نور او نور مخکې به يوازې انقلابيانو خرابي کول او وژنې کول، اوس ابر ځواك تر غاښو مسلح پر يوه واړه او سوله خوښونکي هېواد مسلط شو او د ولس د سرکوبۍ لپاره ټولو پوځي امکاناتو لکه: بيولوژيکي او کيمياوي وسلې د سکر ۲۰ خوشه يي بمونه، راديو اکټيف وسله او د ناپالم بمونه پر پراخه پيمانه وکارول شول چې دا وسلې د ملل متحد لخوا منع شويدي چې د مړو شمېر يې نشته ما دلته (نمونه مشت خروار) هغه وژل شوي چې د انقلابيانو په خپل لاس په زندانونو کې شهيدان شوي دي، کوم چې زما لاس ته راغلي دي، د محکمې د قضاوت لپاره مستند را ټول کړي دي، چې د ټولو نمونې په دې مختصر کې راوړل له حوصلې وتلی کار دی.

ټول ګونديان او انقلابيان چې د شورويانو د يرغل ملګري او بيا د يرغل د زغمل او د هغه کمونستي رژيم د بقا او استحکام لپاره فعاليت او کار کاوه، د يرغل د جرم شريکان دي. او د (ج، ق) ۴۹ مخ سره سم د سزا وړ دي.



کله کله د ببرك وخت کې صحرايي محاکمې ته تش په نامه يوه قانوني بڼه ورکول کېده مګر وژنې هغه د پخوا په شان وې، د ببرك په وخت کې د ټولو ملي او بين المللي حقوقي موازينو خلاف يوه مرحله ای محکمه موجوده وه، وکيل دفاع چا نه پېژنده، فقط هغه د تره کي صاحب او ملګري امين د رژيم دوام و.

د (افغان- شوروي جګړه) کتاب ۱۶۲ مخ کې پوهاند ډاکتر حسن کاکړ د يوه پرچمي له خولې ليکي: روسانو ډېر ژر د ولس په ځپلو لاس پورې کړ.

کتاب دا هم راوړي، چې د روسانو لخوا په عملياتو کې ۸۰ په سلو کې ملکي کسان تلف شوي وو.

ډاکتر کاکړ د همدې کتاب ۲۳۵ مخ د ۱۵ کلنې کبرا نومې انجلۍ نيولو ته هم اشاره شوي او دا يې مثال راوړيدی.

نبي عظيمي د خپل ۳۰۰ مخ د ببرک په ارتباط او د ده غوښ اجرااتو په باره داسې راوړيدي. (ببرک امور قواي مسلح را ارزيابي و کنترول ميکرد و رهنمودهای مشخص ميداد. اشخاص را جزا ميداد. اخطار ميداد و اعدام ميکرد). دا ټوله ګواه پردې چې قانون محاکمه، محکمه مد نظر نه ۀ، يو ګوند هر څه کولای شوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې جرمه مجرمان

د ببرك اداري د نيولو شوو کسانو سره، په داسې حال کې چې هېڅ جرم په يې نه درلود، غير انساني برخورد او انتقام جويانه عمل کاوه او د جنګي اسيرانو په سترګه يې نه ورته کتل، اکثراً به دا زندانيان بيمار او ناروغ وو چې د ټولو ملي او بين المللي موازينو خلاف عمل و.
بنديز، تالاشي، نيول، شکنجه او وژنې د پخوا په شان دوام درلود، ولې چې د هدايت منبع يوه و، دوی له يوه اخوره تغذيه کېدل، په اداري تشکيلات د تش په نامه محکمه را منځ ته کړه، تش زندانونه بېرته ژر ډك شول.
تحقيق د خاديستانو په لاس کې و چې اکثراً په تاجکستان او د شوروي نورو ايالاتو کې روزل شوي وو، څارنوالان هم همدا ډول، څارنوال به خپله دعوا نه تورنان خبراو د وکيل دفاع د نيولو اجازه نه وه، د زنداني له زندانه به هم څوك خبر نه و، چې چيرته دی، بې وجدانه قضاتو به هم پر شکنجه سترګې پټې کړې او په بې شرمانه ډول خپله فيصله صادره کړه، هئيات تحقيق ګوندي، څارنوال ګوندي او قاضي ګونديان و، دا ټول د جزايي اجرااتو د قانون خلاف عمل و. په تحقيق او قضا کې شوروي مشاورانو ګډون کاوه.
شوروپانو پوهېدل چې انقلابيان بې سوېې او بې کفايته دي نو هره اداره کې د سلاکار په توګه به يو روسي ناست و چې هدايت او لارښوونې به يې کول.
د ابتدائيه محکمې فيصله نهايي او قطعې وه، استيناف او تميز موجود نه وو، د اعدام پر فيصله به شوراى عالي انقلابي او کارمل نه منظوري اخيستل کېده او د اعدام فيصله به د يو بل هئيات لخوا چې اکثراً د ګوند غړي



څارنوال او د خاد مامورين ور سره و، تنفيذ شو، مړي خپلوانو ته نه ورکول کېدل آن کورنيو ته به يې خبر هم نه ورکاوه. خپل زنداني ته په مياشتو، مياشتو جامې راوړي.
وژنو د پخوا په شان دوام وموند، د سروروي ځای د اګسا قصاب خانه ډاکتر نجيب ته ورسيده. پدې جنګي جناياتو کې انقلابيان دا ځلې قوي ملګري لري. د انقلابيانو په خبره چې افغانستان شورويانو ته د (ناموس) حيثيت لري.
د (زندان پلچرخي) کتاب په ۱۲۷ مخ کې پوهاند ډاکتر محمد عثمان روستار د ۱۳۵۹ کال په منځ کې د سلو تنو وژونو ته اشاره کړې ده. دی ليکي چې په ميډيا کې به يوازې د ۵ تنو خبر تېر شو.
د حکم د تطبيق د (وژلو) راپور به يې د خاد مشر ته په مخابره کې اطمينان ورکړ. د وژنو لړۍ د پخوا په شان دوام وموند، لکه چې د پوهاند صاحب کاکړ را ټول شويو معلومات ۳۳۹ مخ کې دا هم راغلي چې د کندهار او هلمند سل تنه د ارغنداب بند کې اوبو کې واچول، چې منصور هاشمي د همدا ډول کار وکړ او د بدخشان بنديان يې د کوکچې بند کې وغورځول، انجنير ظريف د کندهار والي په يوه شپه ۴۸ تنه کرزيان پخپل لاس د ساطور په واسطه شهيدان کړل، تخار، هرات او نورو ټولو ولاياتو کې همدا حالت جاري و. د لوګر پر سړك ۴۰ تنه د روسانو لخوا ووژل شول ۳۴۸مخ، د کابل او جلال آباد پر سړك ۸ تنه شهيدان شول ۳۴۹ مخ، د ۳۵۳ مخ (کاکړ صاحب) ليکي: (د ۱۹۸۱ د اپريل ۱۷ باندې ۱۳ تنه په کامه کې د کيمياوي موادو په واسطه ووژل شول چې وشړېدل.
د ۱۹۸۴ کال د مارچ په مياشت کې د يرغلګرو سره په کامه کې جګړه ونښته، دواړو خواو ځاني تلفات درلودل، درنې وسلې وکارېدې، شورويانو د قوماندان ملا عبدالشکور ياسيني ته وړانديز وکړ چې د في نفر مړی د شل زره افغانۍ پيسو په مقابل کې ورکړي، ملا صاحب ترجيح ورکړه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسانو د مرو په غوښو، ښه ده چې افغاني ګیدړان او کارغان ماړه شي پوهاند کاکړ کتاب ۳۵۶ مخ.

د همدې کتاب ۳۵۹ مخ کې د فتح آباد او باغ بالا په حصه ۱۸۰ تنو شهیدانو او د قوماندان عبد الله لغماني د ډلې ۲۵ تنه تر اخیر سلګۍ پورې مقاومت وکړ تر څو چې شهیدان شول.

کاکړ صاحب د کتاب په ۳۶۳ مخې کې د لغمان علیشنګ دره کي یو یو نارینه چې په (قوای دوست) مخ ته ورتلي وژل کېده به؛ دا چې مسولیت لري او که نه، مهم نه و .

۳۷۹ مخ د ژوري په حمله کې چې پرچم او یرغلګر سر په ګډه وو، ۱۸۱ تنه مجاهدین شهیدان خو د رژیم ۳۶۳ تنه سرتېري ژوندي ونیول شول.

د ستې کنډو په جګړه کې کال ۱۹۸۷ د لیندۍ د میاشتې په څلور، پنځم او شپږم (۶۰۰۰) روسانو ګډون درلود، چې ګورباچف قصد درلود چې نوره دا جګړه یوې خوا ته کړي، د ګل زرك قوماندان په حواله چې شورویانو د اوبو هغه یوازینۍ چینه زهرجنه کړې وه، د شوروي (قوای دوست) په هر بشري ضد عمل او جنایت لاس پورې کاوه ۴۰۰ مخ همدا کتاب.

د ملا نقیب سر قوماندان د کندهار د ارغنداب د سیند په غاړه چې څهار قلبې د کلی په سنګر روسي عسکرو حمله وکړه چې دې حملې ته په پوره تکیکي ډول غاښ ماتونکی ځواب ورکړ. او د کندهار په شاخوا کې حاجي سرکاتب د حزب اسلامي قوماندان، ګل آغا شیرزوی، محمد شاه کاکو، قوماندان ځارنوال او اختر جان قوماندان په پوره میړانې او د شهادت په منلو سره د کندهار نه دفاع وکړه. یوازې د ملا نقیب سرقوماندان په دې جګړه کې چې ۱۹۸۷ پیل شوه ۲۵ تنه مجاهدین شهیدان درلودل ۳۷۲ مخ.

۳۷۹ مخ د حفیظ منصور په حواله لیکي چې د ۱۳۶۱ کال د روسي په یرغل کې پر پنجشیر ۳۰۰ تنه شهیدان شول.



جنرال قادر کتاب ۳۰ مخ کې د حربي ښوونځي استاد عبدالغفور پرواني وژنه هم راوړل شویده.

۳۹۲ مخ د ژوري به نښته کې د جنرال شهنواز تڼی تر قومندې لاندې ۱۱۶ شهیدان او ۳۲۱ ټپیان او ۱۹۸۵ کال په برید کې ۱۸ مجاهدین شهیدان، جنرال تڼی اوس په کابل کې ژوند کوي، تڼي د خپل ولس د وژلو او ملي خیانت هېر دي. په ډېر بې حیایۍ سره دی په تېره دوره کې ریاست جمهوري ته هم کاندید و، د افغان د وینې بازخواست تر اوسه چا ونه کړ، چې جنرال ضیاءالحق، لومړی وزیر ذوالفقارعلي بوټو د یوه قتل په تور پانسي کړ د دې کسانو سره باید حساب وشي. د افغان وینه له هر چا نه بې ارزښته ده.

د امین د وژلو نه وروسته په نېټه ۲۸ دسمبر ۱۹۷۹ کال د ببرك د اعلان لنډ څو ټکي: (امروز ماشین شکنجهٔ امین و دست یارانش- جلادان وحشی، غاصبان و قاتلان دها هزار هم میهن ما پدران، مادران، خواهران و پسران، دختران، کودکان و پیر مردان ما در هم شکسته شده است جنګ در افغانستان ۲۵۲ مخ) دلته مطلب دا دی چې د ادعا او جملې حقیقت چې په زرګونو کسان وژل شوي، شکنجه شوي د کارمل رژیم هم عین کړنې تکرار کړې،په زرو یې خلك اعدام کړل. وضعیت همغه د پخوا په شان دوام وموند.

د شوریانو یرغل سره د کورنۍ شورویانو (خلقیانو) د پخوا په شان قتل و قتال ته دوام ورکړ شو چې یوازې په بمباریو کې په کال ۱۹۷۹، ۲۴۰ زره ملکي کسان او مجاهدین وژل شوي دي. د کاکړ صاحب کتاب ۲۲۷ مخ.

د دې کتاب په ۱۳۹ مخ کې د روسي یرغل په مقابل کې په پیل کې ۵ زره تنه مظاهره چیان ونیول شول او په میرویس میدان کې ۸ تنه هزاره ګانو جوالیان ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاکړ صاحب د خپل کتاب ۱٦۲ مخ کې ۴۰۰ تنو وژنه د ډاکتر نجیب د (خاد) د مشر لخوا په اعدام محکوم شوي دي او د کابل د سهاك د کلي ۱۳ تنه مجاهدین شهیدان کړل.

شوروي ځواکونو وکولای شو، چې د پیسو په مقابل او ځینې امتیازاتو په خاطر یو شمېر سست عنصر کسان لکه د هرات سید آغا چونغر، د اقچې د سیمې ملیشه قومندان او د فیض آباد د ولسوالۍ عبدالله جان او عبدالله جنابي، سید حسین شاه منصور په شمال کې د قرباغ آغا محمد رحیم خا د مجاهدینو پر ضد استخدام شول، چې خساره او زیان ورساوه. (افغان-شوروي جګړه) ۳۰۸ مخ.

پوهاند کاکړ د خپل کتاب ۳۵٦ مخ کې د ۱٦ تنو قوماندانانو د شهادت او په ۳۵۹ مخ کې د سره رود سیمه کې د ۱۸۰۰ تنو شهادت را وړي دي. دا هم زیاتوي چې د قوماندان عبدالله لغماني ټوله جبهه وځپل شوه.

پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ د خپل کتاب په: ۳۱٦ مخ کې د لغمان دولت شاه د کلی ۱٦ تنه شهیدان

۳۷۵ مخ کې د ارغنداب (کندهار) وژنې

۳٦۳ مخ کې د لغمان پلوټې د کلی وژنو ٦۰ تنو وژل او بیا تقریباً ۲ زره تنو وژنو بیان راوړیدي.

۳۸۴ د د پنجشیر درې ۱۷۰۰ تنه شهیدان.

۳۸۴ د الینګار درې ٦۰ تنه شهیدان

او په ۳۹۳ مخ د (ژوري) جګړه کې د قوماندان شهنواز تڼی لخوا چې په کال ۱۹۸۵ و نښته، ۱۰٦ تنه شهیدان ۳۲۱ ټپیان او په بله جګړه کې ۱۸ تنه شهیدان شوي دي. د کتاب په ٦۹ مخ کې د یوه روسي سرتېرى له خولې لیکي: (څرګنده ده، چې جنرال پخپله ښځې او ماشومان نه ویشتل مګر موږ ته یې امر ورکاوه).



د افغاني شورویانو هم لکه کمېټه مرکزي، پولیست بیرو، د وزیرانو د شورا غړي، یا والیان ممکن په ځینو ځایونه په خپل لاس څوك نه وي وژلي اما هدایت او امر به یې صادراوه، چې رهبر توانا به اعلان وکړ چې (مجاهدین مباح الدم او واجب القتل دي). دا جنګي جنایتکاران دي.

سلیمان لایق هم یو وخت په یو محفل کې وویل چې (ما) څوك نه دي وژلي د مجلس یوه غړي ورته وویل، چې پوهېږم، مګر (تا) یوازې امر ورکاوه تا تصویب کاوه.

ستر لارښود تره کي صاحب هم، وفادار شاګرد ملګري امین صاحب په خپله نه دی وژلی، بلکې هغه څو تنو ته هدایت ورکړ چې استاد نور باید ختم شي، دلته اصلي وژونکي امین صاحب دی او دا نور یوازې وسیله او د معاون جرم په توګه مجازات شي نه د اعدام په سزا. (د یو روسي سرباز د خولې)

د پټو توبو د کتاب په ۱۸ مخ کې راغلي، چې کلی به د جګړې وروسته لکه نوي قلبې شوې ځمکې غوندې و اما موږ بیا هم د مړو څنګ ته غنیمت راغونډول.

د دې کتاب په ۲۲ مخ کې راغلي، چې موږ دښمنان ونیول او الوتکې ته پورته کړل، بیا مو د غرو پر ګارو را وغورځول. دوام ورکوي، چې د واده د ورا موټر تر اور لاندې کړ. زوم او ناوې تر مخه تلل، موږ زړه سوي نه پېژنده.

روسي سرتېري بیان کوي، چې اکثر نیول شوي کسان ډېر بې خبره کسان و، دوی به د (الله اکبر) چیغې وهلې، مګر په لسو دقیقو کې به یې بیا هېڅ وجود نه درلود. دا د روشنفکرانو او د انقلابي حزب کړنې وې او د کاریګریو حکومت و. د همدې (پټې توبې) د کتاب ۱٦۴ مخ کې د شوروي دوستانو د یوه سرتېري بیان داسې راغلی دی"زه په کومانډو کې وم، د هرات د شین ډنډ په سیمه کې د شپې له مخې یوازې ګرځېدم، چې لیرې متوجه شوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو نفر ابياري کوي او توپك يې په ونه کې ځوړند دی، پرې ور غوټه شوم، د ده لونگۍ مې په خوله کې ور تخته کړه، چې چيغې ونه وهي. ډيره مې ور پورته کړه، او زما فنرداره چاقو مې پرې را کش کړ او غاړه مې ور پرې کړه. (دا د زيار ايستونکو نظام دی). د دې مسؤل څوک دي؟

تاريخ مسخه نمي شود، د ډاکتر شېر شاه يوسفزی کتاب په ۳۸ مخ کې د دوهم بريدمن دواجان (نيکمل) د کب د مياشتې ۱۳۵۸ کال عمليات د شورويانو په گدون د قيصار، المار او چچکتو او غورماچ د سيمو چې د تالاشي په پلمه د غنډ قوماندان سيد عارف سيفي، سيد هاشم هزاره د غند سياسي امريت مرستيال، جمال د خاد امر او د لومړی غنډ قوماندان عبدالغني بيان را وړيدي، چې دا کاريگري نظام د مثال نمونه ده، شورويانو په قرارگاه کې دوه تنه نيول شوي ووژل.

ډاکتر يوسفزي (د تاريخ مسخ نمی شود) د هرات د فرقې قومندان جنرال نبي عظيمي په اړه په ۵ مخ کې داسې ليکي: (... چنان بې خود و مستانه تازيانه مى کوبيده و بى لگام اسپ تازى مى راند. در آن جا اين پهلوان قهرمان اولين امتحان خود را در ولسوالى هاى غوريان، کميسان و زنده جان سپرى مي نمايد و با قتل و قتال و کشتار ۳۵۰ نفر زن و مرد پير و جوان و اطفال بيگناه وفاداري اش به دامان حزب کمونست به اثبات مي رساند...).

د همدې کتاب په ۳۱ مخ کې د کونړ ۱۲۰۰ تنو وژنه د (هورا) د نه ويلو په جرم وژل – د هرات د تخت سفر د ۴۰ زرو وژنه په زرو نفر د بگرام د سرك شا او خوا وژنه ۵۰ زره د پلچرخي زندان کې ژوندی تر خاورو لاندې کول راغلي دي په ۸۱ مخ کې راوړي دي. چې تر ۸۰ زرو نه ډېر د کونډو مېرمنو نومونه فهرست وليد، چې د خلق ديموکراتيك گوند د شومو اهدافو قرباني شوي دي.



د همدې کتاب په ۷۴ مخ کې راوړي چې په قلعه قاضي باندې د اتمې فرقې قوماندان جنرال عبدالرحيم لخوا د روژې مبارکې مياشتې پر ۱۳مه کال ۱۳۶۳ د افطار پر وخت په توپ کې والوزول. کاريزمير، کوچکين او نورو کورونو د بمباردمان لاندې راغلل. په ۱۲۲ مخ کې د ليندۍ مياشتې ۲ مه کال ۱۳۶۲ يو لوی شمېر ۳۲۰ وژل شوي چې د هغې جملې نه د فاضل بيگ، غوث الدين د کندز د ولايت د کرهنې محصل، احمد شاه د هلمند او ايوب د لوگر اوسيدونکي و، چې شهيدان شول. دې وخت کې خواجه عطاو الله د پلچرخي قوماندان او د خاد امر (هوتك) نومېده.

پر انقلابيانو نور کابل سور اور شو په کال ۱۳۶۴ کې د پايتخت د انتقال اوازې او گنگوسې پورته شوې د ببرک د دې وړانديز سره د جان آغا مخالفت د ده په سر تمام شو. داکتر يوسفزی کتاب ۱۷۹ مخ.

يوسفزی په ۱۴۸ مخ کې دوام ورکوی چې د غزني ولايت نه ۵۸ تنو عسکري ته په زور راوستل، کوم چې د تيښتې په حالت کې ونيول ځای پر ځای ضربه شو.

خليل حيفي د خپل کتاب ۸۱ مخ کې راوړيدي، چې عبدالروف نومې د دوی د کوټې انډيوال چې د زړه ناروغۍ درلوده، د برقي شوك تاب ونشوای چې راوړي، په شدت تکان وخوړ او وروستی فرياد يې وايست، په خاموشي ساه ورکړه.

(توفان در افغانستان) په ۸۰ مخ کې ((د شوروي د سرتيرو او هوايي ځواکونو لخوا د کلو ځپل او د کرهنې تباهۍ او ملکي کسانو تلفات په ځرگند ډول راوړي دي.)) دا ټول د دې لپاره چې کارمل او د ده گوندي ملگري په واك کې پاتې شي.

ډاکتر اشرف رسولي د خپل کتاب په ۳۱۳ مخ کې راوړي دي: " په ۱۹۸۳ کې د مجاهدينو د ۱۵ تنو سرو لښکرو سرتېرو د برمته په مقابل کې د يوې با عزته افغانې کورنۍ مېرمنې برمته کړې، تر څو تبادله منځ ته راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



فخاري هم د خپل کتاب (افغانستان سرزمینی تسخیر ناپذیر) په ۲۸۲ مخ کې لیکي: " د کابل په ۳ کیلومترۍ په تالاشي کې ۳۵ تنه ووژل" د همدې کتاب ۱۵۲ مخ کې لیکل شوي دي، چې هر یو یې افغان دښمن بلل کېده.

د پټې توبې ۲۰ مخ داسې راوړیدي چې روسانو به ویل چې د ډېرو مړو او وژلو په مقابل کې چې به موږ د مړو غوږونه ور ښکاره کړل په مربا به ونازول شو او درمندو ته به مو هم اور ور اچول.

(سرزمینی تسخیر ناپذیر) ۱۹۸ مخ کې راغلي چې د دره صوف د ۹۰ تنو بې دفاع اوسېدونکي امو دریاب ته وغورځول شول.

د همدې کتاب ۲۵۳ مخ کې راغلي: "کله چې د حربي ښوونځي ځینې هلکانو جګړې ته له تللو نه ډډه وکړه، د روسانو لخوا ووژل شول. روسانو پخپله هم په مستقیم وژنو کې برخه اخیستل لکه: " (آینه افغانستان) مجله په ۴۹ مخې کې د وخت لوی درستیز باباجان خان وژنه د روسانو لخوا بولي او د انتحار ادعا ردوي.

قوای دوست د لوبو د شیانو په ډول بمونه شیندل چې ماشومان به هم ترې زخمي کېدل.

جنرال مایروف د خپل کتاب ۳۰۲ مخ کې د کاریزونو د اوبو د زهرجن کولو ته هم اشاره کړې ده. امریکایي تایمز مجلې هم د (شترلینګ سګراو) د کیمیاوي او بیولوژیکي موادو د کارولو تصدیق راوړی دی، چې دا مجله په کال ۱۹۸۰ د دسمبر پر ۲۹ مه خپره شوې ده. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هم دا مطلب تائید کړی دی.

پوهاند ډاکتر محمد عثمان روستار د (زندان پلچرخي) په ۱۳۸ مخ کې د جدي پر ۲۰مه د سلو تنو اعدام درې ورځې وروسته بیا د ۹ تنو اعدام د مدیر اکبر د اعدام سره راوړی دی.

ډاکتر جمیل الرحمن کامګار د کتاب (کرونولوژي حوادث افغانستان) کې هم دا مطالب راوړي دي:



داکتر پوهاند روستار تره کی په خپل کتاب کې راوړیدي، چې محکوم په اعدام به د کوټې د انډیوالانو نه بخشش واخیست او خدای پاماني به یې وکړه، سر ښکته به د خدای او ریښتیا میدان ته کرار- کرار روان شو، مګر خلیل حیفی بیا په خپل کتاب کې داسې جملې راوړیدي، چې د آزادۍ پتنګان به شهادت ته تلوسه درلوده او تلوار به یې کاوه او د کتار نه به راووتل، د شهادت بل ملګری به پر غږ وکړ، (برادر نوبت را مراعت کنید.) روح دې ښاد وي.

کرونولوژي حوادث افغانستان راوړیدي:

۱. ۹۳ مخ کې د کندز ۷۵۰ تنو وژنه.
۲. ۴۰ مخ کې د کندز دشت ارچي ۲۵۰ تنو وژنه.
۳. ۴۴ مخ کې د وردګو د مسجد بمباردمان ۱۲۰۰ تنو وژنه.
٤. ۴۸ مخ کې د کندهار بمباردمان ۱۰۰ تنو وژنه.
۵. ۵۵ مخ کې د پنجشیر بمباردمان.
٦. ۵٦ مخ کې ۱۷ تنه پلچرخي کې اعدام.
۷. ۸۱ مخ کې د کندهار ارغنداب بمباردمان سل تنه وژنه.

سمنګان کې روسانو د تلاشۍ په وخت کې د یوې حامله ښځې پر ګېډه، پدې پلمه چې دا یو بمب دی، لاس تیر کړ او په اخیر کې یې په برچه ګېډه ور څیرې کړه. دا ؤ د ببرک کاریګري نظام او د تره کی د زیار استونکو نظام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرچمي قضا

د بشریت او عدالت نه لیرې د کسانو اعدامو ته دوام ورکړ. عدلیې او قضایي اداره ټوله د یو ګوند په لاس کې و، د ګوند غړو په ولایاتو کې ټولو یوه عقیده درلوده، مثلاً عدلیې چارو کې، کریم شادان قاضي القضات، د انقلابی اختصاصي محکمې رئیس فضل احمد مرستیال، راسخ لوی څارنوال، سید شرف لوی څارنوال، حیات الله زیارمل مرستیال، څارنوال هاشم نظامي څارنوال، حشمت کیاني انقلابي څارنوال مرستیال، یعقوب کمك مرستیالان، بشیر بغلاني، عبدالرشید ارین، وهاب صافي، عبدالحکیم شرعي جوزجاني د عدلیې وزیران، عبقري معین نظام الدین تهذیب قاضي القضات او نظامي محکمې رئیس محم اصف الم ؤ (د عظیمي کتاب ۱۸۰ مخ.)

د بښنې نړیوال سازمان په خپل راپور په کال ۱۹۸۵ کې راوړیدي، چې افغانستان قضایي سیستم وجود نه لري، یوازې د یوې تروریستي ډلې لخوا چې شورویان یې حمایه کوي قضایي اجراات په ډېر غیر عادلانه ډول اجرا کېږي.

د غزني د مجاهدینو یو سرګروپ د نجات د جبهې غړي وویل، چې د یو ورځې ۳۰- ۴۰ تنه، ولچك، سترګې تړلي لاریو ته د وژلو دپاره به پورته کېدل، او د الله اکبر چیغې به یې وهلې.

که د هرات د محکمې د (و) دیوان ۲۹۴ /۱۴ /۱۱ /۶۳ فیصله په غور وکتل شي دا غیر قانوني، غیر عادلانه او غیر انساني څرګنده دي، محاکمه علني نده، سري او خصوصي ده، وکیل دفاع نشته، د الزام دلایل کمبود دي، محاکمه



غیابي ده، که څه هم تورن په محبس کې دی د اعدام فیصله شوراي عالي تائید او ببرك لاسلیك د ټولو نړیوالو د نورم نه خلاف فیصله یو مرحلې ده، دا کار وروسته نجیب هم کاوه.

(جنایات دیروز و دادخواهی امروز) کتاب ۱۵ مخ، د هغه کسانو چې تصادفي ډول د (خاد) د زندانونو او شکنجو نه ژوندي راوتلي د پراخو شکنجو او غیر انساني چلندونو بیان او کیسې د ځان سره لري. د (روزهای دشوار) کتاب لیکوال مصطفی نورپه ۱۱٦ مخ کې لیکي، چې مامور قادر صادقي لخوا بیچاره حبیب نومي په (هګیو) کې په کلکه لغته وواهیه، تر څو اقرار یې وکړ، په اخیر کې د دیوان (الف) رییس عبدالفتاح لخوا په لس کاله بند محکوم شو.

(دوست ځواکونه) اکثراً پر ښځو او ځوانې انجونو حملې کولې او موټر یا زره پوش ته به یې پورته کړې، دیری د ویر نه ډکې پېښې اوریدل کېدل، کوم وخت یې د کوم خلقي دفاع وزیر خور هم پورته کړې و، روسان پداسې وحشي او شهوتي غرایزو نړیوال شهرت لري. ګوندیان د ناموس داري برخه کې پوره بې تفاوته لیدل کېدل.

د اپریل پر دوهمه کال ۱۹۸۴ د سرو لښکرو لخوا د پنجشیر د ولس د ځپلو په خاطر د رژیم واکدارانو یو بل ته تبریکونه وویل.

د (و) اختصاصي انقلابي محکمې ۳۷۰ /۸ /۱۲ /٦۳ د ۹ تنو د اعدام فیصله د هیئات شورای عالي انقلابي لخوا تائید او د ببرك په لاسلیك مزین د تطبیق لپاره مربوطه مرجع ته ولیږل شوه.

محکومین دا و: نثار احمد د امیر محمد زوی

محمد انور د ګل خان زوی

ګل محمد د محمد هاشم زوی

علي محمد د میر محمد زوی

عبدالله د عبدالعزیز زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله د حبیب الله زوی
او غلام حضرت د غلام سرور زوی، روح دې شاد وي.
دوست د عبدالغني زوی او عبدالظاهر د مصطفی زوی د (و) د دیوان ۲۹۴ ۱۴/ ٦۳/۱۱ فیصله، دا دواړه ۲۲ کلن دي، دا پریکړې د بشریت د عدالت نه لیرې وې دا دواړه د سن او عقل او منطق په اساس بې تجربه لا هنوز ماشومان وو دا دواړه ٦۳/۲/۲٦ ګرفتار او په ۱۴/ ۱۱/ ٦۳ فیصله پر راووتل.
قاضیان او د همدې قضیې څارنوالان او د تطبیق هیئات د تعقیب عدلیې وړ دي. د دغو پورتنیو محکومینو (شیهدانو) جرم یوازې د جمعیت غړیتوب و، نه بله څه.
پوهاند ډاکتر محمد عثمان روستار تره کي د خپل کتاب (محاکمه جنایات جنګي در افغانستان) په ۳۴ مخ کې د ملك باري چې د نړیوالې د بشري حقوقو اتحادیه لخوا د کمونستانو د جنایاتو د بررسي لپاره موظف شوی و، له خولې لیکي: په کونړ کې (د فبروري د ۲۸ مې او بیا د مارچ تر ۴ مې پورې کال ۱۹۸۰ په عملیاتو کې هر څه د خاورو سره برابر شوي و، ۱٦۰ زره تنو نفوس نه یوازې ۳۷۷۳۴ نفر ژوندي پاتې شوی و، نور مړه، یا زخمیان او یا پاکستان ته مهاجر شوي و او ښځو د کونړ سیند ته ځانونه اچولي او د ډاره یې خود کشي کړی و .
همدا کتاب د مې میاشتې کال ۱۹۸٦ د غزني د رامك د کلي د ۳۵ تنو تیرباران او د ۴۷ تنو په شمول، کوم په کاریزونو کې پنا اخیستی و راوړیدي.
پوهاند ډاکتر محمد عثمان روستار د (محاکمه جنایتکاران جنګ در افغانستان) د کتاب په ۲۸ مخ د هرات د کب د میاشتې د ۲۴مې نېټې پاڅون د وسلو پر ځمکه اېښودلو او تسلیم اعلان د ښښنې په مقابل کې وشو، خلك تسلیم او د پناه لپاره د هرات په جامع جومات کې د عبادت لپاره ننوتل، د وعدې خلاف د (خاد) مشر، نجیب په قتل عام پیل وکړ او په



لیونتوب سره یې په ډله ییزې وژنې لاس پورې کړ، ان چې شورویانو عذر او زاري هم و نه منلې مګر ده دا وژنې د ببرك په امر بللې.
جنرال مایروف هم پورتنې مطلب د خپل کتاب (پشت پرده های جنګ در افغانستان) داسې راوړی دی:
" ای ببرك تو ادم فرومایه و بې وجدان بر آمدی. " او زیاتوي: "که ادم های فرومایه، همیشه ظالم میباشند" او ببرك رذیل او چل بازه بولي.
د جنرال د اعتراض په مقابل کې ببرك وایي: " کور باید د سپړو نه پاك شي"
جنرال مایروف د نجیب د وژنو په هکله د خلیل او رفیع دواړه بیان لیکي چې ډاکتر نجیب (یو بوی ناکه ګیدړه بولي).
داکتر روستار په خپل کتاب کې یو بل مثال:
د ببرك او نجیب په دوران کې د وطن د پتنګانو محاکمې په دې ډول وې؛

۱- غلام فاروق (۲۰) کلن
۲- عبدالودود (۱۹) کلن
۳- عبدالقدوس (۲۴) کلن
٤- غلام سخي (۲۳) کلن
٥- ذبیح الله (۲۲) کلن
٦- غلام رسول (۲۲) کلن
۷- عطاو الله (۲۰) کلن
۸- دوست محمد او عبدالظاهر ۲۲ کلن
۹- محمد انور (۲۲) کلن
۱۰- محمد ګل (۱۷) کلن
۱۱- احمد (۲۰) کلن
۱۲- عبدالله (۲۵) کلن

دا کسان په اعدام محکوم شول، دا په هیڅ بشري او انساني نظام کې مروج نه دی، پر دې کسانو د زون شمال غرب (هرات) کې د (و) د انقلابي دیوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



جزا لخوا محکوم شول او د انقلابي څارنوالي، لوی څارنوال حمشت کياني په وړانديز، د انقلابي شورا په تائيد، د ببرك او نجيب په منظوري ووژل شول، دا يوه نمونه ده، د (و) ديوان رئيس

۱- محمد حريف (حريف)

۲- مير عمادالدين عماد او صاحب شاه د دې ديوان غړي دي، د دې پورتني موضوع څارنوالان:

۳- عبدالروف،

٤- سيد احمد،

۵- عبدالمنان څارنوال (مدعی العمومان) و او د زون عمومي

څارنوال عبدالرحيم خير خواه نومېده، دې وخت کې د الف د ديوان رئيس سکندري و.

د رژيم جنايات همدا ډول دوام درلود او رژيم په يو ظاهري محاکمه کې ډېر وطنوال د ناموس د دفاع په جرم ووژل، چې نوم يې اعدام وکړ، دلته ماته د زون شمال غرب کوم اسناد په لاس راغلي، چې (مشت نمونه خروار) په توګه يې محکمې ته وړاندې کوم.

طوريکه مردم ولايت هرات آگاهی دارند صدها نفر هموطن ما به جرم مسلمان بودن و داشتن عضويت در تنظيم های جهادی (حتی رحيم چوچه ولد عبدالاحد بچه مامايش) از طرف څارنوال عبدالرحيم خير خواه به اعدام محکوم گرديده و يا سالها را در محابس بسر برده اند.

۹۷ تن از اهالی بی گناه ولسوالی انا دره به جرم بغاوت عليه نظام برحال در مورخه ۷/ ۱/ ۱۳۵۸ با هدايت عبدالرحيم څارنوال خيرخواه نه؛ بلکه شرخواه مذکور اعدام شده که از اجساد شان تا اکنون خبری نيست (تمام اهالی ولسوالی انار دره ولايت فراه) خبر دارند.



بعد از وصول گزارش عبدالرحيم خيرخواه يک سلسله اسناد څارنوالی اختصاصی انقلابی حوزه شمال غرب آن زمان هنوز هم موجود است که حکايه از جنايات موصوف مينمايد بطور مثال:

اول: قرار مکتوب نمبر ٤۹۲/ ۸۸۲ مورخ ۱۱/ ٤/ ۱۳٦٤ که به امضاء عبدالرحيم خيرخواه مزين ميباشد اشخاص ذيل ساعت يک بجه بعد از ظهر بتاريخ ۸/ ٤/ ۱۳٦٤ اعدام گرديده اند.

۱. باب صاحب مشهور به فيض محمد ولد نيک محمد ولديت حاجی محمد، مسکونه شهر هرات.

۲. عبدالمنان ولد تازه گل ولديت احمدگل، وظيفه سرباز.

۳. خالق داد ولد کريم داد ولديت رحيم داد، سابق سرباز فرقه ۱۷ هرات.

٤. شير علم ولد شاه زمان ولديت نصرت، سرباز فرقه ۱۷.

۵. محمد حليم ولد عبدالصمد ولديت لعل؛ محمد مسکونه ولايت فراه، صاحب منصب غند ۲۸ فرقه ۱۷ هرات.

٦. محمد موسی ولد سردار ولديت جيلانی، لومړی بريدمن فرقه ۱۷ هرات.

۷. ذبيح لله ولد نور الله ولديت سکندر، مسکونه قريه گواليان ولسوالی انجيل ولايت هرات.

۸. غوث الدين ولد قربان ولديت حرمن، دريور تکسی ۸۵۱ مسکونه شهر هرات.

۹. نثار احمد ولد فقير احمد ولديت يار محمد، دريور تکسی ۸۹٤ مسکونه شهر هرات.

شخص عبدالرحيم خيرخواه در جمله هيأت تطبيق حکم اعدام حضور داشته (فوتوکاپی اسناد موجود است.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوم: قرار مکتوب نمبر ۶۰۷/ ۱۱۱۴ مورخ ۳/ ۵/ ۱۳۶۴ به امضاء عبدالرحیم خیر خواه اسامی غلام فاروق ولد عبدالعزیز مسکونه قریه طوطچی ولسوالی کشک هرات جوان ۲۱ ساله اعدام گردیده است.

سوم: قرار مکتوب نمبر ۶۱۱/ ۱۱۱۸ مورخ ۳/ ۵/ ۱۳٦٤ به امضاء عبدالرحیم خیرخواه اسامی عبدل مشهور به عبد الله ولد عبید الله مسکونه قریه نقر آباد ولسوالی شیندند جوان ۲٦ ساله اعدام گردیده است.

چهارم: قرار مکتوب نمبر ٦١٥/ ۱۱۲۲ مورخ ۳/ ٥/ ۱۳٦٤ اسامی عبید الله ولد عبد الله مسکونه قریه لنگر ولسوالی زنده جان ولایت هرات جوان ۲۸ ساله اعدام گردیده است.

پنجم: قرار مکتوب نمبر ٦١٧/ ۱۱۲٤ مورخ ۳/ ٥/ ۱۳٦٤به امضاء عبدالرحیم خیرخواه اسامی احمد ولد عبدالرحیم ولدیت محمد انور مسکونه قریه هومش ولسوالی شیندند جوان ۲۰ ساله اعدام گردیده است.

ششم: قرار مکتوب نمبر ۹۱٥/ ۱۷۲۰ مورخ ۲۰/ ۷/ ۱۳٦٤ دو نفر اعدام گردیده است.

هفتم: قرار مکتوب ۸٦٤/ ۱٦۲۷ مورخ ۷/ ۷/ ۱۳٦٤ به امضاء عبدالرحیم خیرخواه اسامی ذیل اعدام شده اند.

۱. نثار احمد ولد میر محمد ولدیت محمد اسلم؛ مسکونه قریه سرنو ولسوالی انجیل، سرباز قوماندانی امنیه هرات.

۲. محمد انور (ودید) ولد گل خان ولدیت محمد اسلم؛ مسکونه ولسوالی انجیل، دوم بریدمن کارمند حوزه ٥.

۳. گل محمد ولد محمد هاشم ولدیت عبدالرزاق؛ مسکونه قریه ماڼوگی ولسوالی دره پیچ ولایت کونر، جگړن فرقه ۱۷ هرات.

٤. علی احمد مشهور به نجیب الله ولد میر محمد سعید ولدیت سید احمد؛ مسکونه گذرگاه انجیل معاون رئیس ارکان کندک ٤ قومی.

٥. عبدالله ولد عبدالعزیز قوم مهمند.



٦. عبدالله ولد حبیب الله.

۷. غلام حضرت ولد غلام سرور.

هشتم: قرار مکتوب نمبر ۱۱۱۰/٦۰۳ مورخ ۱۳٦٤/٥/۳ حکم اعدام عبدالخالق ولد عبدالقادر ولدیت سیف الدین مسکونه ولسوالی زنده جان هرات وظیفه دهقان ۳۱ ساله.

نهم: قرار مکتوب نمبر ۱۱۱۲ مورخ ٥/۳/ ۱۳٦٤ حکم اعدام محمد علم ولد پیر محمد مسکونه ولایت فاریاب.

دهم: قرار مکتوب نمبر ٦۰۱/ ۱۱۰۸ مورخ ۳/ ٥/ ۱۳٦٤ حکم اعدام دوست محمد (ځیرك) ولد عبدالغنی مسکونه شهر هرات ۲۲ ساله و عبدالظاهر ولد مصطفی مسکونه علاقه داری کشک ۲۲ ساله.

یازدهم: قرار مکتوب نمبر ۱۱۱٦/٦۰۹ مورخ ٥/۳/ ۱۳٦٤ حکم اعدام غلام سخی ولد حاجی خان محمد ولدیت شیر محمد مسکونه ولسوالی کرخ ولایت هرات ۲۲ ساله.

دوازدهم: قرار مکتوب نمبر ۱۱۲۰/٦۱۳ مورخ ۱۳٦٤/٥/۳

۱. عبداللطیف ولد محمد حسن ولدیت جان محمد مسکونه ولسوالی پشتون زرغون ولایت هرات ۳٤ ساله اعدام.

۲. حبیب الله ولد غوث الدین ولدیت فیض محمد، مسکونه ولسوالی گذره اعدام.

۳. عبدالقدوس ولد محمد افضل ولدیت شمس الدین، مسکونه ولسوالی گذره ۲۰ سال حبس.

٤. غلام سخی ولد عبدالکریم ولدیت حبیب الله، مسکونه شهر مزار شریف ۲۰ سال حبس.

٥. ذبیح الله ولد غوث الدین ولدیت فیض محمد، مسکونه ولسوالی گذره ۲۰ سال حبس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦. غلام رسول ولد عزيز محمد، مسکونه قريه شالبافان ولسوالی انجيل ۲۰ سال حبس.

٧. عطاء الله ولد عبدالکريم ولديت عبدالحکيم، مسکونه ولسوالی انجيل ۲۰ سال حبس.

که اينک فهرستی از اسناد موجود کار کردگی اش عبدالرحيم خيرخواه څارنوال است.

عبدالرحيم مذکور ادعای بيطرفی نموده و چه خوب گفته است که "بنده فروخته حزب نبودم و به گفتن و سر کشيدن نعره کلمه هورا څارنوال شده بودم" که خود قضاوت نمائيد.

رژيم پر متعلمانو او محصلانو هم رحم و نه کړ، لکه:

١. عبدالناصر د محمد حنيف ززوی، کونړ، متعلم ۱۷ مخ.

٢. سيد حسين د ايشان حافظ زوی، تخار، محصل طب د ولايتي کمېټې په فيصله ۱۹ مخ. د سيد کاظم سمونيار قوماندان ولايت.

٣. سيد احمد د سيد ګلاب زوی د لوګر اوسېدونکی دهقان ۱۷ مخ.

٤. سيد وهاب الدين د عبدالرحيم زوی، خيرخانه کاريګر ۱۸مخ.

جنرال مايروف دا هم د همدې کتاب ٥٦٩ مخ کې زياتوي: "نجيب ډېر ي ويني توېې کړې" جنرال مايروف نجيب د دې قتل و قتال له کبله د (سپی بچی) بولي.

د (و) د ديوان فيصلې به د يو هيئات لخوا، عبدالرحيم خيرخواه د استيناف انقلابي څارنوال، څارنوال غلام جيلانی، د (خاد) د پنځم مديريت سرپرست محمد علی، او داکتر محمد اشرف د حوزي داکټر لخوا تنفيذيدل.



# د يابو بدليدل

شورويان وتلو ته اړه شول مګر د شوروي سربازانو له وتلو سره ببرك جدي مخالفت کاوه، تر څو ګورباچف په ډاګه ورته وويل: "د شوروي خلك نور خره نه دي، چې ستا د تاج او تخت لپاره د خپلو زامنوويني توېې کړي. " (طوفان در افغانستان کتاب) ببرك لا ملي او بين المللي سياسي حالت درك کولای يې نه شو او د هر کلي لپاره يې يوه، يوه ټولي سپاهيان غوښتل در پشت پرده هاي جنګ در افغانستان) ۱۸۸ مخ.

شورويان پيلامې ته رسيدلې و، چې نه سکاټ او نه ناپالم کار وکړ.

دی د ببرك بې کفايتي، ټنبلي او شراب نوشي نور د زغم وړ نه بولي. اندريوپف به ويل، چې پدې کې شك نشته چې ببرك يوه کرغېړنه څېره ده، خو زموږ لارښوونو ته كلك غوږ نيسي، بالاخره نتيجه شوه چې نور دې د استفادې نه دی. مايرويف پخپل کتاب کې دا هم راوړي دي؛ کله چې ببرك د سربازانو له وتلو سر مخالفت کاوه، دی وايي چې ما ورته وويل، افغاني او شوروي سپاهيان د جګړې په اور کې سوځي او ته شراب خوري کوې، نو په اخير کې وژړل. روسي فعاليت د بن بست سره مخامخ شو، دې پايلې ته ورسېدل چې (يابو بايد بدل شي) (افغان- شوروي جګړه) ۱٦٧ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يابو بايد بدل شي

د ټولو فشارونو وژنو سره وضع سمه نه شول، بيا بدلون ته ضرورت شو د خپل مخالفت سره (مسکو) ته هلته يې چا پروا و نه کړه. د ببرک جنايات او ملي خيانت نور ثبوت شو او د ده ملګري مزدك کاپواني، اناهيتا او محمود بريالی د ده د ملي خيانت شريکان دي، چې (ج) ق ۱۷۴ ماده پر تنفيذ شي د سولې مخالفت يې هم درلود او د روسانو وتل يې خوښ نه ؤ. د ببرک پلوي کول.

شوروي کې غټ، غټ تحولات راغلل، نوبت ميخائيل ګورباچف ته ورسېد، نو دا وخت دی چې شوروپانو دې خپلې پښې سپکې کړي او د تېښتې په لټه کې شول، وژنو، شکنجو، خرابۍ، ويرانۍ او هر ډول وسلو له کارولو سره مقاومت مات نه شو. شوروي جنرالانو خپله کمزوري، غلطۍ او د خلقيانو ټيټوالي مني او د مجاهدينو زړورتيا، وطن دوستي، پای مردي ته د احترام سرټيټوي. (د هجوم کتاب)

ګورباچف په دوشنبې کې د سليمان لايق، نجيب، وطنجار او نور په مخ کې ببرك ته اعلان وکړ، چې خپل سربازان غواړي چې وباسي، مګر په ډېر بې شرمي ببرك د يرغل له ختمولو سره مخالفت وکړ، شوروپانو د ببرك د عزل تصميم ونيوه، او مسکو ته وغوښت چې دې کار ته د اختر محمد زوی ډاکتر نجيب ټېر وواهه او د ببرك په مخالفت يې لاس پورې کړ، تاريخ تکرار شو، بيا يو بل روزل شوي، وفادار شاګرد، د خپل استاد په تخريب لاس پورې کړ، نجيب نه غوښتل چې ببرک کابل ته راشي. ډېر وخت وروسته



ډېرو زاريو پواسطه اجازه ورکړه شو، چې کابل کې پخپل مکروروپان پارتمان کې و اوسيږي. په اخر کې د شمال په حيرتان بندر کې يوه حويلي ورکړه شو، چې هلته په ډېر ذلت او خواري ژوند کاوه، او امريکا LM سګرټ څکول تر څو هلته ساه ورکړه، هلته ښخ شو، چا يې فاتحه وانخيستل، تر څو طالب راغي هډوکې يې امو دريا کې لا هو کړ.

ببرک په اخير کې په حقيقت اعتراف وکړ، هېواد اشغال شوی دی او خپل ځان د سلاکارانو په لاس اسير بولي، مګر بيا هم د شوروی د وتلو سره مخالفت کوي (د حزب ديموکراتيک خلق افغانستان) کتاب ۴۰۹ مخ او ۴۳۹ کې راغلي کله چې د K G B لومړی مرستيال، ببرک استعفا ته مجبور کړی و، ده وژړل او د مرګ هيله يې وکړه.

د شوروپانو د وتلو په مخالفت کې د نجيب په تخريب لاس پورې کړ ګرچه ګورباچوف پوهيدې چې نجيب هم په زړه کې خوښ نه ؤ، چې د شوروپانو لخوا دوی پر ميدان يوازې پاتې شي. اما استعمار همدا ډول وي نو د ده مقام هم خوښ ؤ، نشی چې ببرک غوندې ورټل شي. او د زور سره مخامخ شی شوروپانو کافی ګوډاګيان لرل او د ده پر ضد يې خپل ځينې پلويان د فراکسيون په ډول سره غونډ کړل، د غوايي پر ۱۴ مه کال ۱۳٦۵ د ببرك د واکمنۍ ټغر را ټول او بل وفادار شاګرد (نجيب) رويکار شو. ستر جنرال مايروف د خپل کتاب ۴٦ مخ کې دی هم (بي حيا او بې شرمه) بللی دی. د ولس په ژوند کې بدلون رانغی.

د ببرک ملی خيانت دلته پوره روښانه دي! چې لومړی د روسانو سره په ګډه په يرغل کې ګډون درلود. دويم وروسته د وتلو مخالفت وکړ، او د يرغل دوام يې غوښت؛ د ببرک په محاکمه اقدام و نشو.

ميتروخين د کی جي بي د کتاب په ۱۴۸ مخ کې د ليکوال زرياب د خولې د ۱۷ زرو تنه وژنه راوړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ببرک جنايات

۱. د ببرك جاسوسي ثابته د (ج، ق) ۱۹۴ ماده.

۲. د غير قانوني ګوند جوړل (ج، ق) ۲۲۱ ماده.

۳. ډله ييزې وژنې (جنګي جنايات) ۳۹۴ ماده (ICC)

٤. شکنجه د حقوق بشر په صراحت نقض (ق، ج) ۳۹۹ ماده.

۵. د دښمن داخلېدو (يرغل) ته زمينه برابرول، ۱۷۴ ماده.

٦. زنا او لواطت، جنسي تېرى، فس او فجور رواجول (ق، ج) ۴۲٦- ۴۲۹ مادې.

۷. خپله هم خراب ځواني تيره کړې ۀ.

په يرغل کې وکيل، نور احمد نور، ډاکتر نجيب، محمود بريالي، اناهيتا، سروري، ګلابزوی او وطنجار مستقيم شريکان دي. چې د شورويانو سره يو ځای پر وطن راغلل.

د يرغل تحمل او همکاري کې د ګوند ټول غړي او د حکومت کارونکي ور سره يو ځای مجرم دي چې د وطن د خرابۍ او وژنو سبب ګرځېدلي دي

۸. خپلواکي او ملي حاکميت تر مستقيم ګواښ لاندې راوستل (ملي خيانت)

۹. وطنوال ترک وطن ته اړيستل.

۱۰. د يرغل د دوام غوښتنه او د شورويانو له وتلو سره مخالفت.

البته سروري، وطنجار، ګلابزوی، نجيب، نور احمد نور، وکيل، مزدک، کاوياني، ډاکتر اناهيتا، محمود بريالي په ټولو جرايمو کې اتفاق او شراکت لري او د همدې سزا وړ دي، دوی د يرغل ملګري دي، ګوند يرغل تائيد او د يرغل ملګرتيا وکړه، مالي تاوانونه هم تر حساب تېر دي. د (ق، ج) د (۴۹) مادې پر بنا د اتفاق جرم سره مجرم دي.

چې البته حق العبدي به پر ځای پاتې وي او حق يې محفوظ دی.

مايروف: نجيب مفسد او بې وجدانه بللي: (پشت پرده های جنګ) کتاب.



# اوم فصل

**داکټر نجيب:**

**ببرک، نجيب روبای مکار وباله**

**د غوايی ۱٦ مه نجيب سپينه کودتا پواسطه واکمن شو.**

**شورويانو ببرک ترې ليرې کړ.**

د ډاکټر نجيب راتګ هم يو کودتا غوندې وه، بل وفادار شاګرد د خپل استناد په تخريب يا سياسي وژنې لاس پورې کړ د نجيب رويکاريدل هم يوه سپينه کودتا غوندې وه، پدې کې لکه نورو کودتاګانو غوندې د شورويانو مستقيم يا غير مستقيم پکې لاس ۀ نجيب د کارمليانو په تخريب لاس پورې کړ ببرک، نجيب يو (روبای مکار) وباله، او هغه بيت د ياد وايستي، چې:

**مـــوی سفيد را فلکش رايـــګان نـداد**

**اين رشته را به نقد جوانی خريده است**

د مي په ۴ مه کال ۱۹۸٦ د ۱۸ پولينوم کې ډاکټر نجيب منشي عمومي او د دولت مشر وټاکی. د ببرک پلويانو په تخريب لاس پورې کړې.

د شورويانو لخوا، بلخصوص د ګورباچف لخوا، ببرك مجبور شو چې د واکمنۍ نه ليرې شي. کوم څه چې بادار غوښتل، ډاکتر نجيب يې د اجرا لوز وکړ، ده د شوروي سپاهيانو د وتلو سره د ببرك خلاف چمتو والي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګند کړ، د ناچاري له مخې وعده وکړه، چې د سولې لار به هم ونيسي. يو بدلون راغي، مګر کړاو د پخوا په شان دوام درلود، تلاشۍ، بنديز، تحقيق، نيول او وژل بمباردمان د بخوا په شان دوام درلود. بدې جاياتو کې نجيب پوره تجربه درلوده. د نجيب د واکمنۍ دوره، پر دو برخو ويشل کيداى شي.

۱- هغه دوره چې د خاد مشر و، ډليزې وژنې کړيدي.

۲- هغه دوره چې د دولت مشرتوب کې قرار ونيوي دا ځلې پايلي ته ورسيد، په ډير مکاري سولې پلان رامخ ته کړي.

دى د پکتيا اوسېدونکى د طب د پوهنځۍ نه فارغ، د تحصيل د وخت نه د کمونست لارنيولې او په قساوت مشهور و، چې په (نجيب ګاو) شهرت درلود د ده ورور (صديق راهي) په خپل کتاب (نجيب را بشناسيد) پوره تشريح کړيدي.

صديق په يو ملي احساس او ميړانه د کورنۍ د اړيکو نه په غير د خپل ورور د نظام پر ضد د مقاومت سره يو ځای شو او په ډير مناسب وخت د نجيب د مخ نه نقاب ليرې کړ او د ده د اخلاقو افشا يې وکړل، او هغه بيان يې هم راوړيدي، چې نجيب ګاو، پر خپل يو هم صنفي جنسی تيري کړې ؤ، چې هغه مظلوم هلک تر اخيره روانی تکليف نه کړيدی.

ډاکتر نجيب په خپل مسلك کې کار ونکړ، د حزب د موکراتيك خلق د ګوند، د پرچم ډله غوره کړه، د خاد اداره يې پراخه کړه، او د کمونست مخالفين يې په بې رحمانه ډول وځپل د امين او تره کي ديکتاتوري ته دوام ورکړ، د شوروي د جاسوسي د اداري مشر (بريا) اکټ يې کاوه. د ببرک د ليريکيدو او د ده د راتګ سره د هېوادوالو په ژوند کې کوم بدلون رانغی.

بنديز، تلاشۍ، نيول، شکنجه او وژنې د پخوا په شان دوام درلود. تر پخوا يې هم ډېر ظلم او شدت وموند د وطنوالو په ځپلو شورويان سره په اخلاص او کلکه ولاړ و، هر ډول تبصره د نظام د مخالفت په مانا و، او د نظام ضد د



اشد مجازات سره مخامخ کيدو. د بشري حقوقو نقض او ډله ييزې وژنې دوام درلود.

د (زندان پلچرخي) کتاب ٦٦- ٦٧ مخونه ډاکتر پوهاند محمد عثمان روستار، د تحقيق او محکمې جريان نزاکتونو او باريکيو ته له دې کبله چې مسلکي حقوقندان دي سم پام کړيدي چې واك د بل چا و، پوهاند يو مثال راوړي چې قاضي القضات عبدالکريم شادان د قضا د خپلواکۍ خلاف د لومړی وزير کشتمند په ځواب کې وايي چې (اصل مرجع ته د (قربان علي) د کار په خاطر مراجعه وکړي اصل مرجع معلومه ده چې څوك دي دا جوته وي چې د قضا اداره هم د (شوروي دوستانو) په واك کې وه، بل ځای داسې ليکي:

((درين دوره محاکمه قضات ميکوشيدند، با شاهد چشم و ابرو به متهمين بفهماند، که شما با دفاع جانانه از خود، نزد ما برائت داريد، اما چه کنيم که دم ما زير پای ديگران است...)) مرګ پر داسې بې وجدانه قاضي چې د قضا خپلواکۍ نشوای عملي کولای بايد لکه نور ولس د مهاجرت لار نيولی وای.

کله چې مجاهدين کابل ونيوي لومړی کريم شادان قاضي القضات او عبدالاحد ولسي د عامه ولس د قهر سره مخامخ او په خپل لاس اعدام شول.

د (ولسي محکمې) لخوا په خپل لاس په قصاص محکوم او حکم تنفيذ شو دې وخت کې د خاد مامور قريشي د شکنجې نه ډېر کسان په عذاب و .

((تاريخ مسخ نمی شود)) په ٢٦٠ او ٢٦١ کې د (خاد) د کارکونکي، کوم چې ډېر فعال و، د احمد عرفان د محمد عوض زوی او د ده مېرمن نيلوفر د محمد اشرف لور، هم د خاد کارمنده و، د ١٣٦٨ کال کې کودتا کشف کړه، چې ١٣٦ تنه افسران زنداني شول. او د ډګروال صدرالدين او جنرال عبدالغني د (خاد) مامورينو لخوا شکنجې ورکړل کيدل. د دې کتاب په

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹۷ مخ کې راغلي، چې د زندان مدير جنرال رسول بې خدا په زرو کسان ژوندی ښخ کړيدي.

د ۸ صبح ورځپاڼه د ليندۍ پر ۲۰ مه کال ۱۳۹۵ يو لوی مضمون د حسن سيرت په قلم د (ديدار از کشتارگاه پوليگون) تر عنوان لاندې پرې مضمون (بياد بازماندگان قربانيان، زنده بگوران خواستار تامين عدالت از حکومت) خپور کړيدي... و (عدالت گمشده اصلي بازماندگان قربانيان جنگ در افغانستان...) حبيب رهياب چې پلار يې شهيد شوي دي، کوم لست چې د تحقيق د وخت رئيس امان الله عثمان لخوا بيرون ته راوتلي دي وايي: (چې په گورستان کې يو واقعي وحدت ملي ليدل کېږي، چې پښتون د هزاره په څنگ کې او هزاره د ازبك په څنگ کې او ازبك د تاجك په څنگ کې تر خاورو لاندې شويدي) بازماندگان عدالت غواړي.

الکساندر مايروف د خپل کتاب (در پشت پرده های جنگ) په ۱۵۳ او ۱۶۹ مخ کې نجيب او ببرك فرومايه او بې وجدان بللي دي.

نجيب، هغه کسان چې په هرات کې وسله پر ځمکه ايښې و، بيا هم ده تير باران کړه، (پشت پرده های جنگ در افغانستان) ۱۵۲ مخ.

کله چې جنرال مايروف خبر شو، نو يې وويل (( در زندگی ام ادم هاي بېرحم را ديده بودم، اما به اين پيمانه، نه، تو از آنها هم پليد و بد سگال استي)).

نجيب بايد د ده ملگرو سره، چې پلاني کړونو کې ور سره شريك او يا متفق و، هم مجازات شي، جنرال مايروف د هرات د پاڅون په هکله نجيب ته وايي، چې افغانستان کې د قانون او شريعت په څنگ (پښتونوالي) هم يو قانون دي، کله چې پاڅونوالو سره وعده وشول، چې وسله کېښېږدي او دې به د سزا نه معاف وي. نو (پښتونوالي د لوز ماتول اجازه نه ورکوي تا ولې داسې وکړل.؟؟)

هرات کې نجيب ډېر ويني توې کړې، همدا کتاب ۵۲۹ مخ.



نجيب وکولای شو، چې خاد ته پراختيا ورکړي، اما په حقيقت کې د (کي جي بي) يو څانگه و .

نجيب د مبادا ورځې لپاره، خپل ولي النعمت ببرك ته ۵۰ مواردو کې دوسيې ترتيب کړي وې چې د ببرك پر مخ به يې رايستلی چې پدې ډول د ببرك خوله پټه وساتي. (افغان- شوروي جگړه) ۴۲۹ مخ.

هغه جنايات چې د تره کي او امين په وخت کې د اسدالله سروري لخوا کېدل، د ببرك او پرچميانو په وخت کې د نجيب لخوا عملي کېدل.

د تره کي (کور کالي، ډوډۍ) د امين صاحب (عدالت او مصونيت) د ببرك وحدت او د نجيب ملي پخلاينه په عمل کې پياده نه شول.

کوم شرعي فيصلې چې د محاکمو لخوا صادرېږي، معمولاً د پاك خدای (ج) په نامه وي، مگر د کمونستي ادارې په وخت کې به د خدای (ج) په نامه نه؛ بلکه د حزب دموکراتيك خلق عنوان درلود.

په اعدام محکومين به په پټه خوله د کوټې د انډيوالانو نه وداع وکړه، او بخشش به يې وغوښت سرکښته اچولي روان شول، بې کفنه به تر خاورو لاندې شول، په اسلامي تنظيمونو سره همکاري په مرگ محکومه سزا و .

يو شمېر د محکمې فيصلې د نمونې په ډول وړاندې کوم چې تورنان يې ټول په اعدام محکوم او اعدام پر تطبيق شويدي، دلته ټول اجراات د انقلابيانو لخوا کيدو، مثلاً اخذ اطلاع يا راپور د (خاد) د مامورينو، چې خاديستان طبعاً ټول انقلابي و، څارنوال هم انقلابي و، چې د انقلابي څارنوالي په سر قرار درلود.

قاضيان هم انقلابيان و، بې طرفی د قاضيانو نه مراعات کيده. شورای انقلابي چې د تائيد صلاحيت و، هم طبعاً چې انقلابيان و، ببرك او ډاکتر نجيب د هغو وياړ په انقلاب کې و .

۱. فيصله ۳۶۴ ۲۸/ ۱۱/ ۶۳.
۲. فيصله ۳۲۵ ۱۸/ ۱۱/ ۶۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. فيصله ۳۴۹ ۲۳/ ۱۱/ ۶۳.
٤. فيصله ۳۵۰ ۲۳/ ۱۱/ ۶۳.
۵. فيصله ۳۷۰ ۸/ ۱۲/ ۶۳.
٦. فيصله ۳۰۳ ۱۵/ ۱۱/ ۶۳.
۷. فيصله ۳۱۹ ۱۷/ ۱۱/ ۶۳.
۸. فيصله ۳۲۴ ۱۸/ ۱۱/ ۶۳.
۹. فيصله ۲۸۴ ۱۴/ ۱۱/ ۶۳.
۱۰. فيصله ۳۴۱ ۲۱/ ۱۱/ ۶۳.
۱۱. فيصله ۲۹۴ ۱۴/ ۱۱/ ۶۳.
۱۲. فيصله ۳۶۰ ۲۶/ ۱۱/ ۶۳.
۱۳. فيصله ۳۲۲ ۱۸/ ۱۱/ ۶۳.
۱٤. فيصله ۳۴۱ ۲۱/ ۱۱/ ۶۳.

په عدالانه ډول، د انتقالي عدالت په چوکاټ کې ضرور دي، چې دا فيصلې د سره تجديد نظر شي.

سره د دې چې شورويانو ته نجيب منلی و، مګر خلقي او پرچميانو دواړو ور سره مخالف و او د نجيب دوهم ماموريت د ستونزو ډک و.

شورويان وغوښتل چې دا اور د چهرې د بدلون په واسطه څه ارامه شي او د تبنتې لار ورته برابر شي. ازمول شوي څيره او خپل ډېر وفادار ګوداګی رامنځ ته کړ، اما د ولس په ژوند يې بدلون رانغي. کور، کالي، ډوډۍ بيا د ياده ووتل.

نجيب هم لکه نور ګونديان د شورويانو په ثنا او صفت پيل وکړ، شورويانو ته برادر بزرګ خطاب کړ او د شوروي دوستي يې خپل ملي شرف وباله، د وکيل کتاب ۴۵۹ مخ.

شهسوار سنګروال د شيبا رشين په حواله د تانند ويبپاڼه نېټه د مارچ ۲۵ کال ۲۰۱۸ ليکي چې نجيب د شوروي د ګټو دفاع کوله.



# د نجيب اداره

د ده په کار ي ټيم کې غلام فاروق يعقوبي چې په خاد کې د ده مرستيال و، پر خپل ځای د (خاد) وزير وټاکی او د (خاد) نوم يې په (واد) بدل کړ، يعنی وزارت امنيت دولتي نوميدې.

کشتمند او بيا حسن شرق لومړی وزيران په اخير کې فضل الحق خالقيار هم لومړی وزير شو.

عبدالوکيل د بهرنيو چارو وزير.

ګلابزوی د کورنيو چارو وزير.

جنرال نظر محمد د دفاع وزير.

شاه محمد دوست وزير دولت.

حاجي محمد څمکنی کفيل رئيس شورای انقلابي

او دا لاندې د کمېټې مرکزي غړي او يا علي البدل غړي وټاکل:

امتياز حسين، ياسين صادقي، عبدالغفار لکڼوال، ايوب کارګر، احمد شاه سرخابي، فدا محمد ده نشين، جنرال ګل آغا، دکتور فاروق، محمد نسبي جويا، مجيد زاده، نعمت الله، حميد پويا او خليل کاريګر.

د فضل الحق خالقيار کابينه:

محبوب الله کوشاني، عبدالصمد سليم او محمد انور ارغنديوال د لومړی وزير مرستيالان.

معصومه عصمتي د تعليم او تربهي وزيره.

غلام محي الدين دريځ د عدليې وزير.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهر محمد اعجازي د روغتیا وزیر.
فاروق اعتماد د امور اجتماعي وزیر.
محمد حکیم اصفي د مالیې وزیر.
صدیق سیلاني د شئون اسلامي وزیر.
غلام محي الدین شهباز د پلان وزیر.
انجنیر غفران د کرهنې وزیر.
محمد انور دوست د صنایع وزیر.
فقیر محمد نیکزاد د کور جوړلو وزیر.
انجنیر عبدالصمد صلاح د معدن وزیر.
ډاکتر ودیر صافی د هوانوردي وزیر.
انجنیر محمد نسیم علوي د مخابراتو وزیر.
میر عبدالغفور د اوبو او بریښنا وزیر.
داکتر محمد انور شمس د لوړو زده کړو وزیر.
فتح محمد د مهاجرینو وزیر.
ذکیم شاه د تجارت وزیر.
انجنیر حیات الله عزیزي د کلیو او پراختیا وزیر.
داکتر نور محمد بریځ مشاور وزیر.
فقیر محمد مشاور وزیر.
اما ددې په څنګ کې کلیدي وزارتونه بیا هم د ګوندیانو لپاره و، لکه:
وکیل د بهرنیو چارو وزیر
وطنجار د دفاع وزیر
یعقوبي د (واد) وزیر
راز محمد پکتین د کورنیو چارو وزیر
خلیل د ترانسپورت وزیر
بشیر احمد رویګر اطلاعاتو او کلتور وزیر



سیداکرام پیګیر مشاور وزیر.
پورته کې راغلي وزیران ځینې هغه کسان دي، چې هم پر میخ وهي او هم پر نعل.
نجیب د ملي پخلاینه په څنګ کې وژنو ته دوام ورکړي او روسانو ته (ماست مالي) د لاسه نه وه، ورکړې لکه وکیل پخپل ۴۶۰ مخ کې د نجیب دا جملې راوړي، چې روسانو ته خطاب کې وایي: ای انقلابیون، ای لیننیست ها، برادر بزرګ، دوستي با شوروي، شرف ملي ماست او نور او نور. ګرچه دا ټول ځای و نه نیوي بالخصوص کله چې لومړی د سټنګر راکټ د حزب اسلامي د قوماندان انجنیر عبدالغفار لخوا په جلال باد کې وتوغول شو، مجاهدینو مورال نور هم لوړ شو، غلام فاروق یعقوبي چې په (فاروق ګیریوك) مشهور و، نشوای کولاي چې د مجاهدینو مخ ډب کړي.
اعدامو په نامه وژنو دوام درلود، کمکی هلکان چې په اعدام محکوم و، تر هغه وخت پورې به وساتل شول، چې سن به یې ۱۸- ۲۰ ته ورسید. د نړیوال میثاق خلاف عمل دي.
داکتر حسن شرق د خپل کتاب ۲۲۳- ۲۲۴ مخ کې (ملګری) متکرر مجرمین بللي دي.
شرق د خپل کتاب ۲۷۳ مخ کې داسې بیان راوړي. ((کله چې اردو د پرسونل لخوا په کمبود مواجه شو، ډاکتر نجیب امر وکړ، چې کم سن، هلکان د اصلاح سن په واسطه، عسکري ته برابر کړي، په حقیقت کې هغه هلکان ۱۵ یا ۱٦ کلن و .
نجیب د دیکتاتورۍ تر عنوان لاندې کوم ناورین چې پر هېواد راغلي و، پشپړل نقش درلود هر ډول جنایاتو البته د نور ګوندي او انقلابي ملګرو سره مرتکب شو. اما ناکامه شو، چې په ولس کمونیزم ومني، وایي چې په زور کلي او کورنه کېږي، د ده دومخې سیاست، چې یو لاس کې د پخلاینه پلان او بلې خوا وژنې، بمباردمانو هم څه رانه وړه، ډېر ې ستونزې لري، امینیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلقیان، تره کیان او کارملیان د ده په ضد و، د ده د جنایاتو کیسې لکه وژنې، بې ناموسۍ او ملي خیانت ډېرېدي.



# د نجیب د بې ناموسۍ یو مثال

د جنرال الکساندر کتاب در پشت پرده های جنگ در افغانستان ۳۳۴ مخ دا یوې پېښه بیان د قضا لوړ مقام ته وړاندې کوم:
د جنوري په ۱۴ مه کال ۱۹۸۱ د قواي دوست دو زره پوشونه د هېواد د کوم کلی کوڅو کې د ګزمې په شان په ډېر غرور تیرېږي او ځان فاتحان بولي د کلو دیوالونه ټیټې دي چې ګوري یو کور کې پسونه ولاړ دي، ملګري ته غږ کوې، هلکه ودراوه، تر دیوال ور اوړي پسونه زره پوښو ته پورته کوي، چې ګوري کور کې ښځې هم شته ده، چې د دوی پام ور اوړي او یو بل ته وایي، چې بد نه دي، ور پسې منډې وهي، پدې کور کې نارینه هم شته هغه نارینه په بله کوټه کې قلفوي، نارینه ممکن ښځو ورور، پلار او یا میړه وي، ښځې نیسي او پرې جنسي تېری کوي، هغه کور کې ماشومان هم و. یو یې هلته په تناره کې پټېږي، وروسته ددوی پرې فکر راځي، چې دا کسان باید ووژل شي، واړه او زاړه ټول وژنې او سر پر سر یې اچوي، کټونه، پردې او پړستنې پر اچوي د ټانګ او زره پوښ بنزین راباسي او پر اچوي او اور ورکوي.
سبا پېښه رسانه اي کېږي، لوړ پوړي روسانو، د همدې پېښه د پوستې مسول ته هدایت ورکړ، چې د پېښې نه انکار وکړي د پوستې مسول د وجدان په حکم که څه روسي او کافر دي، محاکمه او سزا ومنل، اما تر حقیقت تیر نه شوي، مګر د افغان ولسمشر ډاکتر نجیب په ټیټ وجدان او په ټینګه بې ناموسي دا عمل د مجاهدینو لخوا وباله اعلان وکړ (چې اشرارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قواي دوست په يونيفورم کې دا جنايت وکړ) ځينې شته دی چې دې خائين ته لا اوس هم شهيد وايي. نجيب بايد (ق، ج) د ۱۸٦ او ۲۳۲ سره محاكمه شوي وای.

داسې پېښې نور هم تر شوي دي، پوهاند ډاكتر محمد عثمان روستار تره كي هم د خپل كتاب (محاكمهٔ جنايتكاران جنگ در افغانستان) په ۳٦ مخ كې راوړيده.

ډاكتر نجيب د جرم پټولو په جرم، شريك جرم دی او د حقيقت نيولو سر يې خپله دنده، نده پر ځای كړ د اجباري زنا او د وژنو شريك مجرم دی، پښتونوالي خو، بې له دي، ده نه درلود.

نجيب د اذهانو د فريب په خاطر د گوند نوم د (وطن د گوند) په نوم بدل كړ، اصلاً يوازې نوم بدل شو، څيرې او پاليسي او بدنامې هغه وې، كوم چې د دوی زده وې، او يا ورته هدايت و، په ملي پخلاينه هم د چا باور رانغلی او د ده گوندي ملگرو هم ور سره مرسته نه درلوده، څرنگه چې اخلاص پكې نه و، د ده طرحې ناكامې شولې، نجيب هم تورن اسماعيل خان د هرات د مجاهدينو قوماندان او احمد شاه مسعود غيابي محكمه په اعدام محكوم كړل. مجاهدينو يوازې پدې راضي كېدل، چې كمونستي نظآم ړنگ او جنگي جنايتكاران محاكمه وشي او دا محاكمه د جهاد تداوم بولي.

د بلې خوا شوروي تلوار درلود، چې ژر خپل سپاهيان وباسي، تر څو د ملگرو ملتونو مرسته و غواړي دې پروسې هم دام و موند، د وتلو پروسه يې د ملگرو ملتود لارې او د هغو په واسطه غوښتل.

په لومړيو كې دا طرحه د افغانستان لخوا، شاه محمد دوست مخ ته وړل او وروسته كې، كله چې عبدالوكيل د بهرنيو چارو وزير شو، هغه ته وسپارل شول. طرحه داسې وه، چې د ملگرو ملتو له خوا (كورد ويز) او د پاكستان د بهرنيو چارو وزير (زين نوراني) په كې د سولې طرحه مخ ته يوسي او د افغانستان او پاكستان ترمنځ د سولې يو قرار داد وشي په حقيقت كې



پاكستان بايد هيڅ مطرح نه واي، موضوع د مجاهدينو او د روس ترمنځه وه شورويانو، د مجاهدينو پر ټاټوبي او هېواد باندې يرغل كړی و، د افغانستان كمونستي دولت هيڅ مطرح نه و، مگر داسې و نه شول... شوروي خپل ځان ذيدخل نه باله، تر څو د پاكستان او افغانستان كمونستي رژيم د سولې تفاهم نامه لاس ليك شوله، چې مجاهدينو و نه منل، خو د شوروي د قوا و، د وتلو ته لار هواره شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کب ۱٦ مه ناکامه کودتا

## شهنواز تڼی

گونديان د خراب د روزنې او بد، خصلت پر بنا، څرنگه چې د دې گوند شهواني غرايز او بې وفايي د اصولو په توگه منلي دي، د رژيم د دفاع وزير جنرال شهنواز تڼی په کال ۱۳٦۸ د کب ۱٦مه د خپل ذاتي خاصيت پر بنا لکه څنگه امين پر تره کي او نجيب پر ببرك بريد وکړ، همدا ډول تڼی پر نجيب بريد وکړ، مالي او جاني تاوانونه واړول، ډير بې گناه د کابل ملکي کسان ووژل کېږي، کابل ښار به خراب شي يو پلو هم پروا نه لري، پدې اخ او ادب کې يوازې د ملت مال ٤٦ مختلف الډوله الوتکي خرابې شوې، دواړه خوا تلفات درلود، تڼی، پاکستان ته تسليم او د څو بريتورو جنرالانو د دو الوتکو په واسطه او خپلې کورني د غړو سره پاکستان ته و تښتيد.

قادر په خپل کتاب په ٤١٦ مخ کې د تڼی د تيښتې ملگري

جنرال حمزه

بريد جنرال غلام رسول پيلوټ

جنرال نظر محمد

نياز محمد مهمند

گلاب الدين پيلوټ



بريد جنرال خواجه محمد شفيع

ډگروال حاجي سيف الدين

جنرال عبدالقادر (اکا) او د تڼی مېرمن پاکستان ته دوو الوتکو په واسطه ورسېد او تسليم شول، الوتکي يې هم دښمن (پاکستان) ته تسليم کړه، چې بيا يې چا پوښتنه هم و نکړ. (د عظيمي کتاب ٤٩١ مخ).

عظيمي د خپل کتاب ٤١٠ مخ کې د تڼی د کودتا کډون کوونکي، جنرال اصف شور، ډگروال کبير کارواني، ډگروال جعفر سرتير، ډگروال محمد زی نيکمل چې ووژل شو، جنرال شيخ محمد باور، جنرال دوست محمد، جنرال عبدالحق، جنرال حکيم نوري، ډگروال خان محمد، جنرال خان آقا مموزی، جنرال حمزه، جنرال هاشم څارنوال، جنرال فتح محمد رئيس لوژستيك، ډگروال عمر زراعتي، ډگروال غلام سيد، نظر محمد ډگروال، معصوم ستانکزی او داسې نور ملگري لکه: زيري، پنجشيري، مير صاحب کاروال، جنرال فاروق قومدان توپچي، جنرال قادر اکا، جنرال فقير، جنرال حضرت راوړيدي. کارواني، اصف شور، جعفر سرتير ونيول شول او د ډگروال حبيب الله لخوا ووژل. عبدالرحيم ستانکزی او ډگروال فيروز سيا د ډگروال بابه جان لخوا وژل شول، نور هم يا ووژل او يا هم بنديان شول.

او د همدې کتاب ٤٢١ مخ کې د تڼی مخالفين او د نجيب پلويان داسې راوړيدي، جنرال حسام الدين حسام، ډگروال بابه جان، جنرال امير محمد، ډگروال حبيب الله، اصف دلاور، جنرال سيد اعظم سعيد، جنرال جلال رزمنده، جنرال عبدالرزاق، جنرال عبدالستار، جنرال قادر مياخيل، جنرال محمد الروف بيگي، ډگروال اشرف ناصري، ډگروال ابن يمين، جنرال علي محمد، جنرال همايون فوزي، ډگروال عبدالمجيد روزي، جنرال انور، جنرال فتاح رحيمي، جنرال رحت الله، جنرال عتيق الله، ډگروال عبدالرحيم، ډگروال محمد عالم رزم، ډگروال امام الدين عبادي، ډگرمن کبير مردمي، تورن نورالله، جنرال عظيم زرمتی، ډگروال دريا زرمتی، جنرال ولي، جنرال

(c) ketabton.com: The Digital Library



محسن هلال، جنرال هاشم، ډګروال هاشم زرمتی، جنرال محمد کاظم، جنرال امام الدین، جنرال عبدالله، جنرال خطاب، جنرال ظاهر سوله مل، جنرال شیر محمد، جنرال صدیق ذهین، جنرال نبي عظیمي، ډګروال مصطفی، جنرال عبداللطیف او جنرال عزیز حساس راوړیدي. کله چې ګوندیان او د انقلابیانو د خپل منځي شخړو له کبله، به ښکر په ښکر شول، ډېر ملکي او بې ګناه کسان به د منحه لاړل، چې د بازخواست مجال یې تر اوسه نشته، ډېر عامه تاسیسات لکه د غوایي پر اووم، د مرغومې پر شپږم پدې کودتا کې هم له منځه لاړل.

دغه دواړې خواوې د وژلو او د خرابۍ مسول دي، چې باید مجازات شي او تاریخ ته مختوري دي، دوی پر هیڅ چا آن پر خپلو ملګرو زړه سوی نه درلود.

جبار قهرمان خپل اطاعت نجیب ته اعلان کړ، جنرال مصطفی قهرمان هم د ټنی په مخالفت کې و، قهرمان هغه څوك دي چې د اشرار په نامه (خپل وطنوال) ډېر وژلي وي نو دا مقام تر لاسه کولای شي. د نجیب په مقابل کې د دفاع وزیر شهواز ټنی مخالفت او پوځي پاځون د خپلو جنایاتو تبرئې او جبران په خاطر او یا یو ملی احساس باندې ندي شوي، بلکې په دې ایډیالوژي تل یو پر بل برید کړې دي، اما ډیر تاوان ولس واخیست.



# د جنګي جنایاتو دوام

استاد تره کی چې پخپله حقوقدان دی د خپلې محکمې جریان د لوبې په شان بولي او د اختصاصي محکمې د (الف دیوان) رئیس خلیل سکندري ښودلی دی.

استاد داکتر محمد عثمان روستار کتاب ۷۵ مخ کې راوړیدي چې عبدالجلیل د پوهنتون فارغ د غزني اوسېدونکی د فرار خدمت په جرم په اعدام محکوم شو. اصلاً زه مدعی العوم باید په خپله دعوا کې د مستندو اسناد چې د زندان پلچرخي کتاب کې استاد روستار نشر کړی دی، چې د انقلاب د لوبغاړو د محاکمې لپاره کافي دی او د محکمې قناعت به د سزا لپاره کافي شي

د خلیل حیفی، پوهاند کاکړ یاددښتونو او پلچرخي کتاب ډېر ارزښتناکه دي. د ذبیح الله امانیار د امان الله الکوزی زوی هم مستند کتاب دی چې د انقلابیانو د جنایاتو د ثبوت لپاره د استاد روستار کتاب په شان د زندانیانو شکنجې او واقعیت کیسې راټولې کړي دي.

امانیار د خپل کتاب په ۴۳ مخ کې د تحقیق د کارمندانو نمونه لیکلي چې جنرال قادر هم پخپل کتاب کې ورته اشاره کړی ده. دا کسان دي ترون، جیلاني، مصطفی، سروري، اکبري، شهزاده، ګل سعید د سردار محمد زوی، د محبس مدیر سید عبدالله او سرباز ګل آغا جهاني شهرت درلود. زه دلته د ټول کتاب له تفصیل څخه صرف نظر کوم یوازې قضا مقام ته زما د دعوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ثبوت لپاره د شکنجې اسنادو په توګه مجنی علیه کسانو د شهادت لپاره کشتارګاه کابل نمونه وړاندې کوم چې دا دي:

۱. محمد انور غلزايي د اکاډمي علوتم استاد ۲۷ مخ.
۲. سندیګل محبوب جوان تحصیل کرده ۵۲ مخ.
۳. عبدالودود کارمند اجیر ۷۰ مخ.
٤. غلام جیلاني هوايي نظامي ۸۴ مخ.
۵. مولوي عبدالروف نافع خطیب هرات ۹۷ مخ.
٦. قسیم قاضي ۱۱۸ مخ.
۷. محمد فهیم څارنوال ۱۴۵ مخ.
۸. صبور الله سیاسنګ ۱۱٦ مخ.
۹. محمد امین معلم ۱۸۸ مخ.

د ملګرو ملتو د بشري حققو کمیساره د جنرال نبي عظیمي له بیان په حواله لیکي: د څرخي پله زندانهیان بې محاکمې د شپې لخوا اعدامیدل او په هغو ګودالو کې چې مخ کې به ورته چمتو او تیار شوي و تر خاورو لاندې اچول. د انقلابیانو هدف روښان و چې ټولنیزه رهبران، سیاسي، دیني کسان، قومي مشران، روشنفکره کسان، مسلمانان، کاريګران، محصلان، شاګردان د دوی پکار و، چې له منځه یوسي، د ښښنې نړیوال سازمان د ۱۹۷۸ کال د اګست په میاشت کې په خپل ګزارش کې راوړیدي، چې یو لوی شمېر محصلان ونیول او ووژل، د (فاجعه ثور) په نوم، ۱۵ مخ کې لیکي چې د جوزا کال ۱۳۵۸ د پلچرخي زندانیان په یوه شپه ۱۸۰ وژنې ته ګوته نیولي ده.

همدا کتاب په ۳۴ مخ کې صراحت لري، چې د غوايي کودتا نه خلقي و، نه پرچمي؛ یو روسي کودتا او د انقلاب کبیر اکتوبر دوام و، د کتاب لیکوال زیاتوي چې یو ولسوال د ملك زوی بندي او سر په نیست کړ، او ولسوال که څه هم ښځه درلوده، د یو خان ۱۴ کلن لور په نکاح کړه، دا و د سوسیالیزم لاس ته راوړنه.



لیکوال د خپل کتاب په ۲۷۹ مخ کې ادعا کوي چې د وکیل د خور ثریا دا اعتراض د کارمل د وحدت حزبي د تیوري په مقابل داسې بیانوي، چې آیا څنګه وحدت کیدای شي چې د سروري لګیدلي سګریټ به (زما په سینه) کې خاموش کاوه، ادعا ته دوام ورکوي چې په کال ۱۹۷۹ کې د ښښنې نړیوال سازمان (لندن) زندانیان ۵۰ زره تنه، بې له محاکمې اعدام او ټول شکنجه شودلې دي. (۲۸۰ مخ). دی زیاتوي چې ډاکتر نجیب او خاد تر سرورويي او اګسا څه کمی نه درلود.

دی زیاتوي: د کب درېیمه کال ۱۳۵۸ د کابل پاڅون د (الله اکبر) په نارو پیل شو، د کندهار پاڅون ته اشاره شویده، چې په همدې ورځ ۳۰۰ تنه شهیدان او په زرو زخمیان شول. دی په ۲۸۲ مخ کې زیاتوي چې تر ۲۰۰ تنو زیات متعلم او محصل ووژل شول. ببرك هم قساوت کې تر امین کم نه و، د خاد او اګسا کار کوونکي د سادیست په مرض مصاب، هر یوه په شکنجه کولو کې خپل ابتکار څرګنداوه، خشونت، تعذیب، شکنجه،جنسی تجاوز او ژوندي ښخول کوم ممانعت نه و، د هغه وخت د حقوق بشر راپور کې راغلي و.

سروري په وژنو کې خاص مهارت درلود، په کم وخت کې د ده د قصاب خانې نه په زرهاو کسان شهیدان شول.

رژیم د تصفیې په پلمه د وژنو او زنداني کولو بله پروژه نه درلود، د دې دو تنو په لاس او یا د دوی د اداري لخوا وژنې کېدل، اګسا او خاد بندیز چې څو کاله دوام وکړ، د تالاشي په پلمه کورنو ته ور داخل شول.

داکتر پوهاند د (زندان پلچرخي) کتاب په ۱۹ مخ کې د شرعیاتو د پوهنځی محصل عبدالوکیل او د لوګر اوسېدونکی د خولې بیان راوړیدي، چې د تحقیق په جریان کې د اګسا د مامورینو اسدالله رحماني او حبیب مومند څنګ ته روسان ناست او هدایت ورکاوه: د شکنجو هدایت ورکاوه، خلیل حیفی د (فاجعه کابل) کتاب په ۷۷ مخ کې داسې بیان لري: (نعره های دل

(c) ketabton.com: The Digital Library



خراش بې ګناه هان و هربار تا تلخی جانکدن و لب ګور متحمل می شدم...)

حيفی دا هم زياتوی: (نام محبوسين را به عنوان رهايي ميخواندند، آن ها بالاخره از قيد حيات رها مي شدند.)

عمرزی هم د تحقيق په جريان کې د برقي شوکونو يادونه د خپل کتاب په ۱۷۲ مخ کې راوړيده. د خپل کوټې د ډاکتر نسيم لودين د زړه سوی او مرستې مشکور دی ډېر زندانيان د تشابونو د کمبود نه شکايت درلود. چې يوازې په ورځ دوه وخت به نوبت بايد ګټه پورته کړيوای، تشناب ته به نوبت ولاړ و، آن کله چې به د پروګرام نه په غير ضرورت شو، د کوټې په داخل کې د نورو زندانيانو په مخ کې پلاستيکي کڅوړې کارول، د عمرزی کتاب ۱۷۹ او ۱۸۳ مخونه.

کتاب (فاجعه کابل) د خليل حيفی د سترګو ليدلی او راغلي حالت په ۳۹ مخ کې داسې بيانوي، چې په سوال او جواب، را باندې حمله ورشول، بالاخره غږ وکړ، چې برقي الات راوړي، حيفی دا هم بيانوي چې په همدې شپه، څو وار مړ او څو واري ژوندي شوم.

حيفی په ۷۹ مخ کې د برقي شوکونو بيان داسې کوي: (حلق او ستونې به مې په دې اندازه وچ شو، چې فکر مې کاوه، چې په عمر مې اوبه نه دی څکلی او تودې څپيړې په مې پر مخ حواله کيدې، دی نور هم زياتوي، چې شکنجه به د دې وژونکو لخوا ځنکدن حالت ته ور سولم.

حيفي په ۸۲ مخ کې د څو کسانو د محافظينو لخوا وژنه په خپل سترګو ليدلي حال راوړيدي. چې مخ کې ورته ګودال د قبر په مانا ورته جوړ شوی و، په همدې مخ نوموړي د هوايي افسران د يونيفورم سره او روحاني کسان د خپل عمامه سره د ملي نواميس د دفاع او يکتا پرستی په جرم را کشيدل.

[د جناياتو بل مثال]



ذبيح الله امانيار د خپل کتاب (سيمای زنده به ګوران قلعه مرګ) کې د شکنجې په باره کې د هغو کسانو مرګ په تفصيل راوړي، چې چانس راوړي، چې د دې قلعه نه ژوندي را وتلي دا دي:

۱. محمد انور عليزايي وايي د شپې پر ۱۲ بجو د نور جان شينواري لخوا د څو نور کسانو لخوا يوورل شوم، چې ۳ کلنې لورمې ژړل چې زه هم ورسره ځم، د وهلو او ټکولو په سګريټو سوځل، برقي شکونه، سر دوېښتانو کشول، اوبه پاشل، په ميز پورې تړل، د غاښونو ماتول او د نوکانو ايستل په تفصل سره بيان کړی دی د همدې کتاب ۳۷ مخ کې عليزايي دا هم زياتوي چې د محبس په کوټه کې ورسره کسان د هرات وکيل شاهپور، محمد انور مشهور (په هفت بلا) او بنا خان، ظاهر خان او حاجي ادم خان، جنرال قادر را وغوښتل غير حق او غير قانوي زنداني شول، عليزی د تحقيق هيئات هغه مشهور وژونکي لکه ترون، جيلاني، مصطفی، سروري، اکبري، شهزاده، ګل سعيد او نور معرفي کوي، دی دا هم زياتوي، چې مېرمن زما د سرنوشت په هکله سردار محمد (ولي) د نظامي خاد رئيس ته عريضه کوي، بالاخره ورته وايي چې دا ميړه دې تبنتيدلي، ته کولای شي په دې موږ ناستو کسانو کې يو خوښ کړې.

۲. منډيګل محبوب ۵۲ مخ: دی د خپل مستنطق جلال هوفياني چې وروسته يې نوم جلال رزمنده شو بيان راوړي، د تحقيق په جريان کې د څو کسانو په تحقيق کې چې په کوما حال کې ورباندې راغی، بيان راوړيدي. په لاس او پښو پورې مې د برق سيمونه وتړل، چې دوی به دې سيم ته (قايل شا) ويل. دی دا هم زياتوي، چې د يو ۱٦- ۱۷ کلن هلك په مقعد کې د فانتا بوتل داخل کړی و، په کوټه کې هم ځای نه و، په نوبت به ويده کيدلو زه يې په يخ کانټينر کې واچولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبوب وايي، چې موږ ۷۵ تنه بۀ يوه قضيه کې نيول شوي و، د هغې جملې نه ۱۴ تنه په اعدام او نور د ۱۴- ۱۵ کلو حبس محکوم شول، د حشمت کياني څارنوال د ظلم بيان راوړيدي. دی د اشرف ګل اعدام هم بيان کوي.

۳. غلام جيلاني ۸۳ مخ، د خپل لت و کوب او شکنجې په تفصيل بيان راوړيدي، دی هم تر ډېرو د تشناب د نه امکاناتو نه شکايت لري. ان کله، کله به د ډېر ضرورت لپاره په هغه ظرف کې چې د غذا لپاره و، رفع قضای حاجب کاوه، کله چې به په تشناب نوبت ورسيد نو هغه به يې پريوال.

نوموړی دا هم زياتوي، چې د انقلابي محکمې د رئيس عبدالکريم شادان لخوا بې له ثبوته ډير کسان په اشد مجازات (اعدام) محکوم شول.

جيلاني د يو بل د کوټې د ملګري امان الله نومي د لغمان اوسېدونکی چې د حزب اسلامي د غړيتوب په جرم نيول شوی و، بيان کوي چې د اقرار ترلاسه کولو لپاره يې د ده مور راوستلی و، او تهديد کړ، چې د نه اقرار په صورت کې به جنسي تجاوز پرې وکړي.

ذبيح الله امانيار د خپل کتاب ۷۰ مخ کې د عبدالودود، ۹۷ مخ کې د مولوي عبدالروف نافع جرم په مسجد کې د افتتاح په ورځ پر ببرك کارمل د تيږې وارول و، په ۱۱۹ مخ د مولوي محمد قسيم په ۱۴۵ مخ کې د محمد فهيم نايب، هم د شکنجو بيان او د اختر ګل د پغمان د اوسيدونکي د اعدام بيان راوړيدي په ۷٦٦ مخ کې.

د ډاکتر صبور سياسنګ، په ۱۸٦ مخ کې د محمد امين معلم، پخپل بيان کې چې د خپل کاکا زوی عبدالقهار لخوا چې حزب ته د جذب شوی و په دې خاطر د محمد صديق عالميار تر فشار او شکنجې لاندې په اعدام محکوم شو بيان يې راوړي او دا هم زياتوي، د محمد اشرف د تره بل زوی يې هم اعدام شو او د تحقيق مامور موسی ښودلې دی.

۲۰۲ مخ کې د حيات الله کارګر د توقيفي بيان او په ۲۲۲ مخ کې د قاضي ګل رحيم احمدزی ښه بيان راوړيدي، چې جوالي د پړی سره او سګريټ



فروش د ټبنګ سره هم په کوټه کې ورسره زندانيان و، قاضي احمدزي د خپل تحقيق مامور يو هراتي او بل هاشم قيومي معرفي کوي، قاضي د خپل کوټې د يو نفر بيان داسې راوړي چې سپين ږيری دومره شکنجه شوی داسې چې د چا يو، پياله به يې نشوای نيولای، بيا هم د تحقيق په جريان کې لت و کوب شوی و.

۲۳۵ مخ کې د نورالله مامور د خولې بيان دی وايي چې په زندان خوښ وم، کالي او کور خالي و، ټولو فرار کړی و، وطن غم خانه و. امانيار داسې بيان ته دوام ورکوي:

چې غلام فاروق زر شوی ۲۴۳ مخ، د خپل تحقيق د روسي مشاور د خوا بيان لري، وروسته د فضل الرحمن مستنطق ته سپارل کېږي. دی د ډګروال شاه محمد او سيد نعمت الله د شکنجو بيان راوړيدي، ۳۵ تنه د خوشي کيدو په پلمه ټول پوليګون ته يوړل، د ده ملګري احمد شا هم ور سره و، د داود د اعدام بيان په ډېر تراژېدي سره راوړيدي. زر شوي د روژې په مياشت کې د ۳۰۰ تنه د اعدام تفصيل راوړيدي، او دی تر اعدام وړاندې د وينو د ايستلو بيان هم راوړيدي او د عباد الله د خاد مامور د قاچاق بيان هم ليکلي دي، دی هم د څارنوال حشمت کياني ظلم بيان کړی دی.

غني کلوله تحقيق بل نفر و، چې د کياني د ظلم بيان لري، د عادل نومې د شکنجنې بيان، او د عمر څلورم صنف محصل پدې اندازه شکنجه شوی و، چې عصاب يې له لاسه ورکړی و، دی د ۷۰۰ تنو د اعدام بيان لري، زرشوی د تحقيق په جريان کې آن د يوې انجلۍ د شکنجې له امله د هغې چيغو بيان راوړيدي. د شپې د خوا د تحقق په جريان کې ودکا څکل رواج او ټولې شکنجې يې د روسانو د خوښې لپاره وې، زرشوی د صالح مشتري د دوی د کوټې ملګري اعدام نقل کوي.

د ۱۳۵۷ کال په منځ کې په يوه شپه د ۱۰۰ تنو وژل. (زندان پلچرخي کتاب ۱۲۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (کي جي بي در افغانستان) کتاب په ۲۳۲ مخ کې د ببرك، کشتمند، قادر او رفيع لخوا بيان راغلي دي، چې د اګسا مشر سروري د ډېرو جناياتو ارتکاب تاييدوي. د همدې کتاب ۱۰۹ مخ د امين لخوا د اګسا مامور سلطان ګل او د روغتيا وزارت مامور سورګل وژنه راوړيده.

ګونديانو بالخصوص پرچميانو خپله پايښت او ټينګښت د يرغل تر سيوري لاندې ليدې، لکه جمله پلوشه د مرکزي کميټې على البدل غړي داسې بيان کوي: ((هم کاري بي غرضانه و برادرانه همسايه بزرگ شمالي، تمام پلان هاى دشمنان نظام نوين را خنثى ساخت.))

پوهاند روستار د ګزارش په دوام ۴۳ مخ درې تنه نامتو شکنجه ګران: (شير محمد، رجب او محمد احسان ښودلې دي استاد د ۴۲- ۶۰ مخ پورې د ۲۹ تنو زندانيانو لکه: قربان علي ولد عبدالله، دراني د رمضان زوی، نعمت الله جاروکش، سيد محمد سيلابي د ارغنداب ولسوال، حاجي عبدالرحمن د حاجي عبدالوهاب زوی، قدرت الله معلم د پغمان اوسېدونکی، حاجي عبدالظاهر د حاجي عبدالرشيد زوی د کندهار اوسېدونکی . تازه ګل د محمد علم زوی عبدالرزاق د محاذ عضويت، فرهاد ده خدايداد اوسېدونکی، دين محمد د جان محمد زوی د قلعه قاضي اوسېدونکی حاجي فدا محمد اختر محمد زوی د کندهار د ډنډ اوسېدونکی، غلام مجتبى افسر، محمد اکبر د لوګر اوسيدونکی، شاه محمد د خان زوی د کندهار اوسېدونکی، حبيب الرحمن د سيدالرحمن زوی د پنجشير اوسېدونکی، عيد محمد د غور اوسېدونکی - عبدالجليل د غزني اوسېدونکی، مير هاشم د مير پادشاه زوی ډريور، محمد شاه دهقان د فراه، محمد ظريف د خير محمد زوی د ميدان اوسېدونکی، حاجي عبدالرشيد د لغمان اوسېدونکی محمد اکرام په ملا بزرګ سره مشهوره- دا د مير د نظر محمد زوی د پکتيکا، ولي محمد د غنی زوی آشپز، محمد صادق د عبدالرزاق زوی د وردګ، عبدالحبيب د دراني زوی د ميدان، ګل محمد د محمد سالم زوی



د شبر غان اوسېدونکی دا هغه کسان دي، چې ډېر شديد او سخت شکنجه شويدي، چې مرتکبين د دی عمل د (ج، ق_ د ۳۹۹ مادې په اساس متوسط حبس محکومېږي.

د شکنجې ډولونه د استاد روستار (د زندان پلچرخي) کتاب پوره او ستند ياد داشت شويدي. وهل، خفه کول، يخ کې درول، پر تاوده منقل درول، برقي شوکونه ورکول، بې خوبې ورکول په ساعتو، ساعتو ديوال ته درول، تشناب ته نه پرېښودل، د نوکانو ايستل د بې ناموسي په منظور د کورنۍ ښځينه غړي ورته راوستل، اوبه نه ورکول، تر شاور لاندې درول، جنسي تيرى کول، د نوکانو لاندې ستن چوخول، د اله تناسلي په تناب ترل او بيا کشول، چوکۍ پر ګيډه ور اېښودل او پر هغه يو کس کيناستل. د فانتا بوتل په مقعد ور داخليول دا کتاب زياتوي، چې دا ټولې شکنجې د رئيس د خاد اسد الله سروروي، ډاکتر نجيب او د دو مرستيالان لکه فاروق يعقوبي، نواب، عزيزي اکبر او نور په واسطهٔ او هدايت عملي کېدل.

استاد په خپل کتاب د اختصاصي محکمه مشر ئيس عبدالکريم شادان د مشاورينو صلاحيت او رول ته اشاره کړيده. (٦٦ مخ)

استاد تره کی چې پخپله حقوق دان دی د خپلې محکمې جريان به کومدي په شان بولي او د اختصاصي محکمې د (الف ديوان) رئيس خليل سکندري ښودلی دی.

استاد روستار کتاب ۷۵ مخ د عبدالجليل د پوهنتون فارغ د غزني اوسېدونکی چې د فرار از خدمت اردو په جرم په اعدام محکوم شو. اسناد چې د زندان پلچرخي په کتاب کې استاد روستار نشر کړی دی، مهم او مستند اسناد دي دا بايد محکمې مد نظر ونيسي.

د خليل حيفی، پوهاند کاکړ يادداښتونو او پلچرخي کتاب هم ډېر ارزښتناکه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا زندانیان د ډول، ډول شکنجو بیانونه کوي، ځینې تر ټولو عمر پورې معیوب شویدي، ځینې لا تر شکنجې لاندې ساه ورکړیدي، روحي فشارونه او کړاونه دې بندیانو لیدلي، تر ټولو (دور فیل) سزا، چې انسان به یې سره ځاوه، شدید او کړونکي و، چا چې بۀ بړیره درلوده، بږیره به یې ترې شکول.

عبدالصبور سیاسنګ د دیوان (ج) د قاضي چې غلام صانع نومیدې او څارنوال فرید د نا انسانیت نه شاکي دي او د انځر ګل د اعدام بیان راوړیدي.

مولوي قسیم د تیل داغی نه شکایت درلود، مولوي عبدالروف نافع، د شش درك د خاد رئیس مقیم پیکار له خوا شکنجه شویدي واقعاً د څو تنو ارذالو او اوباشو حکومت و، چې اداره اصلاً د روسانو په لاس کې و او یو مافیایی رژیم ؤ.

د ظاهر طنین کتاب (افغانستان در قرن ۲۰) په کې ډېر څرګند ډول جنایي اسناد او شنیلي راغلي دي. که څه هم طنین پخپله هم خلقی ؤ.

د (خاد) په اړه ترتیب شوی ګزارش، دا هم زیاتوي چې د (خاد) مامورین د (کي، جي، بي) په تائید ټاکل کیدل، او یا ډېر ی د (کي، جي، بي) غړیتوب هم درلود.

د ننګرهار پخوانی والي عبدالله خان وردك د ۸٦ کالو و، چې ونیول شو د (بې کفنانو) په ډله کې ودرید، دی شیخ فاني ؤ.

د (اګسا) ۸٦۳ نېټه ۵/ ۳/ ۵۸ لیك د څارندوي عمومي قوماندانی په عنوان ۷ تنه د لسم او نهم ټولګي متعلمان د توقیفې په منظور د (اسد الله پیلوټ) عمومي رئیس په لاس لیك معرفي او لیږل شویدي، دا هلکان باید ۱۵ یا ۱٦ کلن وي چې په نړۍ کې په هیڅ واړه هلکان د بند وړ ندي. همدا وړو هلکانو نور معلومات نشته.

انقلابیان د هغه وخت د ولس د شکنجو او وژلو یادونه کوي، کله چې دوی د خپل سنګر د ملګرو لخوا ونیول شول، نو د عدالت، انسانیت او د شکنجو



بیان کوي، د هجوم کتاب ۹۵ مخ کې د جنرال قادر د خپل شکنجې بیان د برقي ماشین (هنډل) چې د سروري لخوا په کیدو بیان راوړیدي.

جنرال قادر لا دا هم یادوي، کله چې به کشتمند د شکنجو نه بې تابه شو د منځه وړولو هیله به یې کول، قادر دا هم زیاتوي، کله چې کشتمند د خپلې مېرمن (کریمه) د نیولو نه خبر شو، د کودتا په کولو یې اقرار ژر وکړ. کشتمند پخپله د غیر اخلاقي شکنجو کیسه په ټلویزیون کې وکړه، کومه رویه چې جنرال عبدالرشید دوستم د حاجی احمد ایشچي سره وکړه، کشتمند چې د اسدالله سروری لخوا شکنجه شوې ؤ، هغه دا شکنجې غیر اخلاقی و بلل.

د (فاجعه کابل) د کتاب په ۷۷ مخ کې د زندان د شکنجو په رابطه داسې مطلب راغلي: ((نعره های دل خراش بیګناه هان، يك انعكاس هولناك داشت، شکنجه های ادم کشان و هر بار تا تلخي جاندکندن و لب ګور متحمل میدم.)) په همدې کتاب کې راغلي چې ((نام محبوسین را به عنوان رهائی میخواندند و آن ها و اقعاً از قید حیات رها می شدند. و به ګروه بی کفنان مي پوستند.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم فصل

## د جناياتو جاج

### عدالت دی چې امنيت راولي

### په مختلفو دورو کې د کمونستانو جنايات:

کوم جنايات چې د کمونستانو په مختلفو دورو کې ارتکاب وموند، دا يو جنګی جنايات او کشتار عمومی دي.

جنګی جناياتو تعريف د ICC په قانون کې سره سم تعريف شويدی ډليږه وژنې، نقض حقوق بشر (شکنجه او تعذيب) نسل کشي، ګوند دا جنايات د ديکتاوري پروليتاريا تر عنوان لاندې په څرګند ډول مرتکب شويدي.

خلقيانو پر خپلو ګونديانو او د سنګر پر ملګرو هم زړه سوی نه درلود، امين او تره کي پر کشتمند او انقلابيانو لکه قادر، او رفيع هم همدا ډول برخورد وکړ. امين پر تره کي زړه سوی و نکړ، ببرک پر امين، نجيب پر ببرک زړه سوی و نکړ، د ببرک پلويانو هم د نجيب د تيښتې مخ را وګرځول، تر څو طالب يې په داد ورسيدل ګونديانو په مجموع کې يو پر بل زړه سوی نه درلود.

د غزني والي عبدالاحد ولسي، قادر د بغلان والي، انجنير ظريف او صاحبجان صحرايي د کندهار او نظيف الله د هرات واليان او داسې نور بې زړه سوی وژونکی و.



جنرال قادر د کتاب ۲۲۷ مخ د قومانداني مدافع هوايي د مرستيال ستارخان وژلو بياني راوړيدي.

واسيلي ميتروخين د (کي، جي، بي) پخواني مامور چې لندن ته د ډېر و محرمو اسنادو سره پناهده شو د خپل کتاب (کي، جي، بي در افغانستان) کې ډېر اسناد برملا کړيدي، لکه چې د دې کتاب ٦٧ مخ کې ليکي: ((چې عبدالاحد ولسي د غزني والي او د ولايتي کميټې لومړی منشي په کال ۱۹۷۸ د مې په مياشت کې ۹۰۰ تنه د انقلاب ضد په تور نيولی، شکنجه او په هره شپه کې ۵۰- ٦۰ تنو پورې د (۱۸) فرقې شاوخوا ته وژل. کوم اعاشه او غذا چې به پاته و، د دې نه څرګنديدل، چې نفر يې وژل شويدي. ميتروخين په ٦٦ مخ کې استخباراتو د مرستيال عزيز اکبري له خولې ليکي چې کوم کسانو چې د بېګناهۍ اسناد نشوای ارايه کولای، ټول وژل کېدل.

عبدالاحد ولسي کله چې د غزني والي و، هم د خپل اجراااتو په لړ کې د (شرق ستوري يعنی تره کي ته ګزارش ورکړي، چې په غزني کې يې سپين لنګوټی پرې ايښې ندي. دی په کابل کې د قاري بابا د مجاهدينو لخوا په داسې حال کې چې د بهر سفر ته روان و د خپل اعمالو په سزا ورسيد.

د امين د وژلو په تفصيل سره ميتروخين داسې بيانوي، چې ۲٦۸ مخې کې د کندهار د اووه تنو پرچميانو نه يو هم انور خان د کندهار د قل اردو پيژندوال و دی دوام ورکووي. ۵- ٦ تنه د ريشخور پرچميان هم ووژل شول.

جنرال قادر د کتاب ۲۸۳- ۳۰۰ مخونو د خپل کودتا په ارتباط چې د کشتمند، رفيع، شاپور احمدزی او علي اکبر په باره د شکنجې بيان راوړيدي. چې د اسدالله سروري، اسدالله امين، اسد الله پيام، داود تړون د پوليسو قوماندان او د ملي دفاع مرستيال او د لوژستيك رئيس جيلاني لخوا تعذيب او شکنجه شويدي. او د برقي شوکې اله (ولاديمير) نوميدل. د دې کسانو په ظلم د انسانيت نه ليرې برخورد ډېرو زندانيانو بيان راوړيدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې همدې خلقيانو د هاشم ميوندوال، تورنانو سره هم د اخلاق نه د ليرې وضعې وكړي.

د عدليد تعقيب لپاره شعوري يا غير شعوري د كمونستانو ليكنې او خپرونې كوم چې جنرال قادر، زيرى، پنجشيري، فقير محمد ودان، كشتمند، غوربندي، نبي عظيمي، عبدالوكيل او نور ليكلي دي د دوى د جناياتو د ثبوت لپاره پوره ګټه اخيستل كيداى شي، د سرې كودتا يعنى د غوايي د كودتا د ورځې را پدې خوا ټولې وژنې (شهيدانو) هيڅ يوو، قبر او كفن او د ښخيدو ځاى معلوم نه دي، هيڅ ډول اسلامي مناسك پر ځاى شوى ندى او نه يې مړي خپلو كورنيو ته سپارلي دي. (ج، ق) د ۱۰۴ مادې د سزا سره محكوم شي.

دا رويه د كمونستانو په مختلفو واكدارۍ همدا ډول و، ځينې كورني لا تراوسه هم په اميد دي چې عزيزان به يې پيدا شي د ملګري امين مړي هم څرګند نه شو، د رهبر توانا جسد هم همدا ډول ورك دي، لكه د نور احمد اعتمادي، موسى شفيق، قدير نورستاني، عبدل اله او د سردار د كورنۍ هم همدا ډول معلوم نه دي.

نو افغان ولس جنګى جنايات كاران لكه د نورو هېوادو جنايات كاران د محاكمې ميز ته درول غواړي.

كوم څوك چې لا تر اوسه لا درك او پټ دي او په جناياتو كې رول درلود د (جزايي اجرااتو د قانون) د ۲۰۱ مادې سره سمه غيابي محاكمه وشي.

منجنى عليه او متضررين د يو اعلان په ترڅ كې را وغوښتل شي او خپل حق و غواړي.

د ګونديانو كړنې بې سزا پاته نشي، كوم كړنې، چې بې سنجشه، د اخلاقو نه تش، د انسانيت خالي او د قانونيت ليرې، د انقلابي چلند تر عنوان لاندې و، بايد تعقيب عدليې شي. پدې هكله د قضا او محكمې خاصي پام غوښتل پكار دي.



د غوايي د اوومې حركت جرم او ملي خيانت دي، ځكه هر هغه عمل چې منل شوي اساسي قانون، يا دولتي تشكيلات د زور د لارې تغير وركړي ملي خيانت او سزا يې د (ج، ق) د ۲۰۷ مادې په ملاحظه اعدام دي يا په بل عبارت، خپلواكي او ملي حاكميت له منځه وړل او د ځمكې بشپړتيا ته خطر رسول، ملي خيانت بلل كېږي. قضا او د پارلمان د منځه يوړل ملی خيانت دي. كودتاچيانو د پردو په هدايت د پردو د ګټو لپاره د وژنو دنده اخيستى و، ولس سخت كړاو وليد، د پردو په دښتو كې يخ او لمر ته ساه وركړه، د ګوند، ټولې كړنې يو مافيايي حركت و، هر غړي به خپل قساوت د نورو مخ ته په ننداره اېښودي، پر انسانانو يې نښآن او ښكار، زده كاوه، د هغې جملې نه يو د نظامي خاد د رئيس سردار محمد (ولي) ياور پير محمد باوري ؤ.

د كودتا ټوله عمالان ۳۹۹ (ق، ج) سره محاكمه شی او د قانون ۱۴۸- ۱۴۹ مادې مشدده حالت هم په نظر كې ونيول شي.

وژنې، كړاونه شكنجې، تالاشي، نيول مهاجرتونه، د شپې بنديزونه جنسي تيري د غوايي د اومې نه پيل شول ننګيال هم د خپل كتاب (هلته چې تاريخ تكراريږي) په ۳۴ مخ كې او د روس پارلمان (دوما) غړي او د هايدروجني بمب د اختراع پلار پوهاند سخروف هغه ليك راوړيدي، چې د افغان ولس د ښځو او ماشومانو د وژنو نه يې پرده پورته كړيده. او ناپال بمونه كارولو ته هم ګوته نيولي ده، دی د ګورباچوف لخوا د ريښتيا ويلو په جرم تبعيد او نظر بند شو.

د انقلابي ملګرو كړنې د جنګي جنايتو د (۸- ۹) مادو او د منع شكنجه د كنوانيسيون د (۱- ۲) د سزا وړ دي. چې دا كار تر ټولو د (اګسا او خاد) او پوليسو لخوا په ډېر شدت او بې زړه سوى عملي كيدو. د هالند شاهي دولت څارنوال (ښآغلي ي. لوكاس) د افغانستان د عدليې وزير نه د مې پر ۱۸ مه كال ۲۰۰٦ د ځينو كسانو په هكله معلومات غوښتې، مګر متاسفانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ډاکتر نجيب لا پخوا دا اسناد له منځه وړيدي. اما پدې اړه، د قضا مقام نه هيله ده، چې د شاهدانو په شهادت او موجود په لاس راغلي اسنادو بسنه وکړي. د جرمونو د اثبات لپاره ډېر قرائين شته، پوليس او د (خاد) کارکونکي شکنجې، زخم، جنسي تجاوزونه او اکثراً منجر په مرگ و. چې د جنگي مجازات قانون (۸) ماده په دې هکله څرگند صراحت لري. اعدامونه، شکنجه، توهين، تمسخر د انقلابيانو ورځنی کار و، د خشونت او تعذيب نه خلاصون په خاطر ډېر و غير واقعي اقرارونه کول او مرگ ته يې ترجيح ورکول.

دی ټيټ همته او وحشي گونديانو د اقرار په خاطر به يې زندانيانو د کورنيو پر غړو هم جنسي تير وکړ، د اکسا مرستيال غزيز اکبري د سروري د خور زوی، په ډېر ویاړ، د شکنجې او په عذاب سره د محمد موسی شفيق وژنه به کيسې کولی.

اوس د هيلو او د اميد سترگې د محکمې لوړ مقام او د نړيوال جزايي ديوان (ICC) ته په لارې دي. چې عدالت وکړي.

(جنگ در افغانستان) ۲۸۵ مخ داسې ليکي: ((طي نه سال جنگ همه چيز بود، هم کشتن مردم بيگناه، هم قاچاقبري، احتکار و چيزهای که نزد هر انسان با وجدان احساس نفرت و انزجاری بر ميانگيزد...)) مگر پورته مطلب بې ځواب پاتې دی، چې دی ټولو جناياتو نه، چې د گونديانو په اصطلاح (نيروي دوستان شوروي) مرتکب کېدل، اصلي عامل او مسول څوك دي. روس چا راوستا، څوك يې په چوپړ کې و؟؟ انقلابيان په ښه او بد ښه پوهيدل، ډاکتر نجيب په خطاب کې خلقيانو ته وويل چې زه افشا کوم، چې خلقيانو څنگه خپل منشی ووژی، پنجشيري په ځواب کې وويل دا هم بايد څرگنده شي، چې شوروي سپاهيانو په راوړلو کې چا لاس درلود. (کتاب افغانستان پس از بازگشت سپاهيان شوروي ۸۰ مخ) او انسان وژنې په دوام باندې ډاکتر نجيب او سروري تر ټولو لوی لاس درلود.



عبدالحق مجددي د خپل کتاب ۵۹۸ مخ کې د ډاکتر عبدالرحمن صافي وژنه د ملگري امين لخوا هم راوړيدي. مجددي دا هم زياتوي (۵۹۹) مخ چې ډگروال محمد هاشم نورزی د (دهمزنگ) په حصه کې کله چې د ارگ په لوري د سردار محمد داود خان په مرسته مارش و، تورن علاو الدين د شا د خوا وويشت نو قطعې عقب نشيني وکړ، ډگروال عظيم لوگري، ډگروال انورخان عباد خيل او جگتورن ميراغا (شامزاري) د رژيم د مخالفت په تور اعدام شول

عبدالحق مجددي د خپل کتاب ۶۰۸ مخ کې د هرات د کب د ۲۴ کال ۵۲ پاڅون کې ۲۵ زره شهيدان راوړيدي.

د هرات پاڅون د ملي او اسلامي ارزښتونو د دفاع په خاطر را پورته شو، مگر پاڅون وځپل شو او ډېر گران تمام شو، خلك وايي چې تر ۵۰ زرو تنو زيات کسان شهيدان شول.

مجددي زياتوي، چې ملا جمع الدين مهمند، عبدالملك خياط، سميع الله خان ستانکزی، ډاکتر عبدالولي، ملا عبداللطيف ناصري، حميد الله نيازي، گل محمد سرخابي، معلم توريالی او محمد الله ميروال په شهادت ورسيدل.

مجددي ۶۰۹ مخ کې زياتوي، چې قوماندان داود منگل، امام الدين د برکي برك او برکي راجان د لوگر په پاڅون کې ۱۲۰ تنه را ټول او بيا تير باران کړل. دی په همدې مخ کې زياتوي، زر تنه د وردگ د ولايت نه په شهادت ورسيدل. او د غبرگولې د مياشتې په ۲۹ مه کال ۱۳۶۰ په تعداد ۶۰۰ تنه د لوگر مسلمانان ووژل شول. او په نور کلو کې ۵۰ تنو شهادت راوړيدي. يرغلگرو د کافرانو د غنمو درمندونو ته هم اورونه واچاوه.

جنرال قادر د خپل کتاب سياسي خاطراتو په ۳۰۸ مخ ليکي کله چې اسدالله سروري، د انقلاب ملگري، د ده د ليدو لپاره زندان ته ورغلي و. د ده چې خوله د نصوارو ډکه و، د سروري پر مخ يې تف کړه او بيا په يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خښته هم وار پر وکړ. ولې چې قادر د خپل کودتا د ملګرو لخوا د کودتا په تور محکوم شوی او شکنجه شوی ؤ.

هايمن د خپل كتاب (افغانستان تحت تسلط شوروي) ۱۰۸ مخ کې د نور محمد تره کي له خولې ليکي: ((څوك چې زموږ پر ضد توطيه کوي، په هغه شپه کې به ورك شي.))

هايمن دا هم زياتوي، چې د تره کي دا شعار په عمل کې هم پياده کاوه.

د افغان- شوروي جګړه کتاب ۹۵ او ۹٦ مخونو کې راغلي دي، چې الکسي کاسګين د شوروي لومړی وزير، کوم شکايت چې پوليت بيرو ته کاوه ووېل چې تره کي او ملګری امين خپل مخالفين د يوه سره اعداموي. يوازې مخالفين نه؛ بلکه خپل د سنګر ملګري هم يو د بل پسې تر بريد لاندې نيسي.

جنرال محمود قاريوف د خپل کتاب (افغانستان پس از بازگشت سپاهيان شوروي) په ۸۱ مخ کې داسې ليکلي دي: ((خلقيان او ډاکټر نجيب د ولس په وينو، لاسونه لړي دي او اسدالله سروري په امر ډېر کسان تيرباران شول.))

دا هغه اسناد او شواهد دي، چې آن شورويان ورته په تعجب او حرانتيا کې ؤ او پر افغان مظلوم ولس آن د شورويانو هم زړه سوځيده. د ملګري تره کي، چې ولس وځپل شي ګرچه جنرال قادر د غوايي د کودتا هير وو مګر د دولتي تاسيساتو د بمباردمان نه ناګار دي. ډګرمن غوث الدين طوطاخيل پيلوټ او شير بهادر پيلوټ ټولو ته معلومات شته، چې ارګ کې يې سردار داودخان تر بمباردمان لاندې نيولی و.

ډېر کسان ونيول شول، شکنجه شول، فرار او ووژل شول. د انقلابي ملګرو د جناياتو نه يو هم د کابل د چمتلې دښت کې (د هېواد د ورځپاڼې) د چنګاښ د ۲۱ کال ۱۳۸٦ ډليزو قبرونه د کشف خبر هم يو مستند ثبوت دي، د دې جنايت د بررسي لپاره د ولسمشر حامد کرزي لخوا يو لوي



هيئات مولوي محمد حنيف بلخي، ملا محمد يوسف واعظي، مولوي فضل الهادي شينواري تر مشرۍ او نورو کسانو سره دنده ورکړه، چې نتيجه اې تر اوسه معلوم نه شول، دا ډول ډليزه قبرونه د هېواد په هر ګوټ کې پيدا شول، چې مشهوره يې د فيض آباد (بدخشان) پلچرخي او چمتلې دښتونه او د پلچرخي پوليګون دي.

(رويداد پنج ده اخير افغانستان) په ۲۲۵ مخ کې د انقلابيانو لخوا د (رقص مرګ) د کړاو يوه نوی اختراع و، معرفي کړي دي. پوهاند ډاکتر محمد عثمان روستار د خپل کتاب (زندان پلچرخي) ۱۲۷ مخ کې د زرو بې کفنه شهيدان بيان راوړيدي. چې په پټه خوله به د شهادت ميدان ته ور روان شول. حسن د جغتو اوسېدونکی چې کم سنه و، هغه وخت اعدام شو، چې ۱۸ کلن ؤ. ۱۹۵ مخ د (زندان پلچرخي)، پوهاند دا هم زياتوي چې د محکمې لخوا الله داد طوفان لس کاله بند محکوم و، مګر بيا هم اعدام شو.

ډاکتر شيرشاه يوسفزی خپل کتاب په ۴۳ مخ کې خپل د تحقيق هيئات د خاد مامورين صادق، صابر او عمر معرفي کوي، چې دوی په د شکنجو نه کار اخيست.

۱۳۵٦ کال کې يو شمېر ليونيان چې په قلعه زمانخان کې داسايش ګارواني په نامه، څه د لوږي، څه د يخني او څه د لويانيانو خپل منځي جګړو کې وژل شوي و قدير نورستانی د پوليسو قومندان او فيض محمد وزير او د کابل والي داکتر محمود حبيبې په اتهام او د پېښې د جدي تحقق لاندې و، کله چې ملګري امين د ١٦ زرو شهيدانو لست د کورنۍ چارو وزارت پر ديوالو وځړاو د قلعه زمان خان د شهيدانو قضيه نوره هيره شول.

بل چا کيسه کول چې د يو خلقي مور په وطن کې، پر لمانځه ولاړه وليده، چې خلقي زوی نوموړی په ملا کې په لغته ووهل، چې د ملا دو مهري يې ورماتې کړي پدې ګناه چې کمونيزم راغلي د لمانځه وخت نور تير دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (تاریخ مسخ نمی شود) کې ډاکټر شیرشاه یوسفزی د (رویداد پنج ده اخیر در افغانستان) په حواله لیکي چې انجنیر ظریف د کندار والي د یو سپین ږیر پر مخ ور توف کړه، او ډګروال محمد حسن وطنخوا، یې د الوتکې په زینه کې ږیري ته ارولګیت وواهه.

د همدې کتاب په ۲۲٦ مخ کې راغلي چې سید منصور هاشمي د بدخشان والي او وزیر ډېر کسان د الوتکې نه د پنج ده سیند ته واچول. دا کتاب زیاتوي، پاڅونونه، لکه د لوګر، کنر، نورستان، پلخمري، لغمان، پنجشیر، پکتیا او چنداول پاڅونونه په ډېر ظالمانه ډول وځپل شول.

د هجوم کتاب په ۱۱۲ مخ کې شورویان په لومړیو کې د امین د کړونو مخالفت نه درلود، دا چې دی لکه ستالین لومړی خپل مخالفین له منځه وړي او بیا په دوهمه مرحله د ده نږدې ملګري چې د ده د کړونو مانع واقع کېږي له منځه وړي. مګر د ده وژنې ډېر شوي لکه چې پرچمیان ادعا کوي چې د چمتلې په دښت کې د ده په وخت کې ۱۷ زره تنه شهیدان تر خاورو لاندې شویدي د (افغان- شوروي جګړه) د کتاب ۱٦۲ مخ کې دا وژنې د تره کي او امین وخت کې د اسد الله سروري لخوا بولي.

انقلابي محکمې جلالدین حقاني، پنا قومندان او سید منصور نادري هم لکه احمد شاه مسعود او تورن اسماعیل خان غیابي په اعدام محکوم کړل.

د مې پر ۲۱ کال ۱۹۹۱ کوم څلور سکاټ راکټونه چې د خواجه غار پر ولسوالۍ وار وشو، تر ۵۰ تنو زیات نر او ښځې، زاړه او واړه شهیدان شول. (تحقیق و ترتیب حامد علمي کتاب)



# نهم فصل

## د ګورباچوف د تیښتې هلې ځلې

ګورباچوف د شوروي د نورو مشرانو نه توپیر درلود، تر اندازې واقع بین ؤ. افغانستان یې یو خون چکان زخم وباله، د سرو لښکرو د وتلو په لټه کې شو، د همدې مطلب دپاره لومړی ببرک چې مخالفت کاوه د مخه لیرې او بل مزدور رامنځ ته کړ. د ملګرو ملتو تر سرپرستې لاندې چې (دیکو کوردویز) تر سرپرستي لاندې هڅې وکړې، چې د افغانستان او پآکستان ترمنځ یو پروتوکول منځ ته راشی، سولې ته زمینه برابره شی چې دا پروسه لومړي د شاه محمد دوست د رژیم د بهرنیو چارو وزیر لخوا او په وروسته کې د نوی وزیر عبدالوکیل لخوا مخ ته یوړل شول، چې بالاخره په نېټه د اپریل ۱۴ مه کال ۱۹۸۸ د وکیل او د باکستان د بهرنیو چارو وزیر ذین نورانی ترمنځ لاس لیک شو، چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جارج شولتز او د شوروي چارو وزیر شینوارناز هم لاندې لاس لیک وکړ.

کور دویز د خپل کتاب (پشت پرده های افغانستان) کې لیکلي چې دا مراسم لکه جنازې غوندې ؤ، او وکیل ریږدیدي، ولې د ولس د محاکمې نه په ډار ؤ. دا پروتوکول د اوبو سر خیطه ؤ، مجاهدین د قبضې اصلی پلو ؤ، ګډون نه درلود نو یې رد کړه او پروتوکول هم عملی جنبه پیدا نکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورويان يوازې خپلو افغاني كمونستانو په سترګو كې خاروې واچولې او يوازې پر ډاګ پرېښودل، وكيل هم د خپل كتاب ۵۹۹ مخ خپل رواني حالت خراب راوړيدي روسانو د خپل وتلو دپاره لار پرانيستل.

ډاكتر نجيب: دوستى با شوروي افتخار ملى ماست. (د وكيل كتاب)



# دوه ننګين پروتوكولونه

۱- د شورويانو په هدايت د كابل رژيم د پاكستان سره د پروتوكول وروسته د شورويانو هم د جنوري په مياشت كې كال ۱۹۸۹درې فقره ايزه پروتوكول لاس ليک كړ. د روسي سپاهيانو د وتل پر ميعاد ډيرې چنې ووهل شو، چې انقلابيانو ډير وخت غوښت.

په لومړۍ فقره كې يرغل او تجاوز يو اقامت و بلل، او اوس نو د همدې نېټې نه افغانستان ترک وهی.

او په دوهمه ماده كې ټوله جانی او مالی خسارو او تاوانونه د افغانستان د رژيم لخوا ور بخشش شويدي. چې دا ملي خيانت دي، ولس بايد پريكړه كړي واي.

۲- د دې پروتوكول نه داسې څرګنديږي چې يو بل پروتوكول د يرغل په هكله هم لاس ليک شويدي، چې يرغل ته د دوی په ذهن مشروعيت وركوي، چې سرې لښكرې پر خپل سر ندي راغلي پلكې بلنه وركړ شويده، ګرچه يرغل د مرغومي پر شپږمه عملی شو، درې مياشتې وروسته يعنی د مارچ مياشت ۱٦ او كال ۱۹۸۰ كې پروتوكول چې سرې لښكر مسلط وې لاس ليک شويدي، لومړی يرغل بيا پروتوكول، د دې واړو پروتوكول اصل او مينوت شورويانو د ځان سره واخيست. دا پدې مانا چې شورويان په دعوت راغلي او په دعوت ووتل.

د هجوم د كتاب ليكوال په ۳۸۸ مخ راغلی، چې د افغانستان په هكله دا ټولې فيصلې شفاهي وې، كوم تصميمونه يې K G B او يا دفاع وزارت نيول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول اسناد شورويانو له منځه يو وړل د سرو لښکرو په وتلو کې هم وکيل چنې وهلې چې د وتلو مدت اوږد کړي.



## د رژيم سقوط او نجيب تېښته

نجيب د اپريل په ۱۳ مه کال ۱۹۹۱ په تيښتی لاس پورې کړ.

نجيب د ببرک د پلويانو تر فشار لاندې ؤ، خلقيانو هم نه مانه د ټنی کودتا هم يو شوک ؤ.

د نجيب د سولې او ملي پخلاينه د ملګرو ملتو تر سرپرستي لاندې په اقدام لاس پورې کړ. د شورويانو هدايت ؤ، يرغل او جګړه نوره پايله نه ورکوي. ملګرو ملتونو دا دنده و بينن سيوان ته وسپارل شول، چې د نجيب موجوديت د سولې دپاره يو لوی خنډ دی، دې بايد استعفی وکړی او د دولت اداره يو موقتی ادارې ته وسپاري، نجيب چې په ډير بد حالت کې د يوې خوا د مجاهدينو ورځنۍ فشار، چې د رژيم وروستۍ سلګې وې او د کارمليانو تخريب په دننه کې د لوستونې ماران ؤ.

وعده هم دا ؤ، چې نجيب به ژوندي د کابل نه باسي. نجيب ومنل يوه نظامی کميټه چې عبارت ؤ:

جنرال نبي عظيمي

آصف دلاور

جنرال فتاح

عظيم زرمتي

جنرال سيد اعظم

جنرال فاروق

جنرال ولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرحم هاتف د رياست جمهوري سرپرست شو.
نجيب د وروي د مياشتې ۲۷ کال ۱۳۷۱ د تيښتې په تکل د حامد کرزي هوايي ميدان خوا د اسحاق توخي، احمدزی او جفسر سره وخوځيد.
خپل ميرمن فتانه او لور مسکا لا پخوا د وطن نه ايستلي وې. هغه شعار چې کفن يا وطن د ياده ويستي. چې د کارمليانو په تحريک د ګليم جم د قطعاتو قومندان مجيد روزی لخوا مخنيوي وشو. د ډاره د ملګرو ملتو دفتر په کابل کې ننوت، او د پخوانی خاصيت پر بنا د ملګرو لخوا مرګ ته برابر شو.
۸ صح د وري ۲۸ کال ۱۳۹۷پنځم مخ کې راغلی چې دوستم غوشتل چې د هندوانو نه د نجيب د ور تسليمولو په مقابل کې ډيرې پيسې واخلي، چې د دومره پيسو هندوانو توان نه درلود. د نبي عظيمي، مزدک وکيل، کاوياني، محمود بريالي او اناهيتا د ببرک د ګوښه کيدو غچ پدې ډول د نجيب نه واخيست، د يو تفاهم پر بنا دې وخت کې د شمال ټلوالي تر نامه لاندې کافر او مسلمان سره يو شوي ؤ.
د روس د بهرنيو چارو د وزير مرستيال (نيکولا ايوان ويچ) د رژيم د فاتحې تر عنوان لاندې په مقاله کې د نجيب فرار د اطلاع ورکول و ګليم جم ته د وکيل د بهرنيو چارو د وزير لخوا بولي. په همدې تيښتې په ورځ فاروق يعقوبي د (واد) وزير د خپل مرستيال يار محمد د مزدک ورور لخوا ووژل شو، چې د خودکشي پنه ورکړه او په همدې ورځ د پنځم رياست رييس باقي نومي هم پخپل دفتر کې ووژل شو. دې پيښو نجيب نور هم وارخطا کړ چې تيښتې ته و درېد. چې ده وطن نه پښې سپکې کړي. او هغه شعار چې: وطن يا کفن په ټينګه له ياده وباسي.
ده په ډير مکاري هڅه وکړه، چې د ګوند جناياتو باندې پرده واچوي، د خلق دموکراتيک نوم (د وطن ګوند) په نامه واړول. چې هغه وطن خرڅونکي



او جنايتکار پکې را ټول ؤ، ده هڅه کول، چې د... په تبديليو يو څه لاس ته راوړي، مګر ولس هوښيار ؤ.
نجيب د ملګرو ملتو په دفتر کې څو کاله پاته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نجيب جنايات

۱. په يوه سياسي ګوند کې شموليت چې قانوني جواز يې نه درلود. چې دا ګوند د پردو دګتو لپاره او د افغان د ملي او اسلامي ارزښتونه خلاف و.

۲. د غوايي د کودتا پلوي او د کمونستي نظام د راوړولو حمايه او پلوي.

۳. د افغاني سفارت په تهران کې شتمني لوټول.

٤. د يرغل ملګري، ملي خيانت (خپلواکۍ او ملي حاکميت) په خطر کې اچول.

۵. د کمونستي الحادي رژيم په تينګښت کې هلې ځلې.

٦. د پردو په ګټه جاسوسي.

۷. د خاد د مشر او بيا د ولسمشر په توګه د ده ملي خيانت او جنګي جناياتو مرتکب کېدل، او په زرو وطنوال وژل، او د هېواد پرېښودو ته اړل ايستل.

۸. د حقوق بشر نقض او شکنجه.

۹. شورويانو سره د پرتوکول په ترڅ کې جبران خساره بخښل، دا هغه جنايت دي چې نوموړي يې بايد سزا وګوري، او پرې وروستی اتم پاراګراف کې وکيل هم د جرم شريك دی په ټولو جناياتو کې د ګوند نور غړي هم ملزم دي.

د شورويانو د نجيب راوستل اصلي مطلب په جينوا کې د سولې خبرې او د روسانو د وتلو لپاره لاره هوارول و، خو وکيل چې نوی ټاکل شوی و، د دې پروسې مخ ته مشکلات رامنځ ته کول، (افغان- شوروي جګړه) ۴۸٦ مخ. نه



غوښتل چې شورويان زموږ هېواد پرېږدي بالاخره د ډېر و چيغو وهلو نه وروسته د اپريل ۱۴ مه کال ۱۹۸۸ د عبدالوکيل او زين نوراني د پاکستان خارجه چارو وزير، د کوردويز په منځګړيتوب د شوروي د بهرنيو چارو وزير شيواردا زی او د امريکا د بهرنيو چارو وزير جارج شولتز په تضمين قرارداد لاسليك شو.

کورنۍ او بهرنۍ کمونستانو د تسلط وخت کې دا جنايات لکه:

- خپلواکي او ملی حاکميت تر پښو لاندې شو.
- بې له محاکمې اعدامونه (وژنې).
- شکنجه، تعذيب، روحي او جسمي درد او رنج واردول.
- توهين او تحقير
- مختلف ډوله سرکوبي
- بې رحمۍ
- جنسي تېری
- بالاخره هر ډول غير انساني کړنې.

د تره کي کور، کالي، ډوډۍ د امين (عدالت، قانونيت او مصونيت) د ببرك وحدت او د نجيب ملي پخلاينه عملي نه شول.

اسنادو، شواهد او قراينو پر بنا د ګوند د پوليت بيرو غړي، وزيرانو، د شورا غړي، د مرکزي کميټې غړي، معينان، واليان، نظامي او يوې سيمې قومدان پورتنيو جناياتو لکه، ملي خيانت، دښمن ته د راتګ زمينه برابرول، جنګي جنايات، د بشري حقوق نقض، د بې ناموسۍ، جاسوسي جرايمو مجرمين دي، د قضا ود لوړ مقام نه د جزا د قانون د ۳۹۴، ۲۰۴، ۲۰٦، ۴۲٦، ۳۳۱، ۴۳۳، ۴۰۱، ۳۵۲، ۳۹۹، ۴۱۴، ۱۷۴، ۱۹۴، ۲۱۱، ۲۲۱، ۲۲۵، مطابق اشد مجازات هيله کوم چې د دې ملي خاينانو زجر او د نورو غبرت و ګرځي.

د متعددو جرمونو ثبوت او د هغو سزا:

۱. وژنه د جزا قانون ۳۹۴ ماده قصاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. وژنه د نیت انګیزې سره د جزا قانون ۳۹۵ ماده اعدام
۳. وهل او شکنجه د جزا قانون ۳۹۹ ماده حبس دوام
٤. غير قانوني توقیف د جزا قانون ۴۱۴ ماده حبس متوسط
٥. جاسوسي د جزا قانون ۱۴۹ ماده حبس دوام
٦. د رژیم چپه کول د جزا قانون ۲۰۴ ماده اعدام
۷. وسله وال پاڅون د جزا قانون ۱۷۵- ۲۱۱ مادې اعدام
۸. د دښمن د داخليدو لپاره زمينه برابرول ۱۷۴ ماده اعدام
۹. د ولسمشر وژل د جزا قانون ۲۰٦ ماده اعدام
۱۰. د غير قانوني ګوند جوړول د جزا قانون ۲۲۱ ماده لس کاله حبس
۱۱. د دولت پر ضد پروپاګند د جزا قانون ۱۹۱ ماده لس کاله حبس
۱۲. د بهرنۍ هېوادو نه مالي منفعت تر لاسه کول د جزا قانون ۲۲۵ ماده لس کاله حبس
۱۳. زنا او بې ناموسۍ د جزا قانون ۴۲٦ ماده حبس طويل
۱٤. لواطت او تجاوز د جزا قانون ۴۲۹ ماده اوه کاله حبس
۱٥. فسق او فجور د جزا قانون ۳۳۱ ماده درې کاله حبس
۱٦. تهديد د جزا قانون ۴۳۳ ماده اوه کاله حبس
۱۷. قذف او ښکنځل د جزا قانون ۴۳۸ – ۴۴۲ مادې ۲۰ زره افغانۍ نقدي جريمه
۱۸. د جسد پټول د جزا قانون ۴۰۱ ماده درې زره افغانۍ نقدي جريمه
۱۹. د دين پر ضد عمل کول د جزا قانون ۳۴۷ ماده ٦۰ زره افغاني نقدي جريمه
۲۰. شراب نوشي د جزا قانون ۳۵۲ ماده ٦ مياشتې حبس

مرور زمان پدې يو شمېر جرايم ارتکاب شويدي، لکه نقض حقوق بشر، جنګي جنايات، دسته جمعي قتلونه د نړيوال جزايي ديوانه د موادو پر بناء تر مرور زمان لاندې نه راځي.



تشويق به قتل، ارعاب ۲۳۵ (ج، ق).
اقرار په شکنجه ۲۲ (ج، ق).
قانون جزا ۲۱۳ محاکمه علني بايد وي
اعدام ۹۸ ماده (ج، ق) اويختن تا مرګ
اقدام به جرم ۲۹ ماده (ج، ق)
اطلاع کاذب ۳۷۷ ماده (ج، ق)
قيام فرقه، الوتکي ۲۱۱ ماده (ج، ق)
جزاي تبعي د ګوندي محرميت دولت، اردو، او انتخاباتي فعاليت بايد مرحوم وي ۱۱۲ ماده (ج، ق)
تحريك و شريك ۱۱۲ ماده (ج، ق)
اتفاق جرم ۱۴۹ ماده (ج، ق)
مجاهدين دفاع مشروع ۵۷ ماده (ج، ق)
وهل منجر به قتل ۱۹۸ ماده (ج، ق)
د مقتول جسد پټول ۲۰۰ ماده (ج، ق)
اعدام نيت انګېزه دني ولري ۳۹۵ ماده (ج، ق)
محرك قتل جزايي پيش بيني شده اصل جرم محکوم ۴۱۳ ماده دويم بند (ج، ق)
غير قانوني توقيف ۴۱۴ ماده (ج، ق)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم فصل

## د بري په درشل کې

## د مجاهدينو واکمني

د بري ورځ را ورسيدل چې د مجاهدينو په مټ اسلامی نظام راوستل شی، نو د پندي (پاکستان) د غونډې پر بنا حضرت صبغت الله مجددی د جبهه نجات مشر لنډ مهاله اداري په ډول د ۲ میاشتو او استاد برهان الدين ربانی تر مجددی وروسته د ۴ میاشتو دپاره ومنل شول او رباني په د ټولټاکنو کوي.

د غوايي پر اتمه وه د مجاهدينو لوی کاروان د الله اکبر په تکبيرو او شان او شوکت او دبدبه سره د مجددی تر قيادت لاندې کابل ته را ننوتل، چې دا بری هم ډير گران تمام شوي ؤ، د رژيم دولتی او گوندي مشرانو لکه:

فضل الحق خالقيار لومړی وزير

محمود حبيبي د مشرانو جرگې رئيس

خليل احمد ابوي دولسي جرگې رئيس

عبدالکريم شادان قاضي القضات

عبدالرحيم هاتف لومړي مرستيال د جمهور رئيس



عبدالحميد محتاط او سرابي د رئيس جمهور مرستيالان

په رښتيا کوم تصميم چې وکيل (دردناک) بولي، دولتي واگی د حضرت صبغت الله مجددي ته تسليم کړي.

په همدې ورځ، کريم شادان، ووژل شو، او د عبدالحد ولسی د غزني پخواني والی د قاری بابا د مجاهدينو په لاس ورغلی، د ملک اصغر په چارراهي کې ووژل شو. مجددی صاحب د گليم جم مشر عبدالرشيددوستم ته د خالد بن وليد لقب ورکړ. او د غازي محمد اکبر خان هغه تفنگچه چې ميکناټن (د برطانيه سفير) نه يې په زور اخيستی ؤ، هم و جنرال حميد گل (اې اس اې) رئيس ته ډالۍ کړ.

ترڅو نوبت پس له دوو مياشتو د پروتوکول سره سم استاد رباني ته ورسيد. د پنډې په پروتوکول کې د استاد رباني تعهد دا ؤ، چې فقط څلور مياشتې به پاتې کېږي او انتخابات به کوي، مگر ده، دا دواړه شرطونه ناديده ونيول.

استاد هم جنرال حميد گل خپل پوځي مشارو وټاکي نوي رژيم د حکومتداري نه کفايت درلود او نه يې عدالت ته پام ؤ، د لکو او ميلونه شيهدانو د وينو سره جفا وشول، ټول جنگی جنايت کارانو ته د فرار زمينه برابر شول، آصف دلاور، باباجان، همايون فوزي او مجيد روزي تر اخير په دولت کې پاته شول. جنرال عبدالرشيد دوستم يې د مجاهدينو سره په جگړه کې کيلومتر په اجاره اخيست په دولت کې شريک شو. خو هيڅ يو يې محاکمه نه شو. ان ببرک د خپل عمر تر اخيره په داخل کې ژوند وکړ، د دې شاته به ارو مرو يو لاس وې، چې يو وخت په رامنځ ته شي.

قومی تعصبات او د استاد کړنې د کورنۍ جگړې ته لار هواره کړه، په عوض ددې چې محاکمې شي، د غوايي د کودتا قهرمان جنرال قادر ته هم د احمد شاه مسعود لخوا د پاسپورت او تلو اجازه ورکړه شوه، د قادر کتاب ۴۴۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل هسې خراب شو، چې د کمونستانو په وخت کې نه ؤ، خراب شوی. تر ۶۰ زرو نه ډېر کابلیان خپلمنځي او تنظیمي جګړو کې شهیدان شول. قومي تعصباتو ته يې لمن وهل، لومړی وزیر استاد فرید يې لمساوه، چې دې هېواد کې رئیس جمهور تاجګ، د دفاع وزیر تاجک او لومړی وزیر تاجک نور څه مشکل پاتې ندي، چې باید په اوضاع مسلط او تاجکی نظام راولو، مګر استاد فرید د خپل اسلامي تعهد پا بند ؤ، استاد د چوکۍ ننګه کړه او د جمعیت مشرتابه، د جمعیت مجاهدین د ټولو نورو مجاهدینو سره وجنګول. د هیڅ جهادی تنظیمونه خبرې نه منل، د حزب اسلامی سره په جنګ کې شو، وحدت اسلامی، جنبش ملی او اسلامی سره تلفات ورکړه، د مې په ۲۹ مه کال ۱۹۹۲ پر حضرت مجددی په کابل کې د الوتکي د راکوزیدو په وخت کې د راکټ فیر شو، حضرت د مجبوریت له مخې پړه پر حکمتیار واچول، مګر وروسته يې اعتراف وکړ چې موضوع بل ډول ؤ، تر څو د ده په مقابل کې (جنش، وحدت، حزب اسلامی او نجات ملی) د شورای هم آهنګی تر نامه لاندې شورا جوړه کړه، مجددی صاحب په سر کې ؤ. استاد د چا و نه منل.

چور او چپاول او پاټک رواج وموند مجاهد مقام د ټوپک سالارۍ ته را ټیټ شو، د جهاد لاس ته راوړنې د خاورو سره برابر شول، د مارکس او لنین ځای یوه بله پردي مفکوره لکه قاضي حسین احمد، مفتي محمود او مولانا سمیع الحق ونیول، ولس د غوايي د اتم لکه د غوايي اوومه روغه ورځ و نه لیدل، د بشري حقوق په څرګند ډول تر پښو لاندې شول، سرو مال او ناموس په امن نه ؤ.

ځینو انجونو د ناموس د دفاع په خاطر د بامونو نه ځان را ختا کړ، چې پدې تجاوزونو کې ګلیم جم ډېر رول درلود، کمونستان او جهادیان خپل منځ کې د تفاهم پر بنا (شمالي ټلوال) چې د نقضې حقوق بشر او جنګی جنایاتو و بخښل شی، چې مصوبه په ولسي جرګه کې د استاد سیاف، استاد رباني،



یونس قانوني، حاجي محمد محقق، ګلابزوي، کبیر رنجبر، نورالحق علومي، ببرک شینواري، جبار قهرمان دا مصوبه ترتیب کړه، چې دوخت ولسمشر حامد کرزي توشیح نکړه. استاد رباني په چوکۍ پورې وموښت، د ریاست چوکۍ به يې کله کاریزمیر، کله بلخ او کله فیض آباد ته د ځان سره وړل، چې استاد سیاف دې کله سلیمان (ع) باله، چې تخت به هوا ور سره تلي تر اخیره پدې ټینګ پاته شو، چې ویل به يې (یا مرګ یا ارګ). تر هغه وخت چې طالبان را ورسید، استاد سیاف یو وخت راته ویل، چې د طالبانو په وخت کې احمد شاه مسعود راته ویل چې کولای شم، کابل ونیسم مګر بیا رباني دستي بیرته راځي، رباني استاد ټینګ په چوکۍ پورې سریښ ؤ، هرې معاملې ته چمتو ؤ، لکه د رباني او نواز شریف ترمنځ هغه پروتوکول چې په کال ۱۹۹۲ میاشت جولای کې لاسلیک شوی ؤ ښاغلي Mark Jems په Golden yellow کتاب کې راوړي او نور آقا ولیزاده ژباړه کړیدي، چې د دې پروتوکول پر بنا پاکستانی لوړپوړي چارواکی بیله ویزې افغانستان ته ننوتلی شي او ټول سکارټ راکټونه، ټول ټانګونه، ټول الوتکې پاکستان ته تسلیم کړي.

پورتنې مطلب د شبکه ای اطلاع رسانی افغانستان ویب سایټ نېټه ۱/ ۲/ ۹۷ خپره او افشا کړیده.

که پورتنې مطلب ریښتیاوي نو لازم دی، چې استاد د ببرک سره په یوه ګور کې ښخ کړو.

پورتنې پروتوکول رسمي کود نمبر po /۱۴۰۰- PIHC: ۰۰۰۴۵۸ ښودل شویدي.

رباني تر هغه پاته شو: تر څو طالب را ورسید. ده طالب هم یو (خود جوشه) حرکت وباله، او لارې جنبشي پیسې هم ور ولیږلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امارت اسلامي

د تلې پر ۷ مه کال ۱۳۷۳ پخواني مجاهدين څو تنه سره را ټول او د ملا محمد عمر تر قيادت لاندې د شرعيت د تطبيق تر عنوان لاندې د واکمنی په منظور ډېر په قاطعيت اقدام وکړ، د استاد رباني د مجاهدينو حکومت يې (شر و فساد) وباله، په لږ وخت کې لومړی کندهار، بيا هرات او وروسته جلال آباد او بيا کابل ته مخه کړه. پخواني مجاهدين قومندان او يا د رباني د حکومت چارواکي ټوله تښتې ته اړ شول. که طالب نه وای ناهنجاره حالت به تراوسه دوام درلود کابل په ننوتلو هغه لومړي ورځ د ملګرو ملتو د مصؤنيت سياسی رعايت ونکړ، نجيب او د هغه ورور احمدزی يې را وايستل. شکنجې کوم چې به نجيب هم دا کار کاوه ورکړي او بيا د آريانا په څلور لارې کې د ټانک په ميل ښېله سوال او ځواب او محاکمې ځوړند کړ. جفسر او اسحاق توخي ته په مرموز ډول د وتلو لار ورکړه شول، پاټکونه پورته شو، ناموس خوندي شو.

د ګليم جم او فدا محمد ده نشين د فدراسيون مفکوره له منځه لاړه، امن راغی مګر بشری حقوق بيا په جدي ډلو نقض شوه، پدې پړاو کې بيا افغان ولس مهاجرت ته اړ شول، دې واکمنی تر هغه پورې چې د اسامه بن لادن، چې د نيويارک د تجارتي مرکز د سپټمبر په حمله تورن ؤ، او د ميلمه پالنې تر نامه لاندې ملا محمد عمر د هغه سپارلو ته حاضر نه ؤ د دو تنو د طالبانو د وخت لوړ پوړي چارواکي ملا عبدالسلام ضعيف د وخت په اسلام



آباد کې سفير او مولوي وکيل احمد متوکل د بهرنيو چارو وزير، د طالبانو په ارتباط دواړو کتابونه ليکلی دي.

د طالبانو د لوړ پوړو چارواکو د فعاليت په ترڅ کې د ځينو نمونه لکه، ملا عبيدالله برادر، ملا رباني، ملا محمد حسن، ملا سيد آغاجان معتصم راوړيدي، مګر د دو مهم غړو لکه (ملا کرنيل امام او مولوي جنرال حميد ګل د (I S I) رئيس په رول سترګې پټې کړيدي د شمال ډنډ د باغونه سوځل او د بودا د مجسمې خرابولو ياد اوري نده کړ. د اکتوبر مياشت کال ۲۰۰۱ چې بالاخره F۱٦ او B٥۲ دنده واخيسته چې د طالباني رژيم رانسکور او رژيم د منځه واخلي. پاتې دې نه وي چې همدا ډول د طالبانو شاته د پاکستان د ISI لاس پټ لکه چې: (د (S رياست) کتاب د دې رياست د شيطاني او بې شرمانه کړنو او د افغانستان په کورني چارو کې لاسوهنه ته په اشاره په (۲۹۸) او (۲۹۹) مخ کې. داسې مطلب راوړيدي په (۲۰۰۷) او (۲۰۰۸) کلونو کې د امريکا او ناټو استخباراتو ته کره شواهدو پر اساس د طالبانو بيا را پورته کيدو او د پرويز مشرف او اشفاق کياني لخوا د طالبانو سره د پټو مرستو هدايت، هر څه روښانه شوي وو) (ليکوال ستېو کول)

دلته مې عرض او مطلب دا دي، چې د وروستي دو پړاونه (مجاهدين او طالبان) بله موضوع ده، د کمونستي رژيم چارواکی د ولس د ټولو کړاو او رنج مبدا ده چې ان تر دا اوسه دوام لري، کړاو چې اغاز يې ؤ، او انجام نه، د رژيم د کارکونکو او کمونستي انقلابيانو دپاره اشد مجازات غواړم چې د دوی دپاره زجر او د نورو دپاره په تاريخ کې پند او عبرت شي.

و من الله التوفيق

په درناوي

د قضيې مدعي العموم

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library